د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معينيت

سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د غوښو د حلالوالي أو حراموالي أحکام د إسلامي فقهې په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)

محصل: فضل الرحمن "فضلي"
لارښود استاذ: دکتور مصباح الله "عبدالباقي"

کال: 1402هـ ش – 1444هـ ق

د افغانستان اسلامی امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیات او قانون پوهنځي

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د غوښو د حلالوالي أو حراموالي أحكام د إسلامي فقهې په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: فضل الرحمن "فضلي"

لارښود استاذ: دکتور مصباح الله "عبدالباقي"


کال: 1402هـ. ش – 1444هـ. ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

علمي معاونيت

د فوق ليسانس برنامو آمريت

د شرعيات اوقانون پوهنځی

د فقهي او قانون ماستری برنامه

# تـــصـديـق پـــانـــه

ښاغلی (فضل الرحمن ) د (محمد هاشم) زوی د ID: SH-MSF-S1401-898 نمبر لرونکی، د فقهي او قانون د (لسمي) دوری محصل، خپله د ماستری مرحلی رساله چې عنوان يې دی:

(د غوښو د حلالوالي أو حراموالي أحکام د إسلامي فقهې په رڼا کې)

په ۱۴۰۳/ ۹ / ۸ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزونی پر بنسټ د 90 (نمرو په عدد) پنځه لزي (نمرو په حروفو) ور وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي غړي :

| ګڼه | داستاذ نوم | مسئوليت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد محمد نعيم جليلی | دحکم پلاوي غړی | |
| ۲ | دکتور محمد اکبر زاهد | د حکم پلاوي غړی | |
| ۳ | دکتور مصباح الله عبدالباقی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

د فوق ليسانس برنامو آمر________ علمي مرستيال ________

## ډالۍ

خپله د غه لږه هڅه أو ليکنه ډالۍ کوم!

د إسلامي أمت د هغو دعاتو ارواحو ته چې د إسلام په لوري د بلنې په لاره کې يې نه ستړي کيدونکې هلې ځلې کړي دي أو همدا راز د قدر وړ پلار أو خپلې ګرانې مورجانې ته چې د ژوند په هره شيبه کې يې راسره ډير تکليفونه ګاللي دي.

په درنښت

فضل الرحمن فضلي

## **مننــلیـــــک**

د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د ماسترۍ پروګرام له محترمو استاذانو أو اداري کارمندانو څخه نړۍ مننه کوم چې خپل ټول وس د محصلینو د سویې لوړولو أو پوهولو په خاطر په هر وخت کې مصرفوي، په ځانګړي توګه د قدرمن استاذ دکتور مصباح الله (عبدالباقي) صاحب څخه چې د خپلو ډیرو مصروفیتونو سره سره یې زما د رسالې اشراف په غاړه واخیسته أو د تیزس لیکلو په جریان کې یې راسره نه ستړې کیدونکې همکارۍ وکړي.

فضل الرحمن فضلي

## لنډيز

د انسانانو لپاره الله تعالي په خپل فضل سره مختلف خوندورخوراکي شيان پيدا کړي، چې د خوندورو خوراکي شيانو له جملې څخه غوښې هم دي چې زياتره إنسانان يې د خوړلو سره زياته علاقه لري. داچې غوښې له حيواناتو څخه لاس ته راځي، الله تعالی مختلف سمندري أو د وچې حيوانات پيدا کړي چې د ځينو غوښې حلالي أو د ځينو نورو حرامې دي. د دې څېړنې ارزښت پدې کښې دی چې زياتره انسانان د غوښو د خوړلو سره زياته علاقه لري، خو له دوی څخه زيات شمېر خلک بيا د غوښو له أحکامو څخه بې خبره دي، نو د مسلمانانو لپاره اړينه ده چې د غوښو په أحکامو باندې پوهه وي؛ ځکه که د غوښو د أحکامو په اړه کافي معلومات ونلري نو ډېر إمکان شته چې د ناپوهی له أمله ځينې داسې غوښې وخوري چې يا خو حرامې وي أو يايې هم د حراموالي په اړه اختلاف وي پداسې حال کې چې مسلمان بايد له حرامو أو مشتبه شيانو څخه ځان وساتي.

دا څېړنه چې توصيفي- تحليلي څېړنه ده په سريزه، تمهيدي فصل، پنځو أصلي فصلونو، ګڼو مبحثونو أو مطالبو باندې مشتمله ده أو په اخر کې پايله، وړانديزونه، د آيتونو، أحاديثو، أعلامو أو د مصادرو فهرستونه ذکر شوې دي. د غوښو د حلالوالي أو حراموالي لپاره فقهاوو د أحاديثو په رڼاکې يو لړ قواعد إيښې دي چې د دغو قواعدو په رڼا کې يو مسلمان کولی شي تر ډېره بريده د حيواناتو، مرغانو أو حشراتو د غوښو د حلالوالي أو حراموالي په اړه فيصله وکړي، لېکن د يادولو وړ ده چې د غوښو په اړه ټول قواعد اتفاقي ندي، بلکه ځينې يې اختلافي هم دي. د جمهورو علماوو په نزد أصل په اشياوو أو افعالو کې إباحت دی، لېکن د ځينو علماوو په نزد أصل په غوښو کې حراموالی دی. په فرعي مسايلو کې د علماوو ترمنځ اختلاف د مختلفو أسبابو له أمله حتما پيښيدونکی حقيقت دی، لېکن د علماوو ترمنځ اختلاف په هغه وخت کې جايز أو رحمت ګڼل کېږي چې د اختلاف شرايط په اختلاف کوونکو أو اختلاف کيدونکو مسايلو کې موجود وي.

أهلي د وچې أوسيدونکي حيوانات په دوو برخو باندې ويشل شوي دي: يو ډول حلال حيوانات دي چې په قرآن کريم کې الله تعالی ذکر کړي، أو د ځينو نورو حلالوالی په أحاديثو کې ذکر شوی، أو دوهم ډول حرام حيوانات دي چې د ځينو حراموالی ذاتي دی، لکه خنزير، سپی أو داسې نور أو د ځينو نورو د غوښو حراموالی د خارجي أسبابو له أمله وي، لکه د مردارو شيانو خوړونکو حلالو حيواناتو أو مرغانو غوښې. وحشي حيوانات هم په دوه ډوله ويشل شوي: يو هغه دي چې غوښه يې حرامه ده، أو بل ډول هغه دي چې غوښه يې حلاله ده، په مرغانو که هغه مرغان حرام دي چې پنجه لرونکي أو په نورو مرغانو باندې حمله کونکي وي، أو ځينې مرغان بيا پدې خاطر حرام دي چې له وژلو څخه يې منع راغلې، أو د منعې علت يې علماوو د غوښو حراموالی ذکر کړی. په بحري حيواناتو أو حشراتو کې د

أحنافو په نزد د ماهي څخه پرته نور ټول حرام دي، لېکن د نورو مذاهبو په نزد سمندري ټول حیوانات أو حشرات پرته له ځینو څخه حلال دي. د بري حلالو حیواناتو غوښو د حلالوالي لپاره شرط شرعي ذبح ده. شرعي ذبح کله اختیاري وي چې ځانګړي شرایط لري چې باید ټول مراعات شي، أو ذبح کله هم اضطراري وي، لکه د ښکار په صورت کې أو یاهم په هغه صورت کې چې أهلي حیوان سرکشي وکړي أو اختیاري ذبح یې ممکنه نه وي نو پدې صورت کې د اضطراري ذبحې څخه کار اخیستل کېږي، چې أساسي شرط یې د حیوان زخمي کول أو د وینې تویول دي. په ډبیو کې بندي غوښې ، ساسېج أو ځینې نور داسې شیان چې په قوطیو کې بند راځي، نو حکم یې دادی چې که په یقین سره معلوم نه وه چې دا به د حلال حیوان غوښه وي أو یا هم حرام، أو یا داچې دا به په شرعي طریقه ذبح شوې وي أو که نه، نو پدې ټولو صورتونو کې دا ډول غوښې مشتبه ګرځي چې ځان ساتل ورڅخه ضروري دي. په زیاتره معاصرو مسلخونو کې ذبح ډېر شرعي مشکلات لري؛ ځکه چې په نوموړو مسلخونو کې د حیواناتو أو مرغانو ذبح کولو په وخت کې د ذبحې شرطونه نه مراعات کېږي؛ نو په همدې أساس دغه ډول غوښې د علماوو په نزد روا نه دي. د إسلامي هیوادونو څخه واردې شوې غوښې په دوو شرطونو روا دي: یو داچې د حلالو حیواناتو أو مرغانو غوښې وي، أو بل داچې په شرعي توګه ذبح شوې وي، أو د کفري هیوادونو څخه چې أوسیدونکي یې اهل کتاب نه وي واردې شوې غوښې حرامې دي، لېکن که أوسیدونکي یې اهل کتاب وي أو د الله تعالی په نوم یې ذبح کړي وي روا دي.

# فهرست

**عنوان** **صفحه**


سریزه...................................................................................................1

د څېړنې أهميت.....................................................................................2

د څېړنې د انتخاب لاملونه........................................................................2

د څېړنې پوښتنې......................................................................................3

پخوانيو څېړنو او لیکنو ته کتنه..............................................................3

دڅېړنې تګلاره........................................................................................4

دڅېړنې موخې........................................................................................4

د څېړنې ستونزه......................................................................................5

دڅیړنې ساختمان أو پلان..........................................................................5

**تمهيدي فصل: د غوښو د حلالوالي او حراموالي د ضوابطو أو قواعدو څېړنه.............6**

لمړی مبحث: ضوابط.................................................................................7

لمړی مطلب: د فقهي ضوابطو تعريف.......................................................7

دويم مطلب: د غوښو د حلالوالي أو حراموالي ضوابط..............................9

دوهم مبحث: أصل په أشياوو کې د إباحت أو حراموالي په أړه د علماوو اختلاف أو دلايل.........27

لمړی مطلب: الأصل في الأشياء الإباحة تشريح .........................................28

دوهم مطلب: د نوموړې قاعدې په أړه د علماوو اختلاف أو دلايل...............29

دریيم مبحث: د مجتهدينو ترمنځ اختلاف.................................................37

لمړی مطلب: د اختلاف لغوي أو اصطلاحي معنی: ....................................37

دوهم مطلب: د اختلاف حکم: ...................................................................38

دریيم مطلب: د مجتهدينو ترمنځ د اختلاف عمده اسباب: ..........................40

**لمړی فصل: د وچې حيواناتو أو حشراتو غوښې** ....................................44

لمړی مبحث: د حلالو أواختلافي حيواناتوغوښې .......................................45

لمړی مطلب: د حلالو حيواناتو ډولونه أو د حلالوالي دلايل...........................48

الف: د أهلي حلالو حيواناتو غوښې.............................................................48

ب: د وحشي حلالو حيواناتو غوښې .............................................................57

دوهم مبحث: حلال أو حرام حشرات....................................................................66
لمړی مطلب: اتفاقي حلال حشرات ..................................................................66
دوهم مطلب: هغه حشرات چې حلالوالی أو حراموالی یې اختلافي دی..........................68
دریم مبحث: ذاتي حرام حیوانات.....................................................................76
لمړی مطلب: د خنزیر غوښې د حراموالي أو نجس العین کېدلو دلایل أو حکمتونه...................76
دویم مطلب: د سپي غوښې د حراموالي دلایل ..............................................................78
درېیم مطلب: د سپي د نجس العین کیدو په اړه اختلاف أو د اختلاف اسباب.......................79
څلورم مطلب: د داړو لرونکوأو څیروونکو حیواناتو غوښې ........................................83
پنځم مطلب: د أهلي خره غوښه ..........................................................................84
شپږم مطلب: د قچرې غوښه: .............................................................................86
څلورم مبحث: د نجاساتو د خوراک له أمله د حیواناتو اختلافي غوښې ............................88
لمړی مطلب: د (الجلاله) تعریف..........................................................................88
دوهم مطلب: د مردارو شیانو خوړونکو حیواناتو غوښې...............................................88
درېیم مطلب: د مردارو شیانو خوړونکو حیواناتو حبس أو بندول.......................................92
**دوهم فصل: د مرغانو غوښې** .............................................................................94
لمړی مبحث: هر پنجه لرونکی أو څیرونکی مرغه حرام دی............................................94
لمړی مطلب: د څیرونکو مرغانو تطبیقي مثالونه.......................................................94
دویم مبحث: د هغه مرغانو غوښې حرامې دي چې شریعت یې له وژلو منع کړې.....................95
لمړی مطلب: د پورتنی قاعدې تطبیقي مثالونه...........................................................95
درېیم مبحث: د هغو مرغانو غوښې حرامې دي چې شریعت یې د وژلو حکم کړی......................97
لمړی مطلب: د پورتنی قاعدې تطبیقي مثالونه............................................................97
**درېیم فصل: بحري حیوانات أو حشرات**.....................................................................99
لمړی مبحث: دبحري حیواناتو د غوښو حکم، په أړه یې د علماوو اختلاف أو د اختلاف اسباب........99
لمړی مطلب: د بحري حیواناتو أو حشراتو د غوښو حکم..................................................99
دوهم مطلب: د مذاهبو دلایل أو د اختلاف اسباب........................................................101
دویم مبحث: د ذوالمعیشتین حیواناتو أو حشراتو د غوښو حکم............................................ 110

ځلورم فصل: د ذبح شوو أو غير ذبح شوو حيواناتو غوښې............................................113
لمړی مبحث: ذبح .............................................................................113
لمړی مطلب: د ذبحې لغوي أو اصطلاحي تعريف..............................................113
دوهم مطلب: د ذبحې شرعي حکم...........................................................117
درېيم مطلب: د ذبحې ډولونه أو شرطونه.....................................................118
آلف: د ذبحې ډولونه...........................................................................118
ب: د اختياري ذبحې شرطونه..................................................................118
ځلورم مطلب: د حلال حيوان حرام اعضاء...................................................135
دويم مبحث: ميته (مردارشوی حيوان) .........................................................137
لمړی مطلب: د (ميتة) تعريف په لغت أو اصطلاح کې.........................................137
دوهم مطلب: د قرآن کريم په رڼا کې د مردارو شوو حيواناتو ډولونه..........................138
درېيم مطلب: د مردار شوي حيوان د غوښې د حراموالي حکمت.................................139
ځلورم مطلب: د حيوان په ذبحې سره د جنين د ذبح په أړه د علماوو اختلاف....................140
پنځم مطلب: د ژوندي حيوان څخه د پرې کړل شوې غوښې حکم.................................142
درېيم مبحث: ښکار (صيد).....................................................................143
لمړی مطلب: د ښکار تعريف، حکم أو د مشروعيت دلايل.......................................143
دوهم مطلب: د ښکار د إباحت شرطونه.......................................................145
درېيم مطلب: په افغانستان (أونوروسيمو) کې په مختلفو وسايلو د ښکار شوو حيواناتو أو مرغانو د غوښو حکم.....................................................................................151
**پنځم فصل: متفرقه مسايل**.....................................................................157
لمړی مبحث: د مجهول الهويته غوښو حکم.....................................................157
لمړی مطلب: په ډبيو کې بې‌لابېلې بندي غوښې................................................161
دوهم مطلب: د مستورده (واردې شوې) غوښې حکم............................................162
ألف: د إسلامي هيوادونو څخه واردې شوې تازه غوښې .........................................162
ب: د کفري هيوادونو څخه واردې شوې تازه غوښې ............................................163
درېيم مطلب: په أوسني عصر کې په مسلخونو کې د ذبح شوو حيواناتو د غوښو حکم.........166
دوهم مبحث: د ضرورت په وخت کې د حرامو غوښو خوړلو حکم...............................168

لمړی مطلب: د ضرورت لغوي أو اصطلاحي تعریف، أود ضرورت حالت............................168
دويم مطلب: د ضرورت د حالت رامنځته کيدو ضوابط..................................................170
دریيم مطلب: د ضرورت په وخت کې د حرامو غوښو خوړولو د جواز دلایل..........................171
څلورم مطلب: د ضرورت په وخت کې د حرامو غوښو د خوړولو اندازي په أړه د علماوو اختلاف.............................................................................................................173
پایله.....................................................................................................................180
وړاندیزونه.............................................................................................................182
د آیتونو لړلیک........................................................................................................183
د أحادیثو لړلیک.......................................................................................................185
د أعلامو لړلیک........................................................................................................191
مصادر..................................................................................................................194
Abstract..............................................................................................................207

## سریزه

الحمد لله رب العالمين، القائل في كتابه المبين: {إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ } ([1])

والصلاة والسلام على سيدنا محمد سيد الدعاة، وخاتم النبيين الذي أرسله الله داعيا إلى الله بإذنه القائل في حديثه: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ» ([2])

ورضى الله عن الصحابة والتابعين الذين دعوا بدعوته، واهتدوا بهديه، وعمن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

وبعد: محمدي شريعت انسانانو ته د الله تعالى وروستى پيغام، نظام أو قانون دى. إسلام د بشريت لپاره لدې كبله غوره شوى دى چې پدې دين كې د بشريت دنيوي أو اخروي مصالح خوندي دي أو تر قيامته پورې د بشري ژوند ټولو مسائلو أو مشكلاتو ته ځواب ويونكى دى. په حقيقت كې د إسلام دين د بشريت لپاره يو ستر نعمت دى؛ ځكه په إسلام كې الله تعالى د خپلو بندګانو لپاره د ژوند د ټولو اړخونو پرمخ بيولو د لاربنوونو بيانولو ترڅنګ د خوراک أو څښاک ټول ګټور شيان د حلالو په توګه أو ټول زيان رسونكي شيان د حرامو په توګه په مفصله توګه بيان كړي دي تر څو د خپلو اړتياوو پوره كولو ترڅنګ د الله تعالى له نعمتونو څخه خوند واخلي أو له دنيوي أو اخروي زيان څخه بچ پاتي شي.

د خوندورو خوراكي خوړو له جملې څخه غوښې هم دي چې زياتره انسانان يې خوړلو سره زياته علاقه لري. داچې غوښې له حيواناتو څخه لاس ته راځي، الله تعالى مختلف سمندري أو د وچې حيوانات پيدا كړي چې د ځينو غوښې خوړل روا أو د ځينو نورو ناروا دي.

د ناروا غوښو له جملې څخه يې ځينې اتفاقي حرامي دي؛ ځكه حراموالى يې په قطعي دليل سره ثابت شوى دى، خو ځينې نوري داسې غوښې دي چې د حراموالي په اړه يې مجتهدين همنظره ندي، أو د اختلاف لپاره يې مختلف لاملونه شتون لري، لكه د نصوصو په فهم كې اختلاف، د حديث په اړه اګاهي نه لرل، د حديث د ثبوت په اړه شک درلودل أو داسې نورچې له أمله يې مجتهدينو مختلف نظرونه غوره كړي دي.

سربيره له هغو حيواناتو چې حراموالى يې په نصوصو ثابت دى، په أوس وخت كې ځينې داسې غوښې شته چې د خارجي عواملو له أمله يې په حلالوالي أو حراموالي كې شک شتون لري أو په اړه يې علماء

---

[1]- سورة البقرة، ايت: 173

[2]- القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ)، المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ ، بَابُ تَحْرِيمِ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ، د حديث شميره: 1934، دار إحياء التراث العربي – بيروت، 3/ 1534

مختلف نظرونه لري، نو پدې بحث کې به د غوښو د حلالوالي او حراموالي د احکامو په اړه تفصيلي بحث وشي تر څو د لوستونکو تنده ورباندې ماته شي، او پدې برخه کې چې په ملي ژبو کې کومه تشه شتون لري هغه ډکه شي.

## دڅیړنې أهمیت

د بحث أهمیت ترډیره حده د بحث پر موضوع پورې تړلې وي، او دا موضوع خورا ډېره اړینه ده؛ ځکه له یوه پلوه زیاتره انسانان د غوښو خوړلو سره زیاته علاقه لري، نو د مسلمانانو لپاره اړینه ده چې د غوښو په أحکامو باندې پوهه ولري؛ ځکه که د غوښو د أحکامو په أړه کافي معلومات ونلري نو ډېر إمکان شته چې د ناپوهۍ له أمله ځینې داسې غوښې وخوري چې یا خو حرامې وي او یایې هم د حراموالي په أړه اختلاف وي پداسې حال کې چې مسلمان باید له حرامو او مشتبه شیانو څخه ځان وساتي.

همدا راز زمونږ په ټولنه کې د ناپوهۍ له أمله ډېر خلک داسې غوښې خوری چې په حلالوالي کې یې شک شتون لري، لکه د هغو کفري هیوادونو څخه واردې شوې غوښې چې أوسیدونکې یې اهل کتاب وي او کره معلومات نه وي چې ایا په ذبح کې شرعي اصول مراعت کوي او که نه، او د ځینو وسایلو په واسطه ښکار شوې مرغانو غوښې چې د حلالوالي په أړه یې علماء اختلاف لري.

أو له بل پلوه دا موضوع پدې خاطر مهمه ده چې د دې موضوع په أړه زما د معلوماتو پر أساس په ملي ژبو کې کومه خاصه هراړخیزه لیکنه شتون نلري تر څو د عامو مسلمانانو لپاره یوه هراړخیزه مرجع وي، تر څو د غوښو په أړه پوره معلومات حاصل کړي أو له هغو غوښو څخه ځان وژغوري چې حرامې أو یا هم اختلافي دي. أو په عربي ژبه هم پدې طریقه ما کومه بشپړه لیکنه ونه موندله خو که پدې أړه کومه پوره لیکنه شتون هم ولري نو د دې بحث توپیر به له هغې سره دا وي چې پدې بحث کې به موضوعات په پوره تفصیل أو په مدللـــه توګه په نوي میتود سره څیړل کیږي، تر څو د لوستونکو لپاره یوه معتمده أو هراړخیزه مرجع وګرځي.

## د څیړنې د انتخاب لاملونه

دا موضوع ما د لاندې دلایلو پر أساس انتخاب کړه:

۱- لمړی داچې زمونږ ډېر هیوادوال د مختلفو غوښو په حلالوالي أو حراموالي باندې خبر ندي؛ نو د دې لیکنې په برکت به عامه پوهاوی په ټولنه کې خپور شي.

۲- دوهم داچې زما د علم له مخې پدې موضوع کې پدې طریقه یوه ځانګړې پوره لیکنه نده شوې، په خاص ډول په ملي ژبو باندې تر څو د لوستونکو تنده ورباندې ماته شي؛ نو ما دا بحث انتخاب کړ تر څو د لوستونکو لپاره یوه مرجع وګرځي.

۳- همداړول د دې موضوع په اړه د علماوو ترمنځ د اختلاف شتون او داختلاف لاملونو څېړل او بیانول، د دلایلو تعارض او د هغې دفعه بیانول، زما د پوهې له مخې د موضوع د ځینو مبهمو برخو وضاحت او داسې نورزما د موضوع د انتخاب مهم لاملونه دي.

## دڅېړنې پوښتنې

### أصلي پوښتنه:

۱- د کومو حیواناتو، مرغانو او حشراتو غوښې حلالې او د کومو حرامې دي؟

### فرعي پوښتنې:

۱- د ځینو غوښو د حراموالي په اړه د علماوو د اختلاف اسباب څه دي؟

۲- د حرامو غوښو د حراموالي شرعي مقاصد څه دي؟

۳- د غوښو د حلالوالي او حراموالي ضوابط څه دي؟

## پخوانیو څېړنو او لیکنو ته کتنه

زما د موضوع په اړه په یوځای په مفصله اومستقله توګه زما د علم مطابق کومه لیکنه نده شوې، خو داچې د غوښو د أحکامو موضوع یوه مشهوره موضوع ده، فقهاوو او معاصرو علماوو یې په اړه لیکنې کړې چې د یو څو لیکنو یادونه په لاندې توګه کوم:

۱- (اللحوم المحرمة والمختلف فیها في الفقه الإسلامي) تر عنوان لاندې، د محترم کفاح سامي " محمد اسماعیل" یونس، دماسترۍ رساله، ط1، https://staff-old.najah.edu/jamal-hashash/supervision

۲- (بذل الندی في أحکام الذبائح واللحوم المستوردة دراسة فقهیة حدیثیة مقارنة) ترعنوان لاندې، د إبراهیم بن رشاد، د ماسترۍ رساله، https://www.noor-book.com/en/ebook

۳- (اللحوم المستوردة وما یتولد منها بین الحظر والإباحة " دراسة فقهیة" ) ترعنوان لاندې، د عزت عبد العزیز عبد الرحیم إسماعیل، علمي مقاله، مجلة کلیة الدراسات الإسلامیة والعربیة للبنات بالإسکندریة، المجلد 29، العدد 2، 2013، الصفحة 1-147

۴- أحکام الذبائح واللحوم المستوردة، تقي عثماني، بحوث في قضایا فقهیة معاصرة ، ط2، دارالقلم- دمشق، ص 421-427

۵- الأطعمة وأحکام الصید والذبائح، صالح بن فوزان، د دکتورا رساله، ط 3 (2011م) مکتبة المعارف- الریاض.

خو دا څېړنه د مخکینیو لیکنو سره دا توپیر لري چې نوموړو لیکوالانو د غوښو اړوند ټول مسایل په یو ځای کې ندي ذکر کړي، أو بل داچې زما د علم مطابق په ملي ژبو أو په خاص ډول په پښتوژبه پدې کچه تفصیلي أو هراړخیزه کومه لیکنه نده شوې تر څو د ګرانو هیوادوالو لپاره یوه پوره مرجع وي، أو همداډول زما په بحث کې د افغانستان اړوند ځینې مسایل څېړل شوې، لکه په افغانستان کې د ښکار آلې أو په هغوي د ښکار حکم أو په نوموړو آلو د ښکار شوو حیواناتو أو یا مرغانو د غوښو خوړلو حکم، أو بل داچې پدې بحث کې ترډېره بریده هڅه شوې تر څو د علماوو د اختلاف ذکر کولو څخه وروسته د حنفي مذهب ترجیح بیان کړل شي؛ ځکه په افغانستان کې مطلق اکثریت خلک د حنفي مذهب پیروان دي؛ نو د دغه لاملونو په أساس بنده دا موضوع د ماستری د رسالې لپاره وټاکله تر څو د ګرانو هیوادوالو لپاره یوه هراړخیزه مرجع وګرځي أو پدې ډګر کې خپله تنده ورباندې ماته کړي.

## دڅېړنې تګلاره

داچې دا څېړنه توصیفي–تحلیلي څېړنه ده، نو پدې څېړنه کې به د هر حیوان د غوښې حکم په تفصیل سره څېړل کېږي، أو د مختلفو حیواناتو، مرغانو أو حشراتو د غوښو په أړه به د مذاهبو نظریات، دلایل أو ترجیح ذکر کېږي ترڅو لوستونکي په راجح قول باندې پوهه شي أو د عمل جامه ورواغوندي. داچې زمونږ ګران هیوادوال غوڅ اکثریت حنفي مذهبي دي، نو پدې څېړنه کې کوشش شوی چې د فقهاوو د اختلاف ذکرکولو څخه وروسته د دلایلو په رڼا کې حنفی مذهب ته ترجیح ورکول شي. همداډول کوم احادیث چې په بحث کې ذکر کېږي د هغې حکم او پوره تخریج ته به خاصه پاملرنه کېږي تر څو یې د صحت، ضعف أو عدم صحت په أړه اطمنان حاصل شي. أو د دې لپاره چې څېړنه أوږده نه شي، د څېړونکي په خوښه به د ځینو أعلامو پر تراجمو بسنه کېږي .

## دڅېړنې موخې

## أصلې موخې:

۱- د دې بحث له لارې به محترمو لوستونکو ته د حلالو أو حرامو غوښو احکام په مفصله توګه څرګند شي تر څو ورڅخه په ورځني ژوند کې استفاده وکړي.

۲- د ځینو غوښو د حکم په أړه د شته إبهام له منځه وړل، د فقهاوو ترمنځ د غوښو د ځینو ډولونو په أړه د اختلاف لاملونه څرګندول.

۳- د یو شمېر حیواناتو أو خزنده ګانو د حلالوالي او حراموالي په أړه د مذاهبو دریځونه څرګندول.

## فرعي موخې:

۱- د شریعت له نظره د حرامو، حلالو أو اختلافي غوښو په أسبابو أو حکمتونو باندې پوهېدل.

۲- په ملي ژبه محترمو لوستونکو لپاره یوه لنډه، خو هراړخیزه مرجع برابرول تر څو ورڅخه ښه استفاده وکړي.

## د څېړنې ستونزه

د موضوع ندرت، د بحث د ځینو موضوعاتو په أړه په ملي ژبو د مراجعو نشتوالی، د یو شمېر حقائقو نا څرګندوالی، معلوماتو ته د لاس رسي ستونزه، د معلوماتو د را ټولولو أو تحلیل کولو اړوند ستونزې زما د څېړنې پر وړاندې مهمې ستونزې بللی شم.

## دڅیړنې ساختمان أو پلان

د دې لپاره چې موضوع هراړخیزه أوسیږي ما د مختلفو کتابونو د فهرستونو څخه په استفادي سره خپله څېړنه په سریزه، تمهیدي فصل أوپنځه أصلي فصلونو باندې وېشلي ده: تمهیدي فصل چې په دریوو مبحثونو أو أووه مطالبو باندې مشتمل دی، د فقهي ضوابطو تعریف، د غوښو د حلالوالي أو حراموالي ضوابطو، د اختلاف تعریف، حکم أو أسبابو ته ځانګړی شوی دی، لمړی فصل چې په څلورو مبحثونو أو ګڼو مطالبو باندې مشتمل دی د بري حیواناتو أو حشراتو د غوښو أحکامو ته ځانګړی شوی، دوهم فصل چې په دریوو مبحثونو أو څلورو مطالبو باندې مشتمل دی د مرغانو غوښو له أحکامو څخه بحث کوي، دریېم فصل چې په دوه مبحثونو باندې مشتمل دی د بحري حیواناتو د غوښوله أحکامو څخه بحث کوي، څلورم فصل چې په دریوو مبحثونو أو ګڼو مطالبو باندې مشتمل دی د ذبحې له أمله د غوښو د أحکامو څخه بحث کوي، پنځم فصل چې په دوه مبحثونو أو ګڼو مطالبو مشتمل دی د غوښواړوند متفرقه مسایلو څخه بحث کوي، أو په اخر کې پایله، وړاندیزونه، د آیتونو، أحادیثو، أعلامو أو د مصادرو فهرستونه ذکر کېږي .

## تمهيدي فصل

## د غوښنو د حلالوالي او حراموالي د ضوابطو أوقواعدو څېړنه

داچي د محمد رسول الله – صلی الله علیه وسلم- په لاس راوړل شوی دین د الله تعالی لخوا د ټولې نړۍ لپاره وروستی أو هراړخیز دین دی، نو پدې دین کې د بشري ژوند د ټولو اړخونو لپاره لارښوني أو اصول شتون لري چې د هغې په رڼا کې مؤمنان خپل ژوند مخته وړي.

د ژوند له مهمو غوښتنو څخه یوه غوښتنه خواړه دي، چې د مختلفو ډولونو له جملې څخه یې غوښې هم یوه ډېره مهمه برخه تشکلیوي، چې زیاتره انسانان ورسره خورا زیاته علاقه لري أو په مختلفو بڼو یې پخوي أو ورڅخه استفاده کوي، خو داچي د مسلمان د ژوند هره برخه باید د الهي دین له اصولو سره عیاره شي أو د هغو قواعدو أو اصولو په چوکات کې مخته لاړه شي چې شارع ورته إیښي دی، نو د مسلمان لپاره اړینه ده چې د غوښو د أحکامو په اړه پوره معلومات ولري ترڅو د ناپوهۍ له امله حرامې او یا هم مشتبه غوښې ونه خوري.

د شریعت په ډېرو مسایلو کې معتبر علماء اختلاف د نظر لري، أو دغه اختلاف په دین باندې ډېرو ناپوهه خلکو لپاره د دین په أړه سوال پیدا کړی أو مستشرقینو لپاره یې په دین باندې د تور لګولو یوه بهانه پیدا کړې ده، پداسې حال کې چې د إسلامي أمت د منل شوو فقهاوو أو علماوو اختلاف په معتبرو دلایلو ولاړ دی، چې په هغو باندې له آګاهۍ څخه وروسته زړه بالکل مطمئن کېږي چې د مجتهدینو اختلاف رحمت دی.

داچي د غوښنو د حلالوالي أو حراموالي پیژندل د دین برخه ده، نو فقهاوو یې په أړه د قرآني آیتونو أو أحادیثو په رڼا کې یو لړ قواعد إیښي دي چې په رڼا کې یې یو مسلمان په اسانۍ سره کولی شي چې د غوښنو د حلالوالي او حراموالي په أړه فیصله وکړي، أو همداډول د علماوو د اختلاف په أړه چې عوامو ته کله د دین په أړه ستونزه په ذهن کې پیدا کېږي ، أو د دې شک له لمنځه وړل اړین دي، نو پدې فصل کې به د ضوابطو تعریف، د فقهي قواعدو سره یې توپیر، د غوښنو د ضوابطو بیان، د اختلاف تعریف، حکم أو أسبابو باندې په مناسب تفصیل سره رڼا واچول شي.

## لمړی مبحث: ضوابط

## لمړی مطلب: د فقهي ضوابطو تعریف

ضوابط د «ضابطې» جمع ده چې د ضبط کلمې څخه اخیستل شوې ده چې د یو شي بندولو أو ورسره د لزوم په معنی سره راځي، لکه څنګه چې لیث[1] - رحمه الله - ویلي: "الضّبْطُ لزومُ شَيْءٍ لَا يُفَارِقُهُ فِي كُلِّ شَيْءٍ، وضَبْطُ الشَّيْءِ حِفْظُه بِالْحَزْمِ، وَالرَّجُلُ ضابِطٌ أَي حازِمٌ. وَرَجُلٌ ضابِطٌ وضَبَنْطى: قويٌّ شديدٌ" ([2])

ضبط د یو شي داسې لازمه پابندي ده چې په هېڅ حالت کې ترې جلا نه شي. د یو شي ضبط د هغه په کلکه او ثابت ډول ساتنې ته ویل کېږي. یو کس چې ضابط بلل کېږي، هغه کلک او جدي وي. ضابط او ضبنطی سړی ځواکمن او سخت وي.

د ضبط نوموړې معنی له اصطلاحي تعریف سره ښکاره تړاو لري؛ ځکه چې زیاتره علماء پدې نظر دي چې ضابطه أو قاعده مترادف الفاظ دي، أو همدغه قول ماهم په خپل بحث کې غوره کړی، نو د دې قول له مخې قاعده په مجموع کې خپل جزئیات په بر کې نیسي أو جزئیات ورسره لازم وي چې ورڅخه نه جدا کېږي .

أو په اصطلاح کې د فقهي ضوابطو د تعریف په أړه دوه نظرونه شتون لري:

١- د ځینو علماوو (چې لاندې د دوه عالمانو یادونه شوې ده) په نزد فقهي قاعده أو ضابطه مترادف دي أو په تعریف کې یې فرق نشته، نو د دوي په نزد د فقهي ضوابطو تعریف پدې ډول دی: " الأمر الكلي الذي ينطبق عليه جزئيات كثيرة يفهم أحكامها منها" ([3]) فقهي قاعده یا ضابطه د یو کلي أمر څخه عبارت ده چې ډېر جزئیات پرې تطبیقیږي، أو د همدې کلي أمر څخه یې احکام معلومیږي. أو زما په آند امام السبکي [4]– رحمه الله - د (ينطبق عليه جميع جزئياته) پر ځای د (ينطبق عليه جزئيات كثيرة) تعبیر پدې

---

[1]- د لیث لنډه پېژندنه: لیث بن مظفر بن نصر بن سیار خراساني د مشهور لیکوال خلیل بن احمد فراهیدي نږدې ملګری و. ابن معتز لیکي چې لیث د برمکی د کورنی یو له تکړه لیکوالو څخه و، یو ښه لوستی ادبی ، یو تکړه لیکونکی او د شعر او ادب عالم و. په مختلفو علومو او فنونو کې د لیث مهارت او په دې برخه کې د هغه شهرت د دې لامل شو چې خلیل بن احمد هغه ته ځانګړې توجه وکړي او له هغه سره یې ملګرتیا پیل کړه او خپل کتاب (العین) یې د لیث په نامه کړ. (السيوطي، جلال الدين عبد الرحمن السيوطي (المتوفى 911 هـ)، بغية الوعاة في طبقات اللغويين والنحاة، تحقيق محمد أبو الفضل إبراهيم، المكتبة العصرية-لبنان، 2/ 270 )

[2]- ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: 711هـ)، لسان العرب، ط3، دار صادر – بيروت، ج 7 ص 340

[3]- السبكي، الإمام العلامة / تاج الدين عبد الوهاب بن علي ابن عبد الكافي السبكي، الأشباه والنظائر، ط 1 – 1411 هـ ، دار الكتب العلمية، ج 1 ص 23

[4]- د السبکي – رحمه الله – لنډه پیژندنه: امام تاج‌الدین عبدالوهّاب بن علی بن عبدالکافی السبکی (چې په 771 هـ کې وفات شوی)، د شافعي مذهب یو مشهور فقیه او قاضي و. هغه د امام تقی‌الدین السبکي زوی و، چې د اسلام د مشهورو علماوو او محدثینو له جملې څخه شمېرل کېږي.

خاطر غوره کړی چې زیاتره قواعد ځیني استثناءات لري، أو بل داچې اکثر د کل حکم لري نو دا صرف یو تعبیر دی که څه هم هدف ټول جزئیات دي. أو ابن عابدین [1] –رحمه الله- د ضابط د تعریف په أړه داسې ویلي دي: " القاعدة في الاصطلاح بمعنى الضابط وهو الأمر الكلي المنطبق على جميع جزئياته" ([2]) قاعده په اصطلاح کې د ضابطې په معنی ده أو فقهي ضابطه د یو کلي أمر څخه عبارت ده چې په خپلو ټولو جزئیاتو باندې د تطبیق أو پلي کېدو وړ وي.

۲- ځیني نور علماء پدې نظر دي چې فقهي قواعد أو ضوابط فرق لري، پدې أړه ابن نجیم[3] -رحمه الله - ویلي: " وَالْفَرْقُ بَيْنَ الضَّابِطِ وَالْقَاعِدَةِ أَنَّ الْقَاعِدَةَ تَجْمَعُ فُرُوعًا مِنْ أَبْوَابٍ شَتَّى، وَالضَّابِطُ يَجْمَعُهَا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ، هَذَا هُوَ الْأَصْلُ" د ضابطې أو قاعدې ترمنځ فرق دادی چې فقهي قاعده د مختلفو بابونو مسایلو أو فروعو ته شاملېږي (د مثال په توګه: "الأمور بمقاصدها" دا قاعده عباداتو، معاملاتو أو نکاح ټولو ته شاملېږي)، لېکن فقهي ضابطه صرف د یو باب جزئیاتو ته شاملېږي ( دمثال په توګه: "الأصل في الماء الطهارة" دا ضابطه یوازې طهارت ته شاملېږي أو د نورو بابونو جزئیاتو ته نه شاملېږي) ([4])

نو د دې علماوو په نزد کولی شو چې فقهي ضابطه داسې تعریف کړو: فقهي ضابطه یو کلي أمر دی چې د یوه باب اړوند ټولو جزئیاتو باندې تطبیقیږي، أو زه پدې بحث کې د لمړي نظر له مخې چې فقهي قاعده أو ضابطه مترادف ګڼي مخته ځم.

---

تاج‌الدين السبکي په فقه، اصول فقه، حديث او اسلامي ادب کې مهارت درلود او ډېر کتابونه يې ليکلي دي. د هغه له مشهور ترينو تأليفاتو څخه يو يې کتاب "الأشباه والنظائر" دی، چې په کې د شافعي مذهب پر اساس فقهي قواعد او فروعي مسايل څېړل شوي دي. (الأعلام للزركلي)، 292/3)

[1]- د علامه ابن عابدين شامي لنډه پېژندنه: محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي، ((1198 - 1252 هـ)، په دمشق کې تولد او وفات شوی، دی د شام ستر فقيه او په خپل عصر کې د حنفي مذهب امام و. زيات تصنيفات لري چې مشهور کتابونه يې عبارت دي له: (رد المحتار على الدر المختار) چې په (حاشية ابن عابدين) باندې مشهور دی، (رفع الانظار عما أورده الحلبي على الدر المختار)، (العقود الدرية في تنقيح الفتاوي الحامدية)، (نسمات الاسحار على شرح المنار - ط) په اصولو کې، (حاشية على المطول) په بلاغت کې، (الرحيق المختوم - ط) په ميراث کې، (مجموعة رسائل) او داسې نور. (الأعلام للزركلي (6/ 42)

[2]- الشامي، ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: 1252هـ)، رد المحتار على الدر المختار، ط2، دار الفكر-بيروت، ج 4 ص 547

[3] - د ابن نجيم – رحمه الله – لنډه پېژندنه: هغه زين الدين بن ابراهيم بن محمد دی چې په ابن نجيم مشهور دی: د مصرحنفي مشهور فقيه عالم و، هغه په فقهه کې د (الاشباه والنظائر)، (البحر الرائق فى شرح كنز الدقاق اول) د كنز الدقائق شرحه، او (الرسائل الزينة)، 41 فقهي رسالې او (الفتاوى الزينة) په نامه د مشهورو کتابونو ليکوال دی. (الأعلام للزركلي (3/ 64)

[4]- ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: 970هـ)، الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، ص 137

## دویم مطلب: د غوښو د حلالوالي أو حراموالي ضوابط

پدې مطلب کې د غوښو اړوند ځيني قواعد په مختصره توګه ذکر کېږي چې زياتره يې د أحاديثو څخه اخيستل شوې دي. پدې ضوابطو کې ځيني په جزئياتوباندې د تطبيق له پلوه اتفاقي دي، خو ځيني نور يې په جزئياتوباندې د تطبيق له پلوه اختلافي دي. داچې د زياتره علماوو په نزد قواعد أو ضوابط مترادف دي، نو دلته پدې بحث کې هم د ضوابطو پرځای قواعد ليکل کېږي .

## لمړۍ قاعده: د نجس أو متنجس اړوند قاعده

"کل نجس ومتنجس حرام" ([1] ) (هر بذاته پليت أو لغيره پليت حرام دی) دا قاعده ټولو د خوراک أو څښاک شيانو ته شامليږي، خو داچې زمونږ بحث د غوښو په أړه دی، نو يواځې د غوښو په أړه يې د ځيرني لاندې نيسو.

## ألف: د قاعدې شرحه

نجس د جيم په زور يا زير سره صفت مشبه دی، د نجِس ينجس نجاسة څخه اخيستل شوی أو په لغت کې د پليت په معنی سره دی، أو په اصطلاح کې نجس له هرهغه شي څخه عبارت دی چې شريعت پليت ګڼلی وي، برابره خبره ده که د خلکو په نزد پليت وي أو ياهم نه وي، أو دا ډول نجس ته نجس العين ويل کېږي، أودا ډول نجس د پاکوالي وړتيا نه لري، لکه وينه، خنزير، مردار شوی حيوان أو داسې نور.

أو متنجس هغه شي ته ويل کېږي چې په ذاتي ډول پليت نه وي، خو د بل شي له أمله نجس شوی وي، لکه ناپاکې أوبه أو جامې، أو دا ډول نجس د پاکوالي قابليت لري. ([2])

د نجس أو متنجس د پورتنۍ شرحې له مخې ويلی شو چې دا دوه اصطلاح ګاني ټولو خوراکي أو غير خوراکي شيانو ته شامليږي، چې په ذاتي ډول سره پليت وي أويا د بل شي له أمله پليت ګرځيدلي وي. خوراکي شيانو ته يې د شامليدو مثالونه لاندې په آيت أو حديث کې بيان شوې أو غير خوراکي شيانو ته يې د شامليدو په أړه ابن حجر[3] په فتح الباري کې ليکلي: "وَمَنْ قَالَ عِلَّةُ النَّهْيِ عَنِ الرَّوْثِ كَونه نجسا الْحق

---

[1] - الدهلوي، أحمد بن عبد الرحيم بن الشهيد وجيه الدين بن معظم بن منصور المعروف بـ «الشاه ولي الله الدهلوي (المتوفى: 1176هـ) ، حجة الله البالغة ، المحقق: السيد سابق ، دار الجيل، بيروت – لبنان، ط1, (2/ 282)

[2]- قنيبي، محمد رواس قلعجي - حامد صادق قنيبي، معجم لغة الفقهاء، دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع، ط2، ص 475

[3] - د ابن حجر- رحمه الله - لنډه پيژندنه: حافظ ابن حجر عسقلانی، چې بشپړ نوم يې ابوالفضل شهاب‌الدين احمد بن علی بن محمد کنانی عسقلانی دی، په 23 شعبان 773 هـ.ق) کال کې په مصر کې وزيږيد. د ماشوموالي پر مهال يې مور او پلار وفات شول. په 9 کلنۍ کې يې قرآن حفظ کړ او ژر يې د صرف، نحو او فقهي علمونه زده کړل. د وخت له مشهورو استادانو سره يې زده کړې وکړې او د حديثو په لټه کې يې مصر، حجاز، شام او يمن ته سفرونه وکړل. د هغه له استادانو څخه د ابن الملقن، سراج‌الدين بلقينی، محب‌الدين ابن هشام، او حافظ زين‌الدين عراقی يادونه شوې ده. د ابن حجر مشهور آثار عبارت دي له :فتح الباری ) شرح صحيح بخاری، تهذيب التهذيب او الإصابة في تمييز الصحابة. (نن ټکی اسيا، د ستر

بِهِ كل نجس ومتنجس" ([1] ) أو څوک چې (په خوشايي باندې استنجا ناروا ګڼي) علت يې دا بيانوي چې خوشايي پليت دی، نو هر نجس أو متنجس د خوشايي په حکم کې داخلوي أو استنجاء ورسره نا روا بولي. خو دا چې زما بحث د غوښو په اړه دی، نو پدې بحث کې به دا قاعده يواځې د غوښو په اړه تربحث أوڅېړنې لاندې نيول کېږي.

**ب: د قاعدې لنډه معنی**

هرهغه شی چې شريعت پليت (ناپاک) بللی وي د هغې خوړل هم حرام دي خوا که هغه په خپل ذات کې پليت أو ناپاک وي أو يا هم د بل شي له أمله پليت ګرځيدلی وي، لکه پدې اړه صنعاني [2] صاحب په سبل السلام کې ليکلي: "وَأَمَّا النَّجَاسَةُ فَيُلَازِمُهَا التَّحْرِيمُ، فَكُلُّ نَجِسٍ مُحَرَّمٌ وَلَا عَكْسَ، وَذَلِكَ لِأَنَّ الْحُكْمَ فِي النَّجَاسَةِ هُوَ الْمَنْعُ عَنْ مُلَابَسَتِهَا عَلَى كُلِّ حَالٍ" [3] له هر نجاست سره حراموالی لازمي دی، نو په همدې أساس هر نجس حرام دی لېکن هر حرام نجس ندی؛ هر نجس ځکه حرام دی چې د نجاست په اړه د شريعت حکم دادی چې په هرحال کې به د تل لپاره له هغې څخه ځان ساتي.

**ج: د دې قاعدې دلايل:**

۱- الله تعالی په خپل کتاب کې فرمايي: ( قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أو دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أو فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) ([4])

ژباړه: [اې محمد - صلى الله عليه وسلم-] دوی ته ووايه: کومه وحيه چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسې شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي؛ مګر دا چې هغه مرداره وي يا بهيدونکي

---

محدث علامه حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه، عبدالحسيب منصور، نومبر 5, 2017، (https://www.nunn.asia/106761D8

[1] - ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، تعليق: عبد العزيز بن عبد الله بن باز، دار المعرفة – بيروت، (1/ 256)

[2] - د صنعاني – رحمه الله – لنډه پیژندنه: محمد بن اسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني، الكهلاني ثم الصنعاني، ابو ابراهيم، عزالدين، چې د هغه د مخکنيو اسلافو په شان په امير پيژندل شوی: د يمن يو مجتهد عالم و. ده ته د (المؤيد بالله) ابن المتوكل على الله لقب ورکړل شوی و. هغه د جاهلانو او عامو خلکو له خوا ډېر کړاوونه ګاللي دي. دی په کحلان ښار کې زيږېدلی، لوی شوی او په صنعا کې مړ شوی دی. صنعاني صاحب څه د باندې سل کتابونه لري، چې صديق حسن خان ذکر کړی، چې زياتره يې (په هند کې) دي. دده په کتابونو کې: إتحاف أعلام الناس، والاعلام المراکشية، سبل السلام، شرح بلوغ المرام من أدلة الاحكام لابن حجر العسقلاني، (منحة الغفار) حاشية على ضوء النهار، و (إسبال المطر على قصب السكر) مشهور کتابونه دي. ( الأعلام للزركلي (6/ 38)

[3] - الصنعاني، محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني، الكحلاني ثم الصنعاني، أبو إبراهيم، عز الدين، المعروف كأسلافه بالأمير (المتوفى: 1182هـ)، سبل السلام، دار الحديث، (1/ 49)

[4]- سورة الأنعام، ايت: 145

وینه وي، یا د خوګ غوښه وي چې هغه نا پاکه ده، یا فسق وي چې د الله تعالی د نوم څخه پرته د بل چا په نامه ذبح شوې وي.

پدې آیت کې د حرامو حیواناتو له جملې څخه د مړه شوي حیوان، خنزیر أو وینې د حراموالي یادونه شوې ده، أو وجه د استدلال داده چې پدې متبرکه آیت کې د نوموړو حرامو شیانو د حراموالي علت دا ښودل شوی دی چې دوي پلیت دي، لکه په سعدي تفسیر کې د (رجس) تفسیر داسې لیکل شوی دی: " رجس أي: خبث نجس مضر " ([1]) (نوموړې شیان) رجس دي یعنې نجس، خبیث أو ضرر رسوونکې دې.

**یادونه:** د دې قاعدې تطبیقي مثالونه به د بحث په مختلفو فصلونو کې ځای پرځای په تفصیل سره ذکر شي إن شاء الله.

۲- د متنجس مثال پدې حدیث شریف کې ذکر شوی: عن ابن عمر، قال: "نَهَى رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم - عن أكل الجَلاَّلة وألبانِها" ([2]) له ابن عمر –رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- د جلالې (ګندګیوخوړونکې حیوان) د غوښو خوړلو أو شیدو څښلو څخه منع فرمایلې ده. ([3])

پدې حدیث کې د نجس لغیره حیوان د غوښو خوړلو څخه منع راغلې ده، یعنې هغه حلال حیوانات چې ګندګې خوري د غوښې خوړل یې منع دي تردې چې تریوڅه وخته پورې بند کړل شي تر څو یې غوښه پاکه شي أو بیا وخوړل شي.

**یادونه:** پدې ځای کې د أحنافو أو د حنابلؤ د یوقول مطابق د استحالې [4] قاعده پدې خاطر نه تطبیقیږي چې دوي د جلاله حیوان د غوښو خوړلو د حراموالي علت دا بیانوي چې د نجاست اثرات په غوښه کې محسوسیږي چې همدغه بد بویې یې د حراموالي لپاره کفایت کوي؛ ځکه په إستحاله کې شرط دادی چې

---

[1] - السعدي، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله السعدي (المتوفى: 1376هـ)، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، المحقق: عبد الرحمن بن معلا اللويحق، مؤسسة الرسالة-بيروت، (ص: 277)

[2]- سجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)، سنن أبي داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط، كتاب الأطعمة، باب النهي عن أكل الجلاَّلة وألبانِها، د حدیث شمیره: 3785، دار الرسالة العالمية-بیروت، ج 5 ص 630

[3]- د نوموړي حدیث حکم: دا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ دی، او ثوري د ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، د مُجَاهِدٍ، د نَّبِيِّ کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مُرْسَل هم روایت کړی. (الترمذي: محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ)، سنن الترمذي، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ 1، 2) ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ 3)، وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف (جـ 4، 5)، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر، (4/ 270)

[4]- استحاله دیته وایي چې د یوه شي حقیقت په بشپړه توګه په بل حقیقت بدل شي. (وګورئ: الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (1/ 316)/ فيض الباري على صحيح البخاري (6/ 446)

د یوه شي حقیقت باید بالکل په بل شي باندې بدل شي، لکه ابن عابدین شامي – رحمه الله – لیکلي: "انقلاب حقیقة إلى حقیقة أخرى لا مجرد انقلاب وصف" ([1]) په استحاله کې یو حقیقت باید په بشپړه توګه په بل حقیقت بدل شي یواځې د وصف بدلېدل کفایت نکوي، أو په بل ځای کې لیکي: "أن استحالة العین تستتبع زوال الوصف المرتب علیها" ([2]) د عین په بدلون سره په هغه مردار شي باندې چې کوم وصف مرتب کېږي له منځه ځي. لېکن د جلاله حیوان په غوښه کې د عین په بدلون سره وصف له منځه نه وي تللی نو په همدې خاطر دلته د إستحالې قاعده نه تطبیقیږي. خو مالکیان د جلاله حیواناتو غوښې په مطلقه توګه حلالې بولي أو د إستحالې په قاعده باندې عمل کوي.

د جلاله حیوان د غوښو د حکم په اړه د علماوو أقوال أو دلایل په تفصیل سره د لمړي فصل، دریم مبحث په أول مطلب کې ذکر شوې دي.

## دوهمه قاعده: د ذي نابو حیواناتو اړونده قاعده

"کل ذي ناب من السباع فأکله حرام" ([3]) (دهر داړو لرونکي درنده حیوان خوړل حرام دي)

## ألف: د دې قاعدې شرحه

۱- ناب: ابن منظور[4] د ناب د تعریف په اړه ویلې: "النَّابُ هِيَ السِّنُّ الَّتِي خَلْفَ الرَّباعِيَةِ، وَهِيَ أُنثى" ([2]) ناب د هغه غاښ څخه عبارت دی چې د رباعي غاښ شاته شتون لري أو ناب مؤنث لفظ دی.

---

[1] - الدر المختار وحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (1/ 316)

[2] - الدر المختار وحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (1/ 327)

[3] - الشافعي، الشافعي أبو عبد الله محمد بن إدریس الشافعي (المتوفى: 204هـ)، الرسالة، المحقق: أحمد شاکر، ط1، مکتبه الحلبي- مصر، (1/ 208)؛ السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ)، المبسوط، دراسة وتحقیق: خلیل محي الدین المیس، ط1، دار الفکر للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت، لبنان، (11/ 398)

[4]- د ابن منظور لنډه پېژندنه: ابن منظور (ابو الفضل جمال الدین محمد بن مکرّم بن علی ابن منظور) د (630 هـ) په شا او خوا کې په مصر کې زېږېدلی او د (711 هـ) په شاوخوا کې وفات شوی. هغه یو مشهور عربي لغوي او ادیب و چې د عربي ژبې په وده کې یې لوی رول درلود. د هغه تر ټولو مشهور اثر "لسان العرب "دی، چې د عربي ژبې یو جامع او مفصل قاموس ګڼل کېږي. (لسان العرب (/ 0)

۲- السباع: د سبع جمع ده أو امام زيلعي[1] – رحمه الله - داسې تعريف کړی: "والسباع جمع سبع وهو كل مختطف منتهب جارح قاتل عاد عادة" ([2]) سباع د سبع جمع ده أو هر تښتونکي، زخمي کونکي، وژونکي أو عادتا حمله کوونکي حيوان ته ويل کېږي .

## ب: د دې قاعدي لنډه معنی

د هر داړو لرونکي حيوان غوښې حرامې دي، أو خوړل يې جواز نلري. خو د داړو لرونکو حيواناتو د غوښو د حراموالي لپاره فقهاوو دوه شرطونه إيښي دي:

۱- حيوان داسې داړې لرونکی وي چې په خپلو داړو باندې نور حيوانات څيرلی شي.

۲- چې په انسانانو أو نورو حيواناتو باندې حمله کوونکی وي [3]، نو له همدې أمله هر هغه حيوان چې داړو لرونکی وي خو په نورو حيواناتو باندې حمله نکوي حرام نه بلل کېږي ، لکه سوی، پدې أړه ابن عابدين – رحمه الله - ليکلي دي: " كل ذي ناب ليس بمنهي عنه إذا كان لا يصطاد بنابه" [4] کوم داړو لرونکی حيوان چې په خپلو داړو ښکار نکوي حرام نه بلل کېږي .

## ج: د دې قاعدي دلايل:

عن أبي ثعلبةَ الخُشَني: "أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ أكْلِ كلِّ ذي نَابٍ من السَّباعِ" ([5]) د ابی ثعلبه الخشني – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- د هرداړو لرونکي حيوان د خوړلو څخه منع فرمايلي ده.

**يادونه:** د داړه لرونکو حيواناتو له جملې څخه د زمري، سپي أو پړانګ يادونه کولی شو، خو د دې قاعدې تفصيلي مثالونه به وروسته په نورو فصلونو کې ذکر شي.

---

[1]- د امام زيلعي – رحمه الله – لنډه پېژندنه: عثمان بن علي بن محجن الزيلعي، چې په لقب "البارعي "پېژندل کېږي، يو نامتو حنفي فقيه او عالم و. هغه په (591هـ) کې زېږېدلی و او په اسلامي فقهي، په ځانګړې توګه په حنفي مذهب کې، ځانګړی مهارت درلود. د هغه تر ټولو مشهور اثر "تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق "دی، چې د امام نسفي په کتاب "كنز الدقائق "باندې مفصل شرح ده او په حنفي فقه کې له مهمو کتابونو څخه ګڼل کېږي. عثمان الزيلعي په (743هـ) کې وفات شوی. (وګورئ: الأعلام للزركلي (4/ 210)

[5] - الزيلعي، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: 743 هـ)، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، الحاشية: شهاب الدين أحمد بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس الشِّلْبِيُّ (المتوفى: 1021 هـ)، المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة، ج 5 ص 294

[3]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ، ج 5 ص 294)

[4] - رد المحتار على درالمختار، ج 6 ص 306

[5] - البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ، د حديث شمېره: 5530 ، دار طوق النجاة، (7/ 96)

## درېيمه قاعده: پنجه لرونکي مرغان حرام دي

"كل ذي مخلب من الطير فأكله حرام" ([1]) (د هر پنجه درلودونکي مرغه خوړل حرام دی)

### ألف: د دې قاعدي شرحه

١- مخلب: د درنده حيواناتو أو مرغانو پنجلو ته ويل کېږي ، پدې أړه الزبيدي [2] وايي: "المِخْلَبُ ( ظُفُرُ كُلِّ سَبُع مِنَ المَاشِي والطَّائِر، أَو هُوَ لِمَا يَصِيدُ منَ الطَّيْرِ ، والظُّفُرُ لِمَا لاَ يَصِيدُ" ([3]) مخلب د هر پلي تلونکي درنده أو د مرغه له نوکانو څخه عبارت دی، أو يا مخلب د ښکارکوونکي مرغه له پنجلو څخه عبارت دی أو د نه ښکارکونکي مرغه پنجلو ته (ظفر) نوکان ويل کېږي.

### د مرغه د حراموالي لپاره دوه شرطونه دي:

١- پنجه لرونکی به وي.

٢- مرغه به درنده يعنی ښکارکوونکی أو حمله کوونکی وي، نو په همدې أساس هر پنجه لرونکی مرغه حرام ندی، لکه څنګه چې ابن نجيم – رحمه الله- په البحرالرائق کې ويلي دي: "أَنَّ الْمُرَادَ بِذِي مِخْلَبٍ هُوَ سِبَاعُ الطَّيْرِ لِأَنَّ كُلَّ مَا لَهُ مِخْلَبٌ وَهُوَ الظُّفُرُ كَمَا أُرِيدَ بِهِ فِي ذِي نَابٍ مِنْ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ لَا كُلُّ مَا لَهُ نَابٌ " ([4]) مراد د پنجه لرونکو مرغانو څخه درنده أو ښکارکوونکي مرغان دي؛ ځکه هر مرغه پنجلې لري چې د مرغه لپاره نوکان ګڼلی شي، أو ورته حکم د داړو لرونکو حيواناتو په أړه هم دی يعني درنده داړو لرونکی حيوان حرام دی نه هر داړه لرونکی حيوان.

### ب: د دې قاعدي لنډه معنی

هر پنجه لرونکی درنده أو ښکارکوونکی مرغه حرام دی؛ ځکه دوی زياتره وخت مرداري غوښې خوري أو بل داچې د دې ډول مرغانو طبيعت بد وي، نو که انسان يې وخوري په طبيعت يې أغيزه کوي، لکه څنګه چې ابن نجيم – رحمه الله - ويلي: "وَلِأَنَّ طَبِيعَةَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ مَذْمُومَةٌ شَرْعًا فَيُخْشَى أَنْ يَتَوَلَّدَ مِنْ

---

[1] - المبسوط للسرخسي (11/ 255)/ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

[2]- د الزبيدي – رحمه الله لنډه پېژندنه: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني (1145هـ– 1205هـ) يو مشهور اسلامي عالم، محدث، او لغوي و. دی د هند په بلګام ښار کې زېږېدلی، او وروسته يې مصر کې ژوند وکړ. الزبيدي د عربي ژبې، حديثو، او فقهې په علومو کې ځانګړی مهارت درلود او د يو شمېر مهمو کتابونو ليکوال و، چې تر ټولو مهم يې "تاج العروس من جواهر القاموس "دی، کوم چې د *القاموس المحيط* شرحه ده. (وګورئ: الأعلام للزركلي (7/ 95)

[3]- الزَّبيدي، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، تاج العروس من جواهر القاموس، دار الهداية-مصر، ج 2ص 378

[4]- ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: 970هـ)، البحر الرائق شرح كنز الدقائق، ط2، دار الكتاب الإسلامي، ج 8 ص 195

لَحْمِهَا شَيْءٌ مِنْ طِبَاعِهَا فَيَحْرُمُ إِكْرَامًا لِبَنِي آدَمَ" ([1]) يعني د داړولرونکو درنده حيواناتو أو پنجه لرونکو مرغانو خوراک پدې خاطر ناروا دی چې د دې شيانو طبيعت شرعا بد وي، نو د دې ويره ده چې د غوښو څخه به يې په انسانانو کې ورته طبيعت پيدا نشي، نو د انسان د کرامت أو عزت په خاطر يې خوړل حرام دی.

## ج: د دې قاعدي دلايل

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ [2] ، قَالَ: " نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، وَعَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ ." ([3]) له ابن عباس – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- د هر داړه لرونکي درنده حيوان أو هر پنجه لرونکي درنده مرغه له خوړلو څخه منع فرمايلي ده. [4]

## څلورمه قاعده:

"كل ما أمر الشارع بقتله فأكله حرام" ([5]). ( د کوم شي په وژلو چې إسلام أمر کړی وي خوړل يې هم حرام دی)

## ألف: د دې قاعدي تشريح

د کوم حيوان په وژلو چې شريعت أمر کړی وي أو يايې وژل مباح ګرځولي وي خوراک يې هم حرام دی؛ ځکه د کوم حيوان خوراک چې روا دی إسلام يې د ذبح کولو أو خوړلو حکم کړی، نه د وژلو، أو همداډول د خوړلو د نيت څخه پرته د بې ضرره حيواناتو وژلو څخه منع راغلې ده، لکه په حديث شريف کې راغلي: عن مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَعَثَ جُيُوشًا إِلَى الشَّامِ، فَذَكَرَ

[1]- البحر الرائق شرح كنز الدقائق (8/ 195)

[2]- د ابن عباس رضي الله عنه لنډه پېژندنه: عَبْد اللَّه بْن عَبَّاس بْن عَبْد المطلب بْن هاشم بْن عَبْد مناف رضي الله عنه د هجرت څخه دري کاله مخکي تولد او په کال (۶۸هـ وفات شوی) د رسول الله  د تره زوی او د اسلامي امت يو له نامتو صحابه وو. هغه ته "حبر الأمة" او "ترجمان القرآن" لقبونه ورکړل شوي؛ ځکه چې د قرآن کريم په تفسير کې يې ژور مهارت درلود. ابن عباس په ځواني کې د رسول الله  خدمت ته ډېر نږدې و او له هغه څخه يې ګڼ شمير احاديث روايت کړل. (وګورئ: أسد الغابة ط العلمية (3/ 291)

[3]- ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ)، مسند الإمام أحمد بن حنبل، شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون ، باب مسند علي ابن أبي طالب رضي الله عنه، د حديث شمېره: 1255 ، مؤسسة الرسالة-بيروت، ج 3 ص 11

[4] - د دي حديث حکم: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت بشار 3/ 125)، إسناده صحيح ( سنن أبي داود ت الأرنؤوط 5/ 620)

[5] - سيد سابق (المتوفى: 1420هـ)، فقه السنة، ط2، دار الكتاب العربي، بيروت – لبنان، (3/ 286)/ أبو مالك كمال بن السيد سالم، صحيح فقه السنة وأدلته وتوضيح مذاهب الأئمة، تعليقات فقهية معاصرة: فضيلة الشيخ/ ناصر الدين الألباني، فضيلة الشيخ/ عبد العزيز بن باز، فضيلة الشيخ/ محمد بن صالح العثيمين، المكتبة التوفيقية، القاهرة – مصر، (2/ 345)

الْحَدِيثَ فِي وَصِيَّتِهِ، إِلَى أَنْ قَالَ: " وَلَا تَعْقِرُنَّ شَاةً وَلَا بَعِيرًا إِلَّا لِمَأْكَلَةٍ " ([1]) امام مالک [2] – رحمه الله د يحی بن سعيد[3] – رحمه الله – څخه روايت کوي چې أبو بکرالصديق - رضي الله عنه- شام ته لښکري واستولي، نو په خپل وصيت کې يې د لښکر مشر ته حديث ذکر کړ، تر دې چې ويې ويل: پسه أو نه هم أوښ به دخوراک له نيت څخه پرته نه وژنئ. [4]

همداډول په بل حديث کې راغلي: عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ، عَلَى الحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ، فَرَأَى غِلْمَانًا، أو فِتْيَانًا، نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا، فَقَالَ أَنَسٌ: «نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُصْبَرَ البَهَائِمُ»([5]) د هشام بن زيد څخه روايت دی چې زه د انس سره حکم بن أيوب ته ورغلم، نو يو څه ماشومان يا نو جوانان يې وليدل چې يوه چرګه يې درولي وه أو ويشتله يې، نو انس – رضي الله عنه- وويل: رسول الله – صلي الله عليه وسلم- د دې څخه منع فرمايلي چې حيوان دي د نښې ويشتلو لپاره حبس کړل شي، يعني چې د نښې ويشتلو په توګه ورڅخه استفاده وشي.

[1] - البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، السنن الكبرى، المحقق: محمد عبد القادر عطا، كتاب السير، بَابُ تَحْرِيمِ قَتْلِ مَا لَهُ رُوحٌ إِلَّا بِأَنْ يُذْبَحَ فَيُؤْكَلَ ، د حديث شمېره: 18131، ط3، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، (9/ 147)

[2]- د امام مالک – رحمه الله – لنډه پېژندنه: مالک بن أنس بن مالک الأصبحي الأنصاري، مشهور په امام مالک، د څلورو مشهورو فقهي مذهبونو يو امام دی. هغه په ۹۳ هجري قمري کال په مدينه منوره کې زيږيدلی او په ۱۷۹ هجري قمري کال کې وفات شوی. امام مالک د حديثو علم د نافع مولی عبدالله بن عمر او محمد بن الشهاب الزهري څخه زده کړی، او په فقه کې يې د ربيعه بن عبدالرحمن او قاضی يحي بن سعيد الأنصاري څخه درسونه اخيستي. د علم په برخه کې، امام مالک لوړې مرتبې ته رسيدلی و، او علماوو يې ستاينه کړې. هغه ګڼ شمېر کتابونه تاليف کړي، چې مشهور يې الموطأ او المدونة الکبری دي. د هغه مشهور شاګردان عبارت دي له: أبو عبدالله بن القاسم العتقي او أبو محمد ابن وهب بن مسلم. (وګورئ: مقدمة في مصطلحات الفقهاء عن الأحکام الشرعية وأئمة مذاهبهم الأربعة للدکتور مولوي محمد ظاهر المکي حفظه الله، ص ( 98-104)

[3]- د يحي بن سعيد رحمه لله لنډه پېژندنه: يحيى بن سعيد الانصاري رحمه الله (۷۰هـ – ۱۴۳هـ) د تابعينو له مشهورو محدثينو او فقهاؤ څخه و. هغه په مدينه منوره کې زېږېدلی او د امام زُهري او نورو لويو علماوو څخه يې علم ترلاسه کړی. يحيى بن سعيد د مديني په قضا کې ډېر وخت تېر کړ او د حديثونو د روايت او د اسلامي فقهي په خپرولو کې يې لويه ونډه درلوده. هغه ته په اسلامي تاريخ کې د حديث د سند په تسلسل او د علم په پراختيا کې مهم مقام ورکړل شوی. (وګورئ: الأعلام للزرکلي (8/ 147)

[4] - د حديث حکم: دا حديث مرسل حديث دي، پدي اړه اما م بيهقي – رحمه الله – ليکلي: وَرَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، فَهَذَا وَإِنْ كَانَ أَيْضًا مُنْقَطِعًا، فَمَرَاسِيلُ ابْنِ الْمُسَيِّبِ أَقْوَى مِنْ مَرَاسِيلِ غَيْرِهِ، إِلَّا أَنَّ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ كَانَ يَقُولُ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ وَلَمْ أَقِفْ عَلَى الْمَعْنَى الَّذِي لِأَجْلِهِ أَنْكَرَهُ، وَكَانَ ابْنُهُ عَبْدُ اللَّهِ يَزْعُمُ أَنَّهُ كَانَ يُنْكِرُ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ (البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، معرفة السنن والآثار، المحقق: عبد المعطي أمين قلعجي، ط1، دار الوفاء (المنصورة - القاهرة)، 13/ 249)

[5]- صحيح البخاري، كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب مَا يُكْرَهُ مِنْ الْمُثْلَةِ وَالْمَصْبُورَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ، د حديث شمېره: 5513، (7/ 94)

ابن حجر- رحمه الله- د "صبر" د معنی په اړه ویلي: "أَنْ تُصْبَرَ بِضَمِّ أولِهِ أَيْ تُحْبَسَ لِتُرْمَى حَتَّى تَمُوتَ"([1]) "تصبر" د تا په پیښ سره (یعنی د مجهول صیغه ده) دیته وایي چې حیوان دي د ویشتلو لپاره وتړل شي أوتر هغو وویشتل شي، چې مړ شي.

## ب: د دې قاعدې لنډه معنی

د کوم شي په وژلو چې إسلام أمر کړی وي خوړل يې هم حرام دی؛ ځکه دا هغه ډول حیوانات دي چې په طبیعت کې يې شرارت پروت وي أو په خوراک سره يې خصوصیات انسان ته منتقل کېږي چې دا یو نوعه ضرر ده أو إنسان به خپل بدن له ضرر څخه ساتي؛ ځکه د نفس ساتنه د دین د مقاصدو أو ضروریاتو څخه ده.

## ج: د دې قاعدې دلایل

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَمْسٌ فَوَاسِقُ، يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ: الْحَيَّةُ، وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ، وَالْفَأْرَةُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ، وَالْحِدَأَةُ " ([2])

د بي بي عایشي –رضي الله عنها- څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: پنځه (حیوانات أو حشرات) د فواسقو څخه دي چې په حرم أو حل ساحو کې باید ووژل شي: مار، کارغه چې په شا یا سینه يې سپینوالی وي، موږک، داړونکی سپی أو ټپوس. [3] په یوه بل روایت کې د ځینو نورو حیواناتو یادونه شوې ده، لکه پدې روایت کې: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ، الْحَيَّةَ، وَالْعَقْرَبَ، وَالسَّبُعَ الْعَادِيَ، وَالْكَلْبَ الْعَقُورَ، وَالْفَأْرَةَ الْفُوَيْسِقَةَ» ([4]) د ابو سعید الخدري – رضي الله عنه - څخه روایت دی چې نبي کریم –صلی الله علیه وسلم- وویل: محرم شخص لپاره روا دي چې مار، لړم، حمله کوونکی درنده حیوان، داړونکی سپی أو موږک ووژني. [5]

د (فوَاسِقُ) په شرحه کې امام نووي – رحمه الله- لیکلي: "وأما تسمية هذه المذكورات فواسق فصحيحة جارية على وفق اللغة وأصل الفسق في كلام العرب الخروج وسمي الرجل الفاسق لخروجه عن أمر الله

---

[1]- ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري، دار المعرفة – بيروت، (9/ 643)

[2]- ابن ماجة، ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، وماجة اسم أبيه يزيد (المتوفى: 273هـ)، سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، کتاب المناسک، بَابُ مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ، دحديث شمېره: 3087 ، دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي، (2/ 1031)

[3] - د حدیث حکم: صحیح حدیث دي، پدی اړه امام ترمذي – رحمه الله – لیکلي: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (3/ 188)، او د ابن ماجه محقق شعيب الأرنؤوط ویلي: إسناده صحيح ( سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط 4/ 273)

[4]- سنن ابن ماجه، دحديث شمېره: 3087، کتاب المناسک، بَابُ مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ، (2/ 1032)

[5] - د حدیث حکم: ضعیف حیث دی، پدی اړه د ابن ماجه محقق شعيب الأرنؤوط لیکلي: إسناده ضعيف لضعف يزيد بن أبي زياد (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 275)

تعالى وطاعته فسميت هذه فواسق لخروجها بالإيذاء والافساد عن طريق معظم الدواب وقيل لخروجها عن حكم الحيوان في تحريم قتله في الحرم والاحرام" ([1]) هر چې دي حيواناتو أو حشراتو ته فواسق ويل شوې، نو دا درسته أود لغت سره برابره خبره ده؛ ځکه په عربي ژبه کې فسق د الله تعالى له أمر أو پيروئ څخه وتلو ته وايې، نو دي حيواناتو أو حشراتو ته پدې خاطر فواسق ويل شوې چې دوي نورو ته په ضرر رسولو سره د نورو حيواناتو د طبيعت څخه وتلي دي، أو همداډول ويل شوې چې دوي د نورو حيواناتو د حکم څخه پدې کې وتلي دي چې په حرم أو حل ساحو کې وژل کېږي.

په ځينو نورو أحاديثو کې د ځينو نورو حيواناتو أو حشراتو په وژلو د أجر أو ثواب بيان راغلى دى، لکه پدې حديث کې: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَتَلَ الْوَزَغَ فِي الضَّرْبَةِ الْأُولَى، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا مِنْ حَسَنَةٍ، وَمَنْ قَتَلَهُ فِي الثَّانِيَةِ، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا مِنْ حَسَنَةٍ، وَمَنْ قَتَلَهُ فِي الثَّالِثَةِ، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا " ([2]) د ابو هريره –رضي الله عنه – څخه روايت دى چې رسول الله –صلى الله عليه وسلم- وفرمايل: چاچې کربوړى په لمړي وار سره ووژلو دهغه لپاره دومره دومره ثواب دى، أو چاچې په دوهم وارسره ووژلو د هغه لپاره دومره دومره ثواب دى، أو چاچې په دريم ځل ووژلو د هغه لپاره دومره دومره ثواب دى. [3]

د يادولو وړ ده چې نوموړې قاعده د يادوشويو أحاديثو څخه اخيستل شوې ده، لکه چې په تشريح کې ذکر شوې دي چې د يوه حيوان، مرغه أو يا حشري د حراموالي علت دادى چې په وژلو يې أمر شوى دى أو حکمت يې دادى چې د دې ډول حيواناتو په طبيعت کې شرارت پروت وي چې انسان ته منتقل کېږي .

## پنځمه قاعده:

"كل ما نهى الشارع عن قتله فأكله حرام" ([4]) ( د کوم حيوان، مرغه أو يا حشري له وژلو څخه چې شارع منع کړي وي خوراک يې حرام دى)

### ألف: د دې قاعدي تشريح

د کوم حيوان، مرغه أو يا حشري له وژلو څخه چې شارع منع کړي وي خوراک يې هم حرام دى؛ ځکه د دې ډول حيواناتو له وژلو څخه منع، د دوه علتونو پر أساس وي:

---

[1]- شرح النووي على مسلم (8/ 114)

[2]- مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 8659، باب مسند أبي هريرة رضي الله عنه، (14/ 296)

[3] - د حديث حکم: صحيح حديث دي، پدې اړه امام ترمذي – رحمه الله ويلي: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت بشار (3/ 128)

[4] - فقه السنة لسيدسابق (3/ 286)

۱- **د کرامت په خاطر:** لکه انسان، که څه هم انسان پاک دی أو غوښه يې پاکه ده خو د إنساني کرامت پخاطر يې د غوښې خوړل حرام دي، لکه ابن عابدين وايي: "وإن قال له آخر اقطع يدي وكلها لا يحل، لأن لحم الإنسان لا يباح في الاضطرار لكرأمته" ([1]) که مضطر يعني هغه څوک چې د لوږې له أمله د مرګ ويره لري، يو بل شخص ورته ووايي چې زما لاس پري کړه أو وخوره نو دا کار ورته روا ندی؛ ځکه د انسان غوښه د سخت حاجت په وخت کې هم د انساني کرامت پخاطر روا نده.

همداډول إمام زيلعي – رحمه الله – ليکلي: " وإن وجد لحم إنسان وصيدا أكل الصيد؛ لأن لحم الإنسان حرام حقا للشرع وحقا للعبد" ([2]) که يو مضطر(اړمند) انسان د انسان غوښه او پردی ښکار وموندل، نو د ښکار غوښه دي وخوري؛ ځکه د انسان غوښه شرعا هم حراما ده او د بنده د حق له امله هم حرامه ده.

۲- **دوهم علت د غوښې ګندګي:** يعني کله چې د يو حيوان غوښه حرامه وي أو حيوان، حشره أو يا هم مرغه مضر نه وي چې د ضرر له أمله يې وژل مباح ګرځول شوې وي، نو د داسې حيوان، حشرې أو ياهم مرغه وژل درست ندي؛ ځکه د حيواناتو د بې فايدي وژلو څخه په حديث کې منع راغلې ده، لکه چې په حديث شريف کې راغلي: عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ، عَلَى الحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ، فَرَأَى غِلْمَانًا، أو فِتْيَانًا، نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا، فَقَالَ أَنَسٌ: «نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُصْبَرَ البَهَائِمُ» ([3]) د هشام بن زيد څخه روايت دی چې زه أو انس حکم بن أيوب ته ورغلو، نو يو څه ماشومان يا نوي ځوانان يې وليدل چې يوه چرګه يې درولې وه أو ويشتله يې، نو انس – رضي الله عنه- وويل: رسول الله – صلي الله عليه وسلم- د دې څخه منع فرمايلي چې حيوان دي د نښې ويشتلو لپاره وتړل شي، يعني چې د نښې ويشتلو په توګه ورڅخه استفاده وشي.[4]

د حديث په پای کې د (بهائم) لفظ ذکر شوی چې ټولو حلالو أو حرامو حيواناتو ته شامليږي، لکه پدې أړه امام قرطبي [5] – رحمه الله – ليکلي: "وَالْبَهِيمَةُ اسْمٌ لِكُلِّ ذِي أَرْبَعٍ، سُمِّيَتْ بِذَلِكَ لِإِبهام هَا مِنْ جِهَةِ نَقْصِ

---

[1]- حاشية ابن عابدين (رد المحتار) (6/ 338)

[2] - تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (2/ 68)

[3]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2816، كتاب الأضاحي، باب في الرفقِ بالذبيحةِ، (4/ 438)

[4] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی،ځکه شيخينو روايت کړی، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 438)

[5] - د امام قرطبي –رحمه الله- پيژندنه: أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي د لويو مفسرينو له جملي څخه دی. د پيدائښت نيټه يې نده ذکر شوي او په (671ه) کال کې وفات شوی. په اصل کې د قرطبي څخه دی چې په اوسنۍ اسپانيا کې قرار لري، ليکن امام قرطبي مصر ته سفر وکړ، هلته ميشت او وفات شو. امام قرطبي ګڼ تصنيفات لري چې مشهور يې عبارت دي له: الجامع

نُطْقِهَا وَفَهْمِهَا وَعَدَمِ تَمْيِيزِهَا وَعَقْلِهَا" ([1]) بهيمة هر ښاروي ته ویل کيږي ، أو چارپای ته د خبرو نه کولو، نه پوهیدلو، د ښه أو بد ترمنځ د فرق نه کولو أو عقل نلرلو له أمله بهيمه ویل کيږي .

أو همداډول زمخشري [2]- رحمه الله – د (بیهمة) په تفسیر کې لیکلي: "البهيمة: كلّ ذات أربع في البرّ والبحر" ([3]) بهیمه هر بحري أو بري ښاروي أوحيوان ته ویل کيږي .

## ب: د دې قاعدې لنډه معنی

د کومو حیواناتو، مرغانو أو یا هم حشراتو له وژلو څخه چې منع راغلې ده، د غوښو خوړل یې نا روا دي؛ ځکه د وژلو څخه یې منع یا د کرامت پخاطر أو یاهم د غوښې د حراموالي له أمله وي.

لېکن د خوړلو نیت څخه پرته د حلالو حیواناتو أو مرغانو د وژلو څخه د منع حکمت دادی چې پدې کې د الله تعالی په مخلوقاتو باندې ظلم أو لوبې کول دي، أوهمداډول پدې کې یو ډول اسراف دی چې حلال حیوان دې د خوړلو د نیت څخه پرته ووژل شي، پدې أړه په حدیث شریف کې راغلي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا مِنْ إِنْسَانٍ قَتَلَ عُصْفُورًا فَمَا فَوْقَهَا بِغَيْرِ حَقِّهَا إِلَّا سَأَلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهَا قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا حَقُّهَا قَالَ يَذْبَحُهَا فَيَأْكُلُهَا وَلَا يَقْطَعُ رَأْسَهَا يَرْمِي بِهَا" ([4]) د عبدالله بن عمرو – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – ویلي: هېڅ یو انسان چنچنکه أو یا د دې څخه کوچنی أو یا هم غټ (مرغه أو یا حیوان) په ناحقه نه وژني مګر داچې الله تعالی به یې د وژلو په أړه پوښتنه وکړي، وویل شول: ای د الله رسوله! حق یې څه دی؟ رسول الله –

---

لاحكام القرآن، قمع الحرص بالزهد والقناعة، الاسنى في شرح أسماء الله الحسنى او التذكرة بأحوال الموتى وأحوال الآخرة. (الأعلام للزركلي) 5 / 322)

[1] - أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)، الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، ط2، دار الكتب المصرية – القاهرة، (6/ 34)

[2] - د زمخشري پيژندنه: أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله (٤٦٧-٥٣٨ هـ). زمخشري د تفسير، لغت او ادب يو د سترو امامانو څخه و. د خوارزم په زمخشر کلي کې پيدا شوی، د علم د طلب لپاره يې مکي مکرمي ته سفر وکړ او هلته د اوږدي زماني لپاره ميشت شو چي له همدي امله ورته د جارالله لقب ورکړ شو. د مکي مکرمي څخه بيرته د خوارزم جرجانيه کلي ته لاړو او بالاخره همالته وفات شو. زمخشرى معتزلي عالم و او په خپل اعتزال به يې صراحت کولو، په متصوفؤ باندي يې سخت رد کولو او په خپل تفسير الكشاف کي يې هم سخت رد ورباندي کړی. زمخشري زيات تصنيفات لري چي مشهور يې عبارت دي له: الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل، المنتقى من شرح شعر المتنبي، للواحدي، (المفصل - ط) ومن كتبه (المقامات - ط) او داسي نور. (الأعلام للزركلي (7/ 178)

[3] - الزمخشري، أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله (المتوفى: 538هـ)، الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل، ط3، دار الكتاب العربي – بيروت، (1/ 601)

[4]- سنن النسائي، د حديث شمېره: 4349، كتاب الصيد والذبائح، إِبَاحَةُ أَكْلِ الْعَصَافِيرِ، (7/ 206)

صلی الله علیه وسلم – وویل: حق یې دادی چې ذبح کوي به یې او بیا به یې خوري، او داسې به نه کوي چې سر یې پرې کړئ او بیا یې وغورځوي او وي نه خورئ. [1]

## ج: د دې قاعدې دلایل

په حدیث شریف کې راغلي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعَةٍ: الْهُدْهُدِ، وَالصُّرَدِ، وَالنَّمْلَةِ، وَالنَّحْلَةِ» ([2]) ابن عباس – رضي الله عنه- ویلي: رسول الله – صلی الله علیه وسلم- د څلورو شیانو له وژلو څخه منع فرمایلي ده: ملاچرګک، تیغتې او یاهم کله خورک، میږی او شاتو مچۍ. [3]

د دې حدیث په شرحه کې إمام خطابي [4] – رحمه الله – لیکلي: "یقال إن النهي إنما جاء في قتل النمل في نوع منه خاص وهو الکبار منها ذوات الأرجل الطوال وذلك أنها قلیلة الأذی والضرر ونهی عن قتل النحلة لما فیها من المنفعة، فأما الهدهد والصرد فنهیه في قتلهما یدل علی تحریم لحومهما ، وذلك أن الحیوان إذا نهي عن قتله ولم یکن ذلك لحرمته ولا لضرر فیه کان ذلك لتحریم لحمه ، ألا تری أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قد نهی[5] عن ذبح الحیوان إلاّ لمأکلة" ([6]) او د نومړو حیواناتو د وژلو د منعې په اړه ویل کېږي چې د میږیانو د یو خاص ډول له وژلو څخه منع راغلې او هغه عبارت دي له غټو پښو څښتنانو څخه؛ ځکه چې دا ډول میږیان ډېر لږ ضرر رسوونکي دي، او د شاتو د مچیو له وژلو څخه رسول الله

---

[1] - د دې حدیث حکم: الباني وړباندې د ضعیف حدیث حکم کړی، [حکم الألباني] ضعیف (سنن النسائي (7/ 206)

[2]- بن حبان، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التمیمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفی: 354هـ)، صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان، تحقیق : شعیب الأرنؤوط، د حدیث شمېره: 5646 ، باب قتل الحیوان، ذِكْرُ الزَّجْرِ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعَةٍ مِنَ الدَّوَابِّ وَالطُّیُورِ ، ط2، مؤسسة الرسالة – بیروت، 462/12

[3] - د دې حدیث حکم: صحیح حدیث دي، پدې اړه شعیب الأرنؤوط د ابن ماجه د احادیثو په تخریج کې لیکلي: حدیث صحیح. حبان بن علي العنزي -وإن کان ضعیفا- قد توبع، ومن فوقه ثقات من رجال الشیخین. (صحیح ابن حبان - محققا (12/ 462)

[4]- د امام خطابي لنډه پېژندنه: امام خطابي، ابوسلیمان حمد بن محمد البستي (وفات: ۳۸۸هـ)، د نیمروز ولایت بُست ښار کې زیږېدلی او د حدیثو، فقهې او ادب یو وتلی عالم و. د هغه مشهوره آثار «معالم السنن» او «غریب الحدیث» دي. خطابي په حدیث او فقه کې لوړ مقام درلود او د حدیثو د شرحې لپاره یې زیات خدمتونه کړي دي. د خپل وخت له مشهورو محدثینو لکه امام بخاري او امام مسلم سره یې علمي اړیکې لرلې. امام ذهبی په «سیر أعلام النبلاء» کې هغه ته د امام او مجتهد لقبونه ورکړي. ( وګورئ: سیر أعلام النبلاء د امام ذهبي رحمه الله، 23/17)

[5] - د دې حدیث تخریج او حکم: السنن الکبری للبیهقي (9/ 147)، او دا حدیث مرسل حدیث دي، پدې اړه اما م بیهقي – رحمه الله – لیکلي: وَرَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، فَهَذَا وَإِنْ كَانَ أَيْضًا مُنْقَطِعًا، فَمَرَاسِيلُ ابْنِ الْمُسَيِّبِ أَقْوَى مِنْ مَرَاسِيلِ غَيْرِهِ، إِلَّا أَنَّ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ كَانَ يَقُولُ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ وَلَمْ أَقِفْ عَلَى الْمَعْنَى الَّذِي لِأَجْلِهِ أَنْكَرَهُ، وَكَانَ ابْنُهُ عَبْدُ اللَّهِ يَزْعُمُ أَنَّهُ كَانَ يُنْكِرُ أَنْ يَكُونَ ذَلِكَ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ (البیهقي، أحمد بن الحسین بن علي بن موسی الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بکر البیهقي (المتوفی: 458هـ)، معرفة السنن والآثار، المحقق: عبد المعطي أمین قلعجي، ط1، دار الوفاء (المنصورة - القاهرة)، 13/ 249)

[6]- الخطابي، أبو سلیمان حمد بن محمد بن إبراهیم بن الخطاب البستي المعروف بالخطابي (المتوفی: 388هـ)، معالم السنن، وهو شرح سنن أبي داود، المطبعة العلمیة – حلب، 157/4

– صلی الله علیه- وسم پدې خاطر منع فرمایلې چې پدوي کې انسانانو لپاره ګټه ده، أو هر چې د ملاچرګګ أو د کله خورک له قتل څخه منع راغلې نو هغه د دوي د غوښو د حراموالي له أمله ده؛ ځکه قاعده داده چې د کوم حیوان د وژلو څخه د کرامت یا ضرر له أمله منع نه وي راغلې نو د وژلو څخه یې منع د غوښو د حراموالي پخاطر وي.

اما د وړو میږیانو وژل چې خلکو ته ضرر رسوي مباح دي، لکه چې په حدیث شریف کې راغلي: عن أبي هريرة، أن النبيَّ - صلى الله عليه وسلم - قال: "نَزَلَ نبيٌّ مِن الأنبياءِ تحتَ شجرةٍ، فلدغَتْهُ نَمْلةٌ، فأمر بِجَهازِه فَأُخرجَ مِن تحتِها، ثُمَّ أمر بها فأُحْرِقَت، فأوحى اللهُ إليه: فهلاً نملَةً واحِدَةً" ([1]) د ابو هريره – رضي الله عنه – څخه روایت دی چې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- وویل: یو پیغمبر د پیغمبرانو څخه د یوې ونې لاندې دمه شو، یوه میږې وچیچلو نو أمر یې وکړ تر څو د میږیانو غار را وکندل شي، وروسته د کندلو یې أمر وکړ چې میږیان دي وسوزول شي، نو الله تعالی ورته وحي وکړه چې ولې دي یوازي هماغه ګنهګار میږی نه مړ کولو. [2]

عظیم ابادي [3] د دې حدیث په شرحه کې ویلي: "وَقَوْلُهُ فَهَلَّا نَمْلَةٌ وَاحِدَةٌ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّ الَّذِي يُؤْذِي يُقْتَلُ وَكُلُّ قَتْلٍ كَانَ لِنَفْعٍ أو دَفْعِ ضُرٍّ فَلَا بَأْسَ بِهِ عِنْدَ الْعلماء" ([4]) أو د حدیث دا برخه چې (فهلانملة) پدې دلالت کوي چې کوم میږیان چې ضرر رسوي هغه به وژل کیږي ، أو هر هغه وژل چې د ګټې أو یاهم د ضرر دفعه کولو پخاطر وي د علماوو په نزد په هغې کې څه باک نشته.

هو، هرچې په أور باندې د حیوان سوزولو موضوع ده، نو لدې څخه زمونږ په أمت کې منع راغلې أو د مخکینیو أمتونو لپاره جایز وه، لکه د عون المعبود مصنف وایي: "وهو بخلاف شرعنا فإن النبي صلى الله عليه و سلم نهى عن تعذيب الحيوان بالنار" ([5]) د دې پیغمبر کړنه زمونږ د شریعت څخه متفاوته ده؛ ځکه نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- په أور سره د حیوان د تعذیب څخه منع فرمایلې ده. أو په کوم حدیث کې چې په أور باندې د تعذیب څخه منع راغلې دا حدیث دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ

---

[1]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حدیث شمیره: 5265، كتاب الأدب، باب في قتل الذَّرِّ، (7/ 538)

[2] - د حدیث حکم: صحیح حدیث دی؛ ځکه شیخینو هم روایت کړی، او شعیب الأرنؤوط د ابوداو محقق لیکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (7/ 538)

[3]- د عظیم ابادي لنډه پیژندنه: شمس الحق بن امیر علی عظیم‌آبادی (متوفی 1329 هـ / 1911 میلادی) د هند د نامتو محدثینو او فقهاؤ څخه و. هغه په حدیثو کې ځانګړې مهارت درلود او د ډېرو کتابونو شارح و. د هغه له مشهورو تألیفاتو څخه "عون المعبود شرح سنن أبي داود" دی، چې د امام ابو داود السجستاني د احادیثو کتاب "سنن أبو داود"ته تفصیلي شرح ده. دا اثر د احادیثو په توضیح کې یو مهم مرجع ګڼل کیږي او په اسلامي نړۍ کې ډېره منل شوې ده. (الأعلام للزركلي (6/ 301)

[4]- عظیم ابادي، محمد شمس الحق العظيم آبادي أبو الطيب، عون المعبود - العظيم آبادي، ط2، دار الكتب العلمية – بيروت، 118/14

[5]- عون المعبود ، (14/ 119)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْثٍ، فَقَالَ: «إِنْ وَجَدْتُمْ فُلَانًا وَفُلَانًا لِرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ فَأَحْرِقُوهُمَا بِالنَّارِ»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَرَدْنَا الخُرُوجَ: «إِنِّي كُنْتُ ما أمرتُكُمْ أَنْ تُحْرِقُوا فُلَانًا وَفُلَانًا بِالنَّارِ وَإِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللَّهُ، فَإِنْ وَجَدْتُمُوهُمَا فَاقْتُلُوهُمَا» ([1]) د ابو هريره – رضي الله عنه – څخه روايت دی ويلي يې دي: رسول الله – صلى الله عليه وسلم- مونږ په يو وفد كې واستولو او وويل: كه مو فلانی، فلانی كسان د قريشو څخه ګير كړل، نو په أور يې وسوزوئ، بيا چې كله مو د وتلو اراده وكړه رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وويل: ما تاسو ته أمر كړی و چې فلانی، فلانی په أور وسوزوئ، لېكن پرته له الله تعالى څخه بل څوک په أور جزا نه وركوي، نو په همدی خاطر كه مو نوموړي كسان ومونډل نو ويې وژنئ (أو سوزوئ يې مه). امام ترمذي – رحمه الله - د حديث د ذكر كولو څخه وروسته ويلي: "وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ" أو په همدې باندې د اهل علم عمل دی، يعني په أور باندې جزا وركول حرام دي خوا كه هغه انسان وي أو ياهم حيوان. [2]

د يادولو وړ ده چې زمونږ په شريعت كې يو حيوان أو حشره ولو كه مضره هم وي په أور باندې يې وژل د پورتني يادشوی حديث له أمله جايز ندي، پداسې حال كې چې د مخكينيو أمتونو لپاره جايز و، لكه څنګه چې يو پيغمبر د زيان رسوونكي ميږي له أمله د هماغه غار ټول ميږيان وسوزول.

أو بل حيوان چې له وژلو څخه يې منع راغلې ده چنګښه (ضفدع) ده، پدې أړه په حديث كې راغلي دي: عن عبدِ الرحمن بنِ عُثمان: أن طبيباً سأل النبيَّ - صلى الله عليه وسلم – "عن ضِفدعٍ يجعلُها في دَوَاءٍ، فنهاه النبيُّ- صلى الله عليه وسلم - عن قَتْلِها" ([3]) د عبدالرحمن بن عثمان – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې يو ډاكټر د نبي كريم – صلى الله عليه وسلم- څخه د چنګښې په أړه پوښتنه وكړه، چې دی يې په دوا كې استفاده كوي، نو نبي كريم- صلى الله عليه وسلم- د هغې د وژلو څخه منع كړ. [4]

إمام طحاوي رحمه الله په شرح مشكل الأثار كې د چنګښې (ضفدع) د وژلو د حراموالي د علت په أړه داسې ويلي: "وَهُوَ لِأَنَّهُ لَا يُؤْكَلُ , وَكُلُّ مَا لَا يُؤْكَلُ فَقَتْلُهُ عَبَثٌ , وَالْعَبَثُ فِي ذَلِكَ فَحَرَامٌ" ([5]) د چنګښې وژل

---

[1] - سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 1571، كتاب الزكاة، أبواب السير، 20 – بَابٌ، (4/ 137)

[2] - د حديث حكم: صحيح حديث دی، پدی اړه امام ترمذي- رحمه الله – ويلی: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 138)

[3]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3871 ، كتاب الطب، باب في الأدوية المكروهة ، (7/ 540)

[4] - د حديث حكم: صحيح حديث دی، پدي اړه شعيب لأرنؤوط ليكلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (6/ 20)، او الباني هم د صحت حكم كړی: [قال الألباني]: صحيح (صهيب عبد الجبار ، المسند الموضوعي الجامع للكتب العشرة، غ مط، (19/ 224)

[5]- الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (المتوفى: 321هـ)، شرح مشكل الآثار، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة-بيروت، ٣٣/٥

ځکه حرام دي چې خوړل يې نا روا دي، أو کوم شی چې خوړل کېږي نه، وژل يې هم عبث دي أو د حيواناتو په وژلو کې عبث حرام دی.

د امام طحاوي –رحمه الله – دغه استدلال د ټولو هغو حيواناتو په أړه صدق کوي، چې د وژلو څخه يې منع راغلې ده.

أو بل حيوان چې د وژلو څخه يې منع راغلې ده پیشکه (هرة) ده، د پیشکې د وژلو د حراموالي په أړه إمام مسلم – رحمه الله- د (بَابُ تَحْرِيمِ قَتْلِ الْهِرَّةِ) تر عنوان لاندې باب قايم کړی أو تر لاندې يې دا حديث ذکر کړی: عَنْ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُذِّبَتِ امرأَةٌ فِي هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ، لَا هِيَ أَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا، إِذْ حَبَسَتْهَا، وَلَا هِيَ تَرَكَتْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ» ([1]) له عبد الله بن عمر – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: يوه ښځه د پیشکې له أمله أور ته داخله شوه؛ ځکه پیشکه يې بندي کړي وه تر دې چې مړه شوه؛ نو له أمله يې ښځه د دوزخ مستحقه شوه، کله يې چې بندي کړې وه نه يې خواړه ورکول أو نه هم څښاک، أو نه يې پريښودله ترڅو پخپله د مځکې له وښو څخه خوراک وکړي.[2]

## شپږمه قاعده:

"کل ماسکن جوف الماء ولايعيش إلا فيه فهو حلال كيفما وجد" [3] (کوم حيوان چې يوازې په أوبو کې ژوند کوي، خوړل يې روا دي په هر حالت کې چې وموندل شي)

## ألف: د دې قاعدې تشريح

دا قاعده د علماوو په نزد اتفاقي نده، بلکه د هغه علماوو لپاره ده چې د سمندر هر ډول حيوان ته حلال وايي، أو د أحنافو أو ځينو نورو علماوو لپاره نده، چې د سمندري حيواناتو څخه يوازې د ماهي خوړل روا بولي هغه هم پدې شرط چې په أوبو کې په خپل مرګ نه وي مړ شوی چې په عربي کې ورته (طافي) وايي، أو د سمندر نور حيوانات حرام بولي، پدې أړه امام کاساني – رحمه الله ليکلي: " أَمَّا الَّذِي يَعِيشُ فِي الْبَحْرِ فَجَمِيعُ مَا فِي الْبَحْرِ مِنْ الْحَيَوَانِ مُحَرَّمُ الْأَكْلِ إلَّا السَّمَكَ خَاصَّةً فَإِنَّهُ يَحِلُّ أَكْلُهُ إلَّا مَا طَفَا مِنْهُ وَهَذَا قَوْلُ أَصْحَابِنَا - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ -، وَقَالَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ وَابْنُ أَبِي لَيْلَى - رَحِمَهُمْ اللَّهُ - إنَّهُ يَحِلُّ أَكْلُ مَا

---

[1]- صحيح ابن حبان – محققا، د حديث شمېره: 546، كتاب البر والإحسان، ذكر استحباب الإحسان إلى ذوات الأربع رجاء النجاة في العقبى به، (2/ 305)

[2] - د دې حديث حکم: دا صحيح حديث دی، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: دا حديث د شيخينو په شرط صحيح حديث دی " إسناده صحيح على شرط الشيخين (صحيح ابن حبان - محققا (2/ 305)

[3] - القرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي (المتوفى: 684هـ)، الذخيرة، المحققون: محمد حجي، سعيد أعراب، محمد بو خبزة، ط1، دار الغرب الإسلامي- بيروت، (4/ 96)

سِوَى السَّمَكِ مِنْ الضُّفْدَعِ، وَالسَّرَطَانِ، وَحَيَّةِ الْمَاءِ وَكَلْبِهِ وَخِنْزِيرِهِ، وَنَحْوِ ذَلِكَ لَكِنْ بِالذَّكَاةِ، وَهُوَ قَوْلُ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ - إلَّا فِي إنْسَانِ الْمَاءِ وَخِنْزِيرِهِ أَنَّهُ لَا يَحِلُّ، وَقَالَ الشَّافِعِيُّ - رَحِمَهُ اللَّهُ -: يَحِلُّ جَمِيعُ ذَلِكَ مِنْ غَيْرِ ذَكَاةٍ وَأَخْذُهُ ذَكَاتَهُ، وَيَحِلُّ أَكْلُ السَّمَكِ الطَّافِي." ([1]) كوم حيوانات چې په أوبو كې ژوند كوي ټول حرام دي، پرته له ماهيانو څخه، لېكن هغه ماهي هم حرام دى چې په خپل مرګ په أوبو كې مړ شوى وي، أو دا د أحنافو-رضي الله عنهم- قول دى، أو ځينو فقهاوو أو ابن ابي ليلى – رحمهم الله – ويلي چې د ماهي څخه پرته د نورو سمندري حيواناتو خوړل هم روا دي، لكه چنګښه، خرچنګ، د أوبو مار، سپى، خنزير أو داسې نور، أو دا د ليث – رحمه الله –قول هم دى، لېكن د ليث – رحمه الله- په نزد د سمندري انسان أو خنزير خوړل روا ندي، أو امام شافعي [2] – رحمه الله – ويلي د ټولو سمندري حيوانانو خوړل د ذبحې څخه پرته حلال دي أو همداډول د طافي ماهي خوراک هم روا دى.

**يادونه:** د بحري حيواناتو د حلالوالي أو حراموالي په أړه به د علماوو اختلاف په تفصيل سره په دوهم فصل كې ذكر شي إن شاء الله.

## ب: د دې قاعدې دلايل

(د هغه چا په نزد چې د سمندر ټول حيوانات حلال بولي)

١- الله تعالى په قرآن كريم كې فرمايي: (أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ) ([3])

ژباړه: ستاسو لپاره د سمندر ښكار أو خواړه حلال كړاى شوې دي، هر چيرې چې تاسو تم كېږئ، همالته يې هم خوراک درته روادى أو د كاروان لپاره يې د لارې توښه هم كولى شئ.

هغه علماء چې د سمندر د ټولو حيوانانو په حلالوالي قايل دي استدلال كوي چې پدې آيت كې د صيد څخه مصيد (كوم شى چې ښكار كېږي ) مطلق ذكر شوى چې د هر ډول حيوان په حلالوالي باندې دلالت كوي، خو أحناف د دې آيت د تفسير په أړه مختلف نظر لري، أو د ماهي څخه پرته د نورو حيوانانو د حراموالي په أړه ګڼ دلايل لري چې په دوهم فصل كې به إن شاء الله ذكر شي.

---

[1]- الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هـ)، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، ط٢، دار الكتب العلمية-بيروت، ٣٥/٥

[2]- د امام شافعي رحمه الله لنډه پېژندنه: امام شافعي، ابو عبدالله محمد بن ادريس بن العباس بن عثمان الشافعي (١٥٠-٢٠٤هـ)، په غزه كې زېږېدلى او د قريشو له ټبر څخه و. هغه په ماشومتوب كې مكې ته ولاړ، هلته يې د فقهي او حديث زدهكړې پيل كړې. وروسته مدينې ته لاړ او د امام مالک رحمه الله شاګرد شو. امام شافعي د فقهي اصولو او اجتهاد بنسټونه كېښود او په اسلامي فقه كې يې ځانګړى منهج وړاندې كړ. د هغه مشهور آثار «الرسالة» او «الأم» دي. امام شافعي په ٢٠٤هـ كې په مصر كې وفات شو او په فقه او اصول الفقه كې د لويو امامانو څخه شمېرل كېږي. (وګورئ: سير أعلام النبلاء د امام ذهبي رحمه الله، 10/5-20)

[3]- سورة المائدة، ايت: 96

۲- په حديث شريف کې راځي: عَنْ سَعِيدِ بْنِ سَلَمَةَ مِنْ آلِ ابْنِ الْأَزْرَقِ، أَنَّ المُغِيرَةَ بْنَ أَبِي بُرْدَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ أَخبره، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا نَرْكَبُ البَحْرَ، وَنَحْمِلُ مَعَنَا القَلِيلَ مِنَ المَاءِ، فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا، أَفَنَتَوَضَّأُ مِنَ الْبَحْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ، الحِلُّ مَيْتَتُهُ» ([1]) د سعيد بن سلمه د ابن الأزرق د اهل څخه روايت دی چې مغيره بن ابي بردة د بني عبدالدار څخه ده ته خبر ورکړی چې ده له ابو هريره څخه أوريدلي چې ويل يې: د رسول الله – صلی الله عليه وسلم- څخه يوه سړي پوښتنه وکړه، وويل: ای د الله رسوله! مونږ په بحر کې سفر کوو أو د ځان سره لږ أوبه اخلو نو که پدې أوبو باندې أودس وکړو تږي کيږو، نو ايا د سمندر په أوبو باندې أودس وکړو؟ رسول الله – صلی الله عليه وسلم- ورته وويل: د سمندر أوبه پاکي دي أو مړه يې حلاله ده. [2]

پدې حديث کې هم (ميتة) مطلقه ذکر شوې چې هر ډول حيوان ته شامليږي، خو نور علماء د دې حديث د صحت په اړه بحث لري چې پخپل ځای کې به په تفصيل سره إن شاء الله وڅيړل شي.

## أوومه قاعده:

"کل مايعيش في البر والبحر من الحيوان فحکمه حکم حيوان البر احتياطا" ([3]) (د احتياط پخاطر د ذوالمعيشتين حيواناتو حکم د بري حيواناتو په شان دی) د يادولو وړ ده چې دا قاعده هم اتفاقي نده، بلکه علماء يې په اړه مختلف نظرونه لري چې وړاندې به بحث وربانـدې وشي.

## ألف: د قاعدې تشريح

بري يا د وچې حيوانات هغه حيوانات دي چې تولد يې په وچه کې شوی وي، برابره خبره که په وچه کې ژوند کوي أو ياهم په أوبوکې، يعني د بري أو بحري کېدلو په برخه کې اعتبار تولد أو پيدايښت ته دی، لکه پدې اړه کاساني صاحب [4] ويلي: "وَالْبَرِّيُّ مَا يَكُونُ تَوَالُدُهُ فِي الْبَرِّ، سَوَاءٌ كَانَ لَا يَعِيشُ إلَّا فِي الْبَرِّ

---

[1]- الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ)، سنن الترمذي، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر، د حديث شمېره: 69 ، أبواب الطهارة، بَابُ مَا جَاءَ فِي مَاءِ البَحْرِ أَنَّهُ طَهُورٌ ، ط2، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر، 100/1

[2] - د پورته حديث حکم: صحيح حديث دی، پدې اړه امام ترمذي ليکلي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت بشار (1/ 125)

[3]- التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري، موسوعة الفقه الإسلامي، بيت الأفكار الدولية، ط1، بيت الأفكار الدولية، (4/ 368)/ وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت، الموسوعة الفقهية الكويتية، ط2، دارالسلاسل – الكويت، (5/ 130)

[4]- د امام کاساني صاحب لنډه پېژندنه: امام کاساني، علاءالدين ابو بکر بن مسعود الحنفي (ز. ۵۱۰هـ - وفات: ۵۸۷هـ)، يو وتلی حنفي فقيه و چې د خپل علمي مهارت له امله "ملک العلماء" په لقب يادېده. هغه په فقهي علومو کې ستر مقام درلود، او د هغه تر ټولو مشهور اثر «بدائع الصنائع» دی، چې په حنفي فقه کې يو جامع او بنسټيز کتاب ګڼل کېږي. نوموړی په ۵۸۷هـ کې وفات شو. ( وګورئ: العقيلي، عمر بن أحمد بن هبة الله بن أبي جرادة العقيلي، كمال الدين ابن العديم (المتوفى: 660هـ)، بغية الطلب في تاريخ حلب، تحقيق: د. سهيل زكار، دار الفكر، (10/ 4348)

أو يَعِيشُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، فَالْعِبْرَةُ لِلتَّوَالُدِ" ([1]) بري هغه حيوانات دي چې تولد يې په وچه کې شوی وي، برابره خبره ده چې يواځې په وچه کې ژوند کوي أو ياهم په وچه أو أوبو دواړو کې، نو عبرت پيدايښت أو تولد ته دی.

د يادونې وړ ده، چې مرغان ټول بري دي، لکه امام کاساني صاحب وايي: "وَالطُّيُورِ الَّتِي يُؤْكَلُ لُحُومُهَا بَرِّيَّةً كَانَتْ، أو بَحْرِيَّةً؛ لِأَنَّ الطُّيُورَ كُلَّهَا بَرِّيَّةٌ؛ لِأَنَّ تَوَالُدَهَا فِي الْبَرِّ إنَّمَا يَدْخُلُ بَعْضُهَا فِي الْبَحْرِ لِطَلَبِ الرِّزْقِ" ([2]) أو هغه مرغان چې غوښې يې خوړل کېږي، برابره خبره ده که بري وي أو ياهم بحري (د محرم لپاره يې ښکار جايز ندی)؛ ځکه مرغان ټول پدې خاطر بري دي چې تولد يې په وچه کې کېږي أو أوبو ته د رزق لټولو پخاطر کوزيږي.

نو په همدې أساس کوم بري حيوانات چې حلال دي، ورته ذوالمعيشتين حيوانات هم حلال دي، أو کوم بري حيوانات چې حرام دي، ورته ذوالمعيشتين حيوانات أو حشرات هم حرام دي.

**يادونه:** د بري حلالو أو حرامو حيواناتو تفصيل به په لمړي فصل کې راشي.

## ب: د دې قاعدې دلايل

د جمهورو علماوو په نزد تمساح حرامه ده؛ ځکه تمساح د داړو ښښتن دی، ځيروونکی أو حمله کوونکی حيوان دی چې د لاندې حديث په أساس حرام ګڼل شوی:

عن أبي ثعلبةَ الخُشَني: "أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ أَكْلِ كلِّ ذي نَابٍ من السَّباعِ" ([3]) د ابی ثعلبه الخشني – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم-د هرداړو لرونکي حيوان د خوړلو څخه منع فرمايلي ده.

**يادونه:** د ذوالمعيشتين حيواناتو په أړه به د علماوو د أقوالو تفصيل په درېيم فصل کې ذکر شي.

## دوهم مبحث: أصل په أشياوو کې د إباحت أو حراموالي په أړه د علماوو اختلاف

دا چې أصل په أشياوو کې إباحت دی أو که حراموالي، يوه مهمه مسئله ده؛ ځکه فقهاء د دې قاعدې پرأساس د ځينو غير منصوصي شيانو په إباحت أو يا حراموالي باندې فيصله کوي، نو اړينه ده چې لوستونکي پدې أړه د علماوو په نظرياتو باندې پوهه شي چې ايا أصل په شيانو کې إباحت دی أو که حراموالي؟

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (2/ 196)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (2/ 197)

[3]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 5530 ، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ (7/ 96)

## لمړی مطلب: "الأصل في الأشياء الإباحة" ([1])

**د دې قاعدې تشریح:** هر هغه څه چې شارع وربانديې سکوت کړی وي، او د حراموالي په اړه يې د قرآن کريم أو أحاديثو څخه نصوص شتون ونلري مباح ګڼل کېږي . أو دغه قاعده د إسلام له اصولو څخه يو أصل ده. ([2])

همداډول په الموسوعة الفقهية الكويتية کې راغلي دي: "الأَصْل فِي الأَشْيَاءِ الإِبَاحَةُ حَتَّى يَرِدَ نَصٌّ بِالتَّحْرِيمِ ، فَيَكُونُ فِي حَدِّ ذَاتِهِ مُبَاحًا ، جَرْيًا عَلَى قَوَاعِدِ الشَّرْعِ وَعُمُومَاتِهِ ، الَّتِي يَنْدَرِجُ تَحْتَهَا حَيْثُ كَانَ حَادِثًا غَيْرَ مَوْجُودٍ زَمَنَ الشَّارِعِ ، وَلَمْ يُوجَدْ فِيهِ نَصٌّ بِخُصُوصِهِ ، وَلَمْ يَرِدْ فِيهِ نَصٌّ فِي الْقُرْآنِ أو السُّنَّةِ ، فَهُوَ مِمَّا عَفَا اللَّهُ عَنْهُ ، وَلَيْسَ الاِحْتِيَاطُ فِي الاِفْتِرَاءِ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى بِإِثْبَاتِ الْحُرْمَةِ أَوِ الْكَرَاهَةِ اللَّذَيْنِ لاَ بُدَّ لَهُمَا مِنْ دَلِيلٍ ، بَل فِي الْقَوْل بِالإِبَاحَةِ الَّتِي هِيَ الأَصْل ، وَقَدْ تَوَقَّفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَعَ أَنَّهُ هُوَ الْمُشَرِّعُ فِي تَحْرِيمِ الْخَمْرِ أُمِّ الْخَبَائِثِ - حَتَّى نَزَل عَلَيْهِ النَّصُّ الْقَطْعِيُّ" ([3]) أصل په شيانو کې إباحت دی تر دي چې د حراموالي په أړه يې نص شتون ولري، نو شيان په خپل ذات کې د شريعت د عمومي قواعدو له مخې مباح دي أو د دې عمومي قواعدو لاندې تر قيامته پورې ټول هغه شيان راځي چې د حراموالي په أړه يې د قرآن کريم أو أحاديثو څخه نصوص شتون ونلري، أو دا هغه شيان دي چې الله تعالى عفوه ګرځولي دي، أو دا احتياط ندی چې د ورته شيانو په أړه يو څوک په الله تعالى باندې درواغ وتړي أو د ځان څخه يو شی حرام أو ياهم مکروه وګڼي؛ ځکه حراموالی أو کراهيت هغه احکام دي چې ثبوت يې دليل ته اړتيا لري، بلکې أصل دادی چې د کوم شي د حراموالي په أړه نصوص شتون ونلري چې د إباحت حکم وربانديې وشي، لکه نبي کريم – صلی الله عليه وسلم – سره له دي چې شارع دی د شرابو د حراموالي په أړه يې ترهغه پورې توقف کړی و تر دي چې د حراموالي په أړه وربانديې صريح آيت نازل شو.

**د نوموړې قاعدې دلايل:** د دې قاعدې لپاره د قرآن کريم أو سنت مطهره څخه زيات دلايل شتون لري چې دلته د دوه آيتونو أو يوه حديث په ذکر کولو باندې اکتفا کوم. دلايل په لاندې ډول دي:

١- الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: (هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا) ([4])

---

[1] - الأشباه والنظائر لابن نجيم (ص: 66)، الزركشي، بدر الدين محمد بن بهادر بن عبد الله الزركشي (المتوفى 794هـ)، البحر المحيط في أصول الفقه، تحقيق ضبط نصوصه وخرج أحاديثه وعلق عليه: د. محمد محمد تامر، دار الكتب العلمية-بيروت، (1/ 126)، السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: 911هـ)، الأشباه والنظائر، دار الكتب العلمية-بيروت، (ص: 60)

[2] - وګورئ: فقه السنة لسيد سابق (3/ 288)

[3] - الموسوعة الفقهية الكويتية (10/ 105-106)

[4] - سورة البقرة، ايت: ٢٩

الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره یې د ځمکې ټول شیان پیدا کړي دي. د دې آیت په تفسیر کې امام قرطبي – رحمه الله – لیکلي: "وَقَالَ ابْنُ كَيْسَانَ:" خَلَقَ لَكُمْ" أَيْ مِنْ أَجْلِكُمْ. وَقِيلَ: الْمَعْنَى أَنَّ جَمِيعَ مَا فِي الْأَرْضِ مُنْعَمٌ بِهِ عَلَيْكُمْ فَهُوَ لَكُمْ." ([1]) ابن کیسان ویلي: " خَلَقَ لَكُمْ" یعني ستاسو لپاره، أو ویل شوي: چې د " خَلَقَ لَكُمْ" معنی دا ده چې هر هغه څه چې په ځمکه کې دي پر تاسو یې انعام شوی دی أو ستاسو لپاره دي.

۲- أو په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: (وَسَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمأواتِ وَما فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً مِنْهُ) ([2])
أو الله تعالی د آسمانونو أو ځمکې ټول شیان ستاسي لپاره مسخر أو تابع ګرځولي دي، هر څه د خپل له لوري څخه. د دې آیت څخه هم په ځرکنده توګه معلومیږي چې الله تعالی ټول شیان د انسانانو لپاره پیدا کړي دي.

۳- په حدیث شریف کې راغلي: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، رَفَعَ الْحَدِيثَ قَالَ: «مَا أَحَلَّ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَافِيَةٌ، فَاقْبَلُوا مِنَ اللَّهِ الْعَافِيَةَ، فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُنْ نَسِيًّا» ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ {وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا} [مریم: 64] ([3]) له أبو درداء – رضي الله عنه – څخه روایت دی، حدیث یې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – ته په مرفوع ډول رسولی دی، چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم څه چې الله تعالی حلال کړي هغه حلال دي، أو کوم څه یې چې حرام کړي هغه حرام دي، أو د کومو شیانو څخه یې چې سکوت کړی هغه معاف دي، نو تاسو د الله تعالی عفوه قبوله کړئ؛ ځکه الله تعالی له یاده ایستونکی ندی، أو بیا یې دا آیت ولوستلو چې: أو ندی رب ستا هیرونکی. ([4]) نو د دې حدیث څخه هم په ښکاره توګه معلومیږي چې أصل په أشیاوو کې إباحت دی ترڅو یې د حراموالي په اړه د قرآن کریم أو سنتو څخه نص شتون ونلري. [5]

---

[1]- القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)، الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، ط٢، دار الكتب المصرية – القاهرة، ٢١٥/١

[2]- سورة الجاثية، ايت: ١٣

[3] - ابن البيع، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (المتوفى: 405هـ)، المستدرك على الصحيحين، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، د حدیث شمیره: 3419، كتاب التفسير، باب تفسير سورة مريم، دار الكتب العلمية – بيروت (2/ 406)

[4] - د دې حدیث حکم: حاکم ویلي چې دا حدیث صحیح دی: «هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ» (المستدرك على الصحيحين للحاكم (2/ 406)

[5] - وګورئ: فقه السنة لسيد سابق (3/ 289)

## دويم مطلب: د نوموړې قاعدې په اړه د علماوو اختلاف أو دلايل

وروسته لدې چې پدې خبره پوه شوو چې الله تعالى ټول شيان د انسانانو لپاره پيدا کړي، أوس دا سوال پيدا کېږي  چې ايا أصل په أشياوو کې (چې غوښې هم پکې شاملي دي) إباحت دی أو که حراموالي؟ پدې اړه د علماوو څلور نظريات شتون لري چې په لاندې توګه دي:

۱- د جمهورو أحنافو، شوافعو، ظاهريانو أو حنبليانو په نزد أصل په أشياوو کې إباحت دی تر څو يې د حراموالي په أړه دليل نه وي راغلی.

۲- دويم قول د اشاعره و، عام آهل حديثو، أبوالحسن الخرزي حنبلي [1] أو د واقفيه ؤ قول دی، د دوي په نزد أصل په أشياوو أو افعالو کې توقف دی تر څو چې په أړه يې دليل نه وي موندل شوی.

۳- دريم قول د ځينو معتزلؤ، د ځينو اهل حديثو، ابن حامد[2]، أو قاضي أبويعلى حنبلي [3] دی، د دوي په نزد أصل په أشياوو کې حراموالي أو منع ده.

۴- د ځينو شوافعو په نزد أصل په ګټورو شيانو کې إباحت ، أو ضررري شيانو کې حراموالي أو منع ده.

([4]) په دي أقوالو کې د جمهورو قول راجح دی أو نور ضعيف دي؛  نو په همدې خاطر يواځې د جمهورو دلايل په لاندې توګه په تفصيل سره  ذکر کېږي او د نورو نظرياتو دلايل به په مختصره توګه ذکرکيږي:

**الف:** الله تعالى فرمايې: (هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا) ([5])

---

[1]- د أبوالحسن الخرزي لنډه پيژندنه: عبد العزيز بن احمد ابو الحسن الخرزي په ختيځ کې د المخرم د حدودو نه تر آخر باب الأزج پورې قضاوت کاوه. هغه فاضل، فقيه، او د ښه نظر او خبرې کولو لرونکی و. هغه د داود بن علي الظاهري مذهب ته پيرو و. هلال بن المحسن ليکوال ويلي چې قاضي ابو الحسن الخرزي د ۳۱۱ هجري کال په پنځه‌شنبې ورځ، د جمادى الآخرة په پنځمې نېټه وفات شو.. (البغدادي، أحمد بن علي أبو بكر الخطيب البغدادي، تاريخ بغداد، دار الكتب العلمية – بيروت تاريخ بغداد (10/ 466)

[2]- د ابن حامد لنډه پيژندنه: ابن حامد، د ابوالحسن علي بن حامد بن محمد بن حامد، د اسلامي علومو يو مشهور عالم و. ابن حامد د امام احمد بن حنبل مذهب ته پيرو و او د هغه د فقهي نظرياتو په ترويج کې فعال و. د هغه د علمي مسير په ترڅ کې، هغه ګڼ شمېر کتابونه تاليف کړل چې د علمي ټولنې لخوا ستاينه شوې چې مشهور ترين کتاب يې د (الجامع) په نامه په شلو ټوکو کې ليکل شوی دی. ابن حامد په ۴۰۳ هجري کال کې وفات شو. (سير أعلام النبلاء (17/ 203)

[3]- د أبويعلي لنډه پيژندنه: محمد بن الحسين بن محمد بن خلف ابن الفراء، أبو يعلى ، د اسلامي فقهي علومو مشهور عالم و. هغه د 380 هجري قمري کال په شاوخوا کې زيږيدلی و. ابو يعلي د حنبلي مذهب يو لوی فقيه و، او د امام احمد بن حنبل د فقه په برخه کې يې مهمه ونډه درلوده.. ابو يعلي په 458 هجري کال کې وفات شو. (الأعلام للزركلي (6/ 99)

[4] - الزحيلي، الدكتور وهبة الزحيلي، نظرية الضرورة الشرعية، مؤسسة الرسالة- بيروت، ص 31-32

[5]- سورة البقرة، ايت: 29

الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې د ځمکې ټول شيان پيدا کړي دي. د دې آيت په تفسير کې امام قرطبي – رحمه الله – وايي: "وَقَالَ ابْنُ كَيْسَانَ [1]:" خَلَقَ لَكُمْ" أَيْ مِنْ أَجْلِكُمْ. وَقِيلَ: الْمَعْنَى أَنَّ جَمِيعَ مَا فِي الْأَرْضِ مُنْعَمٌ بِهِ عَلَيْكُمْ فَهُوَ لَكُمْ." ([2]) ابن کيسان ويلي: " خَلَقَ لَكُمْ" يعني ستاسو لپاره. أو ويل شوي: چې د " خَلَقَ لَكُمْ" معنی ده هر هغه څه چې په ځمکه کې دي پر تاسو يې انعام شوی دی أو ستاسو لپاره دي.

امام قرطبي - رحمه الله- وروسته وايي: "اسْتَدَلَّ مَنْ قَالَ إِنَّ أصل الْأَشْيَاءِ الَّتِي يُنْتَفَعُ بِهَا الْإِبَاحَةُ بِهَذِهِ الْآيَةِ وَمَا كَانَ مِثْلَهَا- كَقَوْلِهِ:" وَسَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمأواتِ وَما فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً مِنْهُ " الْآيَةَ- حَتَّى يَقُومَ الدَّلِيلُ عَلَى الْحَظْرِ" ([3]) په ذکر شوي آيت أو ديته ورته په ځينو نورو آيتونو باندې، لکه د الله تعالی دا قول: (أو الله تعالی د اسمانونو أو ځمکې ټول شيان ستاسي لپاره مسخر أو تابع کړي دي، هر څه د خپل له لوري څخه.)، هغه چا استدلال کړی چې أصل په أشياوو کې په إباحت باندې قايل دي.

أو علامه طيبي [4]- رحمه الله – ليکلي: "الأصل في الأشياء الإباحة إلا ما خصه الدليل؛ لقوله تعالى: {خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعًا} فخصت منها أشياء بنص التنزيل" ([5]) أصل په أشياوو کې إباحت دی مګر داچې د تخصيص په أړه يې دليل موجود وي؛ ځکه الله تعالی فرمايي: أو ستاسو لپاره يې ټول هغه څه پيدا کړي دي چې په ځمکه کې دي.

---

[1]- د ابن کيسان لنډه پېژندنه: ابْنُ كَيْسَانَ الحَسَنُ بنُ مُحَمَّدِ بنِ أَحْمَدَ الحَرْبِيُّ و، چې د تفسير او لغت په علومو کې يو پېژندل شوی عالم و. هغه په ځانګړي توګه په نحو او لغت کې تخصص درلود، او ګڼ شمېر علماوو د هغه له علم او تفسير څخه ګټه اخيستې. ابن کيسان په ۲۸۲ هجري قمري کال کې زيږيدلی او په ۳۵۸ هجري قمري کال کې وفات شوی. (سير أعلام النبلاء ط الرسالة (16/ 329)

[2]- تفسير القرطبي، 1 /215

[3]- تفسير القرطبي (1/ 251)

[4]- د علامه طيبي لنډه پېژندنه: شرف الدين الحسين بن عبد الله الطيبي (مړينه: 743 هـ) يو نامتو اسلامي عالم، مفسر او نحوي و. هغه په ځانګړي ډول د احاديثو په شرح کې شهرت درلود او د "شرح مشکاة المصابيح" په نوم کتاب يې د حديثو د تشريح او توضيح په برخه کې مهم اثر دی. الطيبي د علمي تحقيق او دقيق تحليل ځانګړتيا درلوده، چې له امله يې د هغه اثار په اسلامي نړۍ کې د لوستونکو او علماوو ترمنځ ډېر ارزښت لري.

[5]- شرف الدين الحسين بن عبد الله الطيبي (743هـ)، شرح الطيبي على مشكاة المصابيح المسمى بـ (الكاشف عن حقائق السنن)، د. عبد الحميد هنداوي، مكتبة نزار مصطفى الباز (مكة المكرمة - الرياض)، (2/ 632)

همداډول بدرالدين عيني حنفي [1] – رحمه الله ليکلي: "وَلَا شكّ أَن الْحُرْمَة مُتَأَخِّرَة عَن الإباحة لِأَن الأَصْل فِي الْأَشْيَاء الْإِبَاحَة، وَالتَّحْرِيم عَارض" ([2]) أو پدې کې شک نشته چې حراموالي د إباحت څخه وروسته دی؛ ځکه أصل په أشياوو کې إباحت دی أو حراموالي عارضي دی.

**ب:** د جمهورو لپاره بل دليل دا حديث شريف دی: عَنْ سَلْمَانَ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ السَّمْنِ وَالجُبْنِ وَالفِرَاءِ، فَقَالَ: «الحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ، وَالحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ» ([3]) د سلمان فارسي – رضي الله عنه- څخه روايت دی، وايي: د رسول الله –صلى الله عليه وسلم- څخه د غوړيو، پنير أو د حيواناتو د پوست څخه جوړې شوې چپنې اغوستلو په أړه پوښتنه وشوه، نو رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وويل: حلال هغه دي چې الله تعالى په خپل کتاب کې حلال ګڼلي وي، حرام هغه دي چې الله تعالى په خپل کتاب کې حرام ګڼلي وي، أو د کومو شيانو څخه يې چې سکوت کړی وي هغه ستاسو لپاره معاف دي. د دې حديث اخري برخه په ښکاره توګه پدې دلالت کوي چې د کومو شيانو د حراموالي أو حلالوالي په أړه نص شتون ونلري، مباح دي. [4]

**ج:** همداډول امام سرخسي- رحمه الله- د مبسوط (الأصل) د دې عبارت: ( "إن شرب الخمر وأكل الميتة لم يحرم إلا بالنهي عنهما") ([5]) په شرحه کې وايي: "وَلَوْ تَهَدَّدَهُ بِقَتْلٍ حَتَّى يَشْرَبَ الْخَمْرَ، فَلَمْ يَفْعَلْ حَتَّى قُتِلَ خِفْت أَنْ يَكُونَ آثِمًا، وَقَدْ بَيَّنَّا هَذَا الْفَصْلَ إلَّا أَنَّهُ ذَكَرَهُ هُنَا بِلَفْظٍ يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى أَنَّهُ كَانَ مِنْ مَذْهَبِهِ أَنَّ الْأَصْلَ

---

[1]- د بدرالدين عيني رحمه الله لنده پېژندنه: بدرالدين عينى رحمه الله (762هـ - 855هـ) يو مشهور اسلامي عالم، محدث، فقيه، او تاريخپوه و. بشپړ نوم يې محمود بن احمد بن موسى بدرالدين العينى و، چې په عينتاب، شام کې زېږېدلی و. هغه د حنفي مذهب پيرو و او په فقه، حديث، او تاريخ کې يې ژور مهارت درلود. عينى په مصر کې زيات وخت تېر کړ او په الازهر کې تدريس يې کاوه. د هغه له مشهور آثارو څخه "عمدة القاري" (شرح صحيح البخاري) او "عقد الجمان" (تاريخي کتاب) دي، چې په اسلامي نړۍ کې ډېر ارزښت لري. بدرالدين عينى په 855هـ کې وفات شو، او علمي ميراث يې لا هم د اسلامي فقهي او حديث په ډګر کې مهم بلل کېږي. (وګورئ: البدر الطالع بمحاسن من بعد القرن السابع (2/ 286، بترقيم الشاملة آليا)

[2] - أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ)، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، دار إحياء التراث العربي – بيروت، (5/ 53)

[3]- سنن الترمذي ت شاكر ، د حديث شمېره: 1726 ، أبواب اللباس، باب ماجاء في لبس الفراء، (4/ 220)' سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط ، د حديث شمېره: 3367 ، أبواب الأطعمة، بَابُ أَكْلِ الْجُبْنِ وَالسَّمْنِ ، (4/ 459)

[4] - د دې حديث حکم: غريب حديث دی، پدې اړه امام ترمذي ليکلي: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (سنن الترمذي ت بشار (3/ 272)/ او شعيب الأرنؤوط ليکلي: د دې حديث د روايت ټولو طرقو په اساس دا حديث حسن حديث دی "حسن بمجموع طرقه وشواهده إن شاء الله، وهذا إسناد ضعيف لضعف سيف بن هارون". ( سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 459)

[5]- الشيباني، أبو عبد الله محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني (المتوفى: 189 هـ)، الأَصْلُ، تحقيق وَدرَاسَة: الدكتور محمَّد بوينوكالن، دار ابن حزم، بيروت – لبنان، مقدمه/284

فِي الْأَشْيَاءِ الْإِبَاحَةُ، وَأَنَّ الْحُرْمَةَ بِالنَّهْيِ عَنْهَا شَرْعًا " ([1]) كه يو شخص څوک د شرابو په څښلو باندې تهديد كړ، أو تهديد شوې شخص شراب و نه څښل تر دي چي ووژل شو، دا شخص ګنهګار دی، أو دا مسئله مونږ مخکي بيان كړې وه، خو دلته يې پدې خاطر ذكر كوو چي پدې سره پدې خبره استدلال وکړو چې د امام محمد – رحمه الله – أصل مذهب دادی چې أصل په أشياوو كې إباحت دی، أو حراموالی شرعي نهي ته اړتيا لري.

**د:** همداډول علامه شامي - رحمه الله – ليکلي: " المختار أن الأصل في الأشياء الإباحة أقول: وصرح في التحرير بأن المختار أن الأصل الإباحة عند الجمهور من الحنفية والشافعية" ([2]) غوره أو مختار قول دادی چې أصل په أشياوو كې إباحت دی، زه وايم: په تحرير(د كتاب نوم دی) كې پدې باندې تصريح شوی چې مختار قول دادی چې د جمهورو أحنافو أو شوافعو په نزد أصل په أشياوو كې إباحت دی.

## دويم نظر

د دويم نظر په أړه ابن نجيم – رحمه الله- ليکلي: "وقال أصحابنا : الأصل فيها التوقف بمعنى أنه لا بد لها من حكم لكنا لم نقف عليه بالعقل" ([3]) أو زمونږ أصحاب (أحناف) وايي: أصل په أشياوو كې توقف دی، پدې معنى چې د شيانو لپاره حكم (حراموالى أو يا حلالوالى) ضرور دی خو د شرعي نصوصو د راتګ څخه مخکي مونږ ته دا دليل معلوم ندی، أو همدغه قول د ابوالحسن اشعري [4]، ابومنصور الماتريدي أو د هدايي مصنف –رحمهم الله- هم دی، لکه أمير بادشاه حنفي [5] ويلي: "(وَالْوَقْف) وَهُوَ قَول بعض الْحَنَفِيَّة

[1]- المبسوط للسرخسي (24/ 77)

[2] - الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (1/ 105)

[3]- الأشباه والنظائر لابن نجيم، (ص: 66)

[4] - د ابوالحسن الأشعري - رحمه الله- لنډه پيژندنه: علي بن إسماعيل بن إسحاق بن سالم بن إسماعيل بن عبد الله بن موسى بن أبي بردة بن أبي موسى الأشعري، به ٢٦٠ هـ كال په بصره كې زيږيدلى. بغداد ته يي د حديثو د علم د حاصلولو پخاطر سفر وكړ او د مشهورو محدثينو څخه يي حديث واوريدل، لكه أبو الحسن الحافظ زكريا بن يحيى الساجي, أبي خليفة الجمحي، سهل بن سرح ، محمد بن يعقوب المقري اوعبد الرحمن بن خلف البصريين. تاج الدين السبكي په خپل كتاب (طبقات الشافعية الكبرى) كي د أشعري په مدحه كي ليكلي: د امام أحمد بن حنبل څخه وروسته د اهل سنتو ستر عالم أبوالحسن أشعري دى، او د ده او د امام أحمد بن حنبل عقيده يو شان وه. ځيني علما پدې نظر دى چې أبوالحسن مالكي و، ځيني يې حنفي بولي او ځيني نور يې شافعي مذهبه بولي. كه څه هم أبو الحسن يو څه وخت معتزلي و خو وروسته اهل السنة عقيدې ته وګرځيده او تراخره په همدې عقيدې پاتي شو. امام أشعري په كال ٣٣٠ هـ كي وفات شو. (السعدي، حماد بن محمد الأنصاري الخزرجي السعدي (المتوفى: 1418هـ)، أبو الحسن الأشعري، الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة، (ص: 57-62)

[5]- د امير بادشاه لنډه پيژندنه: محمد أمين بن محمود البخاري مشهور په أمير بادشاه (متوفى 972 هـ / 1564 ميلادى) د بخارا يو نامتو حنفي فقيه او محدث و. هغه په فقهي او حديثي علومو كې مهارت درلود او د ګڼو فقهي كتابونو شارح و. د هغه له مشهور ترينو تأليفاتو څخه "تيسير التحرير" دى، چې په اسلامي نړۍ كې يې پراخه شهرت موندلى دى. (الأعلام للزركلي (6/ 41)

مِنْهُم أَبُو مَنْصُور الماتريدي [1] وَصَاحب الْهِدَايَة وَعَامة أهل الحَدِيث وَنقل عَن الأشعرية" ([2]) أو توقف، أو دا د ځينو أحنافو نظر دى چې د دوي له جملي څخه ابومنصور ماتريدي، د هدايي مصنف، أو زياتره اهل حديث، أو اشاعره دي. دوي يواځي په عقلي دليل باندې استدلال كوي، لكه پدې اړه د غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر مصنف ليكلي: "وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا: الْأَصْلُ فِيهَا التَّوَقُّفُ، وَدَلِيلُ هَذَا الْقَوْلِ أَنَّ طَرِيقَ ثُبُوتِ الْأَحْكَامِ سَمْعِيٌّ وَعَقْلِيٌّ، وَالْأولُ غَيْرُ مَوْجُودٍ، وَكَذَا الثَّانِي فَلَا تُقْطَعُ عَلَى أَحَدِ الْحُكْمَيْنِ فَإِنَّ مَنْ قَالَ بِالْإِبَاحَةِ عَقْلًا يَجُوزُ، وَوَرَدَ الشَّرْعُ الشَّرِيفُ فِي ذَلِكَ بِعَيْنِهِ بِالْحَظْرِ فَيَنْقُلُهُ مِنْ الْحَظْرِ إلَى الْإِبَاحَةِ، وَمَا وُضِعَ الْعَقْلُ عَلَيْهِ لَا يَجُوزُ تَغْيِيرُهُ كَشُكْرِ الْمُنْعِمِ" ([3]) أو ځينو أحنافو ويلي: أصل په أشياوو كې توقف دى، أو د دې قول دليل دادى چې د أحكامو د ثبوت طريقه يا په نقل وي أو ياپه عقل، (د صريح دليل د نه شتون په صورت كې) خو سمعي يا نقلي دليل شتون نلري (نو پدې سره خو ثبوت ممكن نشو)، أو همداډول عقلي دليل هم شتون نلري، نو په هېڅ يو د دوه حكمونو(إباحت أو حراموالي) باندې قطعي حكم نشي كيدلى؛ ځكه ځوک چې د عقل په أساس د يوشي په إباحت باندې حكم كوي نو كله چې شرع په خلاف د حكم د عقل راشي نو د عقل حكم به تغير كوي پداسې حال كې چې په عقلي امورو كې تغير نه راځي، لكه د نعمت كوونكي شكر اداء كول په عقل ثابت دي تغير پكې نه راځي، (نو په عقل باندې د إباحت أو يا حراموالي فيصله كول جايز نشول، نو د سمعي أو عقلي دلايلو د نشتون پخاطر أصل په أشياوو كې توقف دى؛ ځكه بله لار نشته).

---

[1] - د ابو منصور الماتردي لنډه پيژندنه: محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي، د علم كلام د امامانو څخه و. دى د سمرقند په ماتريد كلي كې زيږدلى. دى په مختلفو لقبونو باندې مشهور و، لكه: " إمام الهدى "، " إمام المتكلمين "، " مصحح عقائد المسلمين "، " رئيس أهل السنة " چې دا ټول د ده په لوړي علمي مرتبې باندې دلالت كوي، د ده مشهور استاذان د حنفي مذهب ستر علما دي چې يو څو يې عبارت و له: (أبو نصر العياضي، أبو بكر أحمد الجوزجاني، مُحَمَّد بن مقاتل الرازي، نصير بن يَحْيَى البلخي)، او مشهور شاګردان يې عبارت دي له (إسحاق بن مُحَمَّد بن إسماعيل بن إبراهيم بن زيد، أبو القاسم القاضي الحكيم السمرقندي، عبد الكريم بن موسى بن عيسى أبو مُحَمَّد الفقيه البزدوي النسفي، أبو عبد الرحمن بن أبي الليث البخاري، مُحَمَّد بن اليمان، وكنيته: أبو بكر، الملقب بالسمرقندي الإمام)، امام ماتريدي يوازي كلامي عالم نه بلكه يو فقيه او مفسرعالم و، زيات كتابونه يې ليكلي چې د هغي له جملي څخه يې: (التوحيد)، (أوهام المعتزلة)، (الرد على القرامطة)، (مآخذ الشرائع)، (الجدل)، (تأويلات القرآن)، (تأويلات أهل السنة) او (شرح الفقه الاكبر المنسوب للامام أبي حنيفة). نوموړى ٣٣٣هـ ق كال كې په سمرقند كې وفات شوى. (الأعلام للزركلي (7/ 19)/ الماتريدي، محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي (المتوفى: 333هـ)، تفسير الماتريدي (تأويلات أهل السنة)، المحقق: د. مجدي باسلوم، دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، (1/ 73-89)

[2]- أمير بادشاه، محمد أمين بن محمود البخاري المعروف بأمير بادشاه الحنفي (المتوفى: 972 هـ)، تيسير التحرير، مصطفى البابي الْحلَبِي – مصر، 168/2

[3]- شهاب الدين، أحمد بن محمد مكي، أبو العباس، شهاب الدين الحسيني الحموي الحنفي (المتوفى: 1098هـ)، غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر، دار الكتب العلمية-بيروت، (1/ 225)

أو د دربیم نظر په أړه هم غمز عیون البصائر في شرح الأشباه والنظائر کې راغلي: "وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ: الْأَصْلُ فِيهَا الْحَظْرُ وَدَلِيلُهُ أَنَّ التَّصَرُّفَ فِي مِلْكِ الْغَيْرِ بِغَيْرِ إذْنِهِ لَا يَجُوزُ" ([1]) أو ځینو اهل حدیثو ویلي: أصل په أشیاوو کې حراموالی او منع ده، او دلیل یې دادی چې د بل چا په ملکیت کې پرته له اجازي څخه تصرف کول روا ندي.

**یادونه:** (الأصل في الأشياء الإباحة) قاعده د خوراکي شیانو، عاداتو او معاملاتو په أړه ده، یعني أصل پدې شیانو کې إباحت دی تر څو چې یې د حراموالي په أړه شرعي دلیل شتون ونلري، لکه د عاداتو او معاملاتو په أړه په یو حدیث شریف کې راغلي: عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَعَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِقَوْمٍ يُلَقِّحُونَ، فَقَالَ: «لَوْ لَمْ تَفْعَلُوا لَصَلُحَ» قَالَ: فَخَرَجَ شِيصًا، فَمَرَّ بِهِمْ فَقَالَ: «مَا لِنَخْلِكُمْ؟» قَالُوا: قُلْتَ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: «أَنْتُمْ أَعْلَمُ بِأمر دُنْيَاكُمْ» ([2]) هشام بن عروة د خپل پلار څخه، هغه له بي بي عایشي، ثابت او أنس – رضي الله عنهم – څخه روایت کوي چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- په یوه قوم باندې پداسي حال کې تېرېدلو چې ونې یې پیوند کولې، نو رسول الله – صلی الله علیم وسلم- ورته وویل: که دا کار ونکړئ نو ښه به وي، راوي وایي: نو پدې کال بیکاره خرما ووتلې، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم- بیا پدوي تېرېدلو ، پس ورته وویل: په خرماوو مو څه شوې دي؟ صحابؤ وویل: ای د الله رسوله! تاسو داسي داسي وویلي (یعني ونې مه پیوند کوئ) رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: تاسو پخپلو دنیاوي چارو ښه پوهیږئ، (یعني دنیاوي معاملات هغه شان کوئ چې تاسو ته ښه ښکاریږي او په ګټه مو تمامیږي، خو پدې شرط چې د شرعي نصوصو خلاف نه وي).

اما په عباداتو، نفوسو، أموالو او أبضاعو (یعني نکاح) کې أصل حراموالي دی، تر څو یې د إباحت په أړه شرعي دلیل شتون ونلري، او د دې خبري په أړه لاندې دلایل وړاندي کېږي:

۱- د عباداتو په أړه نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- فرمایي: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أمرنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ» ([3]) له بي بي عایشي – رضي الله عنها- څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: هرچاچې زمونږ په دین کې هغه کارونه ایجاد

---

[1] - غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر (1/ 224)

[2]- صحیح مسلم، د حدیث شمېره: 141، كتاب الفضائل، بَابُ وُجُوبِ امْتِثَالِ مَا قَالَهُ شَرْعًا، دُونَ مَا ذَكَرَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَعَايِشِ الدُّنْيَا، عَلَى سَبِيلِ الرَّأْيِ، (4/ 1836)

[3]- صحیح مسلم ، د حدیث شمېره: 1718، كتاب الأقضية، بَابُ نَقْضِ الْأَحْكَامِ الْبَاطِلَةِ، وَرَدِّ مُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ، (3/ 1343)، صحيح ابن حبان، د حدیث شمېره: 26، فَصْلٌ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُصْطَفَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ أُمَّتَهُ بِمَا يَحْتَاجُونَ إِلَيْهِ، مِنْ أَمْرِ دِينِهِمْ قَوْلًا وَفِعْلًا مَعًا، ذِكْرُ الزَّجْرِ عَنْ أَنْ يُحَدِّثَ الْمَرْءُ فِي أُمُورِ الْمُسْلِمِينَ، مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ وَلَا رَسُولُهُ، (1/ 208)

کړل چې زمونږ أمر وربانديې نه وي شوی، هغه مردود دی. د دې حديث څخه په ښکاره توګه معلومېږي چې أصل په عباداتو کې توقيف دی، يعني د عباداتو کميت أو کيفيت بايد د شرعي نصوصو په أساس وي، أو په کومو کارونو چې د شارع لخوا حکم نه وي موجود د عبادت په توګه يې ترسره کول بدعت ګڼل کېږي. [1]

أو شيخ الإسلام ابن تيميه[2] – رحمه الله- په مجموع الفتاوی کې د (مَنْ أَحْدَثَ فِي أمرنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ) حديث رواړلو څخه وروسته ويلي: "ولهذا قال الفقهاء: العبادات مبناها على التوقيف" ([3]) أو د دې حديث له أمله فقهاوو ويلي: چې د عباداتو أساس په توقيف أو نقل باندې ولاړ دی.

٢- أو نفوسو په أړه نبي کريم -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَحِلُّ دَمُ أمرِئٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لدينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ " ([4]) د عبدالله ابن عمر- رضي الله عنه- څخه روايت دی، وايې: چې رسول الله – صلی الله عليم وسلم- وويل: د مسلمان وينې تويول (وژل) د دري حالتونو څخه پرته روا ندي: واده شوی زنا کار، قصاص، أو د مرتد وژل. [5]

البته په ځينو نورو حالتونو کې هم د مسلمان أو غيرمسلمان وژل روا دي، لکه د باغيانو وژل أو د خپل ځان څخه د دفاع پخاطر مقابل لوري وژل، قطاع الطريق (دلاروشکونکو)، أو په جګړه کې د حربي کافر وژل أو ځيني نور چې د فقهي په کتابونو کې په تفصيل سره څېړل شوې، خو د بحث د أوږديدلو پخاطر يې دلته د څېړلو څخه صرف نظر کوم.

٣- أو د اموالو په أړه د ابن عمر –رضي الله عنه- په روايت شوي حديث شريف کې راغلي دي: "فَإِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا" ([6]) يقينا الله تعالی پرتاسو ستاسو وينې، مالونه أو عزتونه حرام کړي، لکه د دې ورځي (عرفات) حراموالی، پدې مياشت

---

[1] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدي اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (1/ 10)

[2]- د ابن تيميه رحمه الله لنډه پېژندنه: ابن تيميه، پوره نوم يې أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله بن تيمية الحراني، په ۶۶۱ هجري کال کې په حران کې زيږيدلی و. هغه د حنبلي فقهې پيرو او د اسلامي فکر، عقيدې او فقهې يو ستر عالم و. ابن تيميه په ځانګړې توګه د توحيد او اسلامي عقيدې د اصلاح په برخه کې مشهور و. د هغه مشهور آثار "مجموع الفتاوی" او "درء تعارض العقل والنقل" دي. ابن تيميه په ۷۲۸ هجري قمري کال کې په دمشق کې وفات شو. (زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن، السَلامي، البغدادي، ثم الدمشقي، الحنبلي (المتوفى: 795هـ)، ذيل طبقات الحنابلة، المحقق: د عبد الرحمن بن سليمان العثيمين، ط١، مکتبة العبيکان – الرياض (4/ 491)

[3]- ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني (المتوفى: 728هـ)، مجموع الفتاوى، المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم، مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية، ٣٣۴/١

[4]- سنن الترمذي ت شاكر ، د حديث شمېره: 1402، أبواب الديات، بَابُ مَا جَاءَ لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ، (4/ 19)

[5] - د حديث حکم: صحيح حديث دی، پدي اړه امام ترمذي – رحمه الله – ويلي: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاکر (4/ 19)

[6]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 1742 ، کتاب الحج، بَاب الْخُطْبَةِ أَيَّامَ مِنًى، (8/ 159)

(ذوالحجه) کې أو پدې ښار ( مکه مکرمه) کې. دا حدیث هم پدې خبره باندې ښکاره دلیل دی چې په ناحقه د نورو خلکو مالونو خوړل حرام دی. ([1])

۴- د أبضاعو (نکاح) په أړه ابن نجیم – رحمه الله – وایي: قاعدة: الأصل في الأبضاع التحریم ولذا قال في کشف الأسرار شرح فخر الإسلام [2]: الأصل في النكاح الحظر وأبیح للضرورة ( انتهى). فإذا تقابل في المرأة حل وحرمة غلبت الحرمة ( ولهذا لا یجوز التحري في الفروج). ([3]) أصل په نکاح کې حراموالي دی؛ له همدې أمله په کشف الأسرار شرح فخر الإسلام کې وایي: أصل په نکاح کې منع ده خو د ضرورت پخاطر الله تعالی روا ګرځولي ده. همداډول یوه بله مسئله ده کله چې په یوه ښځه کې د حلالوالي او حراموالي تقابل راشي، نو حراموالي لره غلبه ده (نو په همدې خاطر په فروجو کې اجتهاد جایز ندی).

## دریم مبحث: د مجتهدینو ترمنځ اختلاف

داچې په فروعو کې اختلاف حتمي پېښدونکی کار دی، نو اړینه ده چې درانه لوستونکي د اختلاف په مفهوم، د جواز او نه جوازپه اړه یې د علماوو اختلاف او راجح قول په اړه پوه شي.

### لمړی مطلب: د اختلاف لغوي أو اصطلاحي تعریف

خلاف د خالف یخالف مصدر أو اختلاف د اختلف یختلف مصدر دی، أو دواړه د تضاد په معنی سره دي، پدې أړه ابن منظور ویلې: "والخِلَافُ: المُضادّةُ، وَقَدْ خَالَفَه مُخَالَفَة وخِلافاً" ([4]) خلاف د تضاد په معنی دی، عربان وایي: هغه سره یې مخالفت وکړ په اختلاف کولو سره (یعني متضاد نظر یې وړاندې کړلو).

---

[1]- وکورئ، الأسمريو صالح بن محمد بن حسن الأسمري، مجموعة الفوائد البهية على منظومة القواعد البهية، دار الصميعي للنشر والتوزيع، ص 69-77

[2]- د فخرالاسلام لنډه پېژندنه: فخر الإسلام، پوره نوم يې علي بن محمد بن الحسين البزدوي و. هغه په ۴۰۰ هجري قمري کال کې زیږیدلی او د اسلامي فقهې يو ستر حنفي عالم او په ماوراء النهر کې د حنفي مذهب شيخ وه. البزدوي په اصول الفقه کې ځانګړې مهارت درلود او د حنفي مذهب په وده کې یې لويه ونډه لرله. د هغه مشهور اثر "كشف الأسرار "دی، چې د اصول الفقه په برخه کې يو مهم کتاب دی او د امام أبو الحسن كرخي د "الأصول" کتاب شرحه ده. فخر الإسلام البزدوي د حنفي مکتب د اصولو په برخه کې خورا مهم ګڼل کېږي. فخر الإسلام البزدوي په ۴۸۲ هجري قمري کال کې وفات شو. (سیر أعلام النبلاء (18/ 603)

[3]- الأشباه والنظائر لابن نجيم (ص: 67)

[4]- ابن منظور، بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى: 711هـ)، لسان العرب،ط3، دار صادر – بيروت، ج 9 ص 90 (په یو څه تصرف سره)

أو اصفهاني [1] د اختلاف لغوي معنى په أړه ويلي: " الخلاف والاختلاف في اللغة: ضد الاتفاق، والخلاف أعم من الضد؛ لأن كل ضدين مختلفان، وليس كل مختلفين ضدين" ([2]) خلاف أو اختلاف د اتفاق ضدين دي، أو خلاف د ضد يا متضاد څخه عام دی؛ ځکه هر دوه متضاد شيان مختلف دي خو هر دوه مختلف شيان متضاد ندي.

أو اختلاف په اصطلاح کې: " الخلاف هو اختيار كل واحد من المخالفين أمرا غير ما اختاره صاحبه في قوله أو فعله، أو سلوكه، أو تفكيره ، أو غير ذالك" ([3]) خلاف عبارت دی په ويناء،کړنه، سلوک أويا هم په تفکير کې د مقابل لوري مخالف نظر غوره کولو څخه.

## دوهم مطلب: د اختلاف حکم

پدې أړه دوه عمده نظرونه شتون لري، چې تفصيل يې په لاندې توګه دی:

۱- د جمهورو علماوو په نزد د مجتهدينو لخوا په اجتهادي مسائلو کې اختلاف بنه کار دی، أو په لاندې دلايلو باندې استدلال کوي:

۲- الله تعالى فرمايي: ( وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ (118) إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ...) ([4])

ژباړه: بيشکه که ستا رب غوښتلای نو ټول انسانان به يې يوه ډله (ديوه دين پيروان) ګرځولي وای، خو هغوي په بيلا بيلو لارو تل روان دي (يعني اختلاف کونکي دي)، مګر يوازې هغه خلک به وژغورل شي چې د الله تعالى رحم وربان‌دې دی.

د دې آيت د تفسير په أړه امام طبري – رحمه الله - ګڼ أقوال ذکر کړي چې په هغې کې يو تفسير د رئيس التابعين حسن البصري [5] –رحمه الله - تفسير دی: "عن الحسن: (ولذلك خلقهم) ، قال: للاختلاف." حسن

---

[1]- د أصفهاني رحمه الله لنډه پېژندنه: أصفهاني، پوره نوم يې أبو القاسم الحسين بن محمد بن المفضل الراغب الأصفهاني و. أصفهاني په ۳۴۳ هجري قمري کال کې زيږيدلی. هغه يو مشهور اسلامي عالم، لغوي او اديب و، چې په ځانګړې توګه په قرآن او لغت کې مهارت درلود. اصفهاني د اسلامي نړۍ په فکري او ادبي حلقو کې د خپل علم او دقت له امله ډېر مشهور و. د هغه تر ټولو مشهور اثر "مفردات ألفاظ القرآن "دی، چې په کې د قرآن کريم لغات او اصطلاحات په تفصيل سره تشريح شوي دي. دا کتاب د قرآن د الفاظو په فهم او د هغو په استعمال کې مهمه مرجع ګڼل کېږي. الراغب الأصفهاني د ۵۰۲ هجري قمري کال په شاوخوا کې وفات شو. (الأعلام للزركلي (2/ 255)

[2]- الأصفهاني، الحسين بن محمد بن المفضل المعروف بالراغب الأصفهاني أبو القاسم، مفردات ألفاظ القرآن، دار القلم ـ دمشق، ج 1 ص 315

[3]-عبدالباقي، دكتور مصباح الله عبدالباقي، أسباب الاختلاف وأثرها في تفسير آيات الأحكام، ص 55 (https://ebook.univeyes.com/91562)

[4]- سورة هود، ايت: 117-118

[5]- د حسن بصري رحمه الله لنډه پېژندنه: حسن بصري، پوره نوم يې أبو سعيد الحسن بن أبي الحسن يسار البصري و. هغه په ۲۱ هجري قمري / ۶۴۲ ميلادي کال کې د مديني منورې په ښار کې زيږيدلی و. حسن بصري د تابعينو له لويو علماوو څخه و، او په اسلامي تاريخ کې د زهد، تقوی، او علم له امله ځانګړې شهرت لري. هغه په حديث، فقه، او د قرآن تفسير کې پراخه پوهه درلوده، او د خپلو پندو او نصيحتونو له امله يې

بصري –رحمه الله – د آيت د دې برخي (ولذلك خلقهم) تفسير داسې کړی: الله تعالی انسانان د اختلاف لپاره پیدا کړي، یعني ځیني به حق مني أو ځيني نور به يې نه مني، أو دا ډول اختلاف خو بغير له شک څخه مذموم دی، خو بل ډول اختلاف چې رحمت دی أو اختلاف کوونکو ته ضرر نه رسوي، هغه په اجتهادي مسايلو کې اختلاف دی، لکه حسن البصري – رحمه الله- وروسته وايې: "عن الحسن قال: (ولذلك خلقهم)، قال: أما أهل رحمة الله فإنهم لا يختلفون اختلافًا يضرُّهم." حسن بصري –رحمه الله – ویلي: اهل رحمت داسې اختلاف نکوي چې دوي ته ضرر ورسوي، يعني د دوي اختلاف په اجتهادي مسايلو کې دی، کوم چې په حتمي توګه پيښيدونکی دی. ([1])

امام شاطبي [2] - رحمه الله - ويلي: " أنا نقطع بأن الخلاف في مسائل الاجتهاد واقع ممن حصل له محض الرحمة ، وهم الصحابة ومن اتبعهم بإحسان رضي الله عنهم ، بحيث لا يصح إدخالهم في قسم المختلفين بوجه ، فلو كان المخالف منهم في بعض المسائل معدوداً من أهل الاختلاف ـ ولو بوجه ما ـ لم يصح إطلاق القول في حقه : انه من أهل الرحمة . وذلك باطل بإجماع أهل السنة" ([3])

مونز په ډاډه توګه وایو چې په اجتهادي مسايلو کې د هغو کسانو لخوا اختلاف شوی چې خالص د الله تعالی د رحمت څخه برخوردار وه، لکه صحابه کرام أو هغه ځوک چې په نیکی کې د دوی پيروي کوي، نو په يادشوې آيت کي د دوي شاملول صحيح نه دي، ځکه که چيري سلف صالحين په ځينو مسايلو کې د اختلاف له أمله پدې آيت کې داخل کړل شي نو دوي به د اهل رحمت څخه خارج شي چې دا د اهل سنتو د اجماع له مخې باطل قول دی.

۲- ځينو سلف صالحينو د علماوواختلاف رحمت ګڼلی دی، چې د ځينو نومونه يې په لاندې ډول دي:

---

په اسلامي ټولنه کې د معنوي لاربنود مقام درلود. حسن بصري په بصريه کې ژوند کاوه او د خپل وخت د مشهورو علماوو او صحابه وو څخه يې علم زده کړی و. حسن بصري په ۱۱۰ هجري قمري / ۷۲۸ ميلادي کال کې وفات شو. (سير أعلام النبلاء ط الرسالة (4/ 564)

[1]- وګورئ، الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: 310هـ)، جامع البيان في تأويل القرآن، المحقق: أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة، ۵۳۶/۱۵

[2]- د إمام شاطبي رحمه الله لنډه پېژندنه: امام شاطبي، پوره نوم يې أبو إسحاق إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشاطبي و. هغه په ۷۲۰ هجري قمري / ۱۳۸۸ ميلادي کال کې زيږيدلی و. امام شاطبي د مالکي مذهب پيرو او په اصول الفقه، فقه، او قرآني علومو کې يو له سترو علماوو څخه و. د هغه تر ټولو مشهور آثار "الموافقات "او "الاعتصام "دي، چې د اصول الفقه او د بدعتونو په اړه مهم کتابونه دي. امام شاطبي په اسلامي فکر کې د مقاصد الشريعة (اسلامي مقاصدو) نظريې د توضيح او وده لپاره پېژندل کېږي. امام شاطبي په ۷۹۰ هجري قمري / ۱۳۸۸ ميلادي کال کې وفات شو. (الأعلام للزركلي (1/ 75)

[3] - الشاطبي، إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير بالشاطبي، الاعْتِصَام، تحقيق: د هشام بن إسماعيل الصيني، ط۱، دار ابن الجوزي للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، 3/ 96 (بل ځای ونه موندل شو)

**الف:** "عن القاسم بن محمد[1] قال : لقد نفع الله باختلاف أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم في العمل ، لا يعمل العامل بعمل رجل منهم إلا رأى أنه في سعة" الله تعالي د أصحابو په اختلاف سره إسلامي أمت ته زياته ګټه رسولي ده، د هر صحابي په قول چې عمل وکړل شي نو پدې کې د خلکو لپاره پراخي أو اختيار دی.

**ب:** "عمر بن عبد العزيز [2] : ما أحب أن أصحاب محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يختلفون ، لأنه لو كان قولاً واحداً لكان الناس في ضيق ، وإنهم أئمة يقتدى بهم ، فلو أخذ رجل بقول أحدهم كان سنة". عمربن عبدالعزيز- رحمه الله - به ويل: زما لپاره به دا جالبه نه وای که د نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- صحابۀ اختلاف نه وای کړی؛ ځکه که د هري مسئلي په أړه يو قول وای نو خلک به په تنګۍ کي وای، يقينا صحابه د خلکو لپاره امامان دي چې اقتدا ورپسي وکړي، أو که څوک د هر صحابي په قول عمل وکړي نو په سنت به يې عمل کړی وي. ([3])

۲- دوهمه ډله علماء چې ظاهريان أو ځيني نور علماء دي، د دوي په نزد اختلاف په مطلقه توګه مذموم دی. دوي په ګڼو دلايلو باندې استدلال کوي چې ټول يو ډول مؤول دي أو د هغه اختلاف په أړه دي چې يا خو د اهل اجتهاد لخوا څخه نه وي أو يا هم په اجتهادي مسايلو کې نه وي. ([4])

## درېيم مطلب: د مجتهدينو ترمنځ د اختلاف مهم اسباب

**الف:** په فروعو کې د اختلاف مهم اسباب په لاندې توګه دي:

---

[1]- د قاسم بن محمد رحمه الله لنډه پېژندنه: قاسم بن محمد بن ابی بکر، **د** تابعينو له مشهورو علماوو څخه و. هغه د ابو بکر الصديق د لمسيانو څخه و. قاسم بن محمد په **37** هجري قمري کال کې زيږيدلی و او د مديني منورې په ښار کې ژوند کاوه. هغه د فقه، حديث، او تفسير په علومو کې د خپلې پوهې له امله مشهور و. قاسم بن محمد د ابن عباس، ابن عمر، او نورو صحابه وو نه علم زده کړی و. قاسم بن محمد په 107 هجري قمري کال کې وفات شو. (وګورئ: الأعلام للزركلي (5/ 181)

[2]- د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله لنډه پېژندنه: عمر بن عبدالعزيز، چې پوره نوم يې عمر بن عبد العزيز بن مروان بن الحكم الإمام أمير المؤمنين أبو حفص الأموي القرشي، په ۶۱ هجري قمري **/** کال کې په مدينه منوره کې زيږيدلی و. هغه د اموي خلافت اتم خليفه و، چې د «عمر الثاني» لقب لري. د عدالت، نيکۍ، او اصلاحاتو لپاره مشهور دی. عمر بن عبدالعزيز په حکومتي چارو کې مالياتو عادلانه تقسيم، د فقر کموالی، او د خلکو حقوقو ته پام کړی و. هغه د علم او دين ترويج ته هم ځانګړی اهميت ورکوله. عمر بن عبدالعزيز په ۱۰۱ هجري قمري کال کې وفات شو. (وګورئ: تذكرة الحفاظ للذهبي (1/ 91)

[3]- الاعْتِصَام د امام شاطبي 3/ 96

[4]- وګورئ: أسباب الاختلاف وأثرها في تفسير آيات الأحكام د دکتور مصباح الله عبدالباقي ص 1051 (https://ebook.univeyes.com/91562)

دکتورمصطفی سعیدالخن [1] د اختلاف اسباب په تفصیل سره ذکر کړي، چې زه يې په مختصره توګه دلته د لوستونکو په وړاندي ږدم:

**۱- د قرائتونو اختلاف:** لکه د أوداسه په أړه په آيت کې چې د "أرجلکم" لفظ په زور أو زير د لام سره راغلی أو له أمله يې په أوداسه کې د پښو وينځلو يا مسحه کولو په أړه ستر اختلاف رامنځ ته شوی دی، چې اهل تشيع د پښو په مسحه باندې قايل دي أو اهل سنت د پښو په وينځلو.

**۲- د حديث په أړه خبرتيا نه درلودل:** که څه هم زياتره صحابه په خاص ډول خلفاء راشدين به اکثره وخت د رسول الله – صلى الله عليه وسلم – سره ملګري وه خو د دې سربيره بيا هم ځينې احاديث ورته نه وه معلوم، لکه څنګه چې أبوبکر صديق - رضی الله عنه- څخه د نيا د ميراث په أړه پوښتنه وشوه، نو په ځواب کې يې وويل: ستا (جدې) د برخې په أړه خو ماته په کتاب الله أو سنتو کې څه ندي معلوم، لېکن زه به د نورو صحابؤ څخه پوښتنه وکړم، بالاخره مغيره بن شعبه – رضي الله عنه- ورته وويل: چې نيا ته رسول الله – صلي الله عليه وسلم- سدس ورکړی وه، نو أبوبکرالصديق- رضي الله عنه- خپله رايه پريښودله أو په سدس (شپږمه برخه) يې فيصله وکړه. ([2])

همداډول عمر فاروق – رضي الله عنه- پدې نظر وه چې د مقتول مېرمنه د خاوند په ديت کې برخه نلري، بلکه ټول ديت د عاقله ؤ لپاره دی تردي چې ضحاک بن سنان – رضي الله عنه- ورته ليک واستولو چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم- د أشيم الضبابي – رضي الله عنه- مېرمني ته د خپل خاوند له ديت څخه برخه ورکړي وه، نو عمر فاروق –رضي الله عنه – خپله رايه د حديث پخاطر پريښودله. ([3])

**۳- د حديث د ثبوت په أړه شک:** لکه د مبتوتي [4] د ميراث په أړه عمر فاروق -رضی الله عنه- د فاطمه بنت قيس قول رد کړ چې ويلي يې وه د مبتوتي لپاره نفقه أو سکنی نشته، أو عمر فاروق – رضي الله

---

[1]- د کتور سعيد الخن لنډه پيژندنه: شيخ مصطفى بن سعيد الخن په 1922 کال کې په دمشق کې زيږيدلی و. هغه د الأزهر پوهنتون د شرعياتو پوهنځي څخه په 1952 کې په ممتاز درجه فارغ شو. په 1955 کې د دمشق پوهنتون استاد شو، په 1962 کې سعودي ته ولاړ او هلته يې تدريس کاوه. په 1971 کې يې دکتورا ترلاسه کړه او په 1981 کې د دمشق پوهنتون د عقايدو او اديانو څانګې رئيس شو. شيخ په 2008 کال کې وفات شو. (أيمن بن أحمد ذو الغنى، وفاة شيخ علماء الأصول، /https://www.odabasham.net)

[2] - سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2723، أبواب الفرائض، بَابُ مِيرَاثِ الْجَدَّةِ، (4/ 26)، او شعيب الأرنؤوط ويلي چې دا حديث صحيح لغيره حديث دي: صحيح لغيره (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 27)

[3] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2927 ، کتاب الفرائض، باب في المرأة ترثُ من دِيَةِ زوجِها، (4/ 551)، او شعيب الأرنؤوط ليکلي چې دا حديث صحيح حديث دی: حديث صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 551)

[4]- مبتوتة هغې ښځې ته ويل کيږي چې په دري طلاقو باندي طلاقه شوي وي. الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (9/ 6642)/

عنه- وويل مونږ د الله تعالی کتاب د يوې ښځې د روايت له کبله نشو پرېښودلی، خدای خبر چې دې ښځې حديث په سمه توګه حفظ کړی او که ورڅخه هېر شوی. ([1])

**۴- د نص په فهم او پوهه کې اختلاف:** لکه د خلطينو[2] د زکات په اړه د وارد شوې حديث په فهم کې د علماوو اختلاف، يعني د امام شافعي او احمد بن حنبل – رحمهما الله- په نزد د حديث " أَنْ لَا يُفَرَّقَ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، وَلَا يُجْمَعَ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ " ([3]) معنی داده چې کله د دوه کسانو څارويو د څرځای، لوشلو او اوبه خور يو وي نو خليطين ګڼل کېږي او پدې صورت کې په خليطينو د يوه سړي په شان زکات لازميږي، اما د امام ابوحنيفه – رحمه الله- په نزد هدف د يوځای والی او بېلوالی څخه د ملکيت ګډون او ياهم بېلوالی دی نو په همدې خاطر د مکان په لحاظ د ګډوالی په صورت کې د هر مالک څخه جدا زکات اخيستل کېږي ، نو د امام صاحب فهم د خليطينو په اړه دادی چې دوه کسان په څارويو کې شريک وي بيا خلطين ګڼل ګيږي او د يوه شخص په څېر زکات ورڅخه اخيستل کېږي، او که په ملکيت کې شريک نه وي او مالونه يې په يو ځای کې لوشل کېږي، څريږي او اوبه کېږي خليطين نه بلل کېږي او په هر يوه جدا زکات لازميږي.

**۵- په لفظ کې اشتراک:** لکه ( وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ) ([4])

ژباړه: او طلاق کړل شوې ښځې دې د درېيو حيضونو موده په انتظار کې تيره کړي. په يادشوې آيت کې د ( قُرُوءٍ) لفظ چې د قرء جمعه ده د طهر او حيض په مينځ کې مشترک لفظ دی، نو په همدې خاطر د شوافعو په نزد د مطلقې عدت په طهر سره دی، او د أحنافو په نزد په حيض سره او هر مذهب خپل د لايل لري چې د اصولو په کتابونو کې په تفصيل سره څېړل شوې ده.

**۶- د نصوصو تعارض:** لکه د إحرام په حالت کې نکاح کول، د جمهورو علماوو په نزد د احرام په وخت کې نکاح کول جايز ندي او پدې حديث باندې استدلال کوي: «لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ، ولا يُنكِح ، وَلَا يَخْطُبُ»

---

[1] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره : 2291 ، كتاب الطلاق، باب من أنكر ذلك على فاطمة (3/ 600)، او شعيب الأرنؤوط ليکلي چې دا حديث صحيح حديث دی: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (3/ 600)

[2]- خلطين: خلطين عبارت د دوه مالدارانو څخه دي چې څاروي يې سره په استراحت ځای ، څر ځای، د څښاک ځای، د شيدو د لوشلو ځای، او نارينه څاروی (د جفت کولو لپاره) ګډې کړی. الموسوعة الفقهية الكويتية (4/ 310)

[3]- الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (المتوفى: 321هـ)، شرح مشكل الآثار، تحقيق: شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، 19/15

1 - البقرة: 228

([1]) محرم به نه ځوک په نکاح کوي، نه به په نکاح ورکول کېږي  أو نه به هم رويباري يا خواستګاري کوي. ([2])

خو د أحنافو په نزد د احرام په حالت کې نکاح جواز لري، أو پدې حديث باندې استدلال کوي: عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، أَخبره «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ» ([3]) عمربن دينار د ابي شعثاء څخه روايت کوي چې ابن عباس ده ته خبر ورکړ چې نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- د ام المؤمنين ميموني – رضي الله عنها- سره پداسې حال کې نکاح وکړه چې محرم وه. [4]

نو په پورتنيو دوه أحاديثو کې ښکاره تعارض ښکاري، خو د دې تعارض د دفعه کولو لپاره هر مذهب مختلف وجوهات ذکر کړي چې په خپل ځای کې کتلی شئ. ([5])

د اختلاف يادوشويو أسبابو څخه په ورايه ځرګنديږي چې په فرعې اجتهادي مسايلو کې اختلاف حتما پيښيدونکی دی أو دا اختلاف د أمت لپاره په حقيقت کې رحمت دی؛ ځکه هغه شرعي نصوص چې مختلفو أحکامو ته شامليږي د اختلاف له کبله په ټولو احتمالاتو باندې عمل کېږي  أو هېڅ يو احتمال بي عمله نه پاتي کېږي ، أو همدا راز پدې اختلاف کې د أمت لپاره سهولت دی؛ ځکه د ځينو لپاره به هغه حکم اسانه أو ښه وي چې امام يې استنباط کړی أو د ځينو نورو لپاره به هغه بل حکم اسانه أو خوښ وي چې امام يې استنباط کړی.

---

[1]- مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 462، باب: الجزء الأول (1/ 508)/ صحيح ابن حبان – محققا، د حديث شمېره: 4124، کتاب النکاح، باب حرمة المناکحة (9/ 434)

[2] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدی اړه د مسند أحمد محققين، شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون ليکلي: إسناده من طريق يعلى بن حكيم صحيح على شرط مسلم (مسند أحمد ط الرسالة (1/ 508)، او د ابن حبان محقق شعيب الأرنؤوط ليکلي: حديث صحيح (صحيح ابن حبان - محققا (9/ 434)

[3]- صحيح ابن حبان – محققا، دحديث شمېره: 4129، کتاب النکاح، باب حرمة المناکحة (9/ 437)/ سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 1844، کتاب المناسک، باب في المحرم يتزوج (3/ 241) ، سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 842، أبواب الحج، باب ماجاء في الرخصة في ذالک (3/ 192)

[4] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی؛ ځکه شيخينو روايت کړی، او امام ترمذي – رحمه الله ليکلي: د ابن عباس – رضي الله عنه – حديث حسن صحيح حديث دی، حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (3/ 193)، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (3/ 241)

[5]- وګورئ: الخن، دکتور مصطفى سعيد الخن، اثرالاختلاف في القواعد الأصولية في اختلاف الفقهاء، مؤسسة الرسالة-بيروت، ص ٣٨-١١٩

## لمړی فصل

## د بري يا وچې حيواناتو أو حشراتو غوښې

الله تعالی په خپل قدرت سره مختلف حيوانات پيدا کړي، چې ځيني يې په وچه أو ځيني نور يې په سمندر يا أوبو کې ژوند کوي. د يادولو ده چې د يو حيوان بري أو ياهم بحري کېدلو لپاره معيار تولد دی، يعني کوم حيوانات چې په وچه کې پيدا کېږي بري ګڼل ګيږي که څه هم ځيني وختونه په سمندر کې ژوند کوي، أو همداړول کوم حيوانات چې په سمندر کې پيدا کېږي بحري بلل کېږي که څه هم ځيني وخت په وچه کې هم ژوند کوي، پدې أړه امام کاساني – رحمه الله – وايي: "وَالْبَرِّيُّ مَا يَكُونُ تَوَالُدُهُ فِي الْبَرِّ، سَوَاءٌ كَانَ لَا يَعِيشُ إلَّا فِي الْبَرِّ أو يَعِيشُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، فَالْعِبْرَةُ لِلتَّوَالُدِ" ([1]) بري هغه حيوانات دي چې تولد يې په وچه کې شوی وي، برابره خبره ده چې يوائې په وچه کې ژوند کوي أو ياهم په وچه أو أوبو دواړو کې، نو عبرت پيدايښت أو تولد ته دی.

د يادونې وړ ده چې مرغان ټول بري دي، لکه امام کاساني - رحمه الله - وايي: "وَالطُّيُورِ الَّتِي يُؤْكَلُ لُحُومُهَا بَرِّيَّةً كَانَتْ، أو بَحْرِيَّةً؛ لِأَنَّ الطُّيُورَ كُلَّهَا بَرِّيَّةٌ؛ لِأَنَّ تَوَالُدَهَا فِي الْبَرِّ إنَّمَا يَدْخُلُ بَعْضُهَا فِي الْبَحْرِ لِطَلَبِ الرِّزْقِ" ([2]) أو هغه مرغان چې غوښې يې خوړل کېږي براره خبره ده که بري وي أو ياهم بحري (د محرم لپاره يې ښکار جايز ندی)؛ ځکه مرغان ټول پدې خاطر بحري دي چې تولد يې په و چه کې کېږي أو أوبو ته د رزق د لټولو پخاطر کوزيږي.

خو داچې په وچه کې مختلف حيوانات، حشرات أو مرغان ژوند کوي چې ځيني يې أهلي أو ځيني نور يې وحشي دي، په أهلي أو وحشي حيواناتو أو مرغانو کې يې ځيني حلال أو ځيني نور حرام دي، نو پدې فصل کې به د وچې حيواناتو أو حشراتو د حلالوالي أو حراموالي په أحکامو په تفصيل سره رڼا واچول شي.

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (2/ 196)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ، (٢/ ١٩٧)

## لمړی مبحث: د حلالو أو اختلافي حیواناتو غوښې

د حلال تعریف په أړه جرجاني صاحب [1] لیکلي: " الحلال: كل شيء لا يعاقَب عليه باستعماله. الحلال: ما أطلق الشرع فعله، مأخوذ من: الحل، وهو الفتح." ([2]) حلال هر هغه شي ته ویل کېږي چې د هغې په استعمال باندې ځاته جزا نه ورکول کېږي أو نه ورباندې رټل کېږي . أو یا حلال هغه څه ته ویل کېږي چې شارع د هغې کول مطلق پرېښي وي، د حل څخه اخیستل شوی چې د خلاصوالي په معنا سره دی (یعني خلک ازاد دې چې داسې کارونه وکړي چې شارع مطلق پرېښي وي)

أو ابن منظور په لسان العرب کې حلال داسې تعریف کړی: "وكل شيء أَباحه الله فهو حَلال وما حَرَّمه فهو حَرَام" ([3]) هر هغه شی چې الله تعالی حلال ګرځولي وي هغه حلال دی، أو کوم شی یې چې حرام کرځولی وي هغه حرام دی.

أود حلال تعریف علامه شوکانی داسې کړی: "الْحَلَالَ الَّذِي أَذِنَ اللَّهُ بِهِ، وَرَغَّبَ فِيهِ" ([4]) حلال هغه څه دي چې الله تعالی د هغې اجازه کړي وي أو بنده ګان یې هغې ته هڅولي وي.

أو حرام په لغت کې منع کړل شوې ته وایې أو په اصطلاح کې: "الحرام هو ما طلب الشارع تركه على وجه الحتم والإلزام" ([5]) حرام د هر هغه شي څخه عبارت دی چې شارع په حتمي أو لازمي توګه د هغه د پرېښودلو غوښتنه کړي وي.

أو حلال د مباح مترادف په توګه هم استعمالیږي، أو د مباح تعریف داسې شوی: "المباح هو ما خير الشارع المكلف بين فعله وتركه" ([6]) مباح هر هغه شي ته ویل کېږي چې شارع مکلف ته په کولو یا نه کولو کې اختیار ورکړي.

---

[1]- د جرجاني صاحب لنډه پېژندنه: علي بن محمد بن علي الزين الشريف، مشهور په جرجاني صاحب، په 740 هجري قمري کې زیږیدلی و. هغه د مشهور ادیب، لغوي، او عالم په توګه پیژندل شوی دی. جرجاني د لغت او نحوه په علم کې ځانګړې پوهه درلوده او د "التعريفات "په نوم خپل مشهور کتاب یې تالیف کړی، چې په کې د اسلامي علومو، د عرفان، او د ادب د اصطلاحاتو تعریفات شامل دي. دا کتاب د خپل زمانې د علمي او ادبي تولنې لپاره یو مهم مرجع ګڼل کیږي. جرجاني په 816 هجري قمري کال کې وفات شوی. (الأعلام للزركلي (4/ 204)

[2] - الجرجاني، علي بن محمد بن علي الزين الشريف الجرجاني (المتوفى: 816هـ)، كتاب التعريفات، المحقق: ضبطه وصححه جماعة من العلماء بإشراف الناشر، دار الكتب العلمية بيروت –لبنان، (ص: 92)

[3] - لسان العرب (11/ 167)

[4]- الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (المتوفى: 1250هـ)، فتح القدير، دار ابن كثير، دار الكلم الطيب - دمشق،بيروت، ۶۰۰/۲

[5]- وګورئ، الزحيلي، الأستاذ الدكتور محمد مصطفى الزحيلي، الوجيز في أصول الفقه الإسلامي، ط۲، دار الخير للطباعة والنشر والتوزيع، دمشق – سوريا، ۳۴۹/۱

[6]- الوجيز في أصول الفقه الإسلامي (1/ 373)

د يادولو وړ ده چې د يوشي حلال أو حرام ګرځول يواځي د شارع حق دی، أو بل هيڅوک نه يو شی حلال ګرځولی شی أو نه هم حرام، پدې أړه الله تعالى د يهودو په ذم کې فرمايې: { اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} ([1])

ژباړه: دوی خپل عالمان أو روحانيون له الله تعالى څخه پرته خپل خدايان نيولي دي. د دې آيت په تفسير کې مفسرين د عدي بن حاتم دا حديث ذکر کوي: "...وهو يقرأ هَذِهِ الْآيَةَ اتَّخَذُوا أَحْبارَهُمْ وَرُهْبانَهُمْ أَرْباباً مِنْ دُونِ اللَّهِ قَالَ: فَقُلْتُ: إِنَّهُمْ لَمْ يَعْبُدُوهُمْ فَقَالَ: «بَلَى إِنَّهُمْ حَرَّمُوا عَلَيْهِمُ الْحَلَالَ وَأَحَلُّوا لَهُمُ الْحَرَامَ فَاتَّبَعُوهُمْ فَذَلِكَ عِبَادَتُهُمْ إِيَّاهُمْ" ([2]) عدي بن حاتم رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ته په داسې حال کې راغی چې دا آيت (اتَّخَذُوا أَحْبارَهُمْ وَرُهْبانَهُمْ أَرْباباً مِنْ دُونِ اللَّهِ) يې لوستلو، عدي وايي: ما رسول الله –صلى الله عليه وسلم- ته وويل: يهود خو د خپلو روحانيونو عبادت نکوي؟ رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وويل: ولې نه، دې روحانيونو د خپل ځان څخه حلال حرام کړي أو حرام يې حلال کړي أو يهودو يې پيروي کړې چې همدا د روحانيونوعبادت ګڼل کېږي . [3]

د دې آيت څخه په څرګنده توګه معلوميږي چې د الله تعالى څخه پرته، نورڅوک د يوشي حلال أو حرام ګرځولو حق نلری، اما د ځينو شيانو د حلالوالي أو حراموالي په أړه چې د علماوو په مينځ کې اختلاف وي هغه هم د شرعي نصوصو په أساس وي.

همداډول په حديث شريف کې راغلي: عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: - وَأَهْوَى النُّعْمَانُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى أُذُنَيْهِ "إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ..." ([4]) شعبي د نعمان بن بشير څخه روايت کوي، وايي چې ما د نعمان بن بشير څخه أوريدلي چې ويل يې: ما د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه أوريدلي، أو

---

[1]- التوبة, ايت: 31]

[2]- ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: 774هـ)، تفسير القرآن العظيم (ابن كثير)، المحقق: محمد حسين شمس الدين، دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، ۱۱۹/۴

[3]- د دي حديث تخريج أو حكم: سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 3095، أبواب تفسير القرآن، باب: ومن سورة التوبة (5/ 278)/ دا حديث غريب حديث دی، پدې اړه امام ترمذي رحمه الله ليکلي: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ (سنن الترمذي ت شاكر (5/ 278)

[4]- صحيح مسلم، د حديث شمېره: 1599، كتاب المساقات، باب أخذ الحلال وترک الشبهات (3/ 1219)، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3985، أبواب الفتن، باب: بدأ الإسلام غريبا (5/ 124)

نعمان په خپله ګوته غوږونو ته اشاره وکړه، چې ویل یې: یقینا حلال ښکاره دي، حرام ښکاره دي أو د حلال أو حرامو ترمنځ ځینې مشتبه شیان دي چې ډېر خلک ورباندې نه پوهیږي. [1]

د دې حدیث په شرحه کې امام نووي – رحمه الله – لیکي: وأما قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ فَمَعْنَاهُ أَنَّ الْأَشْيَاءَ ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ حَلَالٌ بَيِّنٌ وَاضِحٌ لَا يَخْفَى حِلُّهُ كَالْخُبْزِ وَالْفَوَاكِهِ وَالزَّيْتِ وَالْعَسَلِ وَالسَّمْنِ وَلَبَنِ مَأْكُولِ اللَّحْمِ وَبَيْضِهِ وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنَ الْمَطْعُومَاتِ وَكَذَلِكَ الْكَلَامُ وَالنَّظَرُ وَالْمَشْيُ وَغَيْرُ ذَلِكَ مِنَ التَّصَرُّفَاتِ فِيهَا حَلَالٌ بَيِّنٌ وَاضِحٌ لَا شَكَّ فِي حِلِّهِ وَأَمَّا الْحَرَامُ الْبَيِّنُ فَكَالْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْبَوْلِ والدم المسفوح وكذلك الزنى وَالْكَذِبُ وَالْغِيبَةُ وَالنَّمِيمَةُ وَالنَّظَرُ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ وَأَشْبَاهُ ذَلِكَ وَأَمَّا الْمُشْتَبِهَاتُ فَمَعْنَاهُ أَنَّهَا لَيْسَتْ بِوَاضِحَةِ الْحِلِّ وَلَا الْحُرْمَةِ فَلِهَذَا لَا يَعْرِفُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَعْلَمُونَ حُكْمَهَا وَأَمَّا الْعلماء فَيَعْرِفُونَ حُكْمَهَا بِنَصٍّ أَوْ قِيَاسٍ أَوِ اسْتِصْحَابٍ أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ فَإِذَا تَرَدَّدَ الشَّيْءُ بَيْنَ الْحِلِّ وَالْحُرْمَةِ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِ نَصٌّ وَلَا إِجْمَاعٌ اجْتَهَدَ فِيهِ الْمُجْتَهِدُ فَأَلْحَقَهُ بِأَحَدِهِمَا بِالدَّلِيلِ الشرعي" ([2]) دا قول د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- چې فرمایي: (الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ)، معنا یې داده چې شیان په دري ډوله دي: یو قسم یې ښکاره حلال شیان دي چې حلالوالی یې هرچا ته معلوم وي، لکه ډوډی، میوې، غوړي، عسل، شیدې، حلالې غوښې، هګۍ أو داسې نور د خوړلو شیان، أو همداډول په خبرو، کتلو، تګ أو داسې نور شیانو د کړنو څخه ځینې یې ښکاره حلال أو روا دي چې په حلالوالي کې یې هېڅ شک نشته، أو هرچې ښکاره حرام دي، لکه شراب، خنزیر، مردار شوی حیوان، بولې، بهیدونکې وینه أو داسې نور د خوراک أو څښاک حرام شیان، أو همداډول زنا، درواغ، غیبت، نمیمت أو شیطاني، أو بیګانه ښځو ته کتل د تصرفاتو أو کړنو څخه، أو دریم ډول شیان مشتبهات دي، پدې معنی چې حلالوالی أو حراموالی یې واضح ندی؛ نو په همدې خاطر یې زیاتره خلک حکم نه پیژندي، أو هرچې علماء دي نو حکم یې په نص، قیاس، استصحاب أو یاهم د نورو دلایلو په واسطه پیژندي، نو کله چې یو شی د حلالوالي أو حراموالي ترمنځ مشتبه وي نو علماء یې په أړه اجتهاد کوي أو د حلال أو یا هم حرام پسې یې حکم پیوسته کوي. هدف دا شو چې د یوشي حلال أو حرام ګرځول یوازې د شارع حق دی، بل هېڅوک د حلال أو حرام ګرځولو حق نلري.

د دې اړینې مقدمې څخه وروسته د حلالو أو اختلافي حیواناتو د غوښو په أړه په تفصیل سره رڼا اچول کېږي.

[1] - د نوموړي حدیث حکم د سنن ابن ماجه په روایت: صحیح حدیث دی؛ ځکه مسلم روایت کړی، او شعیب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحیح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (5/ 124)

[2]- النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ)، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، ط۲، دار إحياء التراث العربي – بيروت، ۲۸/۱۱

**لمړی مطلب: د حلالو حیواناتو دلولنه أو د غوښو د حلالوالي دلایل:**

الله تعالی مختلف أهلي حیوانات پیدا کړي چې ځیني یې حلال أو ځیني نور یې حرام دي چې پدې مطلب کې ورباندې رڼا اچول کېږي .

**الف: أهلي حلال حیوانات:** د ځینو أهلي حیواناتو د حلالوالي په أړه هېڅ ډول اختلاف نشته، بلکه د ټولو مسلمانانو په نزد حلال دي أو حلال ګڼل یې د دین له ضروریاتو څخه دي، أو دا ډول حیوانات عبارت دي له: أوښانو، غوایانو (أوګاومیښنو) وزو أو پسونو څخه. د دې حیواناتو د حلالوالي دلایل په لاندې توګه دي:

١- الله تعالی فرمایي: ( أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ ) ([1])

ژباړه: ستاسو لپاره د څارویو ټول ډولونه حلال کړل شوي دي، پرته له هغو چې وړاندي به تاسو ته وښودل شي.

امام طبري – رحمه الله- په خپل تفسیر کې د (بهيمة الأنعام) د تفسیر په أړه مختلف روایات نقل کړي چې په لاندې توګه دي:

١- "عن الحسن قال: بهيمة الأنعام، هي الإبل والبقر والغنم." حسن بصري – رحمه الله – ویلي: بهيمة الأنعام عبارت دي له أوښ، غوایي، أوزو أو پسونو څخه.

٢- "عن قتادة [2] في قوله:"أحلت لكم بهيمة الأنعام"، قال: الأنعام كلها." قتاده – رضي الله عنه- ویلي: بهيمة الأنعام ټولو څارویو ته شاملېږي.

٣- "عن السدي:"أحلت لكم بهيمة الأنعام"، قال: الأنعام كلها." سدي – رحمه الله- په نزد هم بهيمة الأنعام عبارت دي له ټولو څارویو څخه.

۴- "عن الربيع بن أنس في قوله:"أحلت لكم بهيمة الأنعام"، قال: الأنعام كلها" ([3]) ربیع بن انس ویلي: بهيمة الأنعام څخه مراد ټول څاروې دي.

---

[1] - المائدة: 1

[2]- د حضرت قتاده رحمه الله لنډه پېژندنه: حضرت قتاده بن دعامة السدوسي رحمه الله یو مشهور تابعی او مفسر و، چې په بصره کې اوسېده. هغه د ٦٠ هجري کال شاوخوا زیږېدلی او په قرآن او حدیث کې یې ژوره پوهه لرله. قتاده د انس بن مالک رضي الله عنه په ګډون له ګڼو صحابه کرامو حدیثونه روایت کړي دي. هغه نابینا و، خو د حافظې ځواک یې ډېر وو. د هغه علمي میراث په ځانګړي ډول د تفسیر او حدیث په برخو کې تلپاتې دی. حضرت قتاده په ١١٧ هجري کال کې وفات شو. (وګورئ: الأدنروي، أحمد بن محمد الأدنروي، طبقات المفسرين، تحقيق : سليمان بن صالح الخزي، مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة، طبقات المفسرين - الأدنروي (ص: 14)

[3] - الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: 310هـ)، جامع البيان في تأويل القرآن، المحقق: أحمد محمد شاكر، ط1، (9/ 455)

ليکن امام طبري [1]- رحمه الله- د قتاده، سدي [2] أو د ربيع بن انس [3]– رحمهم الله – قول ته ترجيح ورکړي، أو ليکلي يې دي: "قال أبو جعفر: وأولى القولين بالصواب في ذلك، قول من قال: عنى بقوله:"أحلت لكم بهيمة الأنعام"، الأنعام كلها" ([4]) په يادوشويو أقوالو کې غوره قول د هغه چا دی چې د بهيمة الأنعام څخه مراد ټول څاروي اخلي؛ نو د دې تفسير مطابق ټول أهلي أو وحشي څاروي د آيت پدې برخه کې داخليږي أو لدې څخه حرام حيوانات د آيت پدې برخې سره أوځي چې: (الا مايتلى عليكم).

٢- همداډول په بل ځای کې الله تعالی فرمايي: (وَمِنَ الْأَنْعَامِ حَمُولَةً وَفَرْشًا كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ (142) ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ نَبِّئُونِي بِعِلْمٍ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (143) وَمِنَ الْإِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الْأُنْثَيَيْنِ أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ الْأُنْثَيَيْنِ أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ وَصَّاكُمُ اللَّهُ بِهَذَا فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا لِيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ) ([5])

ژباړه: أو الله تعالى هماغه ذات دی چې له څارويو څخه يې ځينې داسې پيدا کړي چې د سپرلی أو پېټي وړلو کار ورڅخه اخيستل کېږي ، أو ځينې داسې هم دي چې د خوړلو أو فرشولو لپاره کارول کېږي ، له هغو شيانو څخه وخورئ چې الله تعالى درپه برخه کړيدي، أو دشيطان په پله مه ځئ چې ستاسو ښکاره دښمن دی.

---

[1] - د امام طبري لنډه پيژندنه: محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري ، مشهور مؤرخ او مفسر عالم و، چې په (224 - 310 هـ) کې تولد او وفات شوی. دی په اصل کې د طبرستان د ايران شمال شرق ته پروت ښار د آمل په سيمه کې زيږدلی، وروسته بغداد ته منتقل شوی او تروفاته پوري يې همالته زندګي کړي. دی د ثقاتو تاريخ پوهانو څخه دی، لکه چې ابن اثير د ده په اړه ويلي: أبوجعفر موثقترين شخص دی چې تاريخ يې نقل کړی، او همداراز د تفسير علم په ډګر کې خورا لوی عالم و. امام ابن جرير طبري – رحمه الله – په احکامو کې مجتهد عالم و او د هيچا تقليد يې نه کولو، او برعکس ځيني خلکو د ده تقليد او په اقوالو يې عمل کولو. ابن جرير – رحمه الله – ګڼ کتابونه ليکلي چې مشهور يې عبارت دي له: (الذيل التابع لاتحاف المطالع ) چې په تاريخ طبري باندي مشهور دی، (جامع البيان في تفسير القرآن - ط) چې په تفسير الطبري باندي مشهور دی، (اختلاف الفقهاء - ط) او داسي نور. (سير أعلام النبلاء ط الرسالة (14/ 267)

[2]- د سدي رحمه الله لنډه پېژندنه: السدي رحمه الله، چې بشپړ نوم يې اسماعيل بن عبدالرحمن السدي الكبير دی، يو مشهور مفسر او تابعی و. هغه د ٦٠ هجري کال په شاوخوا کې زېږېدلی او په کوفه کې اوسېدلی دی. السدي په ځانګړي ډول د تفسير په برخه کې شهرت لري او ډېر صحابه کرامو ته نږدې پاتې شوی، په ځانګړي ډول د عبدالله بن عباس او انس بن مالک رضي الله عنهما څخه يې علم ترلاسه کړی. د هغه تفسير د اسلامي علومو په تاريخ کې ارزښتمن ګڼل کېږي. السدي په ١٢٧ هجري کال کې وفات شوی دی. (وګورئ: سير أعلام النبلاء ط الرسالة (5/ 265)

[3]- د ربيع بن أنس لنډه پېژندنه: ربيع بن أنس رحمه الله يو مشهور تابعی، محدث او مفسر و. د بصري څخه و. هغه د تابعينو له لويو علماوو څخه ګڼل کېږي او په ځانګړي ډول د تفسير او حديث په برخه کې شهرت لري. ربيع بن أنس له صحابه کرامو څخه علم اخيستی، په ځانګړي ډول د انس بن مالک، ابن عمر او جابر رضي الله عنهم څخه. هغه د قرآن تفسير او حديث روايت کولو ته ډېر اهميت ورکاوه. ربيع بن أنس رحمه الله په ١٣٦ هجري کال کې وفات شوی دی. (وګورئ: طبقات المفسرين - الأدنروي (ص: 16)

[4] - تفسير الطبري = جامع البيان ت شاكر (9/ 457)

[5]- الأنعام، ايت: ١٤٢-١٤٤

دا اته نر أو ښځي دي، دوه د مېږو له ډوله أو دوه د وزو له ډوله. [ای محمده –صلی الله علیه وسلم-] له دوي پوښتنه وکړه چې ایا الله تعالی د هغو نر حرام کړيدي که ښځي، یا هغه بچي چې د میږو أو د وزو په ګیډه کښې وي؟ له علم سره سم یې ماته راوښایاست، که تاسي ریښتني یاست.

أو همدغه راز دوه د أوښ له ډوله، أو دوه د غوايي له ډوله دي. له دوي پوښتنه وکړه چې ایا الله تعالی د هغو نر حرام کړيدي که ښځي، یا هغه بچي چې د أوښې أو غوا په ګېډه کښې وي؟ ایا تاسي په هغه وخت کې موجود وئ چې الله تعالی د هغو د حراموالي حکم درکړی ؤ؟ نو له هغه چا نه به بل لوی ظالم څوک وي چې د الله له لوري ته د دروغو وینا منسوب کړي، تر څو چې له علم څخه پرته خلکو ته غلطه لارښوونه وکړي، په باوري توګه الله تعالي دغه راز ظالمانو ته سمه لاره نه ښيي.

دا آیتونه په أصل کې د مشرکینو په عقیده باندې رد دی چې د یادوشویو حیواناتو څخه یې ځیني حرام ګڼل أو ځیني حلال، نو الله تعالی د دوي په عقیدي باندې رد وکړ أو په وروستي آیت کې فرمایي: (قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أو دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أو فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ...) [1]

ژباړه: [ای محمده – صلی الله علیه وسلم-!) دوی ته ووایه: کومه وحیي چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسي شی نه مومم، چې پر کوم خوړونکي دي حرام وي؛ مګر داچې هغه مرداره (خپله مړ شوی) وي یا توی شوې وینه وي، یا دخوګ غوښه وي چې هغه ناپاکه ده، یا فسق وي چې له الله تعالی پرته د بل چاپه نوم حلال کړای شوی وي. د دې آیت څخه په څرګنده توګه معلومیږي چې پورتني یادشوي حیوانات حلال دي أو مشرکینو چې ځیني له دوی څخه حرام کړي و دا د دوي خپل شنیع کار وه چې الله تعالی ته د منلو وړ ندی، أو رد یې وربانده کړی.

د یادوني وړ ده چې دا آیت مکي دی أو په أصل کې د یادوشویو حیواناتو په أړه د مشرکینو په عقیده باندې په رد کې راغلی أو د حرامو حیواناتو حصر پکښې مراد ندی؛ ځکه وروسته په مدني سورتونو أو په أحادیثو کې د ځینو نورو حیواناتو، مرغانو أو حشراتو حراموالی هم بیان شوی دی چې وروسته به د حرامو حیواناتو په برخه کې بیان شي، نو دغه وروستنی آیت د ځینو علماوو په نزد منسوخ دی، خو ځیني نور مفسرین یې په نسخه قایل ندي أو نورتوجیهات وړاندې کوي، لکه داچې پدې آیت کې د محرماتو حصر مطلب ندی، بلکه د ځینو حیواناتو د حراموالي بیان راغلی أو په سورة مائده أو أحادیثو کې د پاتې حرامو حیواناتو یادونه شوې ده. [2]

---

[1]- الأنعام، ایت: ۱۴۵

[2]- وګورئ، تفسیر ابن کثیر ط العلمیة (3/ 316)/ تفسیر القرطبي (7/ 115)

۲- د أوښ أو غوايي د قرباني په أړه په حديث کې راغلي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَحَضَرَ الأَضْحَى فَاشْتَرَكْنَا فِي البَقَرَةِ سَبْعَةً، وَفِي البَعِيرِ عَشَرَةً» ([1]) ابن عباس – رضي الله عنه- ويلي: مونږ په سفر کې د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- سره ملګري ؤ، نو د قربانۍ وخت راغی، پس مونږ أوه کسان په غوايي أو أوه کسان په أوښ کې شريکان شوو. [2]

د يادولو وړ ده چې د جمهورو په نزد د قربانۍ لپاره په غوايي أو أوښ کې يوازې أوه نفره ونډه اخيستلی شي، لېکن د اسحاق بن راهويه – رحمه الله – په نزد په أوښ کې لس نفره هم ونډه اخيستلی شي، أو د ابن عباس په همدې حديث باندې استدلال کوي، لکه پدې أړه مباركفوري – رحمه الله – ليکلي: "فِيهِ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّهُ يَجُوزُ اشْتِرَاكُ عَشْرَةِ أَشْخَاصٍ فِي الْبَعِيرِ وَبِهِ قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ رَاهُوَيْهِ" ([3]) أو ذكر شوی حديث پدې خبره باندې دليل دی چې په أوښ کې لس نفره د قربانۍ لپاره ونډه اخيستلی شي، أو پدې باندې اسحاق بن راهويه [4] قول کړی دی.

لېکن د جمهورو په نزد باندې په أوښ أو غوايي کې يوازې أوه نفره د قربانۍ لپاره ونډه اخيستلی شي، أو جمهور د مسلم پدې حديث باندې استدلال کړی دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: «نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ» ([5]) جابر بن عبدالله – رضي الله عنه- روايت کوي چې د حديبيې په کال مونږ د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- سره أوښ د أوه نفررو أو همداډول مو غويه د أوه نفرو څخه قرباني کړ. [6]

پدې مسئله کې د جمهورو قول راجح دی؛ ځکه چې د ابن عباس روايت غريب حديث دی أو دجابر بن عبدالله روايت صحيح حديث دی.

---

[1]- سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 1501، أبواب الأضاحي، باب ماجاء في الاشتراك في الأضحية (4/ 89)

[2] - د حديث حکم: حسن غريب حديث دی، پدې اړه پخپله امام ترمذي ليکلي: حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ (سنن الترمذي ت بشار (3/ 141)

[3] - المباركفورى، أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفورى (المتوفى: 1353هـ)، تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي، دار الكتب العلمية – بيروت، (5/ 72)

[4]- د إسحاق بن راهويه لنډه پېژندنه: أبويعقوب إسحاق بن راهويه رحمه الله يو نامتو محدث، فقيه او مفسر او شيخ المشرق په نامه مشهور و، چې په ۱۶۱ هجري کال کې په مرو کې زېږېدلی دی. هغه د حديث په علم کې ځانګړی مقام لري او له لويو محدثينو لکه امام احمد بن حنبل سره يې علمي اړيکي درلودې. إسحاق بن راهويه د "مسند إسحاق" په نوم د حديثونو يوه مهمه مجموعه ترتيب کړې ده، او د امام بخاري د استادانو له جملې څخه ګڼل کېږي. هغه د فقهي او اجتهاد په برخه کې هم شهرت درلود. إسحاق بن راهويه په ۲۳۸ هجري کال کې وفات شوی دی. (وګورئ: سير أعلام النبلاء ط الرسالة (11/ 358)

[5] - صحيح مسلم، د حديث شمېره: 1318، كتاب الحج، بَابُ الِاشْتِرَاكِ فِي الْهَدْيِ وَإِجْزَاءِ الْبَقَرَةِ وَالْبَدَنَةِ كُلٍّ مِنْهُمَا عَنْ سَبْعَةٍ (2/ 955)، سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2809، كتاب الأضاحي، باب في البقرة والجَزُور، عن كم تُجزىء؟ (4/ 432)

[6] - د حديث حکم د سنن أبو داود په روايت: صحيح حديث دی؛ ځکه مسلم روايت کړی، همداراز شعيب لأرنؤوط ويلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 432)

يادشوي حديثونه په څرګنده توګه د أوښانو أو غوايانو په حلالوالي باندې دلالت کوي؛ ځکه قرباني په هغه أهلي حيواناتو باندې صحيح کېږي چې حلال وي.

د پسه د قربانۍ په اړه په حديث کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذبح مَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا» ([1]) د انس ابن مالک – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- په دوه پسونو (سپين چې توروالی ورسره ګډ وي) قرباني وکړه، په خپل لاس مبارک يې حلال کړل، بسم الله أو تکبير يې ورباندې وويلې أو په څنګ يې ورته پښه إيښې وه. [2]همدا راز په بل حديث کې راغلي: عَنْ أَبِي كِبَاشٍ قَالَ: جَلَبْتُ غَنَمًا جُذْعَانًا إِلَى المَدِينَةِ فَكَسَدَتْ عَلَيَّ، فَلَقِيتُ أَبَا هُرَيْرَةَ فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ «نِعْمَ الْأُضْحِيَّةُ الجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ» ([3]) د ابي کباش څخه روايت دی وايي: ما مديني منورې ته يو کلن پسونه د تجارت لپاره راوستل، نو تاوان مي پکښې وکړ، نو زه د ابوهريره – رضي الله عنه – سره مخ شوم أو پوښتنه مي ورڅخه وکړه، نو ابوهريره وويل: ما د نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- څخه أوريدلي چې ويل به يې: بهترينه قرباني هغه ورى دى چې يو کلن وي. [4] (الضَّأْنِ) وري ته وايي.

راغلو ګاوميښو ته، نو د هغوي حکم د غوايانو په شان دی، لکه وهبة الزحيلي ليکي: "اتفق العلماء على أن الأضحية لا تصح إلا من نَعم: إبل وبقر (ومنها الجاموس) وغنم (ومنها المعز) بسائر أنواعها" ([5]) علماء پدې متفق دي چې قرباني نه صحيح کېږي، مګر په اهلی څارويو، لکه أوښ، غويه (أو د غوايانو له جملي څخه ګاوميښي) پسونه أو وزې د ټولو ډولونو په شمول.

همداډول په عنايه شرح هدايه کې راځي: "وَيَدْخُلُ فِي الْبَقَرِ الْجَامُوسُ لِأَنَّهُ مِنْ جِنْسِهِ" ([6]) أو د غوايانو په حکم کې ګاوميښي هم داخليږي؛ ځکه چې ګاوميښي د غوايانو له جنس څخه دي.

---

[1] - سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شميره: 1494، أبواب الأضاحي، بَابُ مَا جَاءَ فِي الأُضْحِيَّةِ بِكَبْشَيْنِ (4/ 84)، صحيح ابن حبان – محققا، د حديث شميره: 3120، أَبْوَابُ الْأَضَاحِيِّ، بَابُ أَضَاحِيِّ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (13/ 221)

[2] - د حديث حکم: امام ترمذي ويلي: دا صحيح حديث دي: هذه حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 84)

[3]- سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شميره: 1499، أبواب الأضاحي، بَابُ مَا جَاءَ فِي الجَذَعِ مِنَ الضَّأْنِ فِي الأَضَاحِيِّ (4/ 87)

[4] - د حديث حکم: امام ترمذي – رحمه الله – ويلي: "حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَوْقُوفًا" د ابوهريره حيث غريب حيث دی، او دابو هريره – رضي الله عنه – حديث موقوف هم روايت شوی دی. (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 88)

[5]- الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 259)

[6]- البابرتي، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: 786هـ)، العناية شرح الهداية، دار الفكر-بيروت، ٥١٧/٩

**۲- د آسونو غوښې:** د آسونو د غوښو په اړه علماء اختلاف نظر لري، د امام ابوحنیفه [1]- رحمه الله - په نزد د آسونو خوړل مکروه دي، أو پدې حدیث باندې استدلال کوي: "عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ، وَالْبِغَالِ، وَالْحَمِيرِ" ([2]) د خالد بن ولید –رضي الله عنه – څخه روایت چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – د آسونو، قچرو أو خرو د غوښو څخه منع فرمایلي ده.

امام طحاوي [3] د دې حدیث په شرحه کي وایي: "قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ: فَذَهَبَ قَوْمٌ إِلَى هَذَا، فَكَرِهُوا لُحُومَ الْخَيْلِ. وَمِمَّنْ ذَهَبَ إِلَى ذَلِكَ، أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ، وَاحْتَجُّوا فِي ذَلِكَ بِهَذَا الْحَدِيثِ. وَخَالَفَهُمْ فِي ذَلِكَ آخَرُونَ ،فَقَالُوا: لَا بَأْسَ بِأَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ. وَاحْتَجُّوا فِي ذَلِكَ: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: «كُنَّا نَأْكُلُ لُحُومَ الْخَيْلِ، عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" ([4]) ابو جعفر (طحاوي) ویلي: ځیني علماء په همدې نظر دي چې د آسونو غوښو خوړل مکروه دي أو دا د امام أبوحنیفه – رحمه الله – قول دی، خو د جمهورو علماوو په نزد د

---

[1] - د امام ابو حنیفه – رحمه الله – لنډه پیژندنه: الامام الأعظم أبوحنيفة النعمان بم الثابت الكوفي البغدادي، مشهور په (أبوحنيفة) په کال (٨٠ هـ) په کوفه کې د عبدالملک بن مروان خلافت په دوره کې دنیا ته سترګې غړولي. امام أبوحنیفه – رحمه الله- تابعي دی؛ ځکه چې ګڼ شمیر صحابه یې لیدلي چې د هغوي له جملي څخه أنس بن مالک – رضي الله عنه – دی. الْحَسَنُ بْنُ صَالِحِ بْنِ حُيَيٍّ به ویل: «كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ شَدِيدَ الْخَوْفِ لِلَّهِ، هَائِبًا لِلْحَرَامِ أَنْ يَسْتَحِلَّ» امام أبوحنیفه – رحمه الله- د الله تعالي څخه سخت ویریدونکی و، او د دې څخه سخت ویریده چې حرام دي حلال وګڼي. او ابْنَ الْمُبَارَكِ رحمه الله به ویل: «مَا رَأَيْتُ أَوْرَعَ مِنْ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَدْ جُرِّبَ بِالسِّيَاطِ وَالأَمْوَالِ» د امام أبو حنیفه – رحمه الله – څخه ما بل څوک زیات پرهیزګار ندی لیدلی، او دی په مال او درو باندې امتحان کړل شوی دی. او امام الشَّافِعِيَّ – رحمه الله- به ویل: يَقُولُ: «النَّاسُ عِيَالٌ عَلَى أَبِي حَنِيفَةَ فِي الْفِقْهِ» خلك په فقه کې د امام أبو حنیفه – رحمه الله – عیال دي. (الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ)، مناقب الإمام أبي حنيفة وصاحبيه، عني بتحقيقه والتعليق عليه: محمد زاهد الكوثري، أبو الوفاء الأفغاني، لجنة إحياء المعارف النعمانية، حيدر آباد الدكن بالهند، ص 13-57)

امام أبوحنیفه – رحمه الله – د مشهورو تابعینو څخه علم زده کړی، لکه عطاء بن أبي رباح، نافع مولی ابن عمر، قتادة بن دعامه الدوسي، عامر الشعبي، حماد بن سلیمان او داسي نور. د امام صاحب مشهور شاګردان عبارت دي له: امام أبو یوسف، امام محمد بن الحسن الشيباني، امام زفر اوداسي نور. امام أبوحنیفه – رحمه الله – د هجرت په (١٥٠) کال کې په بغداد کې د دې دنیا څخه سترګې پټې کړي.

(المكي، دكتور محمد ظاهر أسدالله المكي، مقدمة في مصطلحات الفقهاء عن الأحكام الشرعية وأئمة مذاهبهم الأربعة، سلسلة الدعوة الاسلامية- مكة المكرمة، ص 69-73)

[2]- شرح معاني الآثار، د حدیث شمیره: 6414، كتاب الصيد والذبائح والأضاحي، بَابُ أَكْلِ لُحُومِ الْفَرَسِ (4/ 210)

[3]- د امام طحاوي رحمه الله لنډه پیژندنه: امام طحاوي رحمه الله، أبو جعفر احمد بن محمد بن سلامه بن سلمة بن عبدالملک الطحاوي (239هـ - 321هـ) یو وتلی فقیه او محدث و، چې په مصر کې زیږیدلی و. نوموړی د حنفي فقهې له لویو پیروانو څخه ګڼل کیږي او په مصر کې یې لومړني علمي درسونه ترلاسه کړل. هغه د اسلامي علومو په بیلابیلو برخو کې تخصص درلود او په ځانګړي ډول د حنفي فقهې په پراختیا کې یې مهمه ونډه لرله. د امام طحاوي تر ټولو مشهور اثر "شرح معاني الآثار" دی، چې په حدیثي او فقهي مسایلو کې معتبره منبع ګڼل کیږي. هغه په 321هـ کې وفات شو او د علم او تقوا له امله ډیر درناوی ورته کیده. (تاج التراجم في طبقات الحنفية (ص: 3، بترقيم الشاملة آليا)

[4]- شرح معاني الآثار ، د حدیث شمیره: كتاب الصيد، والذبائح والأضاحي ، كتاب الصيد، والذبائح والأضاحي، بَابُ أَكْلِ لُحُومِ الْفَرَسِ 4/ 210-211

آسونوِ غوښو خوړل جايز دي أو پدې حديث استدلال کوي: د جابر – رضي الله عنه- څخه روايت دی، فرمايلي يې دي: چې مونږ به د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- په زمانه کې د آسونو غوښې خوړلې.

همداډول د مسلم حديث دی: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأهليةِ، وَأَذِنَ فِي لُحُومِ الْخَيْلِ» ([1]) جابر بن عبد الله – رضي الله عنه- وايې: د خيبر په ورځ رسول الله – صلى الله عليه وسلم- د خرو له غوښو څخه منع وفرمايله أو د آسونو د خوړلو اجازه يې وکړه. [2]

امام نووي [3] – رحمه الله - د دې حديث په شرحه کې ليکلي: "اخْتَلَفَ الْعلماء فِي إِبَاحَةِ لُحُومِ الْخَيْلِ فَمَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَالْجُمْهُورِ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ أَنَّهُ مُبَاحٌ لَا كَرَاهَةَ فِيهِ وَبِهِ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ وفضالة بن عبيد وأنس بن مالك وأسماء بنت أَبِي بَكْرٍ وَسُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ وَعَلْقَمَةُ وَالْأَسْوَدُ وَعَطَاءٌ وَشُرَيْحٌ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَالْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ وَإِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ وَحَمَّادُ بْنُ سُلَيْمَانَ وَأَحْمَدُ وَإِسْحَاقُ وَأَبُو ثَوْرٍ وَأَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَدَاوُدُ وَجَمَاهِيرُ المحدثين وغيرهم وكرهها طائفة منهم بن عَبَّاسٍ وَالْحَكَمُ وَمَالِكٌ وَأَبُو حَنِيفَةَ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ يَأْثَمُ بِأَكْلِهِ وَلَا يُسَمَّى حَرَامًا وَاحْتَجُّوا بِقَوْلِهِ تَعَالَى: (وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً) ([4]) وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَكْلَ وَذَكَرَ الْأَكْلَ مِنَ الْأَنْعَامِ فِي الْآيَةِ الَّتِي قَبْلَهَا وَبِحَدِيثِ صَالِحِ بْنِ يحيى بن المقدم عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِوَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ»" ([5]) د آسونو غوښو په اړه علماء اختلاف د نظر لري: د امام شافعي أو جمهورو متقدمينو أو متاخرينو په نزد د آسونو غوښې مباح دي أو هيڅ ډول کراهيت پکښې نشته أو دا د عبدالله بن زبير، فضاله بن عبيد، انس بن مالک، أسماء بنت ابي بکر، سويد بن غفلة ، علقمه، أسود، عطا، شريح، سعيدبن جبير، حسن بصري، ابراهيم نخعي، حماد بن سليمان، أحمد، اسحق، أبوثور، أبويوسف، محمد، دأود، أو د جمهورو محدثينو قول دی، خو د ځينو نورو علماوو په نزد د آسونو غوښې مکروه دي، أو دا د عباس، حکم،

---

1- صحيح مسلم، د حديث شميره: 1941، كتاب الصيد والذبائح وما يؤكل من الحيوان، بَابٌ فِي أَكْلِ لُحُومِ الْخَيْلِ (3/ 1541)، صحيح ابن حبان – محققا، 5273 ، كتاب الأطعمة، ذكر الزجر عن أكل لحوم الحمر الأهلية (12/ 78)

2 - د حديث حکم د صحيبح ابن حبان په روايت: صحيح حيث ؛ ځکه مسلم روايت کړی، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (صحيح ابن حبان - محققا (12/ 78)

3 - د امام نووي – رحمه الله لنډه پيژندنه: امام يحيى بن شرف نووي رحمه الله، چې کنيت يې أبو زکريا او لقب يې محی الدين و، په ۶۳۱هـ کې په حوران کې زیږېدلی او له همدې امله "نووي" بلل کیږي. هغه لومړنی زده کړې په خپل کلي کې وکړې او په ۱۹ کلنی کې دمشق ته ولاړ، چيرې چې يې له مشهورو استادانو لکه کمال الدين اسحاق او قاضی نفيسی څخه علم ترلاسه کړ. په حديث کې يې له زين الدين بن عبدالدايم او نورو علماوو زده کړې وکړې. د امام نووي مشهور کتابونه "شرح صحيح مسلم"، "رياض الصالحين"، او "الاذکار" دي. (ويکيپېډيا، د ستر محدث امام نووي رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه، ژباړن: عزت الله کوټوال، 17 اگسټ 2019، (https://ps.wikipedia.org/wiki/)

4- النحل،ايت: 8

5- المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، 13/95-96

مالک أو د امام أبوحنیفه قول دی. امام ابوحنیفه –رحمه الله – ویلي: د آسونو غوښنو خوړل ګناه ده (یعني مکروه دي) أو حرام ندي، دي دلیي علماوو د سورت نحل په اتم آیت باندې استدلال کړی چې الله تعالی فرمایي: (أو مونږ اسان، قچرې أو خره پیدا کړي د زینت أو سورلی لپاره) نو په آیت کې د دې حیواناتو هدف زینت أو سورلی یاد شوی أو د خوراک یادونه نده شوې، لکه چې د سورت نحل په څلورم آیت کې د (الأنعم) سره د (تاکلون) یادونه شوې ده.

همدا راز یې په هغه حدیث استدلال کړی چې په هغې کې د آسونو، قچرو، خره أو د هرداړو لرونکي حیوان د غوښنو څخه منع راغلې ده. خو د جمهورو علماوو په نزد دا حدیث ضعیف دی أو د حلالوالي په اړه د حدیث معارض نشي واقع کیدلی أو که بالفرض صحیح هم شي، نو د حراموالي حدیث منسوخ دی، أو پدې اړه امام نووي په تفصیل سره د هغه علماوو یادوونه کړي چې د حراموالي حدیث ته یې ضعیف أو یا هم منسوخ ویلي دي. ([1])

**یادونه:** د امام ابوحنیفه – رحمه الله - په نزد د آسونو غوښې مکروه دي أو د دلایلو د تعارض له کبله حرامې ندي، أو امام صاحب – رحمه الله - په درې قسمه دلایلو باندې استدلال کړی:

۱- کتاب الله: الله تعالی فرمایي: (وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً) ([2])

ژباړه: أو مونږ اسونه، قچرې أو خره پیدا کړي د زینت أو سورلی لپاره. پدې آیت کې د دې حیواناتو هدف زینت أو سورلی یاد شوی أو د خوراک یادوونه نده شوې، لکه څنګه چې د سورت نحل په څلورم آیت کې د (الأنعم) سره د (تاکلون) یادوونه شوې ده.

۲- د رسول الله سنت: په حدیث کې راغلي: "عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ , وَالْبِغَالِ , وَالْحَمِيرِ" ([3]) د خالد بن ولید –رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – د آسونو، قچروأو خرو د غوښنو څخه منع فرمایلي ده.

همداسې ځینې نور احادیث هم شته چې صراحتا د آسونو د غوښنو، په حراموالي دلالت کوي چې کاساني صاحب د امام صاحب د مذهب په تایید کې ذکر کړي دي، د لازیات تفصیل لپاره بدائع الصنایع ته مراجعه وکړئ.

[1]- وګورئ: المنهاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج، 96/13

[2]- النحل، ایت: 8

[3]- شرح معاني الآثار، 6414، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَالْأَضَاحِيِّ، بَابُ أَكْلِ لُحُومِ الْفَرَسِ (4/ 210)

۳- د اجماع دلالت: يعني قچره چې د اسپي بچی دی په اتفاق سره حرامه ده، نو كه چيري أسپه مباح وای نو بچی به يې هم حلال وای؛ ځكه د غوښې په حلالوالي أو حراموالي كې اعتبار مور ته وي نه فحل (پلار) ته. ([1])

د پورتني بحث څخه دا نتيجه لاس ته راځي چې د آسونو د غوښو په أړه د صاحبينو أو جمهورو علماوو قول راجح ښكاري؛ د حلالوالي په أړه أحاديث وروستي أو قوي دي نسبت د هغه أحاديثو چې په حراموالي باندې دلالت كوي، أو بل داچې امام صاحب هم د دلايلو د تعارض له أمله په كراهيت قايل دی، أو مراد د كراهيت څخه هم د ځينو علماوو په نزد كراهيت تنزيهي دی، لكه څنګه چې شاه انور شاه كشميري– رحمه الله – په العرف الشذي كې ليكلي: "الخيل عندنا مكروه، والمختار الكراهة تنزيهاً، ونقل في الدر المختار رجوع أبي حنيفة عن هذا قبل الموت في مرض موته، وفي بعض كتبنا أنه لو قرب الموت تذبح وإلا فلا لكونه آلة الجهاد، وفي كتب الموالك إنه مكروه أشد الكراهة قريب الحرمة، وقد وقع مناظرة في المسألة بين فخر الإسلام البزدوي الحنفي والغزالي الشافعي وسكت الغزالي". ([2]) اسونه زمونږ (أحنافو) په نزد مكروه دي، أو د غوره قول له مخې مكروه تنزيهي دي، أو په درالمختار كې راغلې چې مخكې له مرض موت څخه امام صاحب د خپل قول څخه رجوع كړې ده، أو زمونږ په ځينې كتابونو كې راغلي كه آس د مړ كيدو په حالت كې وليدل شي نو ذبح دي كړل شي أو بغير لدې څخه بايد ذبح نكړل شي؛ ځكه چې آس د جهاد آله ده، أو د مالكيانو په ځينو كتابونو كې راغلې چې د آس غوښه سخته مكروه ده حتی چې حراموالي ته نږدي ده، أو پدې أړه د فخرالإسلام بزدوي حنفي أو غزالي شافعي ترمنځ مناظره وشوه چې امام غزالي سكوت اختيار كړ يعني په مناظر كې پړ شو.

پدې أړه ترټولو غوره خبره د امام سرخسي ده چې فتاوی هنديه ورڅخه نقل كړي: "وقال الشيخ الإمام السرخسي ما قاله أبو حنيفة رحمه الله تعالى أحوط وما قالا أوسع كذا في السراجية" ([3]) امام سرخسي – رحمه الله – ويلي: أوكوم څه چې امام صاحب ويلي أحوط دي (ځكه كله چې د يوي شي په أړه د حراموالي أو حلالوالي تعارض وي، نو د احتياط پخاطر په حراموالي عمل پكاردی) أو د صاحبينو قول كې اساني أو توسع ده. والله اعلم

## ب: د وحشي حلالو أو اختلافي حيواناتو غوښې

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 38-39)

[2]- الكشميري، محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي (المتوفى: 1353هـ)، العرف الشذي شرح سنن الترمذي، تصحيح: الشيخ محمود شاكر، دار التراث العربي -بيروت، لبنان، 273/3

[3]- الفتاوى الهندية (5/ 290)

۱- **وحشي خره:** د وحشي خره غوښې حلالي دي؛ ځکه په حديث شريف کې رغلي: عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ، وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ، فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا، فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ، وَسَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا، فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا وَأَخَذَهُ، ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ فَقَتَلَهُ فَأَكَلَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَى بَعْضُهُمْ، فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ: " إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللهُ " ([1]) د ابو قتاده څخه روايت دی چې يو ځل رسول الله – صلی الله عليه وسلم- سره په لاره کې ملګری وه، تر دې چې د مکې په يوځای کې د رسول الله –صلی الله عليه وسلم- څخه د ځينو ملګرو سره چې د احرام په حالت کې وه خو قتاده محرم نه وه وروسته پاتي شو، پس يو وحشي خر يې وليدو نو د ملګرو څخه يې خپله قمچينه وغوښتله، خو ملګرو يې د ورکولو څخه انکاروکړلو، بيايي د ملګرو څخه خپله نيزه وغوښتله خو ملګرو يې د ورکولو څخه انکار وکړلو پس پخپله يې نيزه واخيستله أو په وحشي خره يې حمله وکړه أو ښکار يې کړو، پس ځينو ملګرو يې غوښه وخوړه خو ځينو نورو يې د خوړلو څخه ډډه وکړه، نو کله يې چې په لاره کې رسول الله – صلی الله عليه وسلم- را ګيرکړلو نو د وحشي خره د غوښو خوړلو په اړه يې ورڅخه پوښتنه وکړه، نو رسول الله –صلی الله عليه وسلم- وويل: دا يو خوراک وه چې الله تعالی پر تاسو باندې وخوړلو. [2]

نو د دې حديث څخه په ښکاره توګه معلوميږي چې د وحشي خره غوښه خوړل حلال دي؛ ځکه که يې غوښه حلاله نه وای نو رسول الله – صلی الله عليه وسلم- به يې کله هم تاييد نوای کړی.

د وحشي خره د غوښو په اړه امام طحاوي –رحمه الله - ليکلي: "وَلَوْ كَانَ إِلَى النَّظَرِ , لَكَانَ لُحُومُ الْحُمُرِ الْأهليةِ حَلَالًا، وَكَانَ ذَلِكَ كَلَحْمِ الْحُمُرِ الْوَحْشِيَّةِ، لِأَنَّ كُلَّ صِنْفٍ قَدْ حُرِّمَ، إِذَا كَانَ أهليا، مِمَّا قَدْ أُجْمِعَ عَلَى تَحْرِيمِهِ، فَقَدْ حُرِّمَ إِذَا كَانَ وَحْشِيًّا. أَلَا تَرَى أَنَّ لَحْمَ الْخِنْزِيرِ الْوَحْشِيِّ كَلَحْمِ الْخِنْزِيرِ الْأهلي، فَكَانَ النَّظَرُ عَلَى ذَلِكَ أَيْضًا، إِذَا كَانَ الْحِمَارُ الْوَحْشِيُّ لَحْمُهُ أَنْ يَكُونَ حَلَالًا، أَنْ يَكُونَ كَذَلِكَ الْحِمَارُ الْأهلي. وَلَكِنْ مَا جَاءَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَى مَا اتُّبِعَ، وَهَذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَأَبِي يُوسُفَ، وَمُحَمَّدٍ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ" ([3]) (وروسته لدې چې امام طحاوي – رحمه الله - د أهلي خره د حراموالي په اړه يې بحث

---

[1]- صحيح البخاري، 2914 ،كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب مَا قِيلَ فِي الرِّمَاحِ... (4/ 41)/ سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 1852، كتاب المناسك، باب لحم الصيد للمحرم (3/ 248)

[2] - د نوموړي حديث حکم د سنن أبوداود په روايت: صحيح حديث دی؛ ځکه امام بخاری روايت کړی پدې اړه همداراز امام ترمذي – رحمه الله- ليکلي: امام ترمذي – رحمه الله- ليکلي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ ( سنن الترمذي ت شاكر (3/ 196)، همداراز شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (3/ 248)/

[3]- الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي (المتوفى: 321هـ)، شرح معاني الآثار، تحقيق : محمد زهري النجار، دار الكتب العلمية – بيروت، 209/4

کړی) وایي: که چیرته خبره په عقلي دلیل ولاړه  وای نو د أهلي خره غوښې  به حلالي وای، او دا به د وحشي خره د غوښې په څېر وای ؛ ځکه د هر نوع حیوان چې أهلي یې په اتفاق سره حرام وي وحشي یې هم حرام وي، لکه د وحشي خنزیر غوښه د أهلي خنزیر په شان حرامه ده، نو پدې باندې د قیاس له کبله کله چې د وحشي خره غوښه حلاله ده همدغه شان باید د أهلي خره غوښه هم حلاله وای، لېکن کوم څه چې (د أهلي خره د حراموالي، أو وحشي خره د حلالوالي) په اړه درسول الله – صلی الله علیه وسله- څخه راغلي د عقل أو قیاس څخه غوره دي، أو همدغه د امام ابوحنیفه، ابویوسف أو محمد-رحمهم الله أجمعین– قول دی.

نو خلاصه دا شوه چې د وحشي خره غوښه د ټولو علماوو په نزد حلاله ده.

**۲- وحشي غوایانو، أوښانو أوهوسی غوښه:** د دې حیواناتو د غوښو حکم د أهلي غوایانو، أوښانو، وزو أو پسونو په شان دی؛ ځکه د  امام طحاوي – رحمه الله – خبره لږ مخکې تیره شوه چې د کومو حیواناتو أهلي حرام وي نو وحشي یې هم حرام دي أو  همدغه شان برعکس، یعني د کومو حیواناتو چې أهلي حلال وي وحشي یې هم حلال دي، خو پدې شرط چې حراموالی یې خلاف القیاس نوي ثابت شوی.

همداډول  کاساني صاحب ویلي: "وَأَمَّا الْمُتَوَحِّشُ مِنْهَا نَحْوُ الظِّبَاءِ وَبَقَرِ الْوَحْشِ وَحُمُرِ الْوَحْشِ وَإِبِلِ الْوَحْشِ فَحَلَالٌ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِينَ وَلِقَوْلِهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى {يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ} [المائدة: 4] وَقَوْلُهُ عَزَّ شَأْنُهُ {وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} [الأعراف: 157] ، وَقَوْلُهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى {كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: 57] وَلُحُومُ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ مِنْ الطَّيِّبَاتِ فَكَانَ حَلَالًا" ([1]) أو هرچې وحشي حیوانات دي، لکه هوسی، وحشي غوا، وحشي خر أو وحشي أوښ په کتاب الله أو اجماع سره حلال دي، الله تعالی فرمایي: أو ستا څخه پوښتنه کوي چې کوم شی د دوي لپاره حلال دی؟ ورته ووایه: ستاسو لپاره ټول پاکیزه شیان حلال دي. أو همداډول  الله تعالی په بل آیت کې فرمایي: أو د دوي لپاره پاک شیان حلال دي أو خبیث أو چټل شیان حرام دي. أو په بل آیت کې فرمایي: أو تاسو خورئ د هغه پاکو شیانو څخه چې مونږ په رزق کې درکړي دي. أو د دغه شیانو غوښې د پاکو شیانو څخه دي؛ نو په همدې خاطر حلالي دي.

د د ي لپاره چې د (طیب أو خبیث) د معیار په اړه ښه پوهه شو، پدې پوهیدل اړین دي چې د (حسن أو قبح) معیار څه دی؟ یعني د ښه أو بد معیار څه دی؟)

**د (حسن أو قبح) د معیارپه اړه لاندې دري مهم نظرونه شتون لري:**

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

**الف:** د اشاعره و په نزد حسن أو قبح شرعي أمور دي أو عقل پکې هيڅ ونډه نلري، يعني ښه هغه دي چې شارع حسن أو ښه ګڼلي وي، أو قبيح أو بد هغه دي چې شارع بد ګڼلي وي، نو د دوي په نزد خلک د پيغمبرانو د استولو أو إسلام په لوري د بلنې څخه مخکې مکلف نه ګڼل کېږي أو په اخرت کې به يې الله تعالی معذور وګڼي.

**ب:** د معتزله، خوارجو أو جعفري شيعه و په نزد حسن أو قبح عقلي دي، أو پوهه يې په شرعي پورې موقوفه نده، شرعه يوازي دحسن أو قبح په اړه د عقل د حکم تاکيد کوي، نو د دوي په نزد خلک د پيغمبرانو د استولو أو إسلام په لوري د بلنې څخه مخکې په ايمان أو أحکامو باندې مکلف دي، يعني پدې باندې مکلف دي چې سمه عقيده ولري، ښه کارونه وکړي أو له بدو څخه ځان وساتي.

ج: د ماتريديه و په نزد حسن أو قبح عقلي دي يعني عقل کولی شي د يوشي حسن أو قبح درک کړي، لېکن دا مهمه نده چې عقلا دې يو کار ښه وي نو شرعه دې حتما په هغې باندې أمر وکړي أو کوم شی چې د عقل په أساس بد وي شرعه دي له هغې څخه منع وفرمايې؛ ځکه د انسان عقل چې هرڅومره پختګی ته ورسيږي، بياهم نيمګړی دی، ډېر ځله به يو شی ورته ښه ښکاره کېږي، خو په حقيقت کې به بد وي أو همداډول برعکس، نو په همدې خاطر د الله تعالی د حکم درک أو پوهه د پيغمبرانو د وساطت څخه پرته نکېږي، أو تر څو چې الله تعالی پيغمبران نه وي استولي، بندګان په أحکامو باندې مکلف ندي. ([1])

په دي دري قولونو کې غوره قول د ماتريديه و دی أو همدغه د أحنافو مسلک هم دی؛ ځکه الله تعالی په ډېرو داسې کارونو باندې أمر کړی چې د شرعي د راتګ څخه مخکې هم ښه أو ياهم بد ګڼل کيده چې راتلونکی آيت يې يوه ښه بېلګه ده: {إِنَّ اللَّهَ يَأمر بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} ([2])

ژباړه: الله تعالی په عدل ، ښيګڼي أو خپلوانو ته (مرستو) په ورکړه باندې أمر کوي، أو له بدۍ، بې حيايۍ، زور أو ظلم څخه منع کوي. الله تعالی تاسو ته نصيحت کوي تر څو درس واخلئ.

پدې آيت کې انصاف، خلکو سره نيکي کول أو خپلوانو ته د مرستو ورکولو حکم شوی چې د هر سليم عقل په نزد ښه کارونه دي أو همداډول د ظلم أو بی حياکارونو څخه منع شوې چې د هر سليم عقل په نزد بد کارونه دي.

د دې لنډي مقدمې څخه وروسته د (طيب) د معيار په أړه د مفسرينو أو فقهاوو څلور أقوال ستاسومحترم حضور ته وړاندي کوم:

---

[1]- وګورئ: الزحيلي، دکتور وهبة الزحيلي، (1436 هـ)، أصول الفقه الاسلامي، دارالفکر-بيروت، 1/117-119

[2] - النحل: 90

۱- ابن كثير – رحمه الله – ليكلي: "وَقَالَ بعض العلماء فكل ما أحل الله تعالى من المآكل فَهُوَ طَيِّبٌ نَافِعٌ فِي الْبَدَنِ وَالدِّينِ وَكُلُّ مَا حَرَّمَهُ فَهُوَ خَبِيثٌ ضَارٌّ فِي الْبَدَنِ وَالدِّينِ" ([1]) ځينو علماوو ويلي هر هغه څه چې الله تعالى حلال ګرځولي دي (طيب) أو پاكيزه دي، أو كوم شيان چې الله تعالى حرام ګرځولي دي (خبيث) أو چټل دي.

۲- همداراز ابن كثير- رحمه الله - [2]د ځينو نورو علماوو قول داسې ذكر كړى دى: "أَنَّ الْمَرْجِعَ فِي حِلِّ الْمَآكِلِ الَّتِي لَمْ يَنُصَّ عَلَى تَحْلِيلِهَا وَلَا تَحْرِيمِهَا إِلَى مَا اسْتَطَابَتْهُ الْعَرَبُ فِي حَالِ رَفَاهِيَتِهَا وَكَذَا فِي جَانِبِ التَّحْرِيمِ إِلَى مَا اسْتَخْبَثَتْهُ" ([3]) د هغه خوراكي شيانو چې د حلالوالي أو حراموالي په اړه يې نصوص شتون ونلري، د حلالوالي أو حراموالي لپاره يې معياردادى كوم شيان چې په پراخى كې يې د عربو طبيعت ښه ګڼي، حلال ګڼل كيږي أو كوم شي چې بد ګڼي أو كركه ورڅخه كوي، حرام ګڼل كيږي. نو هدف دا شو كوم شى چې د پراخى په وخت كې يې د عربو طبيعت ښه ګڼي (طيب) دى أو كوم شى چې بد ګڼي هغه ( خبيث) دى، نو معيار د عربو طبيعت شو. (ليكن ابن كثير ويلي څوك چې د طيب أو خبيث معيار عقل ګڼي د هغې څخه جواب شوى چې دا ځاى يې د تفصيل جوګه ندى أو همداډول يې ويلي چې په دوهم نظر كې هم أوږد تفصيل دى).

۳- أو قرطبي – رحمه الله – ليكلي: "قَوْلُهُ تَعَالَى: (وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ) مَذْهَبُ مَالِكٍ أَنَّ الطَّيِّبَاتِ هِيَ الْمُحَلَّلَاتُ" ([4]) د الله تعالى دا قول چې پيغمبر به دوي ته (د الله په أمر) پاكيزه شيان حلال ګرځوي، د امام مالک مذهب دادى چې طيبات عبارت دي د حلالو شيانو څخه، نو د امام مالک – رحمه الله - په نزد د (طيب) معيار حلالوالى دى، يعني هر شى چې حلال وي هغه طيب دى.

۴- امام كاساني صاحب ليكلي: "أَنَّ الشَّرْعَ إنَّمَا جَاءَ بِإِحْلَالِ مَا هُوَ مُسْتَطَابٌ فِي الطَّبْعِ لَا بِمَا هُوَ مُسْتَخْبَثٌ وَلِهَذَا لَمْ يَجْعَلْ الْمُسْتَخْبَثَ فِي الطَّبْعِ غِذَاءَ الْيُسْرِ وَإِنَّمَا جَعَلَ مَا هُوَ مُسْتَطَابٌ بَلَغَ فِي الطِّيبِ غَايَتَهُ." ([5]) شريعت هغه شيان حلال ګرځولي چې طبيعت يې ښه ګڼي، له همدې أمله شريعت د عادي حالاتو غذا هغه څه ندي ګرځولي چې طبيعت يې بد ګڼي، بلكه هغه څه يې د عادي حالاتو لپاره غذا ټاكلي چې په

---

[1] - تفسير ابن كثير ط العلمية (3/ 439)

[2]- د ابن كثير رحمه الله لنډه پېژندنه: ابن كثير رحمه الله (701هـ - 774هـ) يو مشهور اسلامي عالم، محدث، فقيه، او تاريخپوه و. بشپړ نوم يې إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي دی، او په 701هـ كې په سوريه كې زېږېدلی و. نوموړي د تفسير، حديث، او تاريخ په علومو كې شهرت درلود. د هغه تر ټولو مشهور اثر "تفسير ابن كثير" دی. ابن كثير د امام ابن تيميه رحمه الله شاګرد او د شافعي فقهي پيرو و. هغه په 774هـ كې وفات شو او علمي ميراث يې تر ننه خورا ارزښت لري. (وګورئ: تفسير ابن كثير ت سلامة (1/ 12)

[3] - وګورئ: تفسير ابن كثير ط العلمية (3/ 439)

[4] - تفسير القرطبي (7/ 300)

[5] - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 38)

پاکیزګۍ کې اخري حد ته رسیدلی وي. کاساني صاحب د ماتریدیه و د نظر مطابق خبره کړي چې مخکې بحث وربانديې شوی، یعني د حلوالي او حراموالي لپاره معیار شریعت دی او شریعت د انساني طبیعت خلاف کوم شی حلال او یا هم حرام ندی ګرځولی.

**۳- سوی غوښه:** د جمهورو په نزد د سوی غوښه بغیر له کوم کراهیت څخه حلاله ده، أو پدې حدیث باندې استدلال کوي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: «مَرَرْنَا فَاسْتَنْفَجْنَا أَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ، فَسَعَوْا عَلَيْهِ فَلَغَبُوا»، قَالَ: «فَسَعَيْتُ حَتَّى أَدْرَكْتُهَا، فَأَتَيْتُ بِهَا أَبَا طَلْحَةَ فَذبح ا، فَبَعَثَ بِوَرِكِهَا وَفَخِذَيْهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْتُ بِهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبِلَهُ» ([1]) انس بن مالک ویلي: مونږ په لاره تېریدلو نو په مرالظهران (مکي مکرمې سره نږدې یوځای) کې مو یو سوی وتریاوه، نو هغه یې وړپسې واخسته أو ستړي شول، نو ما وړپسې منډه کړه أو راګیر مې کړ، نو أبوطلحه ته مې راوړ أو هغه ذبح کړ، أو د سوی ورون یې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- ته واستولو نو ما رسول الله – صلی الله علیه وسلم- ته راوړلو أو هغه مبارک قبول کړ. ([2])

امام نووي – رحمه الله - د دې حدیث په شرحه کې لیکي: "وَأَكْلُ الْأَرْنَبِ حَلَالٌ عِنْدَ مَالِكٍ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَالشَّافِعِيِّ وَأَحْمَدُ وَالْعلماء كَافَّةً إِلَّا مَا حُكِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وبن أَبِي لَيْلَى أَنَّهُمَا كَرِهَاهَا دَلِيلُ الْجُمْهُورِ هَذَا الْحَدِيثُ مَعَ أَحَادِيثَ مِثْلِهِ وَلَمْ يَثْبُتْ فِي النهى عنها شئ" ([3]) د سوی خوړل د امام مالک، ابوحنیفه، شافعي أو أحمد – رحمهم الله – أو د ټولو علماوو په نزد حلال دي، بغیر د عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وبن أَبِي لَيْلَى څخه، چې د دوي په نزد د سوی خوړل مکروه دي. د جمهورو لپاره یادوشوی حدیث دلیل دي أو د حراموالي په أړه هېڅ کوم دلیل شتون نلري.

**۴- الضبع (کوږ):** د کوږ د غوښې په أړه هم علماء مختلف نظرونه لري چې تفصیل یې په لاندې توګه دی:

**ألف:** د امام أحمد بن حنبل ، مالک، شافعي أو اسحق– رحمهم الله- په نزد د ضبع یا کوږ خوړل مباح دي أو څه کراهیت پکښې نشته، دوي پدې حدیث باندې استدلال کوي: عَنْ ابْنِ أَبِي عَمَّارٍ قَالَ: قُلْتُ لِجَابِرٍ: الضَّبُعُ صَيْدٌ هِيَ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: قُلْتُ: آكُلُهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: أَقَالَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1]- صحیح مسلم، د حدیث شمېره: 1953، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ، بَابُ إِبَاحَةِ الْأَرْنَبِ (3/ 1547)/ سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حدیث شمېره: 3242، أَبْوَابُ الصَّيْدِ ،بَابُ الْأَرْنَبِ (4/ 390)

[2] - د دې حدیث حکم د سنن ابن ماجه په روایت: صحیح حدیث دی؛ ځکه مسلم روایت کړی، او شعیب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحیح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 390)

5- المنهاج شرح النووي على مسلم (13/ 105

وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «نَعَمْ»: ([1]) د ابن عمار – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې ما جابر بن عبدالله ته وويل: ايا ضبع يا كوړ ښكار دی؟ جابر وويل: هو، ابن أبی عمار وايي: ماورته وويل: ايا زه يې وخورم؟ جابر وويل: هو، ابن أبی عمار وايي: ماورته وويل: ايا داخبره رسول الله – صلی الله عليه وسلم- كړي؟ جابر وويل: هو. [2] امام ترمذي - رحمه الله - وايي: داحديث صحيح حسن دی، أو بيا د دې حديث په شرحه كې وايي: "وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ إِلَى هَذَا، وَلَمْ يَرَوْا بِأَكْلِ الضَّبُعِ بَأْسًا، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ فِي كَرَاهِيَةِ أَكْلِ الضَّبُعِ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالقَوِيِّ، وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ أَكْلَ الضَّبُعِ، وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ المُبَارَكِ" ([3]) ځيني علماوو په يادشوي حديث باندې عمل كړی أو د كوړ په خوړلو كې څه باک نه ويني أو دا د امام أحمد أو اسحق قول دی، خو د نبي كريم – صلی الله عليه وسلم- څخه د كوړ د كراهيت په أړه هم حديث نقل شوی لېكن سند يې قوي ندی، أو په كراهيت باندې عبدالله ابن مبارک [4] – رحمه الله- قايل دی.

٢- د عبدالله بن مبارک أو سعيد بن مسيب – رحمهما الله په نزد د كوړ خوړل مكروه دي، لكه په مسند ابن حنبل كې راغلي: "عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ:، سَأَلْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيِّبِ عَنِ الضَّبُعِ، فَكَرِهَهَا، فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ قَوْمَكَ يَأْكُلُونَهُ قَالَ: لَا يَعْلَمُونَ، فَقَالَ رَجُلٌ، عِنْدَهُ: سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّهُ نَهَى عَنْ كُلِّ ذِي نُهْبَةٍ، وَكُلِّ ذِي خَطْفَةٍ، وَكُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ " قَالَ سَعِيدٌ: " صَدَقَ " ([5]) د عبدالله بن يزيد څخه روايت دی، وايي: ما د سعيد بن مسيب څخه د ضبع يا كوړ په أړه پوښتنه وكړه، نو سعيد بن مسيب مكروه وګڼلو، نو ما وويل: ستا قوم يې خوري، سعيد وويل: دوي نه پوهيږي، نو يو شخص وويل: ماد أبودرداء څخه أوريدلي چې د نبي كريم – صلی الله عليه وسلم- څخه يې روايت كولو

[1]- سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 1791، أَبْوَابُ الْأَطْعِمَةِ، بَابُ مَا جَاءَ فِي أَكْلِ الضَّبُعِ (4/ 252)

[2] - د حديث حكم: داحديث صحيح حسن دی (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 252)

[3]- سنن الترمذي ت شاكر ، (4/ 252)

[4]- د عبدالله بن مبارک رحمه الله لنډه پېژندنه: عبدالله بن مبارک رحمه الله (118هـ - 181هـ) يو وتلی اسلامي عالم، محدث، فقيه، او مجاهد و. بشپړ نوم يې عبدالله بن المبارک بن واضح الحنظلي المروزي و، چې په مرو كې زېږېدلی و او د تركي نسب لرونكی و. هغه د حديث علم كې يې لوی مقام درلود. ابن مبارک د زهد او تقوا په لحاظ هم ځانګړې شهرت درلود او په جهاد كې يې ګډون كاوه. د هغه مشهور آثار "كتاب الجهاد" او د احاديثو په موضوعاتو ليكني دي. عبدالله بن مبارک په 181هـ كې وفات شو، او د هغه علمي ميراث تر ننه پورې ارزښت لري. (وګورئ: الأعلام للزركلي (4/ 115)

[5]- مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 21706، مسند الأنصار، الباب: حديث أبي الدرداء (36/ 37)

چې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- د هرحمله کوونکي، د هرتښتونکي أو د هرداړو لرونکي حیوان د خوړلو څخه منع فرمایلي ده. نو پدې وخت کې سعید وویل: أبودرداء رښتیا ویلي. [1]

۳- د أحنافو په نزد د ضبع یا کوړ خوړل حرام دي، لکه شاه انورشا کشمیري ویلي: "يقال له في الهندية (هندار) وفي الفارسية (كفتار) وهو عندنا حرام، وعند الشافعي حلال" ([2]) ضبع ته په هندي ژبه کې (هندار) أو په فارسي کې (کفتار) وایي أو زمونږ په نزد حرام دی أو د امام شافعي –رحمه الله – په نزد حلال دی.

همداډول جمال الدين په اللباب في الجمع بين السنة والكتاب کې لیکي: "صَحَّ عَن النَّبِي [صلى الله عَلَيْهِ وَسلم] أَنه نهى عَن أكل كل ذِي نَاب من السبَاع، وكل ذِي مخلب من الطير ". فَلَا يجوز (أَن) يخرج من ذَلِك الضبع، لِأَنَّهُ ذُو نَاب من السبَاع". وَقَوله عَلَيْهِ السَّلَام: " هِيَ من الصَّيْد "، فَلَيْسَ كل الصَّيْد يُؤْكَل" ([3]) أو د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- څخه په صحیح روایت کې نقل شوې چې د هرداړو لرونکي درنده حیوان أو هرپنجه لرونکو (درنده) مرغانو څخه یې منع فرمایلي ده. نو د دې حدیث په أساس جایز نده چې کوړ دې د دې حدیث څخه وویستل شي؛ ځکه کوړ هم داړو لرونکی درنده حیوان دی، أو هرچې دا خبره چې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- ښکار ګڼلی نو هر ښکار هم د خوراک لپاره نه وي.

همداراز امام سرخسي د ضبع په اړه ویلي: "وَعِنْدَنَا هُوَ مِنْ السِّبَاعِ الَّتِي لَمْ يَتَنَاوَلْهَا الِاسْتِثْنَاءُ" ([4]) أو زمونږ په نزد کوړ د درنده حیواناتو له جملې څخه دی نو د هغوي له جملې څخه خارج ندی.

پدې مسئله کې د أحنافو مذهب راجح دی، أو امام کاساني – رحمه الله – یې د ترجیح علت داسې بیان کړی دی: "أَنَّ الضَّبُعَ سَبُعٌ ذُو نَابٍ فَيَدْخُلُ تَحْتَ الْحَدِيثِ الْمَشْهُورِ وَمَا رُوِيَ لَيْسَ بِمَشْهُورٍ فَالْعَمَلُ بِالْمَشْهُورِ أَوْلَى عَلَى أَنَّ مَا رَوَيْنَا مُحَرِّمٌ وَمَا رَوَاهُ مُحَلِّلٌ وَالْمُحَرِّمُ يَقْضِي عَلَى الْمُبِيحِ احْتِيَاطًا" ([5]) دا چې کوړ داړه لرونکی درنده دی، نو د مشهور حدیث (چې هرداړو لرونکی درنده حیوان حرام دی) لاندې راځي، او کوم حدیث چې د کوړ د حلوالی په اړه روایت شوی، مشهور نه دي، نو عمل د مشهور پر اساس غوره دی، او بل داچې هغه حدیث چې موږ وړباندی استدلال کوو، د کوړ په حراملولي دلالت کوي، او په کوم حدیث چې جمهور استدلال کوي په حلالوالي دلالت کوي، نو د احتیاط پخاطر په هغه حدیث عمل کول

[1] - د نوموړي حدیث حکم: د دي حدیث مرفوع روایت صحیح دی، او دا سند د عبدالله بن یزید د مجهول کیدو له امله ضعیف دی، او عبدالله بن یزید هغه البكري السعدي دی، پدي اړه د مسند أحد محقیقینو لیکلي: المرفوع منه صحيح لغيره، وهذا إسناد ضعيف لجهالة عبد الله بن يزيد -وهو البكري السعدي (مسند أحمد ط الرسالة، المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون (36/ 38)

[2]- العرف الشذي شرح سنن الترمذي (3/ 271)

[3]- الأنصاري، جمال الدين أبو محمد علي بن أبي يحيى زكريا بن مسعود الأنصاري الخزرجي المنبجي (المتوفى: 686هـ)، اللباب في الجمع بين السنة والكتاب، المحقق: د. محمد فضل عبد العزيز المراد، ط۲، دار القلم - الدار الشامية - سوريا / دمشق - لبنان / بيروت، 621/2

[4]- المبسوط للسرخسي (4/ 91)

[5]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

غوره دي چې د کوږ په حراموالي باندې دلالت کوي نسبت هغه روايت ته چې د کوږ په حلوالي باندي دلالت کوي. أو هرچې دا خبره چې نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- کوږ ښکار ګڼلی نو هر ښکار هم د خوراک لپاره نه و، لکه څنګه چې په مخکې صفحه کې داخبره په حوالي سره ذکر شوي ده.

**۶- د زرافې غوښه:** د زرافې په أړه لاندې أقوال شتون لري:

۱- د شوافعو په نزد زرافه حرامه ده، پدې أړه دميري – رحمه الله – ليکلي: "وفي شرح المهذب للنووي أنها محرمة بلا خلاف" ([1]) أو په شرح مهذب د امام نووي صاحب کې راغلي چې زرافه په اتفاق سره حرامه ده، لېکن د شوافعو په مشهور کتاب الغرر البهية في شرح البهجة الوردية کې دا مسئله څېړل شوې أو په اخر کې يې دا فيصله کړې چې زرافه حلاله ده، "( وَلَا زَرَافَةٍ ) بِفَتْحِ الزَّايِ وَضَمِّهَا فَلَا تَحِلُّ ؛ لِأَنَّهَا تَتَقَوَّى بِنَابِهَا وَهَذَا مَا فِي التَّنْبِيهِ ، وَقَالَ النَّوَوِيُّ فِي مَجْمُوعِهِ إنَّهُ لَا خِلَافَ فِيهِ وَأَنَّ بَعْضَهُمْ عَدَّهَا مِنْ الْمُتَوَلِّدِ بَيْنَ مَأْكُولٍ وَغَيْرِهِ وَمَنَعَ ابْنُ الرِّفْعَةِ مَا فِي التَّنْبِيهِ، وَحَكَى أَنَّ الْبَغَوِيّ أَفْتَى بِحِلِّهَا وَاخْتَارَهُ السُّبْكِيُّ وَحَكَاهُ عَنْ فَتَاوَى الْقَاضِي وَتَتِمَّةِ التَّتِمَّةِ. قَالَ الْأَذْرَعِيُّ : وَهُوَ الصَّوَابُ نَقْلًا وَدَلِيلًا وَمَنْقُولُ اللُّغَةِ أَنَّهَا مُتَوَلِّدَةٌ بَيْنَ مَأْكُولَيْنِ مِنْ الْوَحْشِيِّ وَاقْتَضَى كَلَامُ ابْنِ كَجٍّ وَغَيْرِهِ نِسْبَتَهُ لِلنَّصِّ ، وَقَالَ الزَّرْكَشِيُّ مَا فِي الْمَجْمُوعِ سَهْوٌ وَصَوَابُهُ بِالْعَكْسِ"([2]) (أو نه هم زرافه) د را په زور أو پېښ سره، يعني زرافه حلاله نده؛ ځکه زرافه د داړو په واسطه په نورو قوت حاصلوي، أو دا د تنبيه نومي کتاب خبره ده، أو امام نووي په المجموع کې ليکلي ، چې د زرافې په حراموالي کې اختلاف نشته، أو ځينو شوافعو زرافه داسې حيوان ګڼلی چې د ماکول اللحم أو غير ماکول اللحم څخه تولدشوی (أوداسې حيوان خو حرام وي)، أو ابْنُ الرِّفْعَةِ د زرافې خوړل حرام ګڼلي دي، لکه څنګه چې په التَّنْبِيهِ کې ذکر شوې دي، أو حکايت شوی چې بغوي به د زرافې په إباحت باندې فتوی ورکوله أو همدغه قول سبکي هم اختيار کړی أو د قاضي خان أو د تَتِمَّةِ التَّتِمَّةِ څخه يې نقل قول کړی دی. أو أوزاعي [3] ويلي: همدغه د حلالوالي قول د نقلي دلايلو په أساس درست قول دی أو د لغت په أساس هم زرافه د دوه مأکول اللحم (حلالو) وحشي حيواناتو څخه تولد کېږي ، أو ابن کج

[1]- حياة الحيوان الكبرى (2/ 9)

[2] - السنيكي، زكريا بن محمد بن أحمد بن زكريا الأنصاري، زين الدين أبو يحيى السنيكي (المتوفى: 926هـ)، المطبعة الميمنية ، الغرر البهية في شرح البهجة الوردية (5/ 176)

[3]- د إمام أوزاعي رحمه الله لنډه پېژندنه: امام أوزاعي رحمه الله (88هـ - 157هـ) يو وتلی فقيه او محدث و. بشپړ نوم يې عبدالرحمن بن عمرو بن يحمد الأوزاعي و، چې په دمشق کې زېږېدلی او د شام په سيمه کې يې ژوند کاوه. هغه د خپل وخت د لويو علماؤ او فقيهانو اود شام سيمې امام په فقه او زهد کې ګڼل کيده او د "مذهب الأوزاعي" بنسټګر ګڼل کېږي، چې په شام، اندلس او نورو سيمو کې يې پيروان درلودل. امام أوزاعي په زهد، تقوا، او عدل کې شهرت درلود او د وخت حکمرانانو ته يې د حق خبره کول جرئت درلود. هغه په 157هـ کې وفات شو او علمي هڅې يې د اسلامي فقهي تاريخ يوه مهمه برخه ده. (وګورئ: الأعلام للزركلي (3/ 320)

هم همدغه د حلالوالي خبره نص ته منصوبه کړي ده، أو زرکشي ويلي په مجموع کې چې کوم قول د حراموالي نقل شوی هغه اشتباه دی أو برعکس يې درست قول دی.

۲- د حنابلؤ په نزد زرافه مطلقا حلاله ده، لکه ابن قدامه په مغني کې ليکلي: "وَسَأَلُوا أَحْمَدَ عَنْ الزَّرَافَةِ تُؤْكَلُ؟ قَالَ: نَعَمْ. وَهِيَ دَابَّةٌ تُشْبِهُ الْبَعِيرَ، إلَّا أَنَّ عُنُقَهَا أَطْوَلُ مِنْ عُنُقِهِ، وَجِسْمَهَا أَلْطَفُ مِنْ جِسْمِهِ، وَأَعْلَى مِنْهُ، وَيَدَاهَا أَطْوَلُ مِنْ رِجْلَيْهَا." ([1]) د زرافي په أړه يې د امام أحمد- رحمه الله – څخه پوښتنه وکړه چې ايا خوړل کېږي ؟ امام أحمد – رحمه الله – وويل: هو، زرافه يو حيوان دی چې أوښ سره مشابهت لري، لېکن دومره خبره ده چې د زرافي غاړه د أوښ له غاړې څخه أوږده ده، أو جسم يې د أوښ له جسم څخه نرم دی، أو د أوښ څخه دنګه ده أو لاسونه يې د پښو څخه أوږده دي.

۳- د مالکيانو په نزد هم زرافه حلاله ده، لکه محمد العربي القروي ليکلي: "إلَّا الزرافة فلهَا النَّحْر" ([2]) (د ذبحې د کيفيت په أړه وايې) مګر زرافه، د زرافي لپاره نحر دی. د دې عبارت څخه معلومېږي چې زرافه د دوي په نزد حلاله ده؛ ځکه د ذبحې خبره د هغه حيواناتو په أړه مطرح کېږي چې حلال وي.

۴- د أحنافو په نزد هم زرافه حلاله ده، پدې أړه ابن نجيم – رحمه الله – په الأشباه والنظائر کې ليکلي: " وأما مسألة الزرافة فالمختار عندهم حل أكلها وقال السيوطي : ولم يذكرها أحد في المالكية ، والحنفية وقواعدهم تقتضي حلها والله أعلم " ([3]) أو هرچې د زرافي مسئله ده نو د شوافعو د غوره قول له مخې يې خوړل روا دي، إمام سيوطي – رحمه الله – ويلي: د مالکيانو أو أحنافو څخه چا د زرافي يادونه نده کړي أو د دوي اصول ( حيوان به درنده داړولرونکی نه وي، په وژلو به يې أمر نه وي شوی، د وژلو څخه به يې منع نه وي راغلې أو د عربو په نزد به خبيث نه وي) د زرافي د حلالوالي غوښتنه کوي. أو همدغه خبره ابن نجيم حنفي هم پدي خاطر نقل کړي چې پدې خبره باندې دلالت وکړي چې د أحنافو په نزد زرافه حلاله ده؛ ځکه که خبره بل شان وای نو ابن نجيم به حتما د سيوطي [4] په خبره باندې رد کړی وای.

---

[1]- المغني، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: 620هـ)، المغني لابن قدامة، مكتبة القاهرة، 9 /411

[2]- القروي، محمد العربي القروي، الخلاصة الفقهية على مذهب السادة المالكية، دار الكتب العلمية – بيروت، ص 270

[3]- الأشباه والنظائر لابن نجيم، ص 57/ السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: 911هـ)، الأشباه والنظائر، دار الكتب العلمية، ص 60

[4]- د إمام سيوطي رحمه الله لنډه پېژندنه: امام سيوطی رحمه الله (849هـ - 911هـ) يو مشهور اسلامي عالم، محدث، فقيه، او اديب و. بشپړ نوم يې جلال الدين عبدالرحمن بن ابی بکر السيوطی دی، چې په مصر کې زېږېدلی. هغه د مختلفو اسلامي علومو په بيلابيلو برخو کې تخصص درلود، په ځانګړي توګه د تفسير، حديث، او تاريخ په برخه کې. د امام سيوطی تر ټولو مشهور اثر "الدر المنثور" دی، چې د قرآن مجيد تفسير په علمي او محققانه ډول وړاندې کوي. هغه همدا راز "تاريخ الخلفاء" او "المزهر" په څېر مهم آثار هم ليکلي. امام سيوطی په 911هـ کې وفات شو، او علمي ميراث يې تر نن پورې ارزښت لري.( وګورئ: الأعلام للزركلي (3/ 301)

## دوهم مبحث: حلال أو حرام حشرات

د حشراتو تعريف په أړه الفيومي ليکلي: ( الحَشَرَةُ ) الدابة الصغيرة من دوابّ الأرض والجمع ( حَشَرَاتٌ ) ([1]) حَشَرَه د ځمکې د وړو حیواناتو څخه یوه وړه ژوی ده، أو جمع یې "حَشَرَات" ده.

أو په المعجم الوسيط کې حشره داسې تعريف شوې ده: "( الحشرة ) الهامة من هوام الأرض كالخنافس والعقارب والدابة الصغيرة من دواب الأرض كالفئران والضباب و( عند علماء الحيوان ) كل كائن يقطع في خلقه ثلاثة أطوار ( يكون بيضة فدودة ففراشة )" ([2]) حشرة د ځمکې د هوامو څخه يو مهم ژوی دی، لکه سرکښې أو لړمان، أو هغه وړه ژوی چې د ځمکې د ژوو څخه وي، لکه موږکان أو خادمی. أو (د حیواناتو د پوهانو په نظر) هر مخلوق چې په خپل پیدایښت کې درې مرحلې تیروي (د هګی، چینجي أو پتنګ په بڼه، حشره بلل کېږي .

حشرات په دوه ډولونو ويشل کېږي : يو هغه حشرات دي چې حلالوالی يې اتفاقي دی، أو بل هغه حشرات دي چې حلالوالی أو حراموالی يې اختلافي دی، د دې دوه ډوله حشراتو تفصيل په لاندې توګه دی:

## لمړی مطلب: اتفاقي حلال حشرات

ملخ (جراد) د ټولو مذاهبو په نزد حلال دی؛ ځکه چې حلالوالی يې په حديث ثابت دی، لکه په حديث شريف کې راغلي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "أُحلت لَنَا مَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ" ([3]) د ابن عمر- رضي الله عنه – څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم- فرمايلي: زمونږ لپاره دوه مړي مباح دي: ماهي أو ملخ. [4]

أو په بل حديث کې راغلي: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أوفَى، قَالَ: «غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ نَأْكُلُ الْجَرَادَ» ([5]) د عبدالله بن أبي أوفى څخه روايت دی، وايي: مونږ د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- سره په غزواتو کې ونډه واخسته، په ټولو کې مو ملخان خوړل.

د دې حديث په شرحه کې امام نووي – رحمه الله – ليکلي: "فِيهِ إِبَاحَةُ الْجَرَادِ وَأَجْمَعَ الْمُسْلِمُونَ عَلَى إباحته ثُمَّ قَالَ الشَّافِعِيُّ وَأَبُو حَنِيفَةَ وَأَحْمَدُ وَالْجَمَاهِيرُ يَحِلُّ سَوَاءٌ مَاتَ بِذَكَاةٍ أَوْ بِاصْطِيَادِ مُسْلِمٍ أو مَجُوسِيٍّ أو مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ سَوَاءٌ قُطِعَ بعضه أَوْ أُحْدِثَ فِيهِ سَبَبٌ وَقَالَ مَالِكٌ فِي الْمَشْهُورِ عَنْهُ وَأَحْمَدُ فِي رِوَايَةٍ لَا يَحِلُّ إِلَّا إِذَا

---

[1]- الفيومي، أحمد بن محمد بن علي المقري الفيومي، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير للرافعي، المكتبة العلمية – بيروت، (1/ 136)

[2]- المعجم الوسيط (1/ 175)

[3]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3218، أَبْوَابُ الصَّيْدِ، بَابُ صَيْدِ الْحِيتَانِ وَالْجَرَادِ (4/ 372)

[4] - د دې حديث حکم: حسن حيث لغيره حديث دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: حديث حسن (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 372)

[5]- صحيح مسلم، د حديث شمېره: 1952، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ، بَابُ إِبَاحَةِ الْجَرَادِ (3/ 1546)

مَاتَ بِسَبَبٍ بِأَنْ يُقْطَعَ بَعْضُهُ أَوْ يُسْلَقَ أَوْ يُلْقَى فِي النَّارِ حَيًّا أَوْ يُشْوَى فَإِنْ مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ أَوْ فِي وِعَاءٍ لَمْ يَحِلَّ وَاللَّهُ أَعْلَمُ" ([1]) پدې حديث کې د ملخ إباحت ثابت دی، أو د ملخ په إباحت باندې ټولو مسلمانانو اجماع کړي ده، بيا د امام شافعي، أبوحنيفه، أو جمهورو علماوو په نزد ملخ حلال دی برابره خبره ده که په ذبح مړ شوی وي، د مسلمان په لاس أو ياهم د مجوسي په لاس ښکار شوی وي، أو ياهم په خپل مرګ مړ شوی وي، أو برابره خبره ده چې ځيني برخه يې پرې کړل شوې وي أو ياهم په کوم بل سبب قتل شوی وي، لېکن د امام مالک – رحمه الله - په مشهور قول کې أو د امام أحمد – رحمه الله - په يو روايت کې راغلي چې ملخ په هغه وخت کې حلال دی چې په يو سبب مړ کړل شوی وي، لکه يوه برخه يې پرې کړل شوې وي، ياپه أور کې ژوندی اچول شوی وي أو ياهم کباب کړل شوی وي، اما که په خپل مرګ مړ شوی وي نو خوړل يې مباح ندي. والله اعلم.

امام زيلعي – رحمه الله – د حشراتو أو ځينو نورو شيانو چې طبيعت يې بد ګڼې د حراموالي لپاره دا آيت ذکر کړی: { وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ } ([2])

ژباړه: أو الله تعالی پر دوي باندې خبيث شيان حرام کړي دي. بيا امام زيلعي – رحمه الله - ليکي: "إلا الجراد فإنه مخصوص بالحديث" ([3]) مګر ملخان حرام ندي؛ ځکه په حديث سره د دې آيت څخه خاص شوي دي.

أو امام سرخسي – رحمه الله - د نورو ډېرو دلايلو د ذکر کولو په لړ کې ليکلي دي: "وَالدَّلِيلُ عَلَى إبَاحَةِ أَكْلِ الْجَرَادِ مَا رُوِيَ أَنَّ مَرْيَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - سَأَلَتْ لَحْمًا هَشًّا فَرُزِقَتْ الْجَرَادَ، وَأَنَّ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - كَانَ مُولَعًا بِأَكْلِ الْجَرَادِ حَتَّى قَالَ يَوْمًا فِي مَجْلِسِهِ: لَيْتَ لَنَا قَصْعَةً مِنْ جَرَادٍ فَنَأْكُلُهُ...". ([4]) د ملخانو د إباحت لپاره دليل دادی چې بي بي مريمي – رضي الله عنها- د الله تعالی څخه نرمه غوښه وغوښتله نو ملخ په رزق کې ورکول شو، أو عمرفاروق – رضي الله عنه- ملخانو د خوړلو زيات علاقمند وه، يو ځل يې وويل: کاش چې يوه کاسه ملخان وای چې خوړلي مو وای. [5]

[1]- شرح النووي على مسلم (13/ 104)

[2]- الأعراف: 157

[3]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 295)

[4]- المبسوط للسرخسي (11/ 229)

[5] - د نومړو اثارو تخريج: **الف:** عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه سئل عن الجراد فقال: «إن مريم سألت الله عز وجل أن يطعمها لحما ليس فيه دم، فأطعمها الجراد» (الرازي، أبو القاسم تمام بن محمد بن عبد الله بن جعفر بن عبد الله بن الجنيد البجلي الرازي ثم الدمشقي (المتوفى: 414هـ)، الفوائد، المحقق: حمدي عبد المجيد السلفي (1/ 264)/ المعجم الكبير للطبراني (8/ 141)

د دي حديث حکم: حكم الألباني: (ضعيف) (المناوي، زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي ثم المناوي القاهري (المتوفى: 1031هـ)، فيض القدير شرح الجامع الصغير، المكتبة التجارية الكبرى - مصر (2/ 521)

## دوهم مطلب:  هغه حشرات چې حلالوالی أو حراموالی یې اختلافي دی

د ملخ څخه پرته د نورو حشراتو په أړه علماء لاندې نظريات لري:

**ألف:** د أحنافو په نزد د ملخ څخه پرته نور ټول حشرات حرام دي، أو په دليل كې دا ذكر كوي چې حشرات خبيث دي أو الله تعالى د خبيثو شيانو څخه منع فرمايلي، لكه امام كاساني – رحمه الله - د مختلفو حشراتو د نومونو ذكر كولو د حراموالي په دليل كې وايي: "لِأَنَّهَا مِنْ الْخَبَائِثِ لِاسْتِبْعَادِ الطِّبَاعِ السَّلِيمَةِ إيَّاهَا وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى {وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} [الأعراف: 157] وَكَذَلِكَ مَا لَيْسَ لَهُ دَمٌ سَائِلٌ مِثْلُ الْحَيَّةِ وَالْوَزَغِ وَسَامِّ أَبْرَصَ وَجَمِيعِ الْحَشَرَاتِ" ([1]) ځكه نوموړې حشرات د خبايثو له جملې څخه دي چې روغ طبيعت يې بد ګڼي، أو د خبايثو په أړه الله تعالى فرمايي: (أو الله تعالى پردوي باندې خبيث شيان حرام كړي)، أو همداډول  هغه حشرات چې بهيدونكي وينه نلري حرام دي، لكه مار، كربوړى أو ټول حشرات.

همدارز امام سرخسي – رحمه الله -  ويلي: "وَلِهَذَا حَرَّمَ تَنَاوُلَ الْحَشَرَاتِ، فَإِنَّهَا مُسْتَخْبَثَةٌ طَبْعًا" ([2]) أو د سورت اعراف د157 ايت پر أساس د حشراتو خوړل حرام دي؛ ځكه حشرات په طبعي ډول خبيث أو نجس ښكاري.

همداډول د مجمع الأنهر مصنف ليكلي:  "واعلم أن الحشرات محرمة عندنا، حلال مكروه عند غيرنا" ([3])

أو پوه شه چې زمونږ په نزد ټول حشرات حرام دي، أو د نورو په نزد حلال دي خو سره د كراهيته.

**ب:** د مالكيانو په نزد ټول حشرات پدې شرط حلال دي چې ذبح  كړل شي أو په خوړلو كې يې بدن ته ضرر نه وي، پدې أړه الرجراجي مالكي [4] ليكلي: "وأما ما ليس له نفس سائلة، كالجندب والعقرب

---

**ب:** "عن عبد الله بن عمر أنه قال : سئل عمر بن الخطاب رضى الله عنه عن الجراد فقال : وددت أن عندنا قفعة نأكل منها." (السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي (9/ 258)

«قفعة» بفتح القاف وسكون الفاء فعين مهملة شيء شبيه بالزنبيل قاله القاري. (الأصبحي، مالك بن أنس أبو عبدالله الأصبحي، موطأ مالك - رواية محمد بن الحسن، تحقيق : د. تقي الدين الندوي أستاذ الحديث الشريف بجامعة الإمارات العربية المتحدة، دار القلم  - دمشق (2/ 616)

د دي اثر حكم: أيمن صالح شعبان ويلي دا حديث صحيح حديث دی: إسناده صحيح (ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد الجزري ابن الأثير (المتوفى : 606هـ)، جامع الأصول في أحاديث الرسول، تحقيق : عبد القادر الأرنؤوط، مكتبة الحلواني - مطبعة الملاح - مكتبة دار البيان (7/ 431)

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 36)

[2]- المبسوط للسرخسي (11/ 220)

[3]- شيخي زاده، عبد الرحمن بن محمد بن سليمان الكليبولي المدعو بشيخي زاده (1078هـ)، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر، تحقيق خرج آياته وأحاديثه خليل عمران المنصور، دار الكتب العلمية-بيروت، ۱۶۳/۴

[4]- د الرجراجي مالكي لنډه پېژندنه: ابو الحسن علي بن سعيد الرجراجي رحمه الله د مالكي فقهې يو مشهور عالم و. هغه په اندلس كې زېږېدلی او د فقه، حديث، او ادبياتو په علم كې يې مهمې زده كړې كړې. الرجراجي د مالكي فقهې په موضوعاتو كې ګڼ شمېر كتابونه ليكلي، چې د

والخنفساء والزنبور واليعسوب والذر والنمل والسوس والحلم والدود والبعوض والذباب وجميع الحشرات: فلا خلاف في جواز أكلها لمن احتاج إليها لدواء أو غيره، وهو قول مالك في كتاب "ابن حبيب". ([1]) أو هر چې هغه حشرات چې بهیدونکي وینه نلري، لکه شین ملخ، لړم، کوخکی، ګزنبوره، سلايي ګګ، میږی، چینجی، غوماشی، مچان أو ټول حشرات: نو د دې شیانو په خوراک کې اختلاف نشته د هغه چا لپاره چې د دوايي أو یا هم د کوم بل ضرورت لپاره وي، أو دا د امام مالک قول دی په کتاب د ابن حبیب کې.
همداډول د مواهب الجليل مصنف لیکلي: "لِأَنَّ الْحَشَرَاتِ إذَا أُمِنَ سُمُّهَا مُبَاحَةٌ" ([2]) ځکه حشرات چې د زهرو له ضرر څخه يې امن موجود وي مباح دي.
**ج:** د شوافعو أو حنابله ؤ په نزد ځینې حشرات حرام دي أو ځینې نور يې حلال دي، پدې أړه خطیب شیربیني – رحمه الله – د بیع د صحت په شرطونو کې یو شرط دا ذکر کړی چې په مبیعه کې به فایده موجوده وي، بیا وروسته وایي: "وَعَدَمُ مَنْفَعَتِهِ إمَّا لِخِسَّتِهِ كَ (الْحَشَرَاتِ) الَّتِي لَا نَفْعَ فِيهَا جَمْعُ حَشَرَةٍ بِفَتْحِ الشِّينِ، وَهِيَ صِغَارُ دَوَابِّ الْأَرْضِ كَالْخُنْفُسَاءِ وَالْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَالْفَأْرَةِ وَالنَّمْلِ، وَلَا عِبْرَةَ بِمَا يُذْكَرُ مِنْ مَنَافِعِهَا فِي الْخَوَاصِّ" ([3]) یا د یوشي خرڅول پدې خاطر جایز ندي چې ګټه پکې نشته، یا د خساست له کبله، لکه حشرات چې ګټه پکې نشته، حشرات د حشرة د شین په زور سره جمع ده، أو د ځمکي کوچنیو حیواناتو ته ویل کیږي ، لکه کوخکی، مار، لړم، موږک أو میږي، أو پدې أړه د دې حشراتو د ځانګړتیاوو په ضمن کې چې د کومو ګټو یادونه کیږي هغه ته اعتبار نشته.. نو د دې څخه معلومیږي چې د ځینو حشراتو خوړل جواز نلري.

---

هغه تر ټولو مشهور اثر " مَنَاهِجُ التَّحصِيلِ ونتائج لطائف التَّأْوِيل في شَرحِ المدَوَّنة وحَلِّ مُشكِلاتها " دی. نوموړی د علم، زهد، او تقوا له امله مشهور و، او د خپلې دورې د علمي محفلونو مشري يې کوله. دی د شپږمې پېړۍ په اول کې پیدا او د أومې پېړۍ په وسط کې وفات شوی دی. (وګورئ: منارالاسلام للأبحاث واللدراسات، الإمام أبو الحسن علي بن سعيد الرجراجي رحمه الله ومنهجه في شرح المدونة وحل مشكلاتها، د. مراد أبوكريعة، أكتوبر 14, 2022، https://islamanar.com/imam-abul-hassan-ali-bin-saeed-al-rajaji/)

[1]- الرجراجي، أبو الحسن علي بن سعيد الرجراجي (المتوفى: بعد 633هـ)، مناهِجُ التَّحصِيلِ ونتائج لطائف التَّأْوِيل في شَرحِ المدَوَّنة وحَلِّ مُشكِلاتها، اعتنى به: أبو الفضل الدّميَاطي - أحمد بن عليّ، دار ابن حزم، ٢٠٤/٣

[2]- الحطاب الرُّعيني، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المغربي، المعروف بالحطاب الرُّعيني المالكي (المتوفى: 954هـ)، مواهب الجليل في شرح مختصر خليل، ط٣، دار الفكر، ٩٣/١

[3]- الشربيني، شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي (المتوفى: 977هـ)، مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج، دار الكتب العلمية-بيروت، ٣٤٢/٢

همداډول الرملی شافعي [1] ليکي: "وَمَا يُؤْكَل من الحشرات كَأُمّ جين وضب ويربوع" ([2]) أو ځينې هغه حشرات چې خوړل کېږي ، لکه أم جين، سمساره أو سحرايي مږه، د دې ښخه معلوميږي چې د دوي په نزد ټول حشرات حلال ندي.

أو امام نووي – رحمه الله – په المجموع کې ليکي: "وَيُسْتَثْنَى مِنْ الْحَشَرَاتِ الْيَرْبُوعُ وَالضَّبُّ فَإِنَّهُمَا حَلَالَانِ كَمَا سَبَقَ مَعَ دُخُولِهِمَا في اسم الحشرات وكذا أم حنين فَإِنَّهَا حَلَالٌ عَلَى أَصَحِّ الْوَجْهَيْنِ قَالُوا وَيُسْتَثْنَى مِنْ ذَوَاتِ الْإِبَرِ الْجَرَادُ فَإِنَّهُ حَلَالٌ قَطْعًا وَكَذَا الْقُنْفُذُ عَلَى الصَّحِيحِ كَمَا سَبَقَ. (فَرْعٌ) فِي مَذَاهِبِ الْعلماء فِي حَشَرَاتِ الْأَرْضِ كَالْحَيَّاتِ وَالْعَقَارِبِ وَالْجِعْلَانِ وَبَنَاتِ وَرْدَانَ والفار وَنَحْوِهَا مَذْهَبُنَا أَنَّهَا حَرَامٌ وَبِهِ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَأَحْمَدُ وَدَأود وَقَالَ مَالِكٌ حَلَالٌ لِقَوْلِهِ تعالى (قل لا أجد فيما أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إلا أن يكون ميتة) الْآيَةَ وَبِحَدِيثِ التِّلِبِ - بِتَاءٍ مُثَنَّاةٍ فَوْقُ مَفْتُوحَةٍ ثُمَّ لَامٍ مَكْسُورَةٍ ثُمَّ بَاءٍ مُوَحَّدَةٍ - الصَّحَابِيُّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ (صَحِبْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَسْمَعْ لِحَشَرَةِ الْأَرْضِ تَحْرِيمًا) رَوَاهُ أَبُو دَأود وَاحْتَجَّ الشَّافِعِيُّ وَالْأَصْحَابُ بقوله تعالى (ويحرم عليهم الخبائث) وَهَذَا مِمَّا يَسْتَخْبِثُهُ الْعَرَبُ" ([3]) أو د حشراتو ښخه سحرايي مږه، خادمی مستثنی دي؛ ځکه دوي حلال دي لکه ښنګه چې مخکې تير شول، که څه هم په حشراتو کې داخل دي، أو همداډول أم حنين (يو ډول حشره ده)؛ ځکه دا هم د صحيح قول مطابق حلال دی، أو همداډول ملخ په قطعي توګه حلال دی، أو همداډول شکونې د صحيح قول مطابق حلال دی. أو دحشراتو، لکه مار، لړم، چينجی، د وررړو مورينه، موږک أو داسې نورو په اړه زمونږ مذهب دادی چې دا حرام دي، أو دا دامام أبوحنيفه، أحمد أو دأود –رحمهم الله- -قول هم دی، اما د امام مالک – ر-حمه الله – په نزد دا ټول شيان حلال دي؛ ځکه الله تعالى فرمايې: [ای محمده – صلى الله عليه وسلم-!) دوی ته ووايه: کومه وحيي چې ماته راغلې ده، په هغې کښې خو زه کوم داسې شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي دې حرام وي؛ مګر داچې هغه مرداره (خپله مړ شوی) وي، أو همداډول د تلب صحابي د روايت له کبله

---

[1]- د الرملی شافعي لنډه پېژندنه: الرملي شافعي رحمه الله (919هـ - 1004هـ) يو مشهور فقيه او د شافعي مذهب وتلی عالم و. بشپړ نوم يې شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي و، چې په مصر کې زيږيدلی و. هغه په فقه، اصول فقه، او فتوا کې ستر مقام درلود او د شافعي فقهې په پراختيا کې يې لويه ونډه واخيسته. الرملي د تدريس او فتوا په برخه کې شهرت درلود او د هغه فقهي نظرونه په شافعي مذهب کې ډېر منل شوي دي. د هغه مشهور اثر "نهاية المحتاج" دی، چې د شافعي فقهې په اړه تفصيلي شرحه ده. الرملي په 1004هـ کې وفات شو، او علمي ميراث يې تر نن پورې په اسلامي نړۍ کې ارزښت لري. (وګورئ: الشوكاني، محمد بن علي الشوكاني، البدر الطالع بمحاسن من بعد القرن السابع (2/ 97، بترقيم الشاملة آليا)

[2]- الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي (المتوفى: 1004هـ)، غاية البيان شرح زبد ابن رسلان، دار المعرفة – بيروت، ص ١٨٢

[3]- النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ)، المجموع شرح المهذب ((مع تكملة السبكي والمطيعي))، دار الفكر-بيروت، 16/9

چې وايي: (ما د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- سره چې څومره صحبت أو همراهي کړي د حشراتو د حراموالي په أړه مې ورڅخه څه ندي أوريدلي، خو د امام شافعي أو د شافعي مذهب علماوو ، حنابلؤ أو أحنافو پدې آيت باندې استدلال کړی: (أو الله تعالى پر دوي باندې خبيث شيان حرام کړي) أو حشرات هم د هغه شيانو له جملې څخه دي چې عرب يې خبيث ګني.

**ب: الضب:** د خادمی د حلالوالي أو حراموالي په أړه متعارض احاديث راغلي چې ځيني يې په حلالوالي دلالت کوي، ځيني په حراموالي أو ځيني نور يې هم د حلالوالي أو حراموالي په أړه په توقف باندې؛ نو په همدې أساس دا مسئله هم د علماوو په نزد اختلافي ده، أو علماء يې په أړه لاندې نظريات لري:

**ألف:** د أحنافو په نزد د خادمی خوړل مکروه تحريمي دي، أو پدې حديث باندې استدلال کوي: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُهْدِيَ لَهُ ضَبٌّ فَلَمْ يَأْكُلْهُ. فَقَامَ عَلَيْهِمْ سَائِلٌ فَأَرَادَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنْ تُعْطِيَهُ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتُعْطِينَهُ مَا لَا تَأْكُلِينَ؟»" ([1]) د عايشي – رضي الله عنها- څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ته خادمی تحفه کې راوړل شوه، خو رسول الله – صلى الله عليه وسلم – ونه خوړله، نو پدې وخت کې يو سوالګر راغی، نو بي بي عايشي – رضي الله عنها- اراده وکړه ترڅو دا هديه شوې خادمی ورکړي، نو نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- وويل: ايا ته دې سوالګر ته هغه څه ورکوي چې پخپله يې نه خوري.

د دې حديث څخه امام محمد [2] – رحمه الله – داسې استدلال کړی: "قَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: فَقَدْ دَلَّ ذَلِكَ عَلَى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ لِنَفْسِهِ وَلِغَيْرِهِ , أَكْلَ الضَّبِّ , قَالَ: فَبِذَلِكَ نَأْخُذُ" ([3]) امام محمد – رحمه الله ويلي: دا حديث پدې دلالت کوي چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- خادمی د خپل ځان أو دنورو لپاره مکروه ګڼلي، أو په همدې باندې مونږ أحناف عمل کوو.

---

[1]- شرح معاني الآثار، د حديث شمېره: 6360، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَالْأَضَاحِيِّ، بَابُ أَكْلِ الضِّبَابِ (4/ 201)

[2] - د امام محمد – رحمه الله – لنډه پيژندنه: امام محمد بن حسن شيبانی رحمه الله (122هـ - 189هـ) د حنفي فقهې يو مشهور عالم و، چې په واسط عراق کې زيږېدلی او په کوفه کې لوی شوی و. هغه د امام مالک، اوزاعي، او سفيان ثوري څخه زدهکړې کړې وې، او د امام ابو حنيفه شاګرد و، که څه هم د امام صاحب سره يې ډېر اوږد وخت نه و تېر کړی. وروسته يې د امام ابو يوسف څخه زدهکړې وکړې. امام محمد د خپل زکاوت له امله د احنافو مرجع وګرځېد. د ده په اړه امام شافعي – رحمه الله – ليکلي: ما هيڅوک داسې ندی ليدلی چې کله به يې خبري کولی ته به وايې چې قرآن کريم د ده په ژبه نازل شوی پرته د امام محمد څخه؛ ځکه امام محمد به چې کله خبري کولي نو تا به ويل چې قرآن د ده په ژبه نازل شوی دی. همداراز يې په بل ځای کې ليکلي: ما د امام محمد څخه بل څوک په حلالو او حرامو، په ناسخ او منسوخ باندي زيات عالم ندی ليدلی، او أبو عبيد القاسم بن سلام بغدادي به ويلي: ما د امام محمد څخه بل څوک په قرآن باندي زيات پوهيدونکی ندی ليدلی.. د هغه مهم کتابونه د "ظاهر الروايت" په نوم مشهور دي، چې په فقه کې د حنفي مکتب بنسټيز آثار دي. امام محمد په ۱۸۹ هـ کې د قضا په عهده کې په ری کې وفات شو. (مقدمة في مصطلحات الفقهاء عن الأحكام الشرعية وأئمة مذاهبهم الأربعم، دکتور محمد ظاهر أسدالله المكي، ص 76)

[3]- شرح معاني الآثار ، (4/ 201)

همداډول امام زيلعي – رحمه الله - پدې اړه ويلي: "وأما الضب والزنبور والسلحفاة والحشرات فلأنها من الخبائث؛ لأن العرب تستخبثها وقد قال الله تعالى {ويحرم عليهم الخبائث} [الأعراف: 157] وما روي أنه - عليه الصلاة والسلام - أباح أكلها محمول على ما قبل التحريم" ([1]) هر چې خادمى، غومبسه، سنګ پشت يا کيشپ، أو نور حشرات دي، نو د خبيثو أو نجسو شيانو له جملي څخه دي؛ ځکه عرب يې بد ګڼي، أو پدې اړه الله تعالى فرمايي: أو الله تعالى خبيث شيان حرام ګرځولي دي. أو هرچې د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه د إباحت خبره نقل ده نو دا د حراموالي څخه په مخکي حالت باندې حمل ده.

أو امام سرخسي صاحب هم د بي بي عايشي – رضي الله عنها – د يادشوي حديث د راوړلو څخه وروسته ويلي: "وَبِهَذَا نَأْخُذُ فَنَقُولُ: لَا يَحِلُّ أَكْلُ الضَّبِّ" ([2]) أو د عايشي – رضي الله عنها- په حديث مونږ عمل کوو أو وايو چې د خادمى خوړل روا ندي.

**ب:** د امام شافعي - رحمه الله - په نزد د خادمى خوړل جايز دي، پدې اړه امام سرخسي – رحمه الله - وايي: "وَقَالَ الشَّافِعِيُّ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - يَحِلُّ لِحَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا - أَنَّ «النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُئِلَ عَنْ الضَّبِّ فَقَالَ: لَمْ يَكُنْ مِنْ طَعَامِ قَوْمِي فَأَجِدُ نَفْسِي تَعَافُهُ فَلَا أُحِلُّهُ وَلَا أُحَرِّمُهُ» وَفِي «حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمَا - قَالَ: أُكِلَ الضَّبُّ عَلَى مَائِدَةِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَفِي الْآكِلِينَ أَبُو بَكْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ - كَانَ يَنْظُرُ إلَيْهِ وَيَضْحَكُ»" ([3]) أو د امام شافعي – رحمه الله – په نزد د خادمى خوړل حلال دي د ابن عمر- رضي الله عنه- د دې حديث له أمله چې د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه د خادمى په اړه پوښتنه وشوه نو رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وويل: خادمى د ده د قوم خوراک ندی، نو زما نفس أو طبيعت يې نه قبلوي، نو په همدې أساس نه يې حلال ګڼم أو نه هم حرام.

أو همداډول يې د ابن عباس – رضي الله عنهما- پدې حديث استدلال کړی چې د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- په دسترخوان باندې خادمى پداسې حال کې وخوړل شوه چې په خوړونکو کې ابوبکر الصديق – رضي الله عنه- هم موجود وه، رسول الله – صلى الله عليه وسلم – ابوبکر ته کتل أو خندل يې، نو د دې حديث څخه هم إباحت معلوميږي؛ ځکه رسول الله – صلى لله عليه وسلم- د حرامو په خوراک باندې چپ نشي پاتي کيدلی.

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 295)

[2]- المبسوط للسرخسي، (11/ 231)

[3]- المبسوط للسرخسي ، (11/ 231)

که څه هم امام طحاوي – رحمه الله - په شرح معاني الأثار کې د خادمی إباحت ته ترجیح ورکړي، لکه چې لیکي: "فَثَبَتَ بِتَصْحِيحِ هَذِهِ الْآثَارِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِأَكْلِ الضَّبِّ وَهُوَ الْقَوْلُ عِنْدَنَا" ([1]) د متعارضو أحادیثو ترمنځ د تطبیق أو تصحیح څخه وروسته دا نتیجه لاس ته راځي چې د خادمی په خوړلو کې څه باک نشته أو همدغه زمونږ د (أحنافو) مذهب دی، لیکن د أحنافو ټولو معتمدو شروحو، لکه بدائع الصنائع، مبسوط د سرخسي، تبیین الحقائق د زیلعي صاحب أو داسې نورو نظر دادی چې د خادمی خوړل مکروه تحریمي دي، أو همدغه د امام صاحب، أو صاحبینو قول هم دی، لکه چې مخکې د شرح معاني الأثار په حواله تیر شول، نو په همدې أساس ویلی شو چې د دې مسئلې په أړه د أحنافو مذهب راجح دی؛ ځکه قانون دادی چې کله د یوشي د حلالوالي أو حراموالي په أړه دلایل متعارض وي أو یو طرف ته ترجیح نشي ورکول کیدلی نو پدې صورت کې د حراموالي طرف ته ترجیح ورکول کیږي . ([2])

**ج: قنفذ (شکونړ/خارپشت):** د شکونړ په أړه هم علماء اختلاف نظر لري أو تفصیل یې په لاندې توګه دی:

**ألف:** د امام شافعي أو مالک – رحمهما الله - په نزد شکونړ حلال دی؛ ځکه عرب یې پاک ګڼي أو په حلالوالي باندې یې ابن عمر – رضي الله عنه - هم فتوا ورکړي، أو بل داچې أصل په أشیاوو کې إباحت دی ترڅو یې د حراموالي په أړه صحیح نص وجود ونلري؛ ځکه الله تعالی فرمایې: ( قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أو دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أو فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) ([3])

ژباړه: [اې محمد صلی الله علیه وسلم-] دوی ته ووایه: کومه وحیې چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسې شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي؛ مګر دا چې هغه مرداره وي یا بهیدونکې وینه وي، یا د خوګ غوښه وي چې هغه نا پاکه ده، یا فسق وي چې د الله تعالی د نوم څخه پرته د بل چا په نامه ذبح شوې وي.

پدې آیت کې د حرامو حیواناتو له جملې څخه د قنفذ یادونه نده شوې، نو د أصلي قاعدې په أساس چې أصل په أشیاوو کې إباحت دی، شکونړ حلال ګڼل کیږي . ([4])

---

[1] - شرح معاني الأثار (4/ 202)

[2] - درس ترمذی د تقي عثماني صاحب (26/4

[3]- سورة الأنعام، ایت: 145

[4] - وګورئ: محمد بن موسى بن عيسى بن علي الدميري، أبو البقاء، كمال الدين الشافعي (المتوفى: 808هـ)، حياة الحيوان الكبرى، ط2، دار الكتب العلمية، بيروت، 361/2

همداړول په المدونة کې راغلي: "وَكَانَ مَالِكٌ لَا يَرَى بَأْسًا بِأَكْلِ الْقُنْفُذِ..." ([1]) امام مالک – رحمه الله – به د شکونې په خوړلو کې څه باک نه لیدله.

همداړول امام نووي – رحمه الله – په المجموع شرح المهذب کې لیکلي: "ويحل القنفذ لما روى أن ابن عمر رضى رضي الله عنهما سئل عن القنفذ فتلا قوله تعالى (قل لا أجد فيما أوحى إلى محرما على طاعم يطعمه) الآية ولانه مستطاب لا يتقوى بنابه فحل أكله كالارنب" ([2]) أو شکونې حلال دی؛ ځکه د ابن عمر – رضي الله عنه- څخه د شکونې په اړه پوښتنه وشوه، نو ابن عمر د الله تعالی دا قول تلاوت کړ: [اې محمد صلی الله علیه وسلم-] دوی ته ووایه: کومه وحیې چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسې شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي دي حرام وي. (مګر هغه شیان چې وروسته په آیت کې ذکر شوې دي).

**ب:** د امام ابوحنیفه أو أحمد – رحمهما الله - په نزد شکونې حرام دی، أو پدې حدیث باندې استدلال کوي: عن عيسى بن نُميلةَعن أبيه، قال: كنت عند ابن عمر فسُئل عن أكلِ القُنفُذِ، فتلا: {قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا} الآية [الأنعام: 145]، قال: قال شيخٌ عنده: سمعتُ أبا هريرة يقول: ذُكِر عندَ النبيِّ - صلَّى الله عليه وسلم - فقال: "خَبيثةٌ مِن الخَبائثِ" فقال ابنُ عمر: إن كان قال رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم - هذا، فهو كما قال ما لم نَدْر" ([3]) [4] عیسي بن نمیلة د خپل پلار څخه روایت کوي، وایي: زه د ابن عمر سره وم نو د شکانه د خوراک په اړه ورڅخه پوښتنه وشوه، نو دا آیت یې تلاوت کړ: [اې محمد صلی الله علیه وسلم-] دوی ته ووایه: کومه وحیې چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسې شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي، نو پدې وخت کې یو شیخ وویل: ما د ابوهریرة – رضي الله عنه- څخه أوریدلي چې ویل یې: د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – پرووړاندې د شکانه یادونه وشوه، نو وویل: شکونې یو خبیث دی د خبایثو څخه، ابن عمر وویل: که دا خبره رسول الله – صلی الله علیه وسلم- کړې وي نو خبره هماغه شان ده چې رسول الله ویلې دي ترڅو چې مونږ په حقیقت نه یو پوهه شوی. ([5])

خو دا حدیث علماوو ضعیف ګڼلی دی، لکه امام بیهقي وایي: "هذا حديث لم يرو إلا بهذا الإسناد وهو إسناد فيه ضعف". دا حدیث بغیر له دې سند څخه په بله طریقه ندی روایت شوی، أو پدې سند کې کمزوري

---

[1] - مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: 179هـ)، المدونة الكبرى، المحقق : زكريا عميرات (1/ 450)

[2] - المجموع شرح المهذب (9/ 10)

[3]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حدیث شمېره: 3799، أول كتاب الأطعمة ، باب في أكل حشرات الأرض (5/ 617)

[4] - د دې حدیث حکم: د عیسی بن نمیلة او د ده د پلار د جهالت له امله دا حدیث ضعیف دی، لکه شعیب الأرنؤوط لیکلي: إسناده ضعيف لجهالة عيسى بن نُميلة وأبيه (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 617)

[5]- وګورئ: حياة الحيوان الكبرى للديمري، 361/2

ده. ([1]) همداډول ابن حجر ویلي: "أخرجه أحمد، وأبو دأود، وإسناده ضعيف" ([2]) د قنفذ په اړه دا حدیث امام أحمد أو أبوداود هم روایت کړی، أو سند یې کمزوری دی، لېکن سره لدې چې په کوم حدیث باندې أحنافو استدلال کړی کمزوری دی أو د هغه آیت تخصیص وربانديې نشي کیدلی چې امام شافعي – رحمه الله – وربانديې استدلال کړی، خو د أحنافو په نزد قنفذ پدې خاطر حرام دی چې د خبایثو له جملې څخه دی أو د خبیثو شیانو په اړه الله تعالی فرمایي: (وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ) ([3])

ژباړه: أو الله تعالی پر دوي باندې خبیث شیان حرام کړي دي. ([4])

د حنابلؤ مذهب په اړه په الكافي في فقه الامام أحمد کې راغلي: وتحرم الخبائث كلها...؛ لقول الله تعالى: {وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} [الأعراف: 157] وقد روى أبو هريرة «أن القنفذ ذكر عند رسول الله - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فقال: هو خبيثة من الخبائث»" ([5]) خبیث شیان ټول حرام دي؛ ځکه الله تعالی فرمایي: أو الله تعالی پر دوي باندې ټول خبیث شیان حرام کړي دي. أو د ابو هریره – رضي الله عنه – څخه روایت شوی چې د رسول الله – صلی الله علیه وسلم – پروړاندې د شکانه یادونه وشوه، نو رسول الله – صلی الله علیه ووسلم- وویل: شکونې خبیث دی د خبایثو څخه.

د یادوني وړ ده چې د شکونې د حلالوالي أو حراموالي په اړه د اختلاف سبب دادي چې شوافع أو مالکیان یې هغه قاعدې پورې تړلي چې أصل په أشیاوو کې إباحت دی أو د خپل مذهب لپاره یې د قرآن کریم أو حدیث څخه استدلال کړی، لېکن حنابله أو أحناف یې د بلې قاعدې پورې تړلي چې خبایث حرام دي أو د قرآن کریم په آیت أو حدیث باندې استدلال کوي، نو پدې اړه د راجح قول په اړه فیصله کول ستونزمن دي.

## درېیم مبحث: د ذاتي حرامو حیواناتو غوښې

ځینې حیوانات داسې دي چې غوښې یې په ذاتي توګه حرامې وي أو د خارجي لاملونو له کبله حرامې نه وي ګرځېدلي، نو پدې مبحث کې د دغه ډول حیواناتو غوښې په تفصیل سره ذکر کېږي .

## لمړی مطلب: د خنزیر غوښې د حراموالي أو نجس کېدلو دلایل

---

[1]- البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)، السنن الكبرى، المحقق: محمد عبد القادر عطا، ط٣، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات، 547/9

[2]- ابن حجر، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى: 852 هـ)، بلوغ المرام من أدلة الأحكام، المحقق: الدكتور ماهر ياسين الفحل، دار القبس للنشر والتوزيع، الرياض - المملكة العربية السعودية، ص 494

[3]- الأعراف، 157

[4]- البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (8/ 553)

[5] - ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: 620هـ)، الكافي في فقه الإمام أحمد، دار الكتب العلمية-بيروت (1/ 558)

د خنزير غوښه د ټولو علماوو په اتفاق سره حرامه ده؛ ځکه حراموالی یې په قطعي دلیل سره ثابت دی، لکه الله تعالی فرمايي: ( قُلْ لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَيْتَةً أو دَمًا مَسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أو فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) ([1])

ژباړه: [اې محمد صلی الله علیه وسلم-] دوی ته ووایه: کومه وحیې چې ماته راغلې ده، په هغې کې خو زه کوم داسې شی نه مومم، چې پر کوم خوړونکي حرام وي؛ مګر دا چې هغه مرداره وي یا بهیدونکي وینه وي، یا د خوګ غوښه وي چې هغه نا پاکه ده، یا فسق وي چې د الله تعالی د نوم څخه پرته د بل چا په نامه ذبح شوې وي.

ابن کثیر – رحمه الله – د نومړي آیت په تفسیر کې لیکلي: "وَقَوْلِهِ: وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ يَعْنِي إِنْسِيَّهُ وَوَحْشِيَّهُ، وَاللَّحْمُ يَعُمُّ جَمِيعَ أَجْزَائِهِ حَتَّى الشَّحْمَ" ([2]) أو د الله تعالی دا قول چې (وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ) أو د خنزير غوښه حرامه ده برابره خبره ده که أهلي وي أو یاهم وحشي، أو په آیت کې د خنزير غوښه ټولو اجزاوو ته شاملیږي حتی وازدي ته هم.

ابن کثیر – رحمه الله – وروسته دا حدیث نقل کړی: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَعَنْ أَبِيهِ، عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ، فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ» " ([3]) سلیمان بن بریده د خپل پلار څخه روایت کوي چې نبي کریم- صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: څوک چې د شطرنج لوبه وکړي، دا داسې ده لکه چې د خنزير په غوښه أو وینه کې یې لاس رنګ کړی وي.[4] بیا ابن کثیر وایي: "فَإِذَا كَانَ هَذَا التَّنْفِيرُ لِمُجَرَّدِ اللَّمْسِ، فَكَيْفَ يَكُونُ التَّهْدِيدُ وَالْوَعِيدُ الْأَكِيدُ عَلَى أَكْلِهِ وَالتَّغَذِّي بِهِ" ([5]) أو کله چې د خنزير لمس کول دومره منفور أو بد دي، نو د خوړلو تهدید به یې څومره سخت وي.

همداړول امام قرطبي – رحمه الله – لیکي: "قال ابن عباس : الخبائث هي لحم الخنزير والربا وغيره" ([6]) ابن عباس – رضي الله عنه- ویلي: خبایث (چې په آیت کې حرام بلل شوې) عبارت دي د خنزير، شرابو أو ځیني نورو شیانو څخه.

---

[1]- سورة الأنعام، ایت: 145

[2]- تفسير ابن كثير ط العلمية (3/ 13)

[3]- صحیح مسلم ، د حدیث شمیره: 2260 ، كتاب الشِّعْرِ ، باب تَحْرِيمِ اللَّعِبِ بِالنَّرْدَشِيرِ (4 /1770)/ سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حدیث شمیره: 3762، أَبْوَابُ الْأَدَبِ، بَابُ اللَّعِبِ بِالنَّرْدِ (4/ 691)

[4]- د دي حدیث حکم د سنن ابن ماجه په روایت: صحیح حدیث دی؛ ځکه چي امام مسلم روایت کړی، او پدي اړه شعيب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 691)/ او بل داچي مسلم روایت کړی.

[5]- تفسير ابن كثير ط العلمية (3/ 13)

[6]- تفسير القرطبي، (7/ 300)

همداړول د خنزير د نجس العين کېدو په اړه امام قرطبي ليکي: "قوله تعالى : {وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ} خص الله تعالى ذكر اللحم من الخنزير ليدل على تحريم عينه ذكي أو لم يذك" ([1]) الله تعالی د خنزير غوښې ځانګړې يادوونه پدې خاطر کړې چې د خنزير په نجس العين توب باندې دلالت وکړي برابره خبره ده که ذبح شوی وي أو يا نه.

همداړول امام طحاوي – رحمه الله - ليکلي: "وَمِنْهَا لَحْمٌ حَرَامٌ وَهُوَ لَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَالْكَلْبِ فَسُؤْرُ ذَلِكَ حَرَامٌ؛ لِأَنَّهَا مَاسَّتْ لَحْمًا حَرَامًا" ([2]) أو ځيني د حيواناتو څخه هغه دي چې غوښې يې حرامې دي، لکه خنزير أو سپی، نو د دې حيواناتو پسخورده (پاتې شونی) هم حرامه ده؛ ځکه لاړې يې د غوښو سره لګيدلي دي. د دې څخه هم معلومېږي چې خنزير نجس العين دی.

د خنزير د نجس العين کيدو په اړه امام کاساني – رحمه الله – ليکلي: "وَنَجِسُ الْعَيْنِ لَا يُبَاحُ الِانْتِفَاعُ بِهِ شَرْعًا إلَّا فِي حَالَةِ الضَّرُورَةِ كَالْخِنْزِيرِ، وَلَا يَنْعَقِدُ بَيْعُ الْخِنْزِيرِ مِنْ الْمُسْلِمِ؛ لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَالٍ فِي حَقِّ الْمُسْلِمِينَ" ([3]) د نجس العين څخه ګټه پورته کول شرعا روا نه دي مګر د ضرورت په حالت کې، لکه خنزير، أو د مسلمان لخوا په خنزير باندې عقد نه صحيح کېږي ؛ ځکه خنزير د مسلمان په حق کې مال ندی.

نو د خنزير په نجس العين کېدو باندې دا پايله مرتبه کېږي چې د خنزير غوښه حرامه ده.

## دويم مطلب: د سپي غوښې د حراموالي دلايل

د سپي غوښه د ټولو مذاهبو په نزد پدې خاطر حرامه ده، چې سپی داړونکی درنده حيوان دی، أو د داړونکو درنده حيواناتو په اړه په حديث کې راغلي: عن أبي ثعلبةَ الخُشَني: "أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ أكْلِ كلِّ ذي نَابٍ من السَّباعِ" ([4]) د ابی ثعلبه الخشني – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- د هرداړو لرونکي حيوان د خوړلو څخه منع فرمايلي ده. [5]

په مجمع الأنهر کې راغلي: "(وَسُؤْرُ الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ وَسِبَاعُ الْبَهَائِمِ نَجَسٌ) لِنَجَاسَةِ لَحْمِهَا." ([6]) د سپيو خنزير، أو درنده حيواناتو پس خورده پليته ده؛ ځکه چې غوښه يې نجسه ده.

---

[1]- تفسير القرطبي (2/ 222)

[2]- شرح مشكل الآثار (7/ 81)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 143)

[4]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 5530 ،كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ (7/ 96)/ سنن أبي داود، د حديث شمېره: 3802، أول كتاب الأطعمة، باب النهي عن أكل السباع 620/5

[5]- د حديث حکم د ابن ماجه په روايت: صحيح حديث دی؛ ځکه چې امام بخاري رحمه الله روايت کړی، او پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 382)، او بل داچې امام بخاري هم روايت کړی.

[6] - مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (1/ 35)

همداډول  امام نووي – رحمه الله – ليکلي: "لَحْمُ الْكَلْبِ حَرَامٌ عِنْدَنَا وَبِهِ قَالَتْ الْأَئِمَّةُ بِأَسْرِهَا" ([1]) د سپي غوښه زمونږ په نزد حرامه ده أو دا ديتولو ائمه و مذهب دی.

همداډول  په شرح زاد المستقنع للشنقيطي الحنبلي کې راغلي: "لا يجوز أكل لحم الكلب، ومما يدل على ذلك: أن النبي صلى الله عليه وسلم جعله من الفواسق، وإن كان قد خص الكلب العقور، وقد أمر بقتل الكلاب صلوات الله وسلامه عليه، ولو كانت تؤكل لأمرهم أن يأكلوا لحمها، ولكنه عليه الصلاة والسلام أمر بقتلها، وهذا يدل على أنه لا يجوز أكل لحم الكلب." ([2]) أو د سپي غوښې  خوړل روا ندي؛ ځکه چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم – د فواسقو له جملي څخه شميرلی، أو په وژلو يې أمر کړی که څه هم وژل د داړونکي سپي پورې خاص دي، نو که د سپيوغوښو خوړل روا وای، رسول الله – صلی الله عليه وسلم- به صحابؤ ته أمر کړی وای چې غوښې  يې أوخوري، لېکن برعکس رسول الله – صلی اله عليه وسلم – يې په وژلو أمر کړی، أو دا پدې باندې دلالت کوي چې د سپي غوښې  خوړل حرام دي.

## دربیم مطلب: د سپي د نجس العين كيدو په أړه اختلاف أو د اختلاف اسباب

**الف:** د امام شافعي أو احمد- رحمهما الله - په نزد سپی نجس العين دی.

**ب:** د امام ابوحنيفه أو امام مالک - رحمهما الله - په نزد سپی نجس العين ندی.

امام شافعي - رحمه الله – پدې حديث باندې استدلال کړی: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، قَالَ: «نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الكَلْبِ... » ([3]) د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليم وسلم- د سپي د پيسو څخه منع فرمايلي ده، يعني کومي پيسي چې د سپي د پلورلو په بدل کې لاس ته راځې هغه حرامې دې.[4] امام شافعي - رحمه الله – دا پيسي ځکه حرامې  بولي چې سپی نجس العين دی أو د نجس شي خرڅول حرام دي، امام کاساني صاحب ويلي: " قال الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى - لَا يَطْهُرُ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ -؛ لِأَنَّ عَيْنَ الْكَلْبِ نَجِسٌ عِنْدَهُمَا" ([5]) دسپي پوستکی په دباغت سره د حسن بن زياد أو امام شافعي – رحمهماالله – په نزد نه پاکیږي ؛ ځکه د دوي په نزد سپی نجس العين دی.

[1] - المجموع شرح المهذب (9/ 8)

[2] - الشنقيطي، محمد بن محمد المختار الشنقيطي، شرح زاد المستقنع، http://www.islamweb.net، (398/ 8)

[3]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2160، أَبْوَابُ التِّجَارَاتِ، بَابُ النَّهْيِ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ (3/ 289)

[4] - د حديث حکم: صحيح دی؛ ځکه بخاري روايت کړی، همداراز پدې اړه د ابن ماجه محققينو ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط ، المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد - محمَّد كامل قره بللي - عَبد اللّطيف حرز الله (3/ 289)

[5]- المبسوط للسرخسي (1/ 203)

ابن قدامه – رحمه الله – په الكافي كې ليكلي: "القسم الثاني: نجس، وهو: الكلب والخنزير، وما تولد منهما فسؤره نجس، وجميع أجزائه" ([1]) أو دوهم قسم حيوانات نجس دي، أو دا عبارت دي له سپي أو خنزير څخه أو كوم شی چې د دې دواړو څخه پيدا كيږي ، نو د نجس العين كيدو په خاطر يې پس خورده پليته ده، أو همداړول د دې دواړو حيواناتو ټولي برخي پليتي دي.

أو يو شافعي عالم په نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج كې ليكلي: "وَقَدْ ثَبَتَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ التَّصْرِيحُ بِأَنَّ الْغَسْلَ مِنْ وُلُوغِ الْكَلْبِ لِأَنَّهُ رِجْسٌ، وَلَمْ يَصِحَّ عَنْ أَحَدٍ مِنْ الصَّحَابَةِ خِلَافُهُ، وَلِخَبَرِ الْبَيْهَقِيِّ وَغَيْرِهِ «أَنَّهُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دُعِيَ إلَى دَارٍ فَلَمْ يُجِبْ، وَإِلَى أُخْرَى فَأَجَابَ، فَقِيلَ لَهُ فِي ذَلِكَ فَقَالَ: فِي دَارِ فُلَانٍ كَلْبٌ، قِيلَ وَفِي دَارِ فُلَانٍ هِرَّةٌ، فَقَالَ: إنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجِسَةٍ»" ([2]) [3] أو د ابن عباس – رضي الله عنه – څخه په ښكاره توګه ثابت شوې چې د سپي د څټلو څخه وروسته لوښی پدې خاطر وينځل كيږي چې سپی پليت دی، أو پدې خبره كې هيڅ كوم صحابي د ابن عباس – رضي الله – خلاف ندی كړی (يعني د صحابؤ اجماع د سپي په نجاست باندې قايمه ده)، أو همداړول بيهقي يو خبر نقل كړی چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم – ته يو كور ته بلنه وركړل شوله، خو دعوت يې قبول نكړ، أو بيا بل كور ته دعوت كړل شو، پس رسول الله – صلى الله عليه وسلم – يې بلنه ومنله، نو رسول الله – صلى الله عليه وسلم – ته د دې كار كولو په أړه وويل شول: پس رسول الله – صلى الله عليه سلم – وويل: د فلاني په كور كې سپی و (نو ځكه لاړ نشوم)، ورته وويل شول: چې د دې بل سړي په كور كې خو هم پيشو وه، نو رسول الله – صلى الله عليه وسلم – وويل: پيشو پليته نده.

أو د امام ابوحنيفه أو امام مالک - رحمهما الله - دليل دا حديث دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ , رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِي تَكُونُ فِيمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ الْكِلَابَ وَالسِّبَاعَ تَرِدُ عَلَيْهَا فَقَالَ: «لَهَا مَا أَخَذَتْ فِي بُطُونِهَا وَلَنَا مَا بَقِيَ شَرَابٌ وَطَهُورٌ» ([4]) د ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې د رسول الله – صلى الله عليه وسلم – څخه د هغه حوضونو په أړه چې د مديني أو مكې ترمنځ دي پوښتنه وشوه، ورته وويل شول چې په هغې كې سپې أو ځينې نور درنده ګان

[1] - الكافي في فقه الإمام أحمد (1/ 40)

[2] - الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي (المتوفى: 1004هـ)، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج، دار الفكر، بيروت (1/ 236)

[3] - د دې خبر حكم: شعيب الأنؤوط ويلي چې د دې حديث سند ضعيف دي: إسناده ضعيف لضعف عيسى بن المسيب (مسند أحمد ط الرسالة (14/ 85)

[4]- الدارقطني، الامام الحافظ على بن عمر الدارقطني، سنن الدارقطني، د حديث شميره: 56، كِتَابُ الطَّهَارَةِ، بَابُ الْمَاءِ الْمُتَغَيِّرِ دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، ج 1 ص ,36

أوبه څښني، رسول الله – صلى الله عليه وسلم – وويل: د دوي لپاره هغه أوبه دي چې په خپلو نسونو کې يې يوسي أو پاتي أوبه زمونږ لپاره د څښاک أو د پاکئ حاصلولو أوبه دي.[1]

د دې حديث څخه معلوميږي چې سپی نجس العين ندی؛ ځکه که نجس العين وای نو په أوبو کې په خوله وهلو سره به أوبه نجسي ګرځيدلي وای.

د يادولو وړ ده چې امام سرخسي صاحب په مبسوط کې د سپي د نجس العين کيدو په اړه متناقض أقوال ذکر کړي چې په ځينو ځايونو کې يې نجس العين أو په ځينو نورو ځايونو کې يې غير نجس العين ګڼلی، خو دې خبرې ته يې ترجيح ورکړي چې سپی نجس العين دی، لېکن ابن نجيم د مبسوط سرخسي متناقض عبارتونه نقل کړي أو بيا وروسته يې داسې فيصله کړي: "وَالَّذِي يَقْتَضِيهِ عُمُومُ مَا فِي الْمُتُونِ كَالْقُدُورِيِّ وَالْمُخْتَارِ وَالْكَنْزِ طَهَارَةَ عَيْنِهِ وَلَمْ يُعَارِضْهُ مَا يُوجِبُ نَجَاسَتَهَا فَوَجَبَ أَحَقِّيَّةُ تَصْحِيحِ عَدَمِ نَجَاسَتِهَا أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُنْتَفَعُ بِهِ حِرَاسَةً وَاصْطِيَادًا وَقَدْ صَرَّحَ فِي عِقْدِ الْفَوَائِدِ شَرْحِ مَنْظُومَةِ ابْنِ وَهْبَانَ بِأَنَّ الْفَتْوَى عَلَى طَهَارَةِ عَيْنِهِ" ([2]) هغه څه چې د أحنافو متون يې تقاضا کوي داده چې د سپي عين پاک دی، أو هغه قول يې معارضه نشي کولی چې د سپي عين نجس ګڼي؛ ځکه د سپي څخه په چوکيدارۍ أو ښکار کې ګټه اخيستل کيږي ، أو په (عقدالفوائدشرح منظومة ابن وهبان) کې راغلي چې د أحنافو فتوا پدې ده چې د سپي عين پاک دی، يعنی نجس العين ندی.

أو د أحنافو أو مالکيانو بل دليل دا حديث دی: عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: «لَا بَأْسَ بِثَمَنِ كَلْبِ الصَّيْدِ» ([3]) د ابراهيم څخه روايت کوي، وايي: د ښکاري سپي په پيسو کې باک نشته. [4]

د امام مالک د قول په أړه چې سپی پاک دی، ابن قصار مالکی په تفصيل سره بحث کړی أو د سپي د پاکوالي لپاره يې مختلف دلايل ذکر کړي، لکه په يوځای کې وايي: "والدليل على طهارة الكلب [5]ما نهي عن الانتفاع به مع القدرة وقد قأمت الدلالة على الانتفاع بالكلب لا لضرورة من الكتاب والسنة والإجماع".

---

[1] - د دې حديث حکم: د عبدالرحمن د ضعف له امله دا حديث ضعيف دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده ضعيف لضعف عبد الرحمن بن زيد بن أسلم (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (1/ 326)

[2]- البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (1/ 107)

[3]- العبسي، أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي، الكتاب المصنف في الأحاديث والآثار، المحقق: كمال يوسف الحوت، ط1، مكتبة الرشد – الرياض، ج 4 ص 348 ، شرح معاني الآثار - الطحاوي (4/ 59)

[4] - د دې حديث حکم: مقطوع حديث دی

[5] - د (طهارة الكلب) څخه مراد دادی چې سپی نجس العين ندی، لکه څنګه چې د جمهورو قول دی، نو په همدې خاطر يې پس خورده پاکه ده، او که په کوم ظرف کې سپي خوله اووهي وينځل يې ضرورو ندي، پدې اړه د عيون الأدلة في مسائل الخلاف بين فقهاء الأمصار مصنف تفصيلي بحث کړی نو د تفصيل لپاره هلته مراجعه وکړئ. (وګورئ: ابن القصار، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد البغدادي المالكي المعروف بابن القصار (المتوفى: 397هـ)، عيون الأدلة في مسائل الخلاف بين فقهاء الأمصار، دراسة وتحقيق: د. عبد الحميد بن سعد بن ناصر السعودي، مكتبة الملك فهد الوطنية، الرياض - المملكة العربية السعودية، (2/732-745)

([1]) أو دسپي د طهارت لپاره دليل دادی چې د قدرت سره سره سپي ښخه د ګټې اخستنې ښخه منع نده راغلې، بلکه بغير د ضرورت ښخه هم د سپي ښخه د ګټې اخستنې لپاره د کتاب الله، سنت رسول أو اجماع ښخه دليل شتون لري. لېکن دسپي د غوښو د حلالوالي په اړه چې مالکيانو ته د کوم قول نسبت کېږي درست ندی، لکه پدې اړه د الشرح الكبيرمصنف ليکلي: "وَالْمُعْتَمَدُ أَيْضًا أَنَّ الْكَلْبَ الْإِنْسِيَّ مَكْرُوهٌ، وَقِيلَ حَرَامٌ، وَلَمْ يَرِدْ قَوْلٌ بِإِبَاحَتِهِ." ([2]) أو د سپي په اړه معتمد قول دادی چې انسي سپي (يعني د وچي سپي) مکروه دی أو ويل شوې چې حرام دی، لېکن د إباحت په اړه يې په مالکي مذهب کې څه قول ندی نقل شوی. همداډول په حاشية الدسوقي على الشرح الكبير کې ليکي: " وفِي الْكَلْبِ قَوْلَانِ الْحُرْمَةُ وَالْكَرَاهَةُ وَصَحَّحَ ابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ التَّحْرِيمَ، قَالَ ح: وَلَمْ أَرَ فِي الْمَذْهَبِ مَنْ نَقَلَ إبَاحَةَ أَكْلِ الْكِلَابِ" ([3]) أو د سپي په اړه دوه قولونه دي: يو د حراموالي أو بل د کراهيت، أو ابن عبدالبر د حراموالي قول صحيح ګڼلی دی، د الشرح الكبير مصنف ويلي: ما د سپي د خوړلو د إباحت په اړه په مالکي مذهب کې څه ندي ليدلي.

**يادونه:** د پورتنيو دلايلو په أساس ويلای شو، چې د سپي د نجس العين کيدو په قضيه کې د اختلاف سبب د دلايلو تعارض دی، أو پدې اړه د أحنافو قول راجح دی چې سپی نجس العين ندی، لېکن پس خورده، پوست أو لاړې يې نجسي دي، أو د امام مالک په نزد سپی نجس العين ندی أو يادشوي شيان يې هم پاک دي أو پدې موضوع کې همدغه د أحنافو أو مالکيانو د مذهب ترمنځ فرق دی که څه هم دواړه مذهبونه د سپي په نجس العين کيدو باندې قايل ندي. د أحنافو د قول راجح کيدو په اړه د فقه الميسر مصنف ليکلي: "الراجح: هو مذهب الحنفية أن الكلب ريقه وبوله وروثه كل ذلك نجس. أما شعره فإنه طاهر، فمتى أصابت رطوبة شعره الثوب أو البدن لم ينجس بذلك؛ لأن الحديث إنما ورد في ولوغه، أما كونه نجس العين فلا يصح القول به؛ لأن الأصل في الأعيان الطهارة، ولا يجوز تنجيس شيء ولا تحريمه إلا بدليل شرعي، وهذا القول هو إحدى الروايتين عن الإمام أحمد -رحمه الله-." ([4]) د سپي د نجس العين کيدو او نه کيدو په اړه د أحنافو مذهب راجح دی چې د سپي لاړې، بولې أو غټه ګندګي يې ټول پليت دي، لېکن ويښتان يې

---

[1]- ابن القصار، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد البغدادي المالكي المعروف بابن القصار (المتوفى: 397هـ)، عيون الأدلة في مسائل الخلاف بين فقهاء الأمصار، دراسة وتحقيق: د. عبد الحميد بن سعد بن ناصر السعودي، مكتبة الملك فهد الوطنية، الرياض - المملكة العربية السعودية، ٧٣٣/٢

[2] - الدردير، أبو البركات أحمد بن محمد العدوي ، الشهير بالدردير (المتوفى : 1201هـ)، الشرح الكبير، موقع يعسوب، الشرح الكبير للدردير (2/ 117)

[3] - الدسوقي، محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي (المتوفى: 1230هـ)، الشرح الكبير للشيخ الدردير وحاشية الدسوقي، دار الفكر-بيروت (2/ 117)

[4]- الطيّار، أ. د. عَبد الله بن محمد الطيّار، أ. د. عبد الله بن محمّد المطلق، د. محمَّد بن إبراهيم الموسَى، الفِقهُ الميَسَّر، مَدَارُ الوَطن للنَّشر، الرياض - المملكة العربية السعودية (1/ 36)

پاک دي، نوکه د سپي د وینتانو رطوبت أو لوندوالی په جامو أو بدن ولګیږي نه نجس کېږي؛ ځکه حدیث د سپي لخوا د لوښي د ځټلو په أړه راغلی چې څو واره به وینځل کېږي ، لېکن داخبره چې پدې حدیث سره دي د سپی نجس العین کیدل ثابت شي درسته خبره نده؛ ځکه أصل په اعیانو کې طهارت دی، نو نجس أو یا حرام یې ګڼل شرعي دلیل ته اړتیا لري، أو همدغه د أحنافو قول أو یو قول د امام أحمد بن حنبل – رحمه الله – هم دی.

## څلورم مطلب: د داړو لرونکوأو څیروونکو حیواناتو غوښې

د دې ډول حیواناتو څخه د زمري، پړانګ، ګیدړي، شغال، لیوه، خرس أو داسې نورو یادوونه کولی شو، د دې ډول حیواناتو غوښې حرامې دي؛ ځکه په حدیث شریف کې راغلې: عن أبي ثعلبةَ الخُشَني: "أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ أكْلِ كلِّ ذي نَابٍ من السَّباعِ" ([1]) د ابی ثعلبه الخشني – رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- د هرداړو لرونکي حیوان د خوړلو څخه منع فرمایلي ده. [2]

دامام ابوحنیفه – رحمه الله – په نزد (سبع) هغه حیوان ته ویل کېږي چې غوښې خوري ولو که حمله کوونکی نه وي، لېکن د امام شافعي – رحمه الله – په نزد یوازي غوښو خوړونکو حیواناتو باندې د سبع اطلاق نکېږي ، بلکه د سبع کیدو لپاره دوه شرطونه دي: یو داچې غوښې خوري أو بل داچې حمله کوونکی وي، پدې أړه امام شوکاني – رحمه الله – لیکلي: "وَوَقَعَ الْخِلَافُ فِي جِنْسِ السِّبَاعِ الْمُحَرَّمَةِ، فَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: كُلُّ مَا أَكَلَ اللَّحْمَ فَهُوَ سَبُعٌ حَتَّى الْفِيلِ وَالضَّبُعِ وَالْيَرْبُوعِ وَالسِّنَّوْرِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: يُحَرَّمُ مِنْ السِّبَاعِ مَا يَعْدُو عَلَى النَّاسِ كَالْأَسَدِ وَالنِّمْرِ وَالذِّئْبِ. وَأَمَّا الضَّبُعُ وَالثَّعْلَبُ فَيَحِلَّانِ عِنْدَهُ لِأَنَّهُمَا لَا يَعْدُوَانِ" ([3]) أو د حرامو درنده حیوانانو د جنس په أړه د علماوو ترمنځ اختلاف دی، د امام ابوحنیفه – رحمه الله – په نزد هرحیوان چې غوښه خوري سبع ګڼل کېږي ان تردې چې فیل، کوړ، سحرایی مږه أو سحرایي پشو ټول حرام دي، لېکن د امام شافعي – رحمه الله – په نزد هغه درنده حیوانات حرام دي چې حمله کوونکي وي، لکه زمری، پړانګ أو لیوه، أو هرچي ګیدړه أو کوړ دي نو حلال دي؛ ځکه حمله کوونکي ندي.

د دې ډول حیواناتو په أړه امام کاساني – رحمه الله لیکي: "وَأَمَّا الْمُسْتَأْنِسُ مِنْ السِّبَاعِ وَهُوَ الْكَلْبُ وَالسِّنَّوْرُ الْأَهلي فَلَا يَحِلُّ وَكَذَلِكَ الْمُتَوَحِّشُ مِنْهَا الْمُسَمَّى بِسِبَاعِ الْوَحْشِ وَالطَّيْرِ وَهُوَ كُلُّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ وَكُلُّ ذِي

---

[1]- صحیح البخاري، د حدیث شمېره: 5530 ،كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ (7/ 96)/ سنن أبي داود، د حدیث شمېره: 3802، أول كتاب الأطعمة، باب النهي عن أكل السباع 620/5

[2] - د دي حدیث حکم د ابو داود په روایت: صحیح حدیث دی؛ ځکه چې شیخینو هم روایت کړی، او پدي اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحیح ( سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 620)

[3]- نیل الأوطار (8/ 131)

مِخْلَبٍ مِنْ الطَّيْرِ لِمَا رُوِيَ فِي الْخَبَرِ الْمَشْهُورِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ «نَهَى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ وَكُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنْ الطَّيْرِ» ، وَعَنْ الزُّهْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «كُلُّ ذِي نَابٍ مِنْ السِّبَاعِ حَرَامٌ» فَذُو النَّابِ مِنْ سِبَاعِ الْوَحْشِ مِثْلُ الْأَسَدِ وَالذِّئْبِ وَالضَّبُعِ وَالنَّمِرِ وَالْفَهْدِ وَالثَّعْلَبِ وَالسِّنَّوْرِ الْبَرِّيِّ وَالسِّنْجَابِ وَالْفَنَكِ وَالسَّمُّورِ وَالدَّلَقِ وَالدُّبِّ وَالْقِرْدِ وَالْفِيلِ وَنَحْوِهَا فَلَا خِلَافَ فِي هَذِهِ الْجُمْلَةِ أَنَّهَا مُحَرَّمَةٌ" ([1]) [2] أهلي درنده حيوانات عبارت دي له سپي أو پشو څخه، نو د دې حيواناتو غوښو خوړل روا ندي، أو وحشي درنده حيوانات عبارت دي له هر داړو لرونكو حيواناتو أو پنجه لرونكو مرغانو څخه، د دغه ډول حيواناتو غوښې هم د دې حديث له مخې حرامې دي چې: (رسول الله – صلى الله عليه وسلم- د داړو لرونكو حيواناتو أو پنجه لرونكو مرغانو د خوړلو څخه منع فرمايلي ده) أو همداډول د زهري – رضي الله عنه - څخه روايت دى چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: (هرداړو لرونکی درنده حيوان حرام دی)، وحشي درنده حيوانات عبارت دي له زمري، ليوه، كوړ، پړانګ، ګيدړه، صحرايي پشو، موش خورما، افريقايي ګيدړه، سګ لاهو، تورلمی، خرس يا ايږه، شادي، فيل أو داسې نور، نو د دوي د حراموالي په أړه هيڅ اختلاف نشته، يعني د ټولو علماوو په نزد حرام دي.

## پنځم مطلب: د أهلي خره غوښې

د أهلي خره غوښې په اتفاق سره حرامې دي؛ ځکه حراموالی يې په صريح صحيح حديث سره ثابت دی، لکه د بخاري په حديث کې راغلي: عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْمُتْعَةِ عَامَ خَيْبَرَ وَعَنْ لُحُومِ حُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ" ([3]) د علي – رضي لله عنه – څخه روايت دی، ويلې يې دي: رسول الله – صلى الله عليه وسلم- د خيبر په ورځ د متعې نكاح أو د أهلي خرو له غوښو څخه منع وفرمايله.

نوموړی حديث مسلم هم روايت کړی، أو د دې حديث په شرحه کې امام نووي – رحمه الله – ليکلي: "فَقَالَ الْجَمَاهِيرُ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ بِتَحْرِيمِ لُحُومِهَا لهذه الأحاديث الصحيحة الصريحة وقال بن عَبَّاسٍ لَيْسَتْ بِحَرَامٍ وَعَنْ مَالِكٍ ثَلَاثُ رِوَايَاتٍ أَشْهَرُهَا أَنَّهَا مَكْرُوهَةٌ كَرَاهِيَةَ تَنْزِيهٍ شَدِيدَةً وَالثَّانِيَةُ حَرَامٌ وَالثَّالِثَةُ مُبَاحَةٌ وَالصَّوَابُ التَّحْرِيمُ كَمَا قَالَهُ الْجَمَاهِيرُ لِلْأَحَادِيثِ الصَّرِيحَةِ" ([4]) جمهورعلماء د صحابو،

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

[2] - د امام زهري د حديث تخريج: سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 382)/ او شعيب الأرنؤوط ويلي: صحيح حديث دی، (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 382)

[3]- صحيح البخاري، 5523 ،كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ (7/ 95)

[4]- شرح النووي على مسلم (13/ 91)

تابعینو أو ورسته نور علماء د صحیح أحادیثو له أمله د أهلي خرو د غوښو په حراموالي باندې قایل دي، خو عبدالله ابن عباس ویلي حرامې ندي، أو د امام مالک څخه دري روایته راغلي: لمړی قول یې دادی چې مکروه تنزیهي دي، دوهم قول یې دادی چې حرامې دي، أو دریېم قول یې دادی چې مباح دي، خو صحیح قول یې د صحیح أحادیثو د شتون په خاطر د جمهورو په شان د حراموالي دی.

أو ابن عباس – رضي الله عنه – هم د خپل قول څخه رجوع کړي، لکه امام کاساني – رحمه الله – وایې: "وَرُوِيَ «أَنَّ سَيِّدَنَا عَلِيًّا - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - وَهُوَ يُفْتِي النَّاسَ فِي الْمُتْعَةِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأهلیةِ يَوْمَ خَيْبَرَ فَرَجَعَ ابْنُ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنْ ذَلِكَ» ([1]) روایت شوی چې علي – رضي الله عنه- ابن عباس ته چې د متعې په جواز یې فتوی ورکوله، وویل: رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د خیبر په ورځ د متعې أو أهلي خرو د غوښو څخه منع فرمایلي ده، نو ابن عباس – رضي الله عنه- د خپل قول څخه رجوع وکړه. ([2])

**یادونه:** د أهلي خرو د غوښو په أړه چې کوم حدیث راغلی په هغه حدیث کې د متعې نکاح (موقته نکاح) د حراموالي یادونه هم شوې ده، نو د حدیث له ظاهر څخه داسې ښکاري چې د متعې نکاح د تل لپاره د هجرت په أووم کال د خیبر غزوې پر مهال حرامه کړل شوی، لیکن حقیقت دادی چې د متعې نکاح د تل لپاره د هجرت په نهم کال کې حرامه شوې ده، لکه پدې أړه شوکاني صاحب په نیل الأوطار کې لیکلي دي: "وَلَمْ يَبْلُغْنَا أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَبَاحَهُ لَهُمْ وَهُمْ فِي بُيُوتِهِمْ وَلِهَذَا نَهَاهُمْ عَنْهُ غَيْرَ مَرَّةٍ، ثُمَّ أَبَاحَهُ لَهُمْ فِي أوقَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ حَتَّى حَرَّمَهُ عَلَيْهِمْ فِي آخِرِ أَيَّامِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَكَانَ تَحْرِيمَ تَأْبِيدٍ لَا تَوْقِيتٍ، فَلَمْ يَبْقَ الْيَوْمَ فِي ذَلِكَ خِلَافٌ بَيْنَ فُقَهَاءِ الْأَمْصَارِ وَأَئِمَّةِ الْأُمَّةِ إلَّا شَيْئًا ذَهَبَ إلَيْهِ بَعْضُ الشِّيعَةِ، وَيُرْوَى أَيْضًا عَنْ ابْنِ جَرِيرٍ جَوَازُهُ انْتَهَى" **([3])** مونږ ته دا خبره نده رسیدلې چې نبي کریم - صلی الله علیه وسلم – دي صحابۀ – رضوان الله علیهم اجمعین – ته بغیر د سفر حالت څخه د متعې نکاح اجازه ورکړې وي، نو له همدې أمله رسول الله – صلی الله علیه وسلم – څو واره دوي د متعې نکاح څخه منع کړي، أو په مختلفو وختونو کې یې ورته مباح ګرځولي، تردې چې د ژوند په ورستیو ورځو کې د حجة الوداع په ورځ یې د تل لپاره حرامه وګرځوله، نو د هغې څخه وروسته تر نن ورځې پورې د إسلامي أمت د أئمه ؤ ترمنځ د متعې نکاح په أړه څه اختلاف نشته مګر لږ خلک، لکه اهل تشیع چې د متعې نکاح په إباحت قایل دي، أو د ابن جریر طبري – رحمه الله – څخه هم د روا والي قول نقل شوی دی.

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 37)

[2] - د نوموړي اثر تخریج: شرح معاني الآثار (3/ 25)

[3] - نیل الأوطار للشوکاني (6/ 162)

همداړول بدرالدين عيني– رحمه الله – په عمدة القاري كې ليكلي: "وَقَالَ القَاضِي عِيَاض: يحْتَمل أَنه صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَبَاحَهَا لَهُم للضَّرُورَة بعد التَّحْرِيم ثمَّ حرمهَا تَحْرِيمًا مُؤَبَّدًا، فَيكون أَنه حرمهَا يَوْم خَيْبَر وَفِي عمْرَة الْقَضَاء، ثمَّ أَبَاحَهَا يَوْم الْفَتْح للضَّرُورَة، ثمَّ حرمهَا يَوْم الْفَتْح أَيْضا تَحْرِيمًا مُؤَبَّدًا، وَقَالَ النَّوَوِيّ: الصَّوَاب الْمُخْتَار أَن التَّحْرِيم وَالْإِبَاحَة كَانَا مرَّتَيْنِ، وَكَانَت حَلَالا قبل خَيْبَر ثمَّ حراموالي يَوْم خَيْبَر، ثمَّ أبيحت يَوْم فتح مَكَّة وَهُوَ يَوْم أَوْطَاس لاتصالهما، ثمَّ حراموالي يَوْمئِذٍ بعد ثَلَاثَة أَيَّام تَحْرِيمًا مُؤَبَّدًا إِلَى يَوْم الْقِيَامَة" ([1]) (وروسته له دي چې بدرالدين عيني صاحب د متعې نكاح د حراموالي د وخت په أړه د رواياتو اختلاف ذكر كړى بيا يې ليكلي) أو قاضي عياض [2] – رحمه الله – ويلي: احتمال لري چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم – د صحابۇ لپاره د حراموالي څخه وروسته د ضرورت پخاطر مباح گرځولي وي أو بيايې د تل لپاره حرامه گرځولي وي، نو په همدې أساس لمړى نبي كريم – صلى الله عليه وسلم – د خيبر په ورځ حرامه وگرځوله أو بيايې د عمرة القضاء په ورځ حرامه وگرځوله، أو بيايې د فتحې په كال د ضرورت پخاطر مباح وگرځوله أو بيايې د فتحې په ورځ د تل لپاره حرامه وگرځوله، أو امام نووي – رحمه الله – ويلي: د متعې نكاح د حراموالي د وخت په أړه غوره خبره داده چې د متعې نكاح دوه ځله مباح أو حرامه گرځول شوې ده: يوځل داچې د خيبر غزوې څخه مخكې روا وه بيا د خيبر په ورځ حرامه كړل شوه، بيا د فتحې په ورځ چې همدغه د أوطاس ورځ هم ده؛ ځكه دواړه متصل واقع شوې، بيا د دې څخه درې ورځې وروسته د قيامت تر ورځې پورې د تل لپاره حرامه كړل شوه.

## شپږم مطلب: د قچرې غوښې

كه څه هم د قچرې غوښو ته مخكې د اسونو د غوښو په ضمن كې اجمالي اشاره شوې وه، لېكن دلته په تفصلي أو مدللـــه توگه ستاسو محترم حضور ته لاندې معلومات وړاندې كېږي :

د قچرې غوښه هم په اتفاق سره حرامه ده؛ ځكه قچره د خره له نسل څخه ده، حكم يې هم د خره په شان دى، لكه په حديث كې راغلي: عن عطاء، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا نَأْكُلُ لُحُومَ الْخَيْلِ. قُلْتُ: فَالْبِغَالُ؟ قَالَ: لَا" ([3]) عطاء – رحمه الله - د جابر – رضي الله عنه- څخه روايت كوي، وايي: مونږ د رسول الله –

---

[1] - عمدة القاري شرح صحيح البخاري (17/ 247)

[2]- د قاضي عياض رحمه الله لنډه پېژندنه: قاضي عياض رحمه الله (476هـ - 544هـ) د اسلامي نړۍ يو وتلى عالم، فقيه، محدث، او قاضي و، چې بشپړ نوم يې أبو الفضل عياض بن موسى بن عياض بن عمرو بن موسى بن عياض اليحصبي الاندلسي، ثم السبتي المالكي و. هغه په سبته (اوسنى مراكش) كې زېږېدلى و او د مالكي فقهې په پېروانو كې مهم ځاى لري. قاضي عياض د حديث او فقه په علومو كې د مهارت له امله په خپل وخت كې شهرت ترلاسه كړ. د هغه مشهور اثر "الشفا بتعريف حقوق المصطفى" دى، چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په سيرت او مقام باندې يو جامع كتاب دى. قاضي عياض د قضا په چارو كې هم بوخت و او په 544هـ كې وفات شو، او علمي ميراث يې تر ننه په اسلامي نړۍ كې ډېر درناوى لري. (وگورئ: سير أعلام النبلاء (20/ 213)

[3]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، 3196 ، أَبْوَابُ الذَّبَائِحِ ، بَابُ لُحُومِ الْبِغَالِ (4/ 358)

صلى الله عليه وسلم- په وخت کې اسان خوړل، عطاء وايي ماورته وویل: أو د قچرو غوښې ؟ جابر- رضي الله عنه- وويل: نه، (يعني د قچرو غوښې مو نه خوړلې.[1] أو په بل روايت کې راغلي: " عَنْ جَابِرٍ قَالَ: كُنَّا نَأْكُلُ لُحُومَ الْخَيْلِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَنَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْبِغَالِ وَالْحُمُرِ ". ([2]) د جابر- رضي الله عنه- څخه روايت دی، ويلې يې دي: مونږ د رسول الله – صلى الله عليه وسلم – په وخت کې د آسونو غوښې خوړلې، أو بيا يې وويل: رسول الله عليه وسلم – د قچرو أو خرو له غوښو څخه منع فرمايلې.

پدې أړه امام زيلعي – رحمه الله – ويلي: "وأما البغل فهو من نسل الحمار فيكون بمنزلته هكذا." ([3]) قچره د خره له نسل څخه ده، نو حکم يې هم د خره په شان دی.

أو همدا ډول امام کاساني – رحمه الله- ليکلي: "أَنَّ الْبَغْلَ حَرَامٌ بِالْإِجْمَاعِ" ([4]) قچره په اجماع سره حرامه ده.

أو همداډول محمد العربي القروي مالکي [5] ليکلي: "كَمَا أَنَّهَا لَا تعْمل فِي الْبَغْل وَالْفرس على القَوْل بِالْحُرْمَةِ فيهمَا وَهُوَ الْمَشْهُور وَأما على القَوْل بِالْكَرَاهَةِ فِي البغال وَالْخَيْل وعَلى القَوْل بِالْإِبَاحَةِ فِي الْخَيل فتعمل فِيهَا الذَّكَاة" ([6]) لکه څنګه چې (ذکاة) يعني ذبح د قچرې أو آس د غوښو په حلالوالي کې د هغه چا په نزد کار نکوي چې په حراموالي باندې يې قايل دي أو همدغه د مالکيانو مشهور قول دی، لېکن د هغه چا په نزد چې د قچرې أو آس په کراهيت أو همداډول د هغه قول مطابق چې د آس د غوښو په إباحت باندې قايل دي، نو ذبح د قچرې أو آس د غوښو په حلالوالي کې کار کوي يعني روا يې ګرځوي.

همداډول امام نووي – رحمه الله – په المجموع شرح المهذب کې ليکلي: "وَيَحْرُمُ الْبَغْلُ وَالْحِمَارُ بِلَا خِلَافٍ عِنْدَنَا" ([7]) أو زمونږ (شافعيانو) په نزد قچره أو خر په اتفاق سره حرام دي.

---

[1] - د دې حديث حکم: صحيح دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 358)

[2]- الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني (المتوفى: 430هـ)، الطب النبوي، المحقق: مصطفى خضر دونمز التركي، دار ابن حزم، ٢/٢٨٦

[3]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (1/ 34)

[4]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 38)

[5]- محمد العربي القروي مالکي لنډه پېژندنه: محمد العربي بن حسين القروي المالكي رحمه الله (١٢٦٣هـ - ١٩٤١هـ) د مالکي مذهب يو نامتو فقيه، عالم او قاضي و. هغه په تونس کې زېږېدلی و او په مالکي فقه کې يې ژورې زده کړې وکړې. القروي د تونس په مذهبي او فقهي محفلونو کې د قدر وړ مقام درلود او د مالکي فقهې د اصولو په اړه يې ګڼې علمي هڅې کړې. نوموړي په تدريس، فتوا، او قضا کې هم فعال و او د خپلو شاګردانو په منځ کې د علمي صلاحيت له امله ډېر درناوی يې کېده. (وګورئ: https://ar.wikipedia.org/wiki)

[6] - القروي، محمد العربي القروي، الخلاصة الفقهية على مذهب السادة المالكية، دار الكتب العلمية – بيروت، (ص: 277)

[7] - المجموع شرح المهذب (9/ 4)

او ابن قدامه حنبلي – رحمه الله - په المغني کې ليکلي: "وَالْبِغَالُ حَرَامٌ عِنْدَ كُلِّ مَنْ حَرَّمَ الْحُمُرَ الْأهلية؛ لِأَنَّهَا مُتَوَلِّدَةٌ مِنْهَا، وَالْمُتَوَلِّدُ مِنْ الشَّيْءِ لَهُ حُكْمُهُ فِي التَّحْرِيمِ." ([1]) او قچره د هر هغه چا په نزد حرامه ده چې د أهلي خره په حراموالي باندې قايل دي؛ ځکه قچره د خره څخه پيدا ده، أود يوشي څخه پيدا شوې لره په حراموالي کې د هماغه شي حکم وي.

[1] - المغني لابن قدامة (9/ 407)

## څلورم مبحث: د مردارو شیانو خوړونکو حیواناتو غوښې

د ځینو حیواناتو أو مرغانو غوښې په ذاتي توګه حرامې نه دي خو د ځینو خارجي أسبابو (د مردارو شیانو د خوراک) له أمله حرامې ګرځي. ډېر حلال حیوانات أو مرغان، لکه غوایان، وزې، أوښان أو چرګان کله، کله مردار شیان خوري چې پدې مبحث کې به یې د غوښو په حکم باندې رڼا واچول شي.

### لمړی مطلب: د (الجلاله) تعریف

پدې أړه امام زیلعي – رحمه الله - لیکلي: "والجلالة هي التي تعتاد أكل الجيف والنجاسات" ([1]) جلاله هغه حیوان دی چې عادتا مردار شیان خوري، أو امام کاساني – رحمه الله – یې د تعریف په أړه لیکلي: "الْجَلَّالَةَ وَهِيَ الَّتِي الْأَغْلَبُ مِنْ أَكْلِهَا النَّجَاسَةُ" ([2]) جلاله هغه حیوان دی چې غالبا نجاست خوري.

### دوهم مطلب: د مردارو شیانو خوړونکو حیواناتو د غوښو په أړه د علماوو نظریات

د نجاساتو خوړونکو حیواناتو أو مرغانو د غوښو په أړه علماء لاندې نظرونه لري:

١- د أحنافو په نزد د (جلاله حیوان) غوښې په هغه صورت کې مکروه تحریمي دي چې غالبا ګنده شیان خوري أو د نجاست د خوراک له أمله یې غوښه بد بویه وي، اما هغه حیوانات چې کله مردار شیان أو کله هم پاک شیان خوري، خوړل یې روا دي، لکه پدې أړه امام سرخسي – رحمه الله - لیکلي: "وَتُكْرَهُ لُحُومُ الْإِبِلِ الْجَلَّالَةِ وَالْعَمَلُ عَلَيْهَا، وَتِلْكَ حَالُهَا إلَى أَنْ تُحْبَسَ أَيَّامًا لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «نَهَى عَنْ أَكْلِ لَحْمِ الْجَلَّالَةِ، [3] وَفِي رِوَايَةٍ أَنْ يُحَجَّ عَلَى الْجَلَّالَةِ وَيُعْتَمَرَ عَلَيْهَا وَيُنْتَفَعَ بِهَا» [4] وَتَفْسِيرُ الْجَلَّالَةِ الَّتِي تَعْتَادُ أَكْلَ الْجِيَفِ وَلَا تُخْلَطُ فَيَتَعَيَّنُ لَحْمُهَا، وَيَكُونُ لَحْمُهَا مُنْتِنًا فَحَرُمَ الْأَكْلُ؛ لِأَنَّهُ مِنْ الْخَبَائِثِ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهَا لِتَأَذِّي النَّاسِ بِنَتْنِهَا، وَأَمَّا مَا يَخْلِطُ فَيَتَنَاوَلُ الْجِيَفَ وَغَيْرَ الْجِيَفِ عَلَى وَجْهٍ يَظْهَرُ أَثَرُ ذَلِكَ مِنْ لَحْمِهِ، فَلَا بَأْسَ بِأَكْلِهِ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ" ([5]) د جلاله أوښانو غوښو خوړل مکروه دي أو په همدې باندې عمل دی، أو دا کراهیت ترهغه پورې دی چې تریوڅو ورځو پورې دا ډول حیوان بند کړل شي (ترڅویې غوښه

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (6/ 10)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

[3] - د دي حدیث تخریج: "عن ابن عمر، قال: نَهَى رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم - عن أكل الجَلاَّلَة وألبانِها" (سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حدیث شمېره: 3785، كتاب الأطعمة، باب النهي عن أكل الجلاَّلة وألبانِها (5/ 603)/ شعیب الأرنؤوط ویلي: دا حديث صحيح لغيره حديث دي، (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 603)

[4] - د دي حدیث تخریج: "عن بن طاوس قال اخبرني عمرو بن شعيب قال نهى رسول الله صلى الله عليه و سلم عن لحوم الإبل الجلالة وألبانها وكان يكره أن يحج عليها" (الصنعاني، أبو بكر عبد الرزاق بن همام الصنعاني، مصنف عبد الرزاق، المكتب الإسلامي – بيروت (4/ 521)/ د دي حدیث حکم په اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: وهذا معضل. (مسند أحمد ط الرسالة (11/ 616)

[5]- المبسوط للسرخسي (11/ 255)

پاکه شي)، أو د کراهيت لپاره يې دليل دا حديث دی چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- د نجاساتو خوړونکي أوښ له غوښې څخه منع فرمايلي، أو په بل روايت کې راغلي چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- د دې څخه منع فرمايلي چې په جلاله أوښ دې حج أو عمره وکړل شي أو کته ورڅخه واخيستل شي. أو د (الجلالة) تفسير دادی چې حيوان عادتا مردار شيان خوري أو بل شی ورسره نه ګډوي، نو غوښه يې له همدې نجاساتو څخه جوړيږي، أو غوښه يې بد بويه وي، نو خوړل يې حرام (مکروه تحريمي) دي؛ ځکه غوښه يې نجسه ده أو په همدې باندې عمل دی؛ ځکه غوښه يې خلکو ته د بدبويي له أمله ضرر رسوي، لېکن هغه حيوان چې مردار أو پاک شيان دواړه خوري پداسې شان چې په غوښه کې يې اثر ښکاري (يعني زياته بدبويه نه وي) نو خوړل يې پروا نکوي أو په همدې باندې عمل دی.

همداډول امام کاساني – رحمه الله – ليکلي: "وَأَمَّا بَيَانُ مَا يُكْرَهُ مِنْ الْحَيَوَانَاتِ فَيُكْرَهُ أَكْلُ لُحُومِ الْإِبِلِ الْجَلَّالَةِ وَهِيَ الَّتِي الْأَغْلَبُ مِنْ أَكْلِهَا النَّجَاسَةُ لِمَا رُوِيَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْإِبِلِ الْجَلَّالَةِ وَلِأَنَّهُ إذَا كَانَ الْغَالِبُ مِنْ أَكْلِهَا النَّجَاسَاتِ يَتَغَيَّرُ لَحْمُهَا وَيَنْتُنُ فَيُكْرَهُ أَكْلُهُ كَالطَّعَامِ الْمُنْتِنِ" ([1]) هر چې بيان د هغه حيواناتو چې غوښې يې مکروه دي، نو د نجاساتو خوړونکو حلالو حيواناتو غوښې دي چې غالبا نجاسات خوري، أو کراهيت يې پدې خاطر دی چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم – د جلاله أوښ له غوښو څخه منع فرمايلي ده، أو بل پدې خاطر چې د نجاساتو د خوراک له أمله د حيوان غوښه بدبويه کېږي، نو د بدبويه خوراک په شان يې خوړل مکروه دي.

٢- د شوافعو په نزد د نجاساتو خوړونکو حيواناتو غوښې په هغه وخت کې مکروه دي چې په غوښه کې د نجاست بوی ښکاره وي، أو که په غوښه کې بدبويي نه ليدل کيدله، نو خوړل يې پروا نکوي برابره خبره ده که غالبا نجاست خوري أو که پاک شيان، أو د شوافعو په نزد د صحيح قول مطابق د کراهيت څخه مراد مکروه تنزيهي دی، لکه پدې أړه امام نووي – رحمه الله - په المجموع شرح المهذب کې ويلي: "وَالصَّحِيحُ الَّذِي عَلَيْهِ الْجُمْهُورُ أَنَّهُ لَا اعْتِبَارَ بِالْكَثْرَةِ وَإِنَّمَا الِاعْتِبَارُ بِالرَّائِحَةِ وَالنَّتْنِ فَإِنْ وُجِدَ فِي عُرْفِهَا وَغَيْرِهِ رِيحُ النَّجَاسَةِ فَجَلَّالَةٌ وَإِلَّا فَلَا وَإِذَا تَغَيَّرَ لَحْمُ الْجَلَّالَةِ فَهُوَ مَكْرُوهٌ بِلَا خِلَافٍ وَهَلْ هِيَ كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ أَوْ تَحْرِيمٍ فِيهِ وَجْهَانِ مَشْهُورَانِ فِي طَرِيقَةِ الْخُرَاسَانِيِّينَ (أَصَحُّهُمَا) عِنْدَ الْجُمْهُورِ وَبِهِ قَطَعَ الْمُصَنِّفُ وَجُمْهُورُ الْعِرَاقِيِّينَ وَصَحَّحَهُ الرُّويَانِيُّ وَغَيْرُهُ مِنْ الْمُعْتَمَدِينَ أَنَّهُ كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ" ([2]) د جمهورو علماوو په نزد صحيح دا ده چې د نجاست خوړلو کثرت ته اعتبار نشته، بلکه اعتبار بوی ته دی، که د حيوان په غوښه کې د نجاست بوی موجود وه نو حيوان جلاله ګڼل کېږي أو که نه محسوسيده نو جلاله نه شميرل کېږي، أو

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 39)

[2]- المجموع شرح المهذب (9/ 28)

د جلاله حیوان غوښه په اتفاق سره مکرو ده أو د جمهورو په نزد د کراهیت څخه مراد مکروه تنزیهي دی.

۳- د مالکیانو په نزد د نجاساتو خوړونکي حلال حیوان غوښې حلالي أو مباح دي، پدې أړه د مواهب الجلیل في شرح مختصر خلیل مصنف ویلي: "لَا اخْتِلَافَ فِي الْمَذْهَبِ أَنَّ أَكْلَ لُحُومِ الْمَاشِيَةِ وَالطَّيْرِ الَّذِي يَتَغَذَّى بِالنَّجَاسَةِ حَلَالٌ جَائِزٌ" ([1]) په مالکي مذهب کې پدې أړه اختلاف نشته چې د حلالو نجاست خوړونکو حیواناتو أو مرغانو غوښې مباح دي. همدا راز یو بل مالکي عالم لیکلي: "ولا بأس بأكل الجلالة من الأنعام" ([2]) د نجاساتو خوړونکو حیواناتو غوښې په خوړلو کې څه باک نشته. همدا راز امام قرافي – رحمه الله - لیکلي: "قَالَ اللَّخْمِيُّ قَالَ مَالِكٌ فِي الْكِتَابِ لَا أَكْرَهُ الْجَلَّالَةَ مِنَ الْأَنْعَامِ" ([3]) لخمي – رحمه الله – ویلي: امام مالک – رحمه الله – په کتاب کې ویلي: زه د نجاست خوړونکو حیوانانو غوښې مکروه نه ګڼم.

۴- د حنابلؤ په نزد د نجاست خوړونکو حیوانانو أو مرغانو د غوښو په أړه دوه روایته راغلي: یو د کراهیت أو بل د حراموالي، لېکن د زیاتره حنبلي علماوو رجحان د حراموالي قول ته دی، لکه علاء الدین حنبلي [4] لیکلي: "قَوْلُهُ (وَمَا يَأْكُلُ الْجِيَفَ) . يَعْنِي يَحْرُمُ. وَهُوَ الصَّحِيحُ مِنْ الْمَذْهَبِ، نَصَّ عَلَيْهِ. وَعَلَيْهِ جَمَاهِيرُ الْأَصْحَابِ. وَنَقَلَ عَبْدُ اللَّهِ وَغَيْرُهُ: يُكْرَهُ" ([5]) أو دا قول د مصنف (هغه حیوان چې نجاست خوري) یعني حرام دی، أو همدغه صحیح حنبلي مذهب دی أو جمهور حنابله په همدې قایل دي، أو عبدالله أو ځینو نورو نقل کړي چې د داسې حیوان غوښې مکروه دي. همداډول یو بل حنبلي عالم لیکلي: "وتحرم

---

[1]- الرُّعيني، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المغربي، المعروف بالحطاب الرُّعيني المالكي (المتوفى: 954هـ)، مواهب الجليل في شرح مختصر خليل، ط٣، دار الفكر، ٩٢/١

[2]- ابن البراذعي، خلف بن أبي القاسم محمد، الأزدي القيرواني، أبو سعيد ابن البراذعي المالكي (المتوفى: 372هـ)، التهذيب في اختصار المدونة، دراسة وتحقيق: الدكتور محمد الأمين ولد محمد سالم بن الشيخ، دار البحوث للدراسات الإسلامية وإحياء التراث، دبي، ٢٦/٢

[3]- القرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي (المتوفى: 684هـ)، الذخيرة، محقق: محمد حجي، سعيد أعراب ومحمد بو خبزة، دار الغرب الإسلامي- بيروت، ١٠٤/٤

[4]- علاء الدین حنبلي لنده پېژندنه: علاء الدین حنبلي رحمه الله (817هـ - 885هـ) یو مشهور اسلامي فقیه او عالم و، چې بشپړ نوم یې علاء الدین أبو الحسن علي بن سلیمان المرداوي الدمشقي الصالحي الحنبلي دی. هغه په دمشق کې زېږېدلی و او د حنبلي مذهب د مشهورو علماؤ په منځ کې یې ځای درلود. د هغه له مهمو آثارو څخه "کشف الغطاء" دی، چې د حنبلي فقه په اړه یو جامع کتاب دی. علاء الدین حنبلي په 885هـ کې وفات شو، او علمي میراث یې تر نن ورځې د حنبلي مذهب په برخه کې ارزښت لري. (الأعلام للزركلي (4/ 292)

[5]- الصالحي، علاء الدين أبو الحسن علي بن سليمان المرداوي الدمشقي الصالحي الحنبلي (المتوفى: 885هـ)، الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف، ط٢، دار إحياء التراث العربي، 356/10

الجلالة التي أكثر علفها النجاسة ولبنها وبيضها نجس حتى تحبس ثلاثا" ([1]) أو د نجاساتو خوړونکو حيواناتو چې زياتره وخت نجاست خوري غوښې ، شیدي أو هګۍ يې حرامې دي تر دي چې تر دري ورځو پورې بندي کړل شي.

پدې مسئله کې د أحنافو أو حنابلؤ قول راجح دی، پدې أړه په "كتب الفقه" نومي کتاب کې راغلي:

"الترجيح فيما مر من مسائل الجلالة:

١ـ حكم أكل لحمها. لعل الراجح فيه التحريم لظاهر النهي من غير صارف عنه.

٢ ـ وأما ما تعتبر به الجلالة. فلعل الراجح فيه أنه إذا كان أكثر أكلها النجاسة ـ أخذًا من لفظ جلالة ـ إذ هو يفيد المبالغة المفهم للأكثرية.

٣ ـ وأما مقدار مدة حبسها فلعل الراجح فيه أنها لا تتقدر بل متى غلب على الظن ذهاب أثر النجاسة عنها لأن التحديد لا دليل عليه والمقصود زوال المحذور." [2] د مردارو شيانو خوړونکو حلالو حيوناتو په أړه چې کوم بحث وشو، د هغې په أړه د مذاهبو په أړه راجح أقوال په لاندې توګه دي:

١- د جلاله حيوان أو يا مرغه غوښه حرامه ده؛ ځکه په حديث کې د نهي ظاهر په حراموالي باندې دلالت کوي (أو دا حديث د هغه آيت عموم لره مخصص دی چې امام مالک رحمه الله ورباندې استدلال کړی).

٢- أو د حيوان أو يا مرغه جلاله ګڼلو په أړه راجح قول دادی چې په غالبه وختونو کې نجاست خوري؛ ځکه لفظ د جلاله په مبالغې دلالت کوي چې اکثريت ورڅخه معلوميږي، (أو همدغه د أحنافو نظر دی).

٣- أو د جلاله حيوان يا مرغه د بندولو مودې په أړه راجح قول دادی چې د حبس لپاره يې يوه مشخصه موده نشته، بلکه هرکله چې غالب ګمان داشو چې د نجاست اثر لمنځه لاړو نو په هماغه اندازه بندول يې بسنه کوي؛ ځکه د وخت ټاکلو په أړه کوم دليل نشته أو د بندولو أصلي هدف د نجاست اثر لمنځه وړل دي.

## درېيم مطلب: د مردارو شيانو خوړونکو حيواناتو حبس أو بندول

پدې أړه هم مذاهب مختلف نظرونه لري چې خلاصه يې په لاندې توګه ده:

١- د أحنافو په نزد به تر هغه پورې بندي کېږي أو پاک خواړه به ورکول کېږي چې د غوښې څخه يې بد بويې لري شي، پدې أړه امام سرخسي – رحمه الله - ليکلي: "تُحْبَسُ أَيَّامًا عَلَى عَلَفٍ طَاهِرٍ قِيلَ: ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، وَقِيلَ: عَشَرَةَ أَيَّامٍ، وَالْأَصْلَحُ أَنَّهَا تُحْبَسُ إلَى أَنْ تَزُولَ الرَّائِحَةُ الْمُنْتِنَةُ عَنْهَا؛ لِأَنَّ الْحُرْمَةَ لِذَلِكَ،

---

[1]- البهوتى، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى (المتوفى: 1051هـ) ، الروض المربع شرح زاد المستقنع، حاشية الشيخ العثيمين وتعليقات الشيخ السعدي ، خرج أحاديثه: عبد القدوس محمد نذير ، دار المؤيد - مؤسسة الرسالة (ص: 687)

[2] - كتب الفقه (18/ 51) (المكتبة الشاملة)

وَهُوَ شَيْءٌ مَحْسُوسٌ، وَلَا يَتَقَدَّرُ بِالزَّمَانِ لِاخْتِلَافِ الْحَيَوَانَاتِ فِي ذَلِكَ فَيُصَارُ فِيهِ إلَى اعْتِبَارِ زَوَالِ الْمُضِرِّ، فَإِذَا زَالَ بِالْعَلَفِ الطَّاهِرِ حَلَّ تَنَاوُلُهُ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ بَعْدَ ذَلِكَ" ([1]) څو ورځې به د پاکو وښو د خوړلو لپاره بندي کېږي، ويل شوې چې دري ورځو پورې، أو ويل شوې چې د لسو ورځو پورې، خو ښه خبره داده چې ترهغه پورې به بندي کېږي ترڅو يې بد بويې لري شي؛ ځکه حراموالی د همدې بدبويې په خاطر دی، أو دا يو محسوس شی دی أو د مشخصې مودې پورې نشي منحصر کيدلی؛ ځکه حيوانات پدې أړه مختلف دي، نو تر هغه وخته پورې به بندولی شي أو پاک واښه به ورکول کېږي چې بدبويې يې لري شي بيا به خوړل کېږي، أو په همدې باندې عمل دی. همداډول امام کاساني – رحمه الله – ليکلي: "ثُمَّ لَيْسَ لِحَبْسِهَا تَقْدِيرٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ هَكَذَا رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ - أَنَّهُ قَالَ: كَانَ أَبُو حَنِيفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - لَا يُوَقِّتُ فِي حَبْسِهَا وَقَالَ تُحْبَسُ حَتَّى تَطِيبَ وَهُوَ قَوْلُهُمَا أَيْضًا" ([2]) د ظاهر الروايت مطابق د جلاله حيوان د بندولو لپاره مشخصه موده نشته، أو همدغه قول د امام محمد – رحمه الله – څخه روايت شوی چې ده ويلي: امام ابوحنيفه – رضي الله عنه- د جلاله حيوان د حبس لپاره يوه مشخصه موده نده ټاکلي أو ويلي يې دي چې تر هغه وخته به بندي کېږي چې غوښه يې پاکه شي، أو همدغه د صاحبينو قول هم دی.

۲- د شوافعو مذهب هم د أحنافو په شان دي، لکه امام نووي – رحمه الله- ويلي: "قَالَ أَصْحَابُنَا وَلَيْسَ لِلْقَدْرِ الَّذِي تَعْلِفُهُ مِنْ حَدٍّ وَلَا لِزَمَانِهِ مِنْ ضَبْطٍ وَإِنَّمَا الِاعْتِبَارُ بِمَا يُعْلَمُ فِي الْعَادَةِ أَوْ يُظَنُّ أَنَّ رَائِحَةَ النَّجَاسَةِ تَزُولُ بِهِ" ([3]) أو زمونږ علماوو ويلي چې د جلاله حيوان د بندولو لپاره مشخصه موده نشته، بلکه اعتبار ديته دی چې دومره موده به بندولی شي چې عادتا په هغه موده کې د نجاست بد بويې لمنځه ځي، لېکن ماوردي – رحمه الله - ليکلي: "لَكِنِ جَاءَ الْأَثَرُ بِالتَّوَقُّفِ عَنْ ذبح ا بَعْدَ رَعْيِ الْأَقْذَارِ، فِي الْبَعِيرِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا وَالْبَقَرَةِ ثَلَاثِينَ يَوْمًا وَالشَّاةِ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَالدَّجَاجَةِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. فَيَخْتَارُ ذَلِكَ اتِّبَاعًا لِلْأَثَرِ فِيهِ وَإِنْ لَمْ يَجِبْ." ([4]) لېکن د نجاست خوړونکي حيوان د بندولو په أړه په اثر کې راغلي چې أوښ به څلويښت ورځې، غويه ديرش ورځې، پسه أووه ورځې أو چرګه دري ورځې بندولی شي، أو د اثر د شتون له کبله همدغه قول غوره دی ولو که واجب ندی.

---

[1]- المبسوط للسرخسي (11/ 256)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 40)

[3]- المجموع شرح المهذب (9/ 29)

[4]- الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (المتوفى: 450هـ)، الحاوي الكبير في فقه مذهب الإمام الشافعي وهو شرح مختصر المزني، المحقق: الشيخ علي محمد معوض - الشيخ عادل أحمد عبد الموجود، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، ٣٨٥/٥

۳- د مالکیانو په نزد يې بندولو ته اړتیا نشته؛ ځکه د هغوي په نزد حلال حیوان د نجاساتو په خوړلو سره نه حراميږي، نو بندولو ته يې ضرورت نشته.

۴- أو د حنابلؤ په نزد به نجاست خوړونکی حیوان تر دري ورځو پورې بندي کېږي ، پدې أړه ابن قدامه – رحمه الله- لیکلي: "وَاخْتُلِفَ فِي قَدْرِهِ، فَرُوِيَ عَنْ أَحْمَدَ؛ أَنَّهَا تُحْبَسُ ثَلَاثًا، سَوَاءٌ كَانَتْ طَائِرًا أَوْ بَهِيمَةً. وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إذَا أَرَادَ أَكْلَهَا حَبَسَهَا ثَلَاثًا." ([1]) أو د جلاله حیوان د بندولو په أړه اختلاف موجود دی، د امام أحمد – رحمه الله- څخه روایت شوی چې دري ورځي به بندولی شي، برابره خبره ده که مرغه وي أو یاهم حیوان، أو ابن عمر- رضي الله عنه- به تر دري ورځو پورې بندولو أو بیا به يې خوړلو.

پدي اړه راجح قول د احنافو او شوافعو دی، لکه چې د همدي مخکي مبحث د دوهم مطلب په پای کې د (کتب الفقه) په حواله خبره تېره شوه.

---

[1]- المغني لابن قدامة (9/ 414)

## دوهم فصل

## د مرغانو غوښې

داچې په نړۍ کې د مرغانو بې شمیره انواع شتون لري، نو په جدا جدا توګه د ټولو حرامو أو حلالو مرغانو ځېړل به یو ناشونی أو بې فایدې بحث وي؛ نو په همدې خاطر د مرغانو په اړه برابره خبره ده که أهلي وي أو یا هم وحشي، ځینې قواعد شتون لري چې د هغې په رڼا کې یو مسلمان کولی شي په اسانۍ سره د حرامو أو حلالو مرغانو په اړه پریکړه وکړي، نوموړې قواعد أو د دې قواعدو ځینې تطبیقي مثالونه به پدې فصل کې په تفصیل سره ذکر شي.

### لمړی مبحث: هر پنجه لرونکی أو ښکاري مرغه حرام دی

**قاعده:** "کل ذي مخلب من الطیر فأکله حرام" [1] (د هر پنجه لرونکي مرغه خوراک حرام دی)

د دې قاعدې شرحه أو د ثبوت دلایل مخکې په تمهیدي فصل کې ذکر شوې، دلته یواځې د تطبیقي مثالونو په ذکر کولو باندې بسنه کېږي .

### لمړی مطلب: د ښکاري مرغانو تطبیقي مثالونه

د درنده پنجه لرونکو مرغانو له جملې څخه باز، باښه، سورپشتک، کارغه أو ټپوس أو ځینې نور دي، لکه امام کاساني – رحمه الله- لیکلي: "وَذُو الْمِخْلَبِ مِنْ الطَّيْرِ كَالْبَازِي وَالْبَاشَقِ وَالصَّقْرِ وَالشَّاهِينِ وَالْحِدَأَةِ وَالنَّعَّابِ وَالنَّسْرِ وَالْعُقَابِ وَمَا أَشْبَهَ ذَلِكَ فَيَدْخُلُ تَحْتَ نَهْيِ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - عَنْ كُلِّ ذِي مِخْلَبٍ مِنْ الطَّيْرِ" ([2]) أو د پنجه لرونکي مرغان، لکه باز، باښه، سرپشتک، کارغه أو ټپوس ټول د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – پدې حدیث کې داخلیږي چې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- د هرپنجه لرونکو مرغانو څخه منع فرمایلي ده، أو هغه مرغان چې پنجلې نلري برابره خبره ده که أهلي وي، لکه چرګان أو هیلۍ أو یا هم وحشي وي، لکه کفتره، پختکه، داغسر أو چنچڼکي، کرک، هغه کارغه چې داني أو وابښه خوري أو زاغچکي، نو دا ټول په اجماع سره حلال دي. ([3])

أو امام زیلعي – رحمه الله- کارغان په درې ډوله ویشلي أو د هریوه حکم یې بیان کړی: "والغراب ثلاثة أنواع: نوع یأکل الجیف فحسب فإنه لا یؤکل ونوع یأکل الحب فقط فإنه یؤکل ونوع یخلط بینهما وهو أیضا یؤکل عند أبي حنیفة وهو العقعق؛ لأنه کالدجاج" ([4]) کارغان په درې ډوله دي: یو هغه کارغان دي چې

---

[1] - المبسوط للسرخسي (11/ 255)/ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 39)

[2]- بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 39)

[3]- وګورئ: بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 39)

[4]- تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق وحاشیة الشلبي (5/ 295)

يوازي مرداري غوښې خوري، دا ډول کارغه حرام دی، أو بل ډول هغه کارغه دی چې يوازې داني خوري، دا ډول کارغه حلال دی، أو بل هغه ډول دی چې واښه أو مردار شيان دواړه خوري، دا ډول کارغان چې د زاغچکو په نامه دي هم د امام ابوحنيفه – رحمه الله – په نزد حلال دي؛ ځکه دا په خوراک کې د چرګانو په شان دي چې پاک أو ناپاک شيان دواړه خوري.

لېکن د شافعي علماوو په نزد (العقعق) حرام دی، پدې أړه د نهاية المحتاج مصنف ليکي: "(قَوْلُهُ: وَكَذَا الْعَقْعَقُ) أَيْ يَحْرُمُ" ([1]) أو همداډول (العقعق) يعني د نورو يادوشويو حيواناتوأو مرغانو په شان عقعق هم حرام دی.

أو د حنابلؤ مذهب په أړه ابن قدامه – رحمه الله – ليکلي – "وَسُئِلَ أَحْمَدُ، عَنْ الْعَقْعَقِ، فَقَالَ: إنْ لَمْ يَكُنْ يَأْكُلُ الْجِيَفَ، فَلَا بَأْسَ بِهِ. قَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا: هُوَ يَأْكُلُ الْجِيَفَ، فَيَكُونُ عَلَى هَذَا مُحَرَّمًا." ([2]) د امام أحمد – رحمه الله – څخه د عقعق په أړه پوښتنه وشوه، نو امام أحمد په جواب کې وويل: که مردار شيان نه خوري نو په خوړلو کې يې باک نشته، يعني حلال دی، لېکن بعضو حنابلؤ ويلي: عقعق مرداره غوښه خوري نو په همدې خاطر حرام دی.

## دويم مبحث: د هغه مرغانو غوښې حرامې دي چې شريعت يې له وژلو څخه منع فرمايلي ده

**قاعده:** "كل ما أمر الشارع بقتله فأكله حرام" [3]. ( د کوم شي په وژلو چې إسلام أمر کړی وي خوړل يې حرام دی)

د کومو حيواناتو، مرغانو أو يا هم حشراتو له وژلو څخه چې منع راغلې وي، د غوښو خوړل يې نا روا دي؛ ځکه د وژلو څخه يې منع يا د کرامت پخاطر أو ياهم د غوښې د حراموالي له أمله وي.

### لمړی مطلب: د پورتنی قاعدي تطبيقي مثالونه

په حديث شريف کې راغلي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعَةٍ: الْهُدْهُدِ، وَالصُّرَدِ، وَالنَّمْلَةِ، وَالنَّحْلَةِ» ([4]) ابن عباس – رضي الله عنه- ويلي: رسول الله – صلى الله عليه

[1] - نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج (8/ 153)

[2] - المغني لابن قدامة (9/ 410)

[3] - سيد سابق (المتوفى: 1420هـ)، فقه السنة، ط2، دار الكتاب العربي، بيروت – لبنان، (3/ 286)/ أبو مالك كمال بن السيد سالم، صحيح فقه السنة وأدلته وتوضيح مذاهب الأئمة، تعليقات فقهية معاصرة: فضيلة الشيخ/ ناصر الدين الألباني، فضيلة الشيخ/ عبد العزيز بن باز، فضيلة الشيخ/ محمد بن صالح العثيمين، المكتبة التوفيقية، القاهرة – مصر، (2/ 345)

[4]- صحيح ابن حبان – مخرجا، د حديث شمېره: 5646، بَابُ قَتْلِ الْحَيَوَانِ، ذِكْرُ الزَّجْرِ عَنْ قَتْلِ أَرْبَعَةٍ مِنَ الدَّوَابِّ وَالطُّيُورِ (12/ 462)

وسلم- د ځلورو شیانو د وژلو څخه منع فرمایلي ده: ملاچرګک، ټیغ‌ټ او یاهم کله خورک، میږی او شاتو مچۍ. [1]

امام طحاوي - رحمه الله – د دې حدیث: «نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن قتل أربعة: الهدهد، والصرد، والنملة، والنحلة» د نقل کولو څخه وروسته وایي: "فَتَأَمَّلْنَا مَا فِي هَذَا الْحَدِيثَ طَلَبًا مِنَّا؛ لِاسْتِخْرَاجِ مَا أُرِيدَ بِهِ فَوَجَدْنَا الْهُدْهُدَ مَا لَا يُنْتَفَعُ بِلَحْمِهِ، وَوَجَدْنَا النَّاسَ يَسْتَقْذِرُونَهُ، وَوَجَدْنَاهُ لَا مَضَرَّةَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ فَكَانَ قَتْلُهُ لِلْعَبَثِ لَا لِمَا سِوَاهُ، وَذَلِكَ مَنْهِيٌّ عَنْهُ" په شرحه کې وایي: مونږ پدې حدیث کې فکر وکړو (چې د دې شیانو د قتل څخه د منعي حکمت څه دي؟) نو دا خبره مو پیدا کړه چې د ملاچرګک د غوښې څخه استفاده نه کیږي ؛ ځکه چې خلک یې غوښه بده ګڼي، او دا مو وموندله چې ملاچرګک چاته ضرر هم نه رسوي، نو وژل یې د عبث څخه بل څه ندي او د دې ډول وژلو څخه په حدیث کې منع راغلې ده، او د (صرد) په اړه لیکي: "وَكَذَلِكَ قَاتِلُ الصُّرَدِ؛ لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَجْمَعَ مِنْ أَشْكَالِهِ مَا يَتَهَيَّأُ لَهُ التَّبَسُّطُ فِي أَكْلِ لُحُومِهَا، فَقَتْلُ مَا هَذِهِ سَبِيلُهُ أَيْضًا يَرْجِعُ إِلَى الْعَبَثِ لَا إِلَى مَا سِوَاهُ" او هر چې د صرد له وژلو څخه منع راغلې نو پدې خاطر ده چې دوي ډېر ډولونه لري چې د حلال او حرام ترمنځ یې فرق سخت دی، نو په همدې خاطر یې وژل په عبثیاتو کې راځي، او د دوه حشرو په اړه لیکي: "النَّحْلَةُ فَلَيْسَتْ مِنْ هَذَا الْجِنْسِ فِي شَيْءٍ وَلَكِنَّهَا مِمَّا يُنْتَفَعُ بِهَا، وَمِمَّا لَا مَنْفَعَةَ لِقَاتِلِهَا فِي قَتْلِهَا، فَقَتْلُهُ إِيَّاهَا يَجْمَعُ أمرينِ أَحَدُهُمَا قَطْعٌ لِمَنَافِعِهَا وَالْآخَرُ عَدَمُ الِانْتِفَاعِ بِهَا فَزَادَ جُرْمُ قَاتِلِهَا عَلَى جُرْمِ قَاتِلِ الْهُدْهُدِ وَالصُّرَدِ، وَأَمَّا قَتْلُ النَّمْلَةِ فَإِنَّهُ لَا مَنْفَعَةَ مَعَهُ، وَلَا قَطْعَ أَذًى بِهِ وَهِيَ مَوْصُوفَةٌ بِمَعْنًى مَحْمُودٍ" او هرچې د شاتو مچۍ ده نو د یادوشویو مرغانو په شان نده، بلکه د وژلو څخه یې د منعي حکمت دادی چې له دوي څخه ګټه اخیستل کیږي ، او بل داچې د غوښو څخه یې استفاده نشي کیدلی نو د وژلو جرم یې دوه برابره دی، او د میږي د وژلو څخه د منعي حکمت دادی چې د دوي له غوښو څخه استفاده نشي کیدلی او بل داچې ضرري ندي، بلکه په حدیث کې یې ستاینه شوې ده. ([2])

لېکن د یادولو وړ ده چې په ځینو أحادیثو کې د حلال مرغه او حیوان د ګټي نه اخیستلو او د عبث پخاطر له وژلو څخه منع راغلې، نو پدې صورت کې د وژلو څخه منع د غوښې د حراموالي پخاطر نده راغلې، بلکه د الله تعالی په مخلوقاتو د لوبو کولو او اسراف څخه د مخنوي پخاطر منع راغلې، پدې اړه لاندې احادیث شتون لري:

---

[1] - د دې حدیث حکم: صحیح حدیث دی، پدې اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: حدیث صحیح (صحیح ابن حبان - محققا (12/ 462)

[2]- وګورئ: شرح مشكل الآثار (2/329-330)

په حديث شريف کې راغلي: عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ، عَلَى الحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ، فَرَأَى غِلْمَانًا، أَو فِتْيَانًا، نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا، فَقَالَ أَنَسٌ: «نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُصْبَرَ البَهَائِمُ» ([1]) د هشام بن زيد څخه روايت دی چې زه أو انس حکم بن أيوب ته ورغلو، نو يو څه ماشومان يا نو جوانان يې وليدل چې يوه چرګه يې درولي وه أو ويشتله يې، نو انس – رضي الله عنه- وويل: رسول الله – صلي الله عليه وسلم- د دې څخه منع فرمايلي چې حيوان دي د نښې ويشتلو لپاره حبس کړل شي، يعني چې د نښې ويشتلو په توګه ورڅخه استفاده وشي. [2]

## دريیم مبحث: د هغه مرغانو غوښې حرامې دي چې شريعت يې په وژلو أمر کړي دی

**قاعده:** "كل ما أمر الشارع بقتله فأكله حرام" [3]. ( د کوم شي په وژلو چې إسلام أمر کړی وي خوړل يې حرام دی)

د کوم شي په وژلو چې إسلام أمر کړی وي خوراک يې حرام دی؛ ځکه دا هغه ډول حيوانات دي چې په طبيعت کې يې شرارت پروت وي أو په خوراک سره يې خصوصيات انسان ته منتقل کېږي چې دا يو ډول ضرر دی، أو انسان به خپل بدن له ضرر څخه ساتي؛ ځکه د نفس ساتنه د دين د مقاصدو أو ضروورياتو څخه ده.

### لمړی مطلب: د پورتنۍ قاعدي تطبيقي مثالونه

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَمْسٌ فَوَاسِقُ، يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ: الْحَيَّةُ، وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ، وَالْفَأْرَةُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ، وَالْحِدَأَةُ " ([4])

---

[1]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 5513 ، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب مَا يُكْرَهُ مِنْ الْمُثْلَةِ وَالْمَصْبُورَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ (7/ 94)، سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2816، كتاب الأضاحي، باب في الرفقِ بالذبيحةِ (4/ 438)

[2] - د دې حديث حکم د أبو داود په روايت: صحيح حديث دی؛ ځکه بخاري روايت کړی، همداراز شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 438)

[3] - سيد سابق (المتوفى: 1420هـ)، فقه السنة، ط2، دار الكتاب العربي، بيروت – لبنان، (3/ 286)/ أبو مالك كمال بن السيد سالم، صحيح فقه السنة وأدلته وتوضيح مذاهب الأئمة، تعليقات فقهية معاصرة: فضيلة الشيخ/ ناصر الدين الألباني، فضيلة الشيخ/ عبد العزيز بن باز، فضيلة الشيخ/ محمد بن صالح العثيمين، المكتبة التوفيقية، القاهرة – مصر، (2/ 345)

[4]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 3315، كتاب الحج، باب ما يقتل المحرم من الدواب (4/ 129)، سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 838، أبواب الحج، بَابُ مَا يَقْتُلُ المُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ (3/ 188)

د بي بي عايشي –رضي الله عنها- څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- فرمايلي: پنځه (حيوانات أو حشرات) د فواسقو څخه دي چې په حرم أو حل ساحو کې بايد ووژل شي: مار، کارغه چې په شا يا سينه يې سپينوالی وي، موږک، داړونکی سپی أو ټپوس. [1]

په يو بل روايت کې د ځينو نورو حيواناتو يادونه هم شوې ده، لکه پدې روايت کې: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ، الْحَيَّةَ، وَالْعَقْرَبَ، وَالسَّبُعَ الْعَادِيَ، وَالْكَلْبَ الْعَقُورَ، وَالْفَأْرَةَ الْفُوَيْسِقَةَ» ([2]) د ابو سعيد الخدري – رضي الله عنه - څخه روايت دی چې نبي کريم –صلی الله عليه وسلم- وويل: محرم شخص لپاره روا دي چې مار، لړم، حمله کونکی درنده حيوان، داړونکی سپی أو موږک ووژني. [3]

په ځينو نورو أحاديثو کې د ځينو نورو حيواناتو أو حشراتو په وژلو د أجر أو ثواب بيان راغلی دی، لکه پدې حديث کې: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَتَلَ الْوَزَغَ فِي الضَّرْبَةِ الْأُولَى، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا مِنْ حَسَنَةٍ، وَمَنْ قَتَلَهُ فِي الثَّانِيَةِ، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا مِنْ حَسَنَةٍ، وَمَنْ قَتَلَهُ فِي الثَّالِثَةِ، فَلَهُ كَذَا وَكَذَا " ([4]) د ابو هريره –رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- وفرمايل: چاچې کربوړی په لمړي وار سره ووژلو دهغه لپاره دومره دومره ثواب دی، أو چاچې په دوهم وار ووژلو د هغه لپاره دومره دومره ثواب دی، أو چاچې په درېيم ځل ووژلو د هغه لپاره دومره دومره ثواب دی. [5]

---

[1] - د دي حديث حکم د ترمذي په روايت: صحيح حديث دی، پدي اړه امام ترمذي ليکلي دي: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (3/ 188)، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 273)

[2]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3088، أبواب المناسك، بَابُ مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ (4/ 275)

[3] - د دي حديث حکم: دا حديث د يزيد بن آبي زياد له امله ضعيف دی، پدي اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده ضعيف لضعف يزيد بن أبي زياد (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، (4/ 275)

[4]- مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 8658، مسند المكثرين من الصحابة، مسند أبي هريرة رضي الله عنه (14/ 296)

[5] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدي اړه امام ترمذي – رحمه الله – ليکلي: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 76)، او شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (مسند أحمد ط الرسالة (14/ 296)

## درېیم فصل

## د بحري حيواناتو أو حشراتو غوښې

الله تعالی مختلف حيوانات، مرغان أو حشرات پيدا کړي چې ځينې يې په وچه، ځيني يې په أوبو أو ځيني نور يې په وچه أو أوبو دواړو کې ژوند کوي. داچې په أوبو کې زرګونه ډوله حيوانات أو حشرات ژوند کوي نوپدې فصل کې به پدې باندې رڼا واچول شي چې د سمندر کوم حيوانات أو حشرات حلال أو کوم يې حرام دي، أو همداډول به د سمندري حيواناتو د غوښو د حلالوالي أو حراموالي په أړه د علماوو اختلاف أو د اختلاف اسباب په تفصيل سره وڅېړل شي.

### لمړی مبحث: د بحري حيواناتو د غوښو حکم، د مذاهبو دلايل أو د اختلاف اسباب

### لمړی مطلب: د بحري حيواناتو أو حشراتو د غوښو حکم

د بحري حيواناتو د حکم په أړه مذاهب مختلف نظرونه لري چې تفصيل يې په لاندې توګه وړاندي کېږي:

١- د أحنافو په نزد په بحري حيواناتو أو حشراتو کې يوازي ماهي حلال دی أو نور ټول حرام دي. د أحنافو د مذهب په أړه امام سرخسي صاحب ويلي: "وَلَا يُؤْكَلُ مِنْ سِوَى السَّمَكِ مِنْ حَيَوَانَاتِ الْمَاءِ عِنْدَنَا" ([1]) زمونږ په نزد د ماهي څخه پرته د سمندر نور حيوانات حلال ندي، أو امام زيلعي صاحب ليکلي: "قال - رحمه الله - (ولا يؤكل مائي إلا السمك غير طاف)" ([2]) د کنز مصنف – رحمه الله- ويلي: د أوبو په حيواناتو کې د ماهي څخه پرته د نورو خوراک جايز ندی، أو په خپل مرګ مړشوی ماهي (طافي) هم حلال ندی، أو امام کاساني صاحب ليکلي: "أَمَّا الَّذِي يَعِيشُ فِي الْبَحْرِ فَجَمِيعُ مَا فِي الْبَحْرِ مِنْ الْحَيَوَانِ مُحَرَّمُ الْأَكْلِ إلَّا السَّمَكَ خَاصَّةً فَإِنَّهُ يَحِلُّ أَكْلُهُ إلَّا مَا طَفَا مِنْهُ وَهَذَا قَوْلُ أَصْحَابِنَا - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ" ([3]) هر چې هغه حيوانات چې په أوبو کې ژوند کوي د ماهي څخه پرته چې په خپل مرګ نه وي مړ شوی نور د ټولو سمندري حيواناتو خوړل روا ندي، أو دا د أحنافو قول دی.

٢- د شوافعو په نزد هغه بحري حيوانات چې په وچه کې يې مثل نه وي، نو حلال دي، أو هغه بحري حيوانات چې په وچه کې مثل لري، نو که بري يې حلال وه بحري يې هم حلال دي، أو که بري يې حرام وه، لکه سپی أو خنزير نو پدې أړه د شوافعو دوه قوله دي: يو قول يې د بري حرامو حيواناتو په څېر د حراموالي قول دی أو دوهم قول يې دا دی چې دا ډول بحري حيوانات هم حلال دي. د شوافعو قول په

---

[1]- المبسوط للسرخسي (11/ 248)

[2]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 296)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 35)

أړه امام الحرمين الجويني داسې ليکلي: "ثم الترتيب المرتضى فيه أنها منقسمة إلى ماله نظير في البر، وإلى ما لا نظير له: فإن لم يكن له نظير في البر لا مما يحل ولا مما يحرم، فهوحلال في نفسه فأما الحيوانات التي لها نظير في البر، فهي منقسمة: فمنها ما نظيره حلال في البر، فهو حلال في البحر، والقولان جاريان في اشتراط ذبح ، وتحليل ميتته، وإن كان نظيره في البر حراماً ككلب الماء، وخنزير الماء، ففي حل هذه الأجناس قولان: أحدهما - أنها محرمة ككلب البر وخنزير البر؛ فإنّ أقصى ما يُتَعلَّق به الاشتباهُ في هذا المجال، ثم أقرب مسالك الاشتباه الخِلقة، فإذا شابه ما ذكرناه الكلبَ أو الخنزير، وجب القضاء بتحريمه. والقول الثاني - أنه يحلّ؛ فإنه ليس كلباً ولا خنزيراً. ([1]) په شافعي مذهب کې د بحري حيواناتو أو حشراتو په أړه خوښ تقسيم دادی چې کوم سمندري حيوانات په وچه کې مثل نلري، حلال دي، أو هغه سمندري حيوانات چې په وچه کې مثل لري په دوه ډوله ويشل شوې دي: د کومو بحري حيواناتو بري هم مثل چې حلال وي نو بحري يې هم حلال دي، أو د ذبحې په أړه يې دوه قوله دی (يو قول دادی چې ذبح يې مهمه ده أو بل قول دادی چې د ماهي په څير د نورو بحري حيواناتو ذبح هم ضرور نده)، أو د کومو بحري حيوناتو بري هم مثل چې حرام وي نو د بحري په أړه يې دوه قوله دي: يو قول يې د مماثلت له أمله حرام بولي أو بل قول دادی چې دا ډول بحري حيوانات هم حلال دي؛ ځکه دا په حقيقت کې سپيان أو خنزيران نه دي.

٣- د حنابلۋ په نزد بحري حيوانات پرته د چنګښې (ضفدع) ، أو تمساح څخه نور ټول حلال دي. د حنبلي مذهب په أړه د نيل المآرب مصنف داسې ليکلي: "(ويحل كلُّ ما في البحر) لقوله تعالى: {أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ} (غيرَ ضفدعٍ) لأنها مستخبثة، فتدخل في عموم قوله تعالى: {وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} (و) غير (حيّةٍ) لأنها من الخبائث، (و) غير (تمساحٍ) نص عليه لأنه يفترس بنابه، وقال ابن حامد والقاضي: وغيرَ الكَوْسَج وهو سمكة تسمى القِرْش، لها خرطوم كالمنشار، والأشهر أنه مباح كخنزيرِ الماء وإنسانِهِ وكلبِه." ([2]) أو د بحر ټول حيوانات حلال دي؛ ځکه الله تعالى فرمايي: ستاسو لپاره د سمندر ښکار أو خواړه حلال کړل شوي دي، هر چيري چې تاسو تميرئ همالته يې هم خوراک درته روا دی، أو د کاروان لپاره يې د لاري توښه هم کولی شئ. لېکن چنګښه حرامه ده؛ ځکه خبيثه ده أو د خبيثو شيانو په أړه الله تعالى فرمايي: أو الله تعالى پردوي باندې ناپاکه شيان حراموي، أو همداډول مار حرام دی؛ ځکه چې خبيث دی، أو همداډول تمساح حرام دی؛ ځکه چې داړو لرونکی درنده دی، أو د ابن

---

[1]- الجويني، عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (المتوفى: 478هـ)، نهاية المطلب في دراية المذهب، حققه وصنع فهارسه: أ. د/ عبد العظيم محمود الدّيب، دار المنهاج-جدة، 159/18

[2]- الشَّيْبَاني، عبد القادر بن عمر بن عبد القادر ابن عمر بن أبي تغلب بن سالم التغلبي الشَّيْبَاني (المتوفى: 1135هـ)، نَيْلُ المَآرِب بشَرح دَلِيلُ الطَّالِب، المحقق: الدكتور محمد سُليمان عبد الله الأشقر - رحمه الله -، مكتبة الفلاح، الكويت، 401/2

حامد أو قاضي ([1]) په نزد قرش ماهي هم حرام دی؛ ځکه چې د اري په شان خرطوم لري، لېکن صحيح دا ده چې دا ډول ماهي هم حلال دی، لکه د أوبو خنزير، سپی أو انسان.

۴- د مالکيانو په نزد بحري حيوانات ټول حلال دي أو څه استثنى پکښې نشته، لېکن د بحري خنزير خوراک د دوي په نزد مکروه دی. د مالکيانو د نظر په أړه ابن رشد – رحمه الله - ليکلي: " فَقَالَ مَالِكٌ: لَا بَأْسَ بِأَكْلِ جَمِيعِ حَيَوَانِ الْبَحْرِ، إِلَّا أَنَّهُ كَرِهَ خِنْزِيرَ الْمَاءِ، وَقَالَ: أَنْتُمْ تُسَمُّونَهُ خِنْزِيرًا" ([2]) د بحري حيواناتو په أړه امام مالک – رحمه الله – ويلي: د ټولو بحري حيواناتو د غوښو په خوړلو کې څه باک نشته، لېکن د بحري خنزير خوړل يې مکروه ګڼلي؛ ځکه چې وايې: تاسو يې خنزير ګڼئ.

همداډول يو بل مالکي عالم ليکي: "وأما التمساح: فلم أجد في المذهب فيه نصًا، ورأيت لسعيد بن المسيب في "النوادر": أنه يؤكل، وإن كان ذا ناب." ([3]) هر چې تمساح دی نو پدې أړه ما په مالکي مذهب کې څه ښکاره قول ندی ليدلی (چې ايا حلال دی أو که حرام)، لېکن په النوادر کتاب کې مې د سعيد بن مسيب قول ليدلی چې وايې: د تمساح خوړل روا دي اګر که د داړو څښتن دی.

لېکن قرافي – رحمه الله – ليکلي: "وَوَافَقَنَا ابْنُ حَنْبَلٍ فِي الضُّفْدَعِ وَالتِّمْسَاحِ" ([4]) مونږ مالکيان د امام آحمد سره د تمساح أو چنګښې د حراموالي په أړه موافق نظر لرو، يعني زمونږ په نزد هم دا دواړه حرام دي.

## دوهم مطلب: د مذاهبو دلايل أو د اختلاف اسباب

۱- د بحري حيواناتو د حلالوالي أو حراموالي لپاره أحناف په لاندې دلايلو باندې استدلال کوي:

### ألف: د ماهي د حلالوالي په أړه دلايل:

۱- الله تعالى فرمايې: (وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا...) ([5])

ژباړه: الله تعالى هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې سمندر تابع کړی چې تاسي ورڅخه تازه غوښې وخورئ. پدې آيت کې د (لَحْمًا طَرِيًّا) څخه د ماهي غوښه مراد ده، لکه امام طبري – رحمه الله – ليکلي:

---

[1]- عبدالوهاب بن نصر البغدادي

[2]- بداية المجتهد ونهاية المقتصد (3/ 23)

[3] - الرجراجي، أبو الحسن علي بن سعيد الرجراجي (المتوفى: بعد 633هـ)، مناهج التحصيل ونتائج لطائف التأويل في شرح المدونة وحل مشكلاتها، اعتنى به: أبو الفضل الدّميَاطي - أحمد بن عليّ، دار ابن حزم (3/ 203)

[4] - القرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس بن عبد الرحمن المالكي الشهير بالقرافي (المتوفى: 684هـ)، الذخيرة، المحققين: محمد حجي، سعيد أعراب، محمد بو خبزة، دار الغرب الإسلامي- بيروت (4/ 96)

[5]- النحل، ايت: 14

"(لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا ) وهو السمك الذي يصطاد منه" ([1]) پدې آيت كې د (لَحْمًا طَرِيًّا) څخه مراد ماهي دی چې د سمندر څخه ښكار كېږي. همداډول ابو ليث سمرقندي – رحمه الله- ليكلي: " لحما طريا " أي السمك الطري" ([2]) " لحما طريا " يعني تازه ماهی، همداډول ابن كثير – رحمه الله – ليكلي: ثم قال تعالى: "(وَمِنْ كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْماً ) طَرِيًّا يَعْنِي السَّمَكَ" ([3]) بيا الله تعالى فرمايي: أو د هر ډول سمندر(خوږو أوبو أو تروو أوبو سمندرونو) څخه تاسو تازه غوښه خورئ، يعني ماهيان.

۲- د ماهي د حلالوالي په اړه په حديث شريف كې راغلي: "عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "أُحلت لَنَا مَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ" ([4]) د ابن عمر- رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: زمونږ لپاره دوه مړې مباح دي: ماهي أو ملخ.

أو پدې اړه امام سرخسي صاحب ليكلي: "وَالسَّمَكُ مَأْكُولٌ بِجَمِيعِ أَنْوَاعِهِ يَثْبُتُ الْحِلُّ فِيهِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ} [المائدة: 96] وَقَالَ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «أُحلت لَنَا مَيْتَتَانِ وَدَمَانِ أَمَّا الْمَيْتَتَانِ فَالسَّمَكُ وَالْجَرَادُ، وَأَمَّا الدَّمَانِ فَالْكَبِدُ وَالطِّحَالُ»" ([5]) د ماهيانو ټول ډولونه په كتاب الله أو د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- په أحاديثو حلال دي، الله تعالى فرمايي: ستاسو لپاره د سمندر ښكار حلال كړل شوی دی، أو رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ويلي: ستاسو لپاره دوه مړې أو دوهويني حلالې كړل شوي دي: هر چې دوه مړې دي عبارت دي له ماهي أو ملخ څخه، أو دوه ويني عبارت دي له ځيګر أو توري څخه.

۳- اجماع: ټول مذاهب د ماهي په حلالوالي باندې متفق دي، پدې اړه شوكاني صاحب ويلي: "وَلَا خِلَافَ بَيْنَ الْعلماء فِي حِلِّ السَّمَكِ عَلَى اخْتِلَافِ أَنْوَاعِهِ" ([6]) أو د ماهي د ټولو ډولونو د حلالوالي په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف نشته، همداډول امام زيلعي صاحب ليكلي: "لو حلف لا يأكل لحما لا يحنث بأكل لحم السمك وقال مالك والشافعي يحنث وهو القياس لأنه سمي لحما في القرآن قال الله تعالى {ومن كل تأكلون

---

[1]- الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري، [ 224 - 310 هـ ]، جامع البيان في تأويل القرآن، المحقق : أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة-بيروت، 17/ 180

[2]- السمرقندي، أبو الليث نصر بن محمد بن إبراهيم السمرقندي الفقيه الحنفي، بحر العلوم، تحقيق: د.محمود مطرجي، دار الفكر – بيروت، 2/ 268

[3]- تفسير ابن كثير ط العلمية (6/ 478)

[4]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3218، أبواب الصيد، بَابُ صَيْدِ الْحِيتَانِ وَالْجَرَادِ (4/ 372)/ السنن الكبرى للبيهقي، د حديث شمېره: 1241، كتاب الطهارة، باب الحوت يموت فى الماء أو الجرادة. (1/ 254) وقال: وهذا إسناد صحيح وهو فى معنى المسند. وقد رفعه أولاد زيد عن أبيهم/ سنن الدارقطني (4/ 271)

[5]- المبسوط للسرخسي (11/ 230)

[6]- نيل الأوطار (8/ 170)

لحما طريا} [فاطر: 12] والمراد لحم السمك بالإجماع ولنا أن التسمية مجازية...) ([1]) كه يو چا قسم وخوړلو چې غوښه به نه خوري، نو د أحنافو په نزد د ماهي غوښې په خوړلو نه حانثيږي، أو د امام مالک أو شافعي – رحمهما الله - په نزد حانث کيږي ؛ ځکه الله تعالى فرمايي: أو د هريو د سمندر څخه تاسو تازه غوښه خورئ، أو پدې آيت کې د تازه غوښې څخه په اجماع سره د ماهي غوښه مراد ده، خو د أحنافو په نزد ماهي غوښې ته غوښه ويل مجازا دي؛ ځکه حقيقي غوښه هغه وي چې د وينې ترکيب پکې وي أو ماهي وينه نلري.

**يادونه:** د أحنافو په نزد (طافي) يعني د خارجي أسبابو څخه پرته په خپل مرګ مړ شوې ماهي خوړل حلال ندي، أو د جمهورو په نزد حلال دي. جمهورو په لاندې دلايلو باندې استدلال کړى:

١- " عن سعيد ابن سلمة من آل ابن الأزرق، أنَّ المغيرةَ بنَ أبي بُردة -وهو من بني عبد الدَّار- أخبره أنَّه سمع أبا هريرة يقول: سأل رجلٌ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم - فقال: يا رسول الله، إنَّا نَركَبُ البحرَ، ونَحمِلُ معنا القليلَ مِنَ الماء، فإن تَوَضَّأنا به عَطِشنا، أفنتوضَّأُ بماءِ البحر؟ فقال رسولُ الله - صلى الله عليه وسلم -: "هو الطَّهورُ ماؤُهُ، الحلُّ مَيتَتُه" ([2]) د سعيد بن سلمه د ابن الأزرق د اهل څخه روايت دى چې مغيره بن ابي بردة د بني عبدالدار څخه، ده ته خبر ورکړى چې ده له ابو هريره څخه أوريدلي چې ويل يې: د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه يو سړي پوښتنه وکړه، وويل: اى د الله رسوله! مونږ په بحر کې سفر کوو أو دځان سره لږ أوبه اخلو نو که پدې أوبو باندې أودس وکړو تږي کيږو، نو ايا د سمندر په أوبو باندې أودس وکړو؟ رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ورته وويل: سمندر أوبه يې پاکې دي أو مړه يې حلاله ده. [3] پدې حديث کې (ميتة) مطلقه ذکر شوې چې هر ډول ماهي ته شامليږي.

٢- د جمهورو علماوو دوهم دليل د عنبرماهي حديث دى: "عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ غَزَوْنَا جَيْشَ الْخَبَطِ وَأمر أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ يُرَ مِثْلُهُ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ" ([4]) د ابن جريج څخه روايت دى وايي: ماته عمرو خبر راکړ چې ده له جابر – رضي الله عنه- څخه أوريدلي چې ويل يې: مونږ د خبط غزوې ته تللي وو چې پدې غزوه کې أبوعبيده د لښکر أمر ټاکل شوى وه، نو مونږ

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (3/ 127)

[2]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شميره: 83، كتاب الطهارة، باب الوضوء بماء البحر (1/ 62)

[3] - د دې حديث حکم: صحيح حديث دى، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: حديث صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (1/ 62)

[4]- صحيح البخاري، د حديث شميره: 5493 ، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب التَّصَيُّدِ عَلَى الْجِبَالِ (7/ 90)/ صحيح ابن حبان – محققا، د حديث شميره: 5259، كتاب الأطعمة، ذكر البيان بان كل ما قذفه البحر من الميتة أو ما اصطيد منه مما لا يعيش إلا فيه ميتة حلال أكله, وإن باينت خلقها خلقة الحوت (12/ 63)

سخت وږي شوو، نو پدې وخت کې سمندر يو مړ ماهي د باندې راوغورځولو چې دومره غټ حيوان تر أوسه نه وه ليدل شوی چې ديته عنبر ويل کېدلو، نو د دې ماهي څخه مونږ نيمه مياشت خوراک وکړلو، ابو عبيده د دې ماهي يو هډوکی ودرولو أو لاندې يې سپور شخص تير شو(يعني دومره غټ هډوکی يې وه). پدې حديث کې هم د مړه ماهي يادوونه شوې چې طافي ته هم شامليږي. [1]

٣- د جمهورو دريېم دليل دا موقوف حديث دی: " عَن عِكرِمَةَ، قَالَ: أَشهَدُ عَلَى ابنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَشهَدُ عَلَى أَبِي بَكرٍ الصِّدِّيقِ، قَالَ :كُلُوا الطَّافِيَ مِنَ السَّمَكِ " ([2]) د حضرت عکرمه – رضي الله عنه- څخه روايت دی، ويلې يې دي: زه شاهدي وايم په ابن عباس چې ويلي يې دي: زه شاهدي وايم په ابو بکر الصديق – رضي الله عنه – چې ويلي يې دي: (طافي) يعني په خپل مرګ مړ شوی ماهي خورئ. [3]

## أو أحنافو د (طافي) ماهي د حراموالي په أړه لاندې دلايل ذکر کړي دي:

١- "عن جابر بن عبد الله، قال: قال رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم -: "ما ألقى البحرُ، أو جَزَرَ عنه فكُلُوه، وما ماتَ فيه وطَفَا، فلا تأكُلُوه" ([4]) د جابر بن عبد الله – رضي الله عنه- څخه روايت دی ويلې يې دي: رسول الله – صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: کوم څه چې سمندر يې د باندې وغورځوي خورئ، أو کوم چې په أوبو کې پخپل مرګ مړ شي هغه مه خورئ. پدې حديث کې د طافي ماهي څخه صراحتا منع راغلې ده. [5]

٢- موقوف حديث دی: عَنْ مَيْسَرَةَ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: " مَا قَذَفَ الْبَحْرُ حَلَالٌ، وَكَانَ يَكْرَهُ الطَّافِيَ مِنَ السَّمَكِ " ([6]) د ميسره څخه روايت دی چې حضرت علي – رضي الله عنه – ويلې: کوم چې سمندر يې د باندې وغورځوي حلال دی، أو ده به په خپل مرګ مړ شوی ماهي مکروه ګڼلو.

---

[1] - د نوموړي حديث حکم د صحيح ابن حبان په روايت: صحيح حديث دی؛ ځکه بخاري روايت کړی، او همداراز شعيب الأرنؤوط ليکلي: د شيخينو په شرط دا صحيح حديث دی "إسناده صحيح على شرط الشيخين" (صحيح ابن حبان - محققا (12/ 63)

[2]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2/3815 ، كتاب الأطعمة، باب في أكل الطافي من السمك (5 /633)

[3] - د نوموړي حديث حکم: صحيح حديث دی، ليکن موقوف دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح، وهو موقوف.(سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 633)

[4]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط د حديث شمېره: 3815 ، كتاب الأطعمة، باب في أكل الطافي من السمك (5/ 631)

[5] - د نوموړي حديث حکم: ضعيف حيث دی؛ ځکه په روايت کې يې محمد بن مسلم بن تدرُس المكي دی چې مدلس دی او دا حديث يې په عنعني سره روايت کړی، همداراز د دې حديث د بل رواي يحيى بن سُلَيم الطائفي حافظه ضعيفه ده، او ثقاتو يې خلاف روايت ذکر کړی يعني دا حديث يې د زبير او هغه د جابر – رضي الله عنه- څخه موقوف نقل کړی. (وګورئ: سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 631)

[6]- شرح مشكل الآثار، د حديث شمېره: 4028، بَابُ بَيَانِ مُشْكِلِ مَا رُوِيَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّمَكِ الطَّافِي مِنَ الْمَنْعِ مِنْ أَكْلِهِ وَمَا رُوِيَ عَنْهُ مِمَّا اسْتَدَلَّ بِهِ قَوْمٌ عَلَى إِبَاحَةِ ذَلِكَ (10/ 200)

أوس نو پدې مسئله کې د أحاديثو أو اثارو ترمنځ تعارض دی، که څه هم امام نووي – رحمه الله – په المجموع شرح مهذب کې ادعا کړې چې د جابر – رضي الله عنه – حديث ضعيف دی أو جمهورو چې د سعيد بن سلمه په روايت استدلال کړی د هغې معارضه نشي کولی، لیکن امام طحاوي – رحمه الله – د سعيد بن سلمه حديث باندې هم کلام کړی أو ويلي يې دي چې په سند کې يې اضطراب دی، نو په همدې خاطر يې نوموړې ټول احاديث أو اثار ځېړلي أو بالاخره يې داسي فيصله کړې چې: "وَكُنَّا لَوْ صَحَّحْنَا هَذَا الْحَدِيثَ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا يُخَالِفُ حَدِيثَ جَابِرٍ الَّذِي رُوِّينَاهُ فِي أَوَّلِ هَذَا الْبَابِ؛ لِأَنَّ الَّذِي فِي هَذَا الْحَدِيثِ إِنَّمَا هُوَ: " وَمَيْتَتُهُ حَلَالٌ " فَقَدْ يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مَيْتَتُهُ هِيَ الْمَيْتَةُ الَّتِي أَبَاحَهَا حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، فَيَكُونُ الْحَدِيثَانِ جَمِيعًا صَحَيْحَيْنِ مُسْتَقِيمَيْنِ، وَيَكُونُ مَا فِي حَدِيثِ جَابِرٍ عَلَى تَحْرِيمِ الطَّافِي، وَمَا فِي الْحَدِيثِ الْآخَرِ عَلَى الْمَيْتَةِ سِوَى الطَّافِي، وَهَذَا أَوْلَى مَا حُمِلَ عَلَيْهِ هَذَانِ الْحَدِيثَانِ حَتَّى لَا يُضَادَّ وَاحِدٌ مِنْهُمَا الْآخَرَ، وَحَتَّى يَكُونَ وَجْهُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا غَيْرَ وَجْهِ الْآخَرِ" ([1]) که مونږ دواړه حديثونه صحيح وګڼو، نو د سعيد بن سلمه – رضي الله عنه- حديث د جابر- رضي الله عنه- حديث سره په ټکر کې ندی؛ ځکه د سعيد بن سلمه په روايت کې چې کومه ميته حلاله ګرځول شوې ده د هغې څخه مراد هغه ميته ده چې د جابر - رضي الله عنه - په حديث کې هم حلاله ګڼل شوې ده (يعني هغه ماهي مراد دی چې د خارجي أسبابو له أمله مړ شوی وی، نه په خپل مرګ)، نو په همدې أساس دواړه حديثونه صحيح أو درست دي، نو د جابر – رضي الله عنه- حديث د طافي په حراموالي باندې دلالت کوي، أو د سعيد بن سلمه حديث پرته د طافي څخه د مړه ماهي په حلالوالي باندې، أو د دې دوه حديثونو د تعارض لپاره دا تر ټولو ښه توجيه ده ، نو د هر حديث وجه د بل حديث څخه مختلفه ده (يعني د سعيد بن سلمه – رضي الله عنه - په حديث کې د ميته څخه طافي مستثنى دی).

أو د جمهورو د دوهم دليل جواب هم د لمړي دليل څخه د جواب په شان دی، يعني په هغه حديث کې د مړه ماهي څخه مراد هغه ماهي دی چې د خارجي سبب له أمله مړ شوی وي، يعني د سمندر د سپو له أمله، نه هغه ماهي چې په خپل مرګ مړشوی وي، لکه امام زيلعي – رحمه الله – ليکلي: "وأما الطافي فيكره أكله لقول جابر - رضي الله عنه - إنه - عليه الصلاة والسلام - قال «ما نضب عنه الماء فكلوا وما طفا فلا تأكلوا» وعن جماعة من الصحابة مثله وهو حجة على مالك والشافعي في إباحتهما الطافي ولا دليل لهما فيما رويا؛ لأن المراد بميتة البحر ما لفظه البحر حتى يكون موته مضافا إلى البحر ولا يتناول ما مات فيه بمرض أو نحوه" ([2]) په خپل مرګ مړه شوې ماهي غوښه د حضرت جابر – رضي الله عنه – د

[1]- شرح مشكل الآثار (10/ 210)

[2]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 297)

روايت له أمله مکروه ده چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – ویلي: د کوم ماهي څخه چې أوبه وچې شوې وي (ماهي په وچه کې پاتي شي) خورئ يې، أو کوم چې په خپل مرگ مړ شوی وي مه يې خورئ،[1] أو د نورو صحابؤ څخه ورته روايت نقل شوی دی، أو دا په امام مالک أو شافعي – رحمهما الله – باندې حجت دی چې طافي ماهي حلال گڼي، أو په کومو دلايلو باندې چې دوي استدلال کړی په هغې کې د دوي لپاره دليل نشته؛ ځکه د سمندر د مړې څخه هدف هغه مړه ده چې سمندر د باندې غورځولي وي (چې د ټولو په نزد حلاله ده) تر دي چې د مرگ سبب يې سمندر وي أو د دوي دلايل هغه ماهي ته نه شامليږي چې پخپل مرگ باندې مړ شوی وي. أو هر چې د اثارو ترمنځ تعارض دی، نو پدې کې د حضرت علي کرم الله وجهه اثر پدې خاطر راجح دی چې د رسول الله – صلی الله علیه وسلم- د حديث سره موافق دی چې جابر - رضي الله عنه- روايت کړی أو د طافی ماهي په حراموالي باندې دلالت کوي.
([2])

## ب: بغير د ماهي څخه د نورو سمندري حيواناتو د حراموالي په أړه د أحنافو دلايل:

١- د خنزير په أړه الله تعالی فرمايې: (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ) ([3])

ژباړه: پرتاسو باندې مړه، وينه أو خنزير حرام کړل شوې دي. پدې آيت کې خنزير مطلق ذکر شوی چې بحري أو سمندري دواړو ته شامليږي.

٢- (وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ) ([4])

ژباړه: أو الله تعالي پر دوي باندې خبيث شيان حرام کړي. د دې آيت راوړلو څخه وروسته کاساني – رحمه الله - ليکلي: "وَالضُّفْدَعُ وَالسَّرَطَانُ وَالْحَيَّةُ وَنَحْوُهَا مِنْ الْخَبَائِثِ وَرُوِيَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «سُئِلَ عَنْ ضُفْدَعٍ يُجْعَلُ شَحْمُهُ فِي الدَّوَاءِ فَنَهَى - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - عَنْ قَتْلِ الضَّفَادِعِ» وَذَلِكَ نَهْيٌ عَنْ أَكْلِهِ." ([5]) أو چنگښه، خرچنگ، مار أو داسې نور د خبايثو له جملې څخه دي، أو له رسول الله – صلی الله علیه وسلم- څخه نقل شوې چې د ده مبارک څخه د چنگښې په أړه پوښتنه وشوه چې وازده يې په دوا کې استعمال شي، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم- د چنگښې له وژلو څخه منع وفرمايله.

---

[1] - د جابر – رضی الله عنه- د حديث حکم: شعيب الأرنؤوط ليکلي چې دا حديث ضعيف دی؛ ځکه په سند کې يې أبوالزبير دي چې نوم يې محمد بن مسلم بن تدرُس المکي دی، دی مدلس دی او پدې روايت کې يې عنعنه کړې: إسناده ضعيف. أبو الزبير -وهو محمد بن مسلم بن تدرُس المکي- مدلس وقد ععن (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 631)

[2]- شرح مشكل الآثار (10/ 212)

[3]- المائدة: 3

[4]- الأعراف: 157

[5]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 35)

أو همدا راز امام زيلعي – رحمه الله – ليکلي: "ولنا قوله تعالى {ويحرم عليهم الخبائث} [الأعراف: 157] وما سوى السمك خبيث" ([1]) أو زمونږ لپاره دليل دا قول د الله تعالى دی: أو الله تعالى پردوي باندې خبيث شيان حراموي، أو د ماهي څخه پرته نور بحري حيوانات خبيث دي.

**ج:** د جمهورو علماوو په نزد د سمندر ټول حيوانات (پرته د ځينو حيواناتو څخه د ځينو په نزد) حلال دي أو په لاندې دلايلو باندې استدلال کوي:

۱- الله تعالى په قرآن کريم کې فرمايي: (أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ) ([2])

ژباړه: ستاسو لپاره د سمندر ښکار أو خواړه حلال کړای شوې دي، هر چيري چې تاسو تم کېږي ، همالته يې هم خوراک درته روادی أو د کاروان لپاره يې د لاري توښه هم کولی شئ.

هغه علماء چې د سمندر د ټولو حيواناتو په حلالوالي قايل دي، استدلال کوي چې پدې آيت کې د صيد څخه مصيد (کوم شی چې ښکار کېږي ) مطلق ذکر شوی چې د هر ډول سمندري حيوان په حلالوالي باندې دلالت کوي.

۲- په حديث شريف کې راځي: عَنْ سَعِيدِ بْنِ سَلَمَةَ مِنْ آلِ ابْنِ الْأَزْرَقِ، أَنَّ الْمُغِيرَةَ بْنَ أَبِي بُرْدَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ أَخبره، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا نَرْكَبُ البَحْرَ، وَنَحْمِلُ مَعَنَا القَلِيلَ مِنَ المَاءِ، فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا، أَفَنَتَوَضَّأُ مِنَ الْبَحْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ، الحِلُّ مَيْتَتُهُ» ([3]) د سعيد بن سلمه د ابن الأزرق د اهل څخه روايت دی چې مغيره بن ابي بردة د بني عبدالدار څخه ده ته خبر ورکړی چې ده له ابو هريره څخه أوريدلي چې ويل يې: رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه يو سړي پوښتنه وکړه، وويل: ای د الله رسوله! مونږ په بحر کې سفر کوو أو دځان سره لږ أوبه اخلو نو که پدې أوبو باندې أودس وکړو تږي کيږو، نو ايا د سمندر په أوبو باندې أودس وکړو؟ رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ورته وويل: سمندر أوبه يې پاکي دي أو مړه يې حلاله ده.[4]

پدې حديث کې هم (ميتة) مطلقه ذکر شوې چې هر ډول سمندري حيوان ته شامليږي.

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 296)

[2]- سورة المائدة، ايت: 96

[3]- سنن الترمذي، د حديث شمېره: 69، أبواب الطهارة، بَابُ مَا جَاءَ فِي مَاءِ البَحْرِ أَنَّهُ طَهُورٌ 100/1/ سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 83، كتاب الطهارة، باب الوضوء بماء البحر (1/ 62)

[4] - د دي حديث حکم: امام ترمذي – رحمه الله دی حديث ته حسن صحيح حديث ويلي: "هذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح" (سنن الترمذي ت شاكر (1/ 101) او شعيب الأرنؤوط ويلي: صحيح حديث دی " حديث صحيح." (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (1/ 62)

۳- أو په بل حدیث کې راغلي: "حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعَ عَمْرٌو، جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ، يَقُولُ: «بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةِ رَاكِبٍ، وَأَمِيرُنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ، نَرْصُدُ عِيرًا لِقُرَيْشٍ، فَأَقَمْنَا بِالسَّاحِلِ نِصْفَ شَهْرٍ، فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ، فَسُمِّيَ جَيْشَ الْخَبَطِ، فَأَلْقَى لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ، فَأَكَلْنَا مِنْهَا نِصْفَ شَهْرٍ، وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهَا حَتَّى ثَابَتْ أَجْسَامُنَا»" ([1]) رأوي وايي: مونږ ته سفيان حدیث بیان کړی، وایي: عمر د جابر بن عبدالله - رضي الله عنه – څخه أوریدلي چې ویل یې: رسول الله – صلی الله علیه وسلم – مونږ دري سوه کسان د قریشو د قافلې د څارلو أو نیولو لپاره و استولو أو ابو عبیده بن جراح مو امیر وه، نو مونږ د سمندر پرغاړه نیمه میاشت میشت شولو پس مونږ ته سخته لوږه ورسیدله تر دې چې مونږ به د ونو لویدلي پاڼې خوړلې نو له همدې کبله دا لښکر د جیش الخبط په نامه ونومول شولو، نو پدې وخت کې سمندر یو حیوان د باندې را وغورځولو چې هغې ته عنبر ویل کیدو، پس مونږ د دې حیوان څخه نیمه میاشت خوراک وکړلو أو په وازدو باندې مو ځانونه غوړول تر دې چې بدنونه مو روغ شول. [2]

پدې حدیث کې هم د (دَابَّةً) لفظ راغلی چې پرته د ماهي څخه د نورو سمندري حیواناتو په حلالوالي باندې دلالت کوي أو د سمندر ټولو حیوانانو ته شاملېږي.

**د جمهورو علماوو له دلایلو څخه د أحنافو جواب په لاندې توګه دی:**

۱- په کوم آیت باندې چې جمهورو استدلال کړی أو ویلي یې دي چې په آیت کې (صَيْدُ الْبَحْرِ) مطلق ذکر شوی چې د سمندر ټولو حیواناتو ته شاملېږي، نو مونږ وایو چې نوموړی آیت د جمهورو په نزد هم په خپل اطلاق ندی پاتي، بلکه ځینې سمندري حیوانات ورڅخه مخصوص شوي، لکه د شوافعو په نزد هر هغه حیوان چې بري یې حرام وي بحري یې حرام دی، د مالکیانو په نزد بحري خنزیر أو د حنابلؤ په نزد چنګښه، مار أو تمساح حرام دي، نو کله چې آیت مخصوص شو نو مونږ وایو چې په آیت کې د سمندري ښکار څخه مراد صرف ماهي دی أو د هغه دلایلو په أساس نورو حیواناتو ته نه شاملېږي چې أحنافو د ماهي څخه پرته د نورو بحري حیواناتو د حراموالي لپاره ذکر کړي چې مخکې تیر شول.

---

[1]- صحیح مسلم ، د حدیث شمیره: 1935 ، کتاب الصید وما یؤکل من الحیوان، بَابُ إِبَاحَةِ مَيْتَاتِ الْبَحْرِ (3/ 1536)/ صحیح ابن حبان – محققا ، دحدیث شمیره: 5259، کتاب الأطعمة، ذكر البيان بان كل ما قذفه البحر من الميتة أو ما اصطيد منه مما لا يعيش إلا فيه ميتة حلال أكله, وإن باينت خلقها خلقة الحوت 12 /63)

[2] - د دې حدیث حکم د صحیح ابن حبان په روایت: صحیح حدیث دی؛ ځکه شیخینو روایت کړی، او شعیب الأرنؤوط لیکلي: ی شیخینوپه شرط دا حدیث صحیح حدیث دی " إسناده صحيح على شرط الشيخين" (صحیح ابن حبان - محققا) 12 /63)

أو امام زيلعي – رحمه الله - د جمهورو علماوو پدې آيت باندې د استدلال څخه بل جواب داسې کړی: "والصيد المذكور فيما تُلي محمول على الاصطياد وهو مباح فيما لا يحل أكله" ([1]) په آيت کې چې د (صيد) يادونه شوې مراد لدې څخه ښکار کول دي نه ښکار شوی شی، أو ښکار د هغه حيوان هم مباح دی چې خوړل يې حلال ندي.

٢- أو په کوم حديث چې جمهورو علماوو استدلال کړی أو ويلي يې دي چې په حديث کې (الحِلُّ مَيْتَتُهُ) مطلق ذکر دی چې هرحيوان ته شامليږي، نو مونږ وايو چې پدې حديث کې د (مَيْتَتُهُ) څخه مراد ماهي دی؛ ځکه چې په بل حديث کې يې تفسير راغلی: "عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "أُحلت لَنَا مَيْتَتَانِ: الْحُوتُ وَالْجَرَادُ" ([2]) د ابن عمر- رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم- فرمايلي: زمونږ لپاره دوه مړې مباح دي: ماهي أو ملخ. ([3])

٣- أو هر چې د عنبر حديث دی، د هغې څخه جواب دادی چې په هغه حديث کې هم د (دابة)څخه مراد ماهي دی، لکه د بخاري په يو روايت کې د (دابة) پر ځای د (حوت) يادونه شوې چې پدې خبره باندې ښکاره دلالت کوي چې پدې رواياتو کې د (دابة) څخه ماهي مراد دی، أو هغه روايت چې په هغې کې د ماهي يادونه شوی دا دی: "عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ غَزَوْنَا جَيْشَ الْخَبَطِ وَأمر أَبُو عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوعًا شَدِيدًا فَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا مَيِّتًا لَمْ يُرَ مِثْلُهُ يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَخَذَ أَبُو عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ" ([4]) د ابن جريج څخه روايت دی وايي: ماته عمرو خبر راکړ چې ده له جابر – رضي الله عنه- څخه أوريدلي چې ويل يې: مونږ د خبط غزوې ته تللي وو چې پدې غزوه کې ابو عبيده د لښکر أمر ټاکل شوی وه، نو مونږ سخت وږي شوو، نو سمندر يو مړ ماهي د باندې را وغورځولو چې دومره غټ حيوان تر أوسه نه وه ليدل شوی چې ديته عنبر ويل کېدلو، نو د دې ماهي څخه مونږ نيمه مياشت خوراک وکړلو، ابو عبيده د دې ماهي يو هډوکی ودرولو أو لاندې يې سپور شخص تير شو(يعني دومره غټ هډوکی يې وه).

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 296)

[2]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3218، أبواب الصيد، بَابُ صَيْدِ الْحِيتَانِ وَالْجَرَادِ (4/ 372)/ السنن الكبرى للبيهقي، د حديث شمېره: 1241، كتاب الطهارة، باب الْحُوتِ يَمُوتُ فِى الْمَاءِ أَوِ الْجَرَادَةِ (1/ 254) وقال: وهذا إسناد صحيح وهو فى معنى المسند. وقد رفعه أولاد زيد عن أبيهم/ سنن الدارقطني (4/ 271)

[3]- وګورئ: تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 296)

[4]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 5493 ، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب التَّصَيُّدِ عَلَى الْجِبَالِ (7/ 90)

د عنبر حديث څخه د عوامو يوه مهمه غلط فهمي هم لمنځه ځي، چې په ځينو ځايونو کې عوام پدې عقيده دي چې کله ماهي د يو خروار څخه زيات وي، خوړل يې روا ندي چې د دې حديث په أساس دا کوم شرعي حيثيت نلري، بلکه ماهي که هر څومره غټ وي غوښه يې حلاله ده څه مشکل پکښې نشته.

**يادونه:** أوس پوښتنه دا ده چې د بحري حيواناتو په اړه د علماوو ترمنځ د دې لوی اختلاف اسباب څه دي؟ په جواب کې ويلی شو چې د سمندري حيواناتو په اړه د مذاهبو ترمنځ د اختلاف عمده اسباب په لاندې توګه دي:

۱- د نصوصو په فهم کې اختلاف، د جمهورو په نزد په آيت کې (صيد) څخه مراد مصيد يعني ښکار شوی شی دی چې ټولو حيواناتو ته شامليږي، لېکن د أحنافو په نزد د (صيد) څخه مراد اصطياد دی چې د ښکار کولو په معنی دی أو ښکار کله د دادسي حيواناتو هم مباح وي چې خوړل يې روا ندي، نو د دوي په نزد پدې آيت کې د ټولو سمندري حيواناتو په حلالوالي باندې استدلال کول درست ندي، أو همداډول جمهورعلماء په حديث کې (ميتة) په مطلق حمل کوي أو أحناف يې يوازې ماهي پورې مقيد کوي.

۲- د اختلاف دوهم سبب د نصوصو ترمنځ تعارض دی، لکه څنګه مو چې د طافي ماهي په اړه په بحث کې رڼا ورباندې واچوله.

## دوهم مبحث: د ذوالمعيشتين حيواناتو أو حشراتو د غوښو حکم

د ذوالمعيشتين حيواناتو په اړه علماء لاندې نظرونه لري:

۱- د شوافعو په نزد کوم برې حيوانات چې حلال دي، ورته ذوالمعيشتين حيوانات هم حلال دي، أو کوم برې حيوانات چې حرام دي، ورته ذوالمعيشتين حيوانات أو حشرات هم حرام دي، لکه پدې اړه الرملي په نهاية المحتاج کې ليکلي: "أَمَّا الْحَيَوَانُ الَّذِي نَشَأَ فِي الْبَحْرِ وَلَكِنَّهُ يَعِيشُ فِيهِ وَفِي الْبَرِّ، فَإِنْ كَانَ لَهُ نَظِيرٌ فِي الْبَرِّ يُؤْكَلُ حَلَّ إذَا ذُبِحَ كَنَظِيرِهِ وَإِلَّا حُرِّمَ كَالضِّفْدَعِ وَنَحْوِهِ" ([1]) أو کوم حيوان چې په أوبو کې تولد شوی أو لوی شوی وي، لېکن په أوبو أو وچه دواړو کې ژوند کوي، که په وچه کې يې هم مثل خوړل کيدو، نو حلال دی أو که په وچه کې يې مثل نه خوړل کيدو، نو حرام دی، لکه چنګښه.

همداډول امام ماوردي – رحمه الله - په الحاوي الکبير کې ليکلي: هغه حيوانات، حشرات أو مرغان چې ژوند يې په وچه کې وي لېکن د خوراک لپاره سمندر ته کوزيږي، لکه مرغان نو حکم يې د بري په شان دی (چې مخکې په تفصيل سره بحث ورباندې شوی)، أو که ژوند يې په أوبو کې وي خو د خوراک لپاره وچې ته پورته کېږي ، لکه شمشتی (سلحفاة) نو حکم يې د بحري په شان دی (چې مخکې تفصيلي

[1]- نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج8/ 150

بحث ورباندې شوی)، او که په وچه او اوبو دواړو کې ژوند او ځر کوي، نو حکم په غالب وخت کېږي ، یعني په هر ځای کې یې چې ژوند زیات تیراوه، نو حکم به یې د هماغه حیوان په شان وي، او که په وچه او سمندر دواړو کې یې مساویانه ژوند تیراوه، نو پدې صورت کې د وچې حیوان حکم ورباندې جاري کېږي، او د بل قول مطابق د سمندري حیوان حکم ورباندې جاري کېږي . ([1])

همداډول أستاذ وهبة الزحيلي ليکلي: "وهو الذي يعيش في البر والماء معاً، كالضفدع والسلحفاة والسرطان، والحية والتمساح وكلب الماء ونحوها، قال الحنفية والشافعية: لا يحل أكلها؛ لأنها من الخبائث، وللسمية في الحية، ولأن «النبي صلّى الله عليه وسلم نهى عن قتل الضفدع» ولو حل أكله، لم ينه عن قتله." ([2]) برمائي هغه حیوان او یا حشره ده چې په وچه او اوبو دواړو کې ژوند کوي، لکه چنګښه، شمشتی، خرچنګ، مار، تمساح او د اوبو سپی. دا ډول حیوانات او حشرات د شوافعو او أحنافو په نزد حرام دي؛ ځکه دا شیان خبیث دي، او مار زهر لري او د چنګښې د وژلو څخه منع راغلي ده، که یې خوراک روا وای نو د وژلو څخه به یې منع نه وای راغلې.

۲- د أحنافو په نزد ټول اعتبار پیدائښت ته دی، یعني که حیوان په وچه کې زیږدلی وي، نو حکم یې د بري حیوان په څیر دی چې مخکي تفصیلي بحث ورباندې شوی، او که د حیوان تولد په اوبو کې شوی وه، نو حکم یې د بحري حیوان په شان دی چې مخکي ورباندې بحث شوی، چې د أحنافو په نزد یوائې ماهي حلال دی او نور حشرات او حیوانات حرام دي او د حراموالي دلایل یې هم مخکي ذکر شوي، پدې اړه امام کاساني صاحب لیکلي: "الصَّيْدُ فِي الْأَصْلِ نَوْعَانِ: بَرِّيٌّ، وَبَحْرِيٌّ فَالْبَحْرِيُّ هُوَ الَّذِي تَوَالُدُهُ فِي الْبَحْرِ، سَوَاءٌ كَانَ لَا يَعِيشُ إلَّا فِي الْبَحْرِ، أو يَعِيشُ فِي الْبَحْرِ وَالْبَرِّ، وَالْبَرِّيُّ مَا يَكُونُ تَوَالُدُهُ فِي الْبَرِّ، سَوَاءٌ كَانَ لَا يَعِيشُ إلَّا فِي الْبَرِّ أو يَعِيشُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، فَالْعِبْرَةُ لِلتَّوَالُدِ" ([3]) ښکار په أصل کې په دوه ډوله ویشل شوی: بري او بحري، بحري حیوانات هغه دي چې په سمندر کې پیدا شوې وي برابره خبره ده چې یوائې په سمندر کې ژوند کوي او یا په وچه او سمندر دواړو کې، او بري هغه حیوانات دي چې په وچه کې تولد شوې وي برابره خبره ده که یوائې په وچه کې ژوند کوي او یا په وچه او سمندر دواړو کې، نو اعتبار تولد او پیدائښت ته دی.

---

[1]- وګورئ: الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (المتوفى: 450هـ)، الحاوي الكبير في فقه مذهب الإمام الشافعي وهو شرح مختصر المزني، المحقق: الشيخ علي محمد معوض - الشيخ عادل أحمد عبد الموجود، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، 15/ 63

[2]- الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (4/ 2799)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (2/ 196)

۳- د حنابلؤ په نزد د يو ځو ذوالمعيشتين حشراتو أو حيواناتو څخه پرته نور ټول پدې شرط حلال دي چې ذبح كړل شي، پدې أړه په الموسوعة الفقهية الكويتية كې داسې ليكلي: "وَذَهَبَ الْحَنَابِلَةُ فِي الْحَيَوَانِ الْبَرْمَائِيِّ، كَكَلْبِ الْمَاءِ وَالسُّلَحْفَاةِ وَالسَّرَطَانِ إِلَى أَنَّهُ إِنَّمَا يَحِل بِالتَّذْكِيَةِ. وَزَادُوا بِالإِْضَافَةِ لِلضُّفْدَعِ اسْتِثْنَاءَ الْحَيَّةِ وَالتِّمْسَاحِ، فَقَالُوا بِحُرْمَةِ الثَّلاَثَةِ: فَالضُّفْدَعُ لِلنَّهْيِ عَنْ قَتْلِهَا، وَالْحَيَّةُ لِاسْتِخْبَاثِهَا، وَالتِّمْسَاحُ لأَِنَّ لَهُ نَابًا يَفْتَرِسُ بِهِ." ([1]) د حنابلؤ په نزد برمائي حيوانات، لكه سپى، شمشتى أو خرچنګ په ذبح كولو سره حلال ګرځي، ليکن چنګښه، مار أو تمساح د دې حكم نه مستثنى دي؛ ځکه د چنګښې د وژلو څخه ښكاره منع راغلې، مار خبيث دى أو تمساح داړو لرونكى درنده حيوان دي، نو ځكه دا ټول حرام دي.

۴- د مالكيانو په نزد برمائي حيوانات أو حشرات حلال دي، پدې أړه استاذ وهبة الزحيلي ليكلي: "وقال المالكية: يباح أكل الضفادع والحشرات والسرطانات والسلحفاة، إذ لم يرد نص في تحريمها. وتحريم الخبائث: هو ما نص عليه الشرع، فلا يحرم ما تستخبثه النفوس مما لم يرد فيه نص." ([2]) امام مالك – رحمه الله – ويلي: چنګښه، حشرات، خرچنګ أو شمشتى دا ټول حلال دي؛ ځکه د حراموالي په أړه يې نصوص ندي راغلي، أو په خبائثو كې هغه شيان حرام دي چې په أړه يې نصوص راغلي وي أو هغه شيان چې طبيعت يې خبيث ګڼي ليکن د حراموالي په أړه يې دليل شتون ونلري حرام نه بلل كېږي .

---

[1]- الموسوعة الفقهية الكويتية، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت، (5/ 131)

[2]- الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (4/ 2799)

## څلورم فصل

## د ذبح شوو أو غير ذبح شوو حيواناتو غوښې

الله تعالى په خپل فضل سره انسانانو لپاره د يو خوندور خوراک په توګه مختلف حلال حيوانات پيدا کړي تر څو يې له غوښو څخه استفاده وکړي، أو د دې سربيره إسلام داسې يو مبارک دين دی چې پدې کې د انسانانو ټول مصالح خوندي دي، نو په همدې أساس إسلام انسانان د ټولو هغه خوراکي شيانو څخه منع کړي چې انسانانو ته ضرر رسوي چې د هغوي له جملې څخه د ويني خوراک هم دی. د دې لپاره چې انسان د صحي زيان څخه خوندي پاتي شي، الله تعالى د حلال حيوان د حلالوالي لپاره ذبح شرط کړي أو بغيرد شرعي ذبحې څخه د حلال وينه لرونکي حيوان غوښه حلاله نه ګرځي. همداډول إسلام يوائې د انسان دنيوي مصلحت په پام کې ندی نيولی، بلکه د انسان اخروي اړخ ته يې لازيات ارزښت ورکړی، نو په همدې خاطر يې د الله تعالى څخه پرته د بل چاپه نوم د حيوان ذبح کول أو يا د بل چالپاره نذر کول حرام ګرځولي؛ ځکه دا يو شرکي عمل دی چې له أمله يې د حيوان غوښه حرامه ګرځي. پدې فصل کې به د ذبحې اړوند مهم مسايل په مناسب تفصيل سره وڅيړل شي تر څو د لوستونکو تنده ورباندې ماته شي.

### لمړی مبحث: ذبح

### لمړی مطلب: د ذبحې لغوي أو اصطلاحي تعريف

ذبح مصدر دی د "ذَبَح يَذْبَحُ ذَبْحاً" څخه أو په أصل کې د (شق) يعني څيرلو په معنى سره راځي، لکه ابن منظور – رحمه الله – ليکلي: "وأصل الذَّبْح الشَّق ومنه قوله كأَنَّ عَينَيَّ فيها الصَّابُ مَذْبُوحُ أَي مشقوق" أو په أصل کې ذبح د څيرلو په معنى سره راځي، لکه دا قول د شاعر: ګواکی زما په سترګو کې د (صاب: يو ډول ونه ده چې سپينه شيره کوي أو سخته ترخه وي چې په سترګو باندې د أور په شان ترخه لګيږي) ونه ده چې چاودلي وي، أو همداډول مرئ پريکولو ته ذبح ويل کيږي ، لکه په لسان العرب کې راغلي: "الذَّبْحُ قَطْعُ الحُلْقُوم من باطنٍ عند النَّصِيل وهو موضع الذَّبْحِ من الحَلْق والذَّبْحُ مصدر ذَبَحْتُ الشاة" ذبح د زني لاندې مرئ چې د ذبحې ځای دی پريکولو ته ويل کيږي أو ذبح مصدر دی، لکه ويل کيږي ما پسه حلال کړ.

"الذبيح المذبوح والأُنثى ذبيحة" ذبيح هغه حيوان ته ويل کيږي چې ذبح کيږي أو ذبيحة يې مؤنث دی، أو "الذبح بالكسر ما يُذْبَحُ من الأَضاحِيّ وغيرها من الحيوان" ذبح د ذال په زير سره هغه حيوان ته ويل کيږي چې ذبح کيږي د قربانۍ أو نورو حيواناتو څخه، "والمَذْبَحُ موضع الذَّبْحِ من الحُلْقوم" مذبح د ميم په زور سره په مرئ کې د ذبحې ځای ته ويل کيږي ، " المِذْبَحُ ما يُذْبَحُ به الذبيحة من شَفْرَة

وغيرها" أو مذبح د ميم په زير سره هر هغه چاقو يا تيره شي ته ويل کېږي  چې حيوان ورسره ذبح کېږي . ([1])

أو د اختياري ذبحې اصطلاحي تعريف په اړه علماء کرام پدې أساس چې د حيوان د غاړي کوم رګونه بايد پري کړل شي، مختلف نظرونه لري چې تفصيل يې په لاندې توګه دی:

١-  د أحنافو په نزد ذبح  داسې تعريف شوې ده: " الذَّكَاة هِيَ فري الْأَودَاج (والأوداج أَرْبَعَة الْحُلْقُوم والمريء والعرقان اللَّذَان بَينهمَا الْحُلْقُوم والمريء فالحلقوم مجْرى النَّفس والمريء مجْرى الطَّعَام وَالشرَاب والعرقان مجْرى الدَّم)" ([2]) ذبح  عبارت ده د (خوراک، څښاک، أو وينې د مجاريو) پرې کولو څخه (أو أوداج عبارت دي له حلق، مرئ، أو له هغه دوه رګونو څخه  چې د حلق أو مرئ دواړو خواوو ته قرار لري، حلق د نفس چليدو لارده، مرئ د خوراک أو څښاک لار ده، أو دوه رګونه د وينې د بهيدو لاردي.

أو ابن نجيم – رحمه الله – ليکلي: "قَالَ - رَحِمَهُ اللَّهُ -: (وَالذَّبْحُ قَطْعُ الْأَوْدَاجِ)" ([3]) ذبح  په اصطلاح کې د خوراک، څښاک، أو وينې د مجاريو پرې کولوڅخه عبارت ده.

که په ذبح  کې څلور واړه رګونه پري شي نو دا پوره أو د اختلاف څخه وتلي ذبح  ده، لېکن که په څلورو رګونو کې ځينې رګونه پري شي أو ځينې پاتې شي، نو پدې أړه امام صاحب أو صاحبين اختلاف د نظر لري چې په څلورو رګونو کې څو أو کوم رګونه پري شي؟ تر څو ذبح  صحيح شي، نو د امام صاحب – رحمه الله - په نزد کله چې زياتره رګونه يعني دري رګونه پري کړل شي ذبح  درسته ده، پروا نکوي که په څلورو کې هر کومه دري رګونه وي، د امام ابو يوسف – رحمه الله – په نزد په ذبح  کې دا شرط ده چې حلق، مرئ أو يو د دوه نورو رګونو څخه پري کړل شي، أو د امام محمد – رحمه الله - په نزد ذبح  تر هغه وخت پورې نه صحيح کېږي  تر څو چې څلورواړه رګونه ټول أو يا د هر رګ زياتره برخه پري نه کړل شي. أو د اختلاف سبب يې دادی چې د امام صاحب – رحمه الله – په نزد اکثر لره حکم د کل دی، نو د دري رګونو پري کول داسې دي لکه د ټولو رګونو پري کول، أو د امام ابو يوسف – رحمه الله – نظر دادی چې هر رګ جدا وظيفه أجرا کوي، نو د يوه په پريکولو د بل پريکولو هدف لاس ته نه راځي؛ نو ځکه بايد ټول رګونه پري کړل شي تر څو د ذبحې هدف لاس ته راشي چې د وينې وتل دي، أو دامام محمد – رحمه الله – نظر بيا دادی چې د هر رګ په زياتره برخې  پريکولو سره د

---

[1]- وګورئ: لسان العرب (2/ 436)/ الفيروزآبادى، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب الفيروزآبادى (المتوفى: 817هـ)، القاموس المحيط، القاموس المحيط، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، الطبعة: الثامنة، 1/ 217

[2]- السمرقندي، محمد بن أحمد بن أبي أحمد، أبو بكر علاء الدين السمرقندي (المتوفى: نحو 540هـ)، تحفة الفقهاء، ط2، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، 3/ 68

[3]- البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (8/ 190)

ذبحې مقصد چې د ويني وتل دي لاس ته راځي، نو كه د ټولو رګونو زياتره برخه پرې كړل شي ذبح صحيح كېږي . ([1])

د يادولو وړ ده چې فتوى د امام صاحب په قول ده، لكه په ردالمحتار كې راغلې: "المعتبر عندنا قطع أكثر الأوداج " ([2]) زمونږ په نزد په ذبح كې د اكثره رګونو پريكول معتبر دي، أو همداډول په فتاوى هنديه كې ليكي: "وإن قطع أكثرها فكذلك عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا لا بد من قطع الحلقوم والمريء وأحد الودجين والصحيح قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى لما أن للأكثر حكم الكل" ([3]) أصل په ذبح كې دا ده چې څلور اندامونه پرې كړل شي، خو كه زياتره يې پرې كړل شول نو د امام صاحب – رحمه الله – په نزد ذبح صحيح ده، لېكن د صاحبينو په نزد د حلق أو مرئ پريكولو تر څنګ يو د دوه رګونو پريكول هم ضروري دي، أو پدې مسئله كې صحيح د امام صاحب قول دی؛ ځكه اكثر لره حكم د كل دی.

٢- د شوافعو په نزد هم مستحب داده چې حلق، مرئ أو د حلق أو مرئ دواړه خوا رګونه پرې كړل شي، لېكن كه يوازې حلق أو مرئ پرې كړل شي هم ذبح صحيح ده، پدې اړه شيرازي [4] په مهذب كې داسې ليكلي: "والمستحب أن يقطع الحلقوم والمرئ والودجين لأنه أوحى وأروح للذبيحة فإن اقتصر على قطع الحلقوم والمرئ أجزأه لأن الحلقوم مجرى النفس والمرئ مجرى الطعام والروح لا تبقى مع قطعهما" ([5]) په ذبح كې مستحب داده چې حلق، مرئ أو دوه رګونه پرې كړل شي؛ ځكه دا د ذبح كيدونكي حيوان لپاره ډېر راحت بخش دي، أو كه يوازې د حلق أو مرئ په پريكولو باندې بسنه وشوه ذبح جايز ده؛ ځكه حلق د نفس مجرى أو مرئ د خوراک لاره ده، نو د دوي په پريكولو سره په حيوان كې روح نه پاتې كېږي .

---

[1]- وګورئ: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 41)

[2]- الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (6/ 294)

[3]- الفتاوى الهندية، لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي، ط٢، دار الفكر، 5/ 287

[4]- د شيرازي لنډه پيژندنه: أبو إسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الفيروزآبادي الشيرازي، په 393 ه كال كې زيږدلی. هغه فقيه او متكلم عالم و چې په شيراز كې زيږيدلی. هغه د شافعي مذهب يوه مهمه څېره ګڼل كيږي او په فقه او عقيدې كې يې ګڼ تأليفات وړاندې كړې، لكه "اللمع في الرد على الرافضة" او " المهذب في فقة الإمام الشافعي ". هغه په 476هـ كال كې وفات شو. (وګورئ: الأعلام للزركلي (1/ 51)

[5]- الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي (المتوفى: 476هـ)، المهذب في فقة الإمام الشافعي، دار الكتب العلمية-بيروت، (1/ 459)

۳- د مواهب الجلیل مصنف د ذبحې تعریف داسې ذکر کړی: "وَفِي الشَّرْعِ قَالَ ابْنُ وَضَّاحٍ: هُوَ السَّبَبُ الَّذِي يُتَوَصَّلُ بِهِ إلَى إبَاحَةِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنْ الْحَيَوَانِ" ([1]) او ابن وضاح [2] ویلي: ذبح په اصطلاح کې عبارت ده د هغه سبب څخه چې د هغه په واسطه د حلال حیوان د غوښو خوړل مباح ګرځي.

بیا د مالکیانو په نزد هم کامله ذبح داده چې حلق، مرئ او دواړه رګونه پرې کړل شي، لېکن که حلق او دوه رګونه (ودجین) پرې کړل شي هم ذبح صحیح ده، لکه د مواهب الجلیل مصنف لیکي: "وَلَا خِلَافَ فِي حُصُولِ الذَّكَاةِ بِقَطْعِ الْحُلْقُومِ وَالْوَدَجَيْنِ وَالْمَرِيءِ، وَحَكَى عِيَاضٌ الْإِجْمَاعَ عَلَى ذَلِكَ، فَإِنْ قَطَعَ الْحُلْقُومَ وَالْوَدَجَيْنِ دُونَ الْمَرِيءِ فَالْمَشْهُورُ صِحَّةُ الذَّكَاةِ" ([3]) پدې خبره کې د مذاهبو ترمنځ اختلاف نشته چې د حلق، مرئ او دوه رګونو په پریکولو سره ذبح حاصلیږي، او قاضي عیاض پدې خبره باندې اجماع نقل کړي، خو که حلق او دوه رګونو پرته له مرئ څخه پرې کړل شي، د مالکیانو د مشهور قول پر أساس ذبح صحیح ده.

۴- د حنابلؤ په نزد هم کامله ذبح داده چې حلق، مرئ او دواړه رګونه پرې کړل شي، او د جواز د اندازې په اړه د امام أحمد – رحمه الله – څخه دوه قوله نقل شوې: یو قول یې د شوافعو په شان دی، یعني د حلق او مرئ پرې کول کفایت کوي، او دوهم قول یې دادی چې د حلق او مرئ ترڅنګ د دواړه رګونو پریکول هم ضروري دي، پدې اړه ابن قدامه – رحمه الله – لیکلي: "وَأَمَّا الْفِعْلُ فَيُعْتَبَرُ قَطْعُ الْحُلْقُومِ وَالْمَرِيءِ. وَبِهَذَا قَالَ الشَّافِعِيُّ. وَعَنْ أَحْمَدَ، رِوَايَةٌ أُخْرَى، أَنَّهُ يُعْتَبَرُ مَعَ هَذَا قَطْعُ الْوَدَجَيْنِ". ([4]) او هرچې د ذبحې فعل دی نو د حلق او مرئ د پریکولو څخه عبارت دی، او دا د امام شافعي – رحمه الله – قول دی، او د امام أحمد – رحمه الله – څخه بل قول هم نقل شوی چې د حلق او مرئ د پریکولو ترڅنګ د دوه رګونو پریکول هم اړین دي.

## دوهم مطلب: د ذبحې شرعي حکم:

ذبح د برې یا وچې د حلال حیوان د غوښې د حلالوالي لپاره یو بنسټیز شرط دی، او بغیر د ذبحې څخه یې خوړل روا ندي، لکه پدې اړه امام زیلعي – رحمه الله – لیکلي: "وهو شرط لقول الله تعالى {إلا ما

---

[1]- مواهب الجلیل في شرح مختصر خلیل، (3/ 208)

[2]- د ابن وضاح لنډه پېژندنه: محمد بن وضاح بن بزیع، ابو عبدالله، د عبدالرحمن بن معاویه ابن هیشام (199 - 286 هـ) مولا دی. هغه د قرطبه اوسېدونکی و، چې د محدثینو له ډلې څخه شمېرل کېږي. ابن وضاح مشرق ته سفر وکړ، هلته یې له ګڼ شمېر علماوو څخه علم ترلاسه کړ، او وروسته اندلس ته راستون شو، چیرې چې یې اوږد مهال حدیثونه روایت کړل. هغه څو مهم کتابونه لیکلي، چې د زهد او روحانیت په اړه یې "العباد والعوابد"، په حدیث کې "القطعان"، او "البدع والنهي عنها" شامل دي، او همدارنګه "مکنون السر ومستخرج العلم" په فقه المالکیه کې. (وګورئ: الأعلام للزرکلي (7/ 133)

[3]- مواهب الجلیل في شرح مختصر خلیل ، (3/ 210)

[4]- المغني لابن قدامة (9/ 397)

ذكيتم} [المائدة: 3] ولأن المحرم هو الدم المسفوح وبالذبح يقع الميز بينه وبين اللحم فيطهر به" ([1]) ذبح (د بري حيوان د غوښې د حلالوالي) لپاره شرط ده؛ ځکه الله تعالی فرمايي: مګر داچې تاسو حيوان ذبح کړي (ترڅو د حراموالي څخه وځي)، أو بل داچې أصل په حلال حيوان کې بهيدونکي وينه حرامه ده أو په ذبحې سره غوښه دوينې څخه جدا کيږي، نو په همدې خاطر پاکه ګڼل ګيږي. همدار راز امام کاساني صاحب ليکلي: "فَشَرْطُ حِلِّ الْأَكْلِ فِي الْحَيَوَانِ الْمَأْكُولِ الْبَرِّيِّ هُوَ الذَّكَاةُ فَلَا يَحِلُّ أَكْلُهُ بِدُونِهَا؛ لِقَوْلِهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ} [المائدة: 3] إلَى قَوْلِهِ عَزَّ شَأْنُهُ {وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إلا مَا ذَكَّيْتُمْ} [المائدة: 3] اسْتَثْنَى سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى الذَّكِيَّ مِنْ الْمُحَرَّمِ وَالِاسْتِثْنَاءُ مِنْ التَّحْرِيمِ إبَاحَةٌ" ([2]) د بري حلال حيوان د غوښې د حلالوالي لپاره ذبح يا حلالول شرط دي أو بغير له ذبحې څخه يې خوړل روا ندي؛ ځکه الله تعالی فرمايي: پرتاسو باندې مړ شوی حيوان أو وينه حرام دي، د دې قول د الله تعالی پورې: أو هغه حيوان چې درنده حيوان يې و خوري مګر داچې تاسو يې حلال کړئ، نو پدې آيت کې الله تعالی حلال شوی حيوان د حرام څخه مستثنا کړ أو د حرام څخه استثنا إباحت افاده کوي.

أو په حديث شريف کې راغلي: عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا لَاقُو الْعَدُوِّ غَدًا، وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًى، قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْجِلْ - أو أَرْنِي - مَا أَنْهَرَ الدَّمَ، وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ، فَكُلْ، لَيْسَ السِّنَّ، وَالظُّفُرَ، وَسَأُحَدِّثُكَ، أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ» ([3]) د رافع بن خديج څخه روايت دی چې ما رسول الله – صلی الله عليه وسلم – ته وويل: که مونږ سبا د دښمن سره مخامخ شوو أو چاقو يا چاړه را سره نه وه (نو څه به کوو؟) رسول الله – صلی الله عليه وسلم – ورته وويل: عجله وکړه (حيوان په يوه طريقه حلال کړه) هر هغه شی چې وينه توی کړي، أو د الله تعالی نوم ورباندې ياد کړل شي خوره يې، بغير د غاښ أو نوک څخه (يعني په دې دوه شيانو به يې نه ذبح کوي) أو زه به پدې أړه تاسو ته أوايم: هر چې غاښ دی هډوکی دی أو هر چې نوک دی نو دا د حبشو چاړه ده (چې د مشابهت څخه يې ځان وساتئ).

امام نووي – رحمه الله – د دې حديث په شرحه کې ليکلي: "قَالَ بَعْضُ الْعلماء وَالْحِكْمَةُ فِي اشْتِرَاطِ الذَّبْحِ وَإِنْهَارِ الدَّمِ تَمَيُّزُ حَلَالِ اللَّحْمِ وَالشَّحْمِ مِنْ حَرَامِهِمَا وَتَنْبِيهٌ عَلَى أَنَّ تَحْرِيمَ الْمَيْتَةِ لِبَقَاءِ دَمِهَا" ([4]) ځينو علماوو ويلي: د حيوان په ذبح کولو أو وينې تويولو کې حکمت دادی چې حلاله غوښه أو وازده د حرامې څخه جدا شي، أو ذبح د دې ښکارندوينه کوي چې د مړ شوې حيوان حراموالی په غوښه کې د وينې د پاتې کيدو له أمله دی.

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 286)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 40)

[3]- صحيح مسلم، د حديث شمېره: 1968، كتاب الأضاحي، بَابُ جَوَازِ الذَّبْحِ بِكُلِّ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ، إِلَّا السِّنَّ، وَالظُّفُرَ، وَسَائِرَ الْعِظَامِ (3/ 1558)

[4]- شرح النووي على مسلم (13/ 123)

## درېيم مطلب: د ذبحې ډولونه أو شرطونه

### ألف) د ذبحې ډولونه:

ذبح په دوه ډوله ویشل کېږي : اختیاري ذبح، أو دوهمه هم اضطراري ذبح. په عادي حالاتو کې چې حیوان أهلي وي أو ښه په طبیعت یې حلال کړي، اختیاري ذبح بلل کېږي، أو اضطراري ذبح په هغه صورت کې منځه ته راځي چې حیوان وحشي وي أو په تیره شي باندې وویشتل شي أو یا هم حیوان أهلي وي خو د سرکشی له أمله یې اختیاري ذبح کول ممکن نه وي نو په تیره شي باندې ویشتل کېږي تر څو مړ شي. د هر ډول ذبحې د صحت لپاره جدا شرایط شتون لري، چې لږ وروسته به بیان شي. د ذبحې د ډولونو په أړه امام کاساني صاحب لیکلي: "فَالذَّكَاةُ نَوْعَانِ: اخْتِيَارِيَّةٌ، وَضَرُورِيَّةٌ." ذبح پر دوه ډوله ده: اختیاري أو اضطراري. أو په بل ځاي کې لیکي: "وَالرُّكْنُ فِي الذَّكَاةِ الِاخْتِيَارِيَّةِ هُوَ الذَّبْحُ وَفِي الِاضْطِرَارِيَّةِ هُوَ الْجَرْحُ" ([1]) د اختیاري حلالولو شرط ذبح کول دي، أو د اضطراري حلالولو شرط زخمي کول دي، أو همداډول په کوم شي سره چې اضطراري ذبح ترسره کېږي، پرې کوونکې آله به وي أو دویشتلو په وخت کې به بسم الله وربانديې ویل کېږي .

### ب) د اختیاري ذبحې شرطونه

**ألف:** د ذبح کوونکي شرطونه.

**ب:** د ذبحې د آلې شرطونه.

**ج:** د مذبوحې شرطونه.

**لمړی:** د مذاهبو اربعه و په نزد د ذبح کوونکي شرطونه په لاندې توګه دي:

١- ذبح کوونکی به مسلمان یا کتابي وي، نو د کافر، مرتد، مشرک أو مجوسي ذبح نه صحیح کېږي . دا شرط اتفاقي دی.

٢- د ښکار ذبح کوونکی به حلال وي أو په احرام کې به نه وي. دا هم اتفاقي شرط دی.

٣- یوازې د الله تعالی په نوم به یې ذبح کوي. دا هم متفق علیه شرط دی.

۴- د یاد أو قدرت په حالت کې تسمیه یا بسم الله ویل. دا د أحنافو، مالکیانو أو حنابلؤ قول دی، أو د شوافعو په نزد شرط ندی؛ ځکه د دوي په نزد د ذبحې لپاره بسم الله ویل مستحب کار دی.

۵- عقل أو تمیز: ذبح کوونکی به عاقل وي، نو د لیوني، غیر ممیزماشوم أو د نشه سړي ذبح نه صحیح کېږي . دا د جمهورو قول دی، یوازې د امام شافعي – رحمه الله – په نزد شرط ندی.

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 40-49)

**دوهم:** هغه شرطونه چې د ذبحې د آلې اړوند دي:

۱- د ذبحې آله به نوک أو غاښ نه وي.

۲- د ذبحې آله به تیره وي پداسې توګه چې په تېغ سره حیوان پرې یا څیرې کوي أو په ثقل یې نه وژني.

**دریم:** هغه شرطونه چې د مذبوحې یا ذبح کیدونکې حیوان اړوند دي:

۱- ذبح کیدونکی حیوان به حلال حیوان وي.

۲- په ذبح کیدونکي حیوان کې د ژوند شتون، نو مړ شوی حیوان په ذبحې سره نه حلالیږي.

۳- حیوان به د حرم ښکار نه وي، أو دا شرط یواځې د اضطراري ذبحې پورې خاص دی.

۴- د روح وتل به یواځې د ذبحې له أمله وي.

۵- په ذبح کې د هغه اندامونو پرې کول چې پرې کول یې لازمي دي. [1]

**د پورته ذکر شوو شرطونو لپاره دلایل أو د اختلافي شرطونو مناقشه په لاندې توګه وړاندې کیږي:**

## لومړی د ذبح کوونکي شرطونه

**۱- ذبح کوونکی به مسلمان یا کتابي وي:** نو د مشرک، مجوسي، مرتد أو هر بل کافر ذبح حلاله نده، لکه الله تعالی د مشرک د ذبحې په أړه فرمایي: ( وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِه) [2]

ژباړه: أو هغه څاروي چې د الله تعالی څخه پرته د کوم بل چا په نوم حلال کړل شي (حرام دي).

د آیت شریف د دې برخې په تفسیر کې ابن کثیر – رحمه الله – لیکلي: "وَقَوْلِهِ وَما أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ أَيْ مَا ذُبِحَ فَذُكِرَ عَلَيْهِ اسْمُ غير الله فهو حرام لأن الله تعالى أَوْجَبَ أَنْ تُذْبَحَ مَخْلُوقَاتُهُ عَلَى اسْمِهِ الْعَظِيمِ، فَمَتَى عُدِلَ بِهَا عَنْ ذَلِكَ وَذُكِرَ عَلَيْهَا اسْمُ غَيْرِهِ مِنْ صَنَمٍ أو طَاغُوتٍ أَوْ وَثَنٍ أو غَيْرِ ذَلِكَ مِنْ سَائِرِ الْمَخْلُوقَاتِ فَإِنَّهَا حَرَامٌ بِالْإِجْمَاعِ" [3] د (وَما أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) معنا دا ده چې کله یو حلال حیوان د الله تعالی د نوم څخه پرته د بل چا په نوم حلال کړل شي حرام ګرځي؛ ځکه ذبح د الله تعالی په نوم فرض ده، نو کله چې د الله تعالی د نامه څخه عدول وشي أو د بت، طاغوت أو د نورو مخلوقاتو په نوم حیوان حلال کړل شي د علماوو په اجماع سره نوموړی حیوان حرام ګرځي.

أو د همدې آیت په بله برخه کې الله تعالی فرمایي: ( وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ)

ژباړه: أو هغه څاروي (حرام دي) چې د بتانو لپاره حلال کړل شي.

---

[1]- وګورئ: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع 40-60 / الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 297)/ اسلام ویب، شروط الذابح وشروط المذبوح وشروط آلة الذبح، 21-4-2002م، https://www.islamweb.net

[2]- المائدة: 3

[3]- تفسير ابن كثير ط العلمية (3/ 13)

د (عَلَى النُّصُبِ) تفسير په أړه امام قرطبي – رحمه الله – ليکلي: "قَالَ ابْنُ فَارِسٍ:" النُّصُبِ" حَجَرٌ كَانَ يُنْصَبُ فَيُعْبَدُ وَتُصَبُّ عَلَيْهِ دِمَاءُ الذَّبَائِحِ" ابن فارس[1] ويلي: نصب درول شوې ډبره وه چې مشرکينو به يې عبادت کولو أو د ذبيحوويني به يې د تبرک پخاطر ورباندې تيلي، أو د امام مجاهد قول يې نقل کړی: "قَالَ مُجَاهِدٌ: هِيَ حِجَارَةٌ كَانَتْ حَوَالَيْ مَكَّةَ يَذْبَحُونَ عَلَيْهَ" نصب د مکې مکرمې شاوخوا يوه ډبره وه چې مشرکينو به په هغې باندې ځاروي حلالول، أو د نصب تفسير په أړه يې بل قول نقل کړی: "وَقِيلَ:" عَلَى" بِمَعْنَى اللَّامِ، أَيْ لِأَجْلِهَا، قَالَ قُطْرُبٌ قَالَ ابْنُ زَيْدٍ: مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وما أهل به لغير الله شي وَاحِدٌ" ([2]) ويل شوې چې په (عَلَى النُّصُبِ) کې على د لام په معنا ده يعني مشرکينو به د درول شوو بتانو لپاره ذبح کول، قطرب [3] ويلي چې ابن زيد ويلي: د (مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وما أهل به لغير الله شي وَاحِدٌ") معنا أو هدف يو دی.

أو د مجوسيانو (د أورعبادت کوونکو) په أړه په حديث کې راغلي: عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُحَمَّدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى مَجُوسِ أَهْلِ هَجَرَ يَعْرِضُ عَلَيْهِمُ الْإِسلام، «فَمَنْ أَسْلَمَ قَبِلَ مِنْهُ، وَمَنْ لَمْ يُسْلِمْ ضَرَبَ عَلَيْهِ الْجِزْيَةَ غَيْرَ نَاكِحِي نِسَائِهِمْ، وَلَا آكِلِي ذَبَائِحِهِمْ» ([4]) حسن بن محمد روايت کوي چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- د هجرمجوسيانو ته د إسلام وړاندې کولو پخاطر ليک واستولو چې داسې يې پکې ليکلي وه: هر چا چې إسلام قبول کړ ورڅخه قبلول کېږي، أو چا چې د إسلام قبلولو څخه انکار وکړ، جزيه به ورباندې تاکل کېږي، ښځو سره به يې مسلمانان نکاح نکوي، أو ذبح به يې نه خوري.

---

[1]- د ابن فارس لنډه پېژندنه: احمد بن فارس بن زکريا القزويني الرازي، ابو الحسين (329 - 395 هـ )، د ژبې او ادب له امامانو څخه دی. په هغه باندې البديع الهمذاني، الصاحب ابن عباد او نور مشهور بيان پوهان زده کړې کړې دي. د هغه اصليت له قزوين څخه دی، او يو مهال يې په همذان کې ژوند وکړ، وروسته ری ته لاړ او هلته وفات شو، نو د هغه نوم هم ری ته نسبت کيږي. د هغه له مهمو تصانيفو څخه "مقاييس اللغة" دی چې شپږ جزونه لري، "المجمل" چې يوه کوچنۍ برخه يې چاپ شوې، "الصاحبي" چې په عربي ژبه کې دی او د الصاحب ابن عباد لپاره يې تأليف کړی، او "جامع التأويل" چې په قرآن کريم کې تفسير دی او څلور جلدونه لري. (الأعلام للزركلي (1/ 193)

[2]- القرطبي (6/ 57)

[3]- د قطرب لنډه پېژندنه: قطرب، چې بشپړ نوم يې محمد بن المستنير بن احمد، ابو علی، چې د "قطرب" په نوم مشهور دی، د بصري ژبې، ادب او نحو يو عالم دی. هغه د مولاوو له ډلې څخه دی او د معتزله نظاميې د مکتب نظرونه لري. قطرب د عربي ژبې د مثلث جوړونې لومړنی عالم و. د هغه لقب "قطرب" د هغه د استاد سيبويه لخوا ورکړل شوی، چې له همدې امله يې دغه لقب ومنله. هغه د ابو دلف العجلي د اولادونو روزنه هم کوله. د هغه له مهمو کتابونو څخه "معاني القرآن"، "النوادر" په لغت کې، "الأزمنة" چې په تدريجي توګه په عربي علمي مجله کې خپور شو، او "الأضداد" او "خلق الإنسان" شامل دي. ( وګورئ: الأعلام للزركلي (7/ 95)

[4]- ابن أبي شيبة، أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة العبسي الكوفي (159 - 235 هـ)، مُصنف ابن أبي شيبة، المحقق: كمال يوسف الحوت، د حديث شمېره: 16325، كتاب النكاح، الباب: فِي الْجَارِيَةِ النَّصْرَانِيَّةِ وَالْيَهُودِيَّةِ تَكُونُ لِرَجُلٍ يَطَؤُهَا أَمْ لَا؟ مكتبة الرشد – الرياض، 3/ 488

أو د مرتد ذبح ځکه صحیح نده چې مرتد د دین په پرېښودلو سره نور په الله تعالی باور نلري، نو د ذبحې په حالت کې یا خو ذبح د الله تعالی د نوم څخه د بل چا په نوم کوي أو یا داچې له سره تسمیه نه وایې أو بغیر د بسم الله ویلو څخه ذبح نه صحیح کېږي . ([1])

**۲- ذبح کوونکی به محرم نه وي:** یعني د احرام په حالت کې به حج کوونکی او یا عمره کوونکی ښکار نه ذبح کوي، دا هم اتفاقي شرط دی، پدې أړه امام نووي شافعي لیکلي: " إذا ذبح المحرم صيدا حرم عليه بلا خلاف وفى تحريمه على غيره القولان اللذان ذكرهما المصنف (الجديد) تحريمه وهو الاصح عند الجمهور" ([2]) کله چې محرم (احرام لرونکی) یو حیوان ذبح کړي په ذبح کوونکي یې خوړل په اتفاق سره حرام دي، أو د نورو لپاره یې د خوړلو په أړه دوه مختلف قولونه راغلې، لېکن د وروستي قول مطابق د نورو لپاره یې هم خوړل حرام دي أو همدغه صحیح قول دی.

أو په مجمع الأنهر کې راغلي: "(وَلَوْ ذَبَحَ) الْمُحْرِمُ (صَيْدًا فَهُوَ مَيْتَةٌ) لَا يَحِلُّ لَهُ الْأَكْلُ مِنْهُ؛ لِأَنَّهُ فِعْلٌ حَرَامٌ فَلَا يَكُونُ ذَكَاةً مُبِيحَةً بَلْ تَصِيرُ كَذَبِيحَةِ الْمَجُوسِ." ([3]) که محرم شخص یو ښکارشوی حیوان ذبح کړ، د مردار شوي حیوان په شان دی أو خوړل یې روا ندي؛ ځکه د محرم ذبح حرام عمل دی، نو ذبح یې د حلال شوي حیوان د حلالوالي لامل نه ګرځي، بلکه د مجوسي د مذبوحې په شان ګرځي.

أو همداړول د هدایې مصنف مرغیناني – رحمه الله - لیکلي: "وإذا ذبح المحرم صيدا فذبيحته ميتة لا يحل أكلها" ([4]) که محرم شخص یو ښکار ذبح کړ نو ذبیحه یې مړه ګڼل کېږي أو د هیچا لپاره یې خوراک جایز ندی.

همداړول د التاج والإکلیل لمختصر خلیل مصنف لیکلي: "مَا ذَبَحَ الْمُحْرِمُ مِنْ الصَّيْدِ بِيَدِهِ أو صَادَهُ بِكَلْبِهِ فَأَدَّى جَزَاءَهُ فَلَا يَأْكُلُهُ حَلَالٌ أَوْ حَرَامٌ لِأَنَّهُ مَيْتَةٌ" ([5]) که محرم په خپل لاس أو یا په خپل ښکاري سپي سره ښکار شوی حیوان ذبح کړ أو فدیه یې ورکړه، نو د نورو ښکار غوښه هیچا ته روا نده؛ ځکه چې د مردار شوي حیوان حکم لري.

---

[1]- وګورئ: بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 45)، (په لږتصرف سره)

[2]- المجموع شرح المهذب (7/ 304)

[3]- أفندي، عبد الرحمن بن محمد بن سليمان المدعو بشيخي زاده, يعرف بداماد أفندي (المتوفى: 1078هـ)، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (1/ 300)، تحقيق خرج آياته وأحاديثه خليل عمران المنصور، دار الكتب العلمية-بيروت، 1/ 444

[4]- الهداية شرح البداية (1/ 173)

[5]- الغرناطي، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي، أبو عبد الله المواق المالكي (المتوفى: 897هـ)، التاج والإكليل لمختصر خليل، دار الكتب العلمية-بيروت، 4/ 260

همداړول ابن قدامه په الكافي كې ليكلي: "وإن ذبح المحرم الصيد، حرم على كل أحد؛ لأنه منع من الذبح لحق الله، فلم يبح ذبح كالمجوسي" ([1]) كه محرم شخص يو ښكار ذبح كړ، د ټولو لپاره يې خوړل حرام دي؛ ځكه چې د الله تعالى پخاطر محرم د ښكار له ذبحې څخه منع كړل شوى، نو د مجوسي په شان يې ذبح حلاله نده.

**۳- يوازې د الله تعالى په نوم به يې ذبح كوي:** دا هم اتفاقي شرط دى، پدې اړه الله تعالى فرمايې: (حرمت عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ) ([2]) أو حرام كړل شوې پرتاسو باندې مړشوى حيوان، وينه، د خنزير غوښه أو هغه حيوان چې د الله تعالى د نوم څخه پرته د بل چا نومورباندې ياد كړل شي.

امام قرطبي – رحمه الله – ليكلي: "وتدخل فِيهِ مَا ذُكِرَ عَلَيْهِ غَيْرُ اسْمِ اللَّهِ بِعُمُومِ أَنَّهُ لَمْ يُذْكَرْ عَلَيْهِ اسْمُ اللَّهِ، وَبِزِيَادَةِ ذِكْرِ غَيْرِ اسْمِ اللَّهِ سُبْحَانَهُ عَلَيْهِ الذي يقتضي تحريمه نصا بقول:" وَما أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ" ([3]) أو د متروک التسمیې په حکم کې هغه حيوان هم داخل دى چې د الله تعالى د نامه څخه پرته د بل چا په نوم باندې ذبح شي؛ ځكه د دې ډول حيوان حراموالى په ښكاره نص باندې ثابت دى.

**۴- د ياد أو قدرت په حالت كې تسميه يا بسم الله ويل:** دا د أحنافو، مالكيانو أو حنابلؤ قول دى، لېكن د شوافعو په نزد شرط ندى؛ ځكه د دوي په نزد د ذبحې لپاره بسم الله ويل مستحب كار دى.

**ألف: د جمهورو دلايل په لاندې توګه دي:**

۱- الله تعالى په قرآن كريم كې فرمايې: (وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ) ([4])

ژباړه: أو د هغه ښاروېو غوښې مه خورئ چې د الله تعالى په نوم نه وي ذبح شوې أو دا كار فسق دى.

د دې آيت په تفسير كې سمرقندي صاحب ليكلي: "قوله تعالى " ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه " يعني ما لم يذك ولم يذبح أو ذبح بغير اسم الله " وإنه لفسق " يعني أكله معصية واستحلاله كفر" ([5]) يعني په كومو ښاروېو چې د الله تعالى نوم نه وي ياد شوى أو يا د الله تعالى څخه پرته د بل چا په نوم ذبح شوې وي مه خورئ؛ ځكه خوراک يې ګناه ده أو د دا ډول ښاروېو حلال ګڼل كفر دى.

[1]- ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: 620هـ)، الكافي في فقه الإمام أحمد، دار الكتب العلمية-بيروت، 492/1

[2]- المائدة: 3

[3]- تفسير القرطبي (7/ 75)

[4]- الأنعام: 121

[5]- السمرقندي، أبو الليث نصر بن محمد بن إبراهيم السمرقندي الفقيه الحنفي، بحر العلوم، تحقيق: د.محمود مطرجي، دار الفكر – بيروت، 1/ 497

امام زیلعي – رحمه الله – د حرامو حیواناتو د دلایلو په لړ کې لیکي: "وأما تارك اسم الله عمدا فلقوله تعالى {ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه وإنه لفسق} [الأنعام: 121]" ([1]) أو هرچې دلیل د حراموالي د هغه حلال ځاروي چې ذبح کوونکی یې قصدا بغیر د بسم الله څخه ذبح کړي، دا قول د الله تعالی دی چې: أو د هغه ځارویو غوښې مه خورئ چې د الله تعالی په نوم نه وي ذبح شوې.

همداړول امام کاساني – رحمه الله - په قصدي ډول د تسمیې د تارک ذبحې په اړه لیکلي: "(وَلَنَا) قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ {وَلا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ} [الأنعام: 121] وَالِاسْتِدْلَالُ بِالْآيَةِ مِنْ وَجْهَيْنِ: أَحَدُهُمَا أَنَّ مُطْلَقَ النَّهْيِ لِلتَّحْرِيمِ فِي حَقِّ الْعَمَلِ، وَالثَّانِي أَنَّهُ سَمَّى كُلَّ مَا لَمْ يُذْكَرْ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ فِسْقًا بِقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ {وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ} [الأنعام: 121] وَلَا فِسْقَ إلَّا بِارْتِكَابِ الْمُحَرَّمِ وَلَا تُحْمَلُ إلَّا عَلَى الْمَيْتَةِ" ([2]) أو زمونږ لپاره په قصدي توګه د متروک التسمیې د حراموالي دلیل د الله تعالی دا قول دی: أو د هغه ځارویو غوښې مه خورئ چې د الله تعالی په نوم نه وي ذبح شوې، دا کار فسق دی. دې آیت باندې په دوه وجهو استدلال کېږي: لمړی داچې مطلقه نهي په عمل کې د حراموالي لپاره وي، أو دوهمه وجه د استدلال داده چې الله تعالی هرهغه ځاروي ته چې د ذبحې په وخت کې د الله تعالی نوم وربانديې یاد نکړل شي فسق ویلي دي، أو فسق د حرامو په ارتکاب سره منځته راځي أو یوازې په مردار شوې حیوان باندې حمل کېږي

.

همداړول امام سرخسي – رحمه الله- لیکلي: "وَكَانَ عَلِيٌّ وَابْنُ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - يَفْصِلَانِ بَيْنَ الْعَامِدِ وَالنَّاسِي كَمَا هُوَ مَذْهَبُنَا، وَقَدْ كَانُوا مُجْمِعِينَ عَلَى الْحُرْمَةِ إذَا تَرَكَ التَّسْمِيَةَ عَامِدًا، وَإِنَّمَا يَخْتَلِفُونَ إذَا تَرَكَهَا نَاسِيًا، وَكَفَى بِإِجْمَاعِهِمْ حَجَّةً؛ وَلِهَذَا قَالَ أَبُو يُوسُفَ - رَحِمَهُ اللَّهُ - مَتْرُوكُ التَّسْمِيَةِ عَامِدًا لَا يَسُوغُ فِيهِ الِاجْتِهَادُ" ([3]) حضرت علي أو ابن عباس – رضي الله عنهما- به په قصدي توګه د بسم الله پریښودونکي د ذبحې أو د ناسي (هېروونکي) د ذبحې ترمنځ توپیر کولو، لکه څنګه چې زمونږ مذهب دی، دوي د قصدي تارک التسمي ذبیحې په حراموالي باندې اجماع درلوده، لېکن د ناسي د ذبیحې د حراموالي په اړه یې اختلاف درلوده، أو د دوي اجماع زمونږ لپاره د دلیل په توګه کفایت کوي، د دوي د اجماع له أمله به امام ابو یوسف – رحمه الله ویلي: په قصدي توګه د متروک التسمیې ذبیحې د حراموالي په اړه د اجتهاد لپاره ځای نشته.

---

[1]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 287)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 46)

[3]- المبسوط للسرخسي (11/ 236)

همداړول ابن قدامه – رحمه الله - په مغني کې ليکلي: "وَلَنَا، قَوْله تَعَالَى: {وَلا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} [الأنعام: 121] . وَقَالَ {فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ} [المائدة: 4] . وَقَالَ النَّبِيُّ «إذَا أَرْسَلْت كَلْبَك، وَسَمَّيْت، فَكُلْ. قُلْت أُرْسِلُ كَلْبِي فَأَجِدُ مَعَهُ كَلْبًا آخَرَ؟ قَالَ: لَا تَأْكُلْ، فَإِنَّك إنَّمَا سَمَّيْت عَلَى كَلْبِك، وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى الْآخَرِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي لَفْظٍ: " وَإِذَا خَالَطَ كِلَابًا لَمْ يُذْكَرْ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهَا، فَأَمْسَكْنَ وَقَتَلْنَ، فَلَا تَأْكُلْ." ([1]) أو زمونږ لپاره دليل د الله تعالی دا قول دی: أو تاسو مه خورئ هغه ښکار چې د الله تعالی نوم ورباندې نه وي ياد شوی، همداړول د الله تعالی دا قول: پس تاسو خورئ هغه ښکار شوې شيان چې ښکاري حيوان يې ستاسي لپاره ونيسي، البته د الله تعالی نوم ورباندې ياد کړئ، أو همداړول نبي کريم – صلی الله عليه وسلم – عدي بن حاتم ته وويل: کله دي چې ښکاري سپی د ښکار لپاره واستولو، أو د الله تعالی نوم دي ورباندې ياد کړ، نو وخوره، عدي وايي ما وويل: کله داسي کېږي چې زه خپل سپی خوشي کړم نو بل سپی هم ورسره يوځای شي أو په ګډه ښکار وکړي، نو نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- وويل: مې خوره؛ ځکه تا په خپل سپي باندې بسم الله ويلي ده، أو په بل سپي دي بسم الله نده ويلي.

**يادونه:** د سهوي په صورت کې د حنابلؤ أو أحنافو په نزد متروک التسميې حيوان خوړل د لاندې دلايلو په أساس روا دي:

**١- حديث:** عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الصَّلْتِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ حَلَالٌ ذَكَرَ اسْمَ اللهِ أَوْ لَمْ يَذْكُرْ؛ إِنَّهُ إِنْ ذَكَرَ لَمْ يَذْكُرْ إِلَّا اسْمَ اللهِ" ([2]) ثور بن يزيد د صلت څخه روايت کوي ويلي يې دي چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم- فرمايلي: د مسلمان ذبيحه حلاله ده برابره خبره ده چې بسم الله ورباندې ووايي أو که نه؛ ځکه چې مسلمان د الله تعالی د نامه څخه پرته د بل چا په نوم ذبح نکوي. [3]

لېکن د يادوشويو دلايلو له أمله دا حديث په خپل اطلاق باندې ندی پاتي، بلکه د نسيان په صورت باندې حمل دی ترڅو د نصوصو ترمنځ تعارض واقع نشي.

**٢-** په بحرالرائق کې راغلي: "قَالَ - رَحِمَهُ اللَّهُ -: (وَحَلَّ لَوْ نَاسِيًا) يَعْنِي حَلَّ الْمُذَكَّى لَوْ تَرَكَ التَّسْمِيَةَ نَاسِيًا ...قُلْنَا: إنَّ النِّسْيَانَ مَرْفُوعُ الْحُكْمِ بِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «رُفِعَ عَنْ أمتي الْخَطَأُ وَالنِّسْيَانُ» ، وَفِي

---

[1]- المغني لابن قدامة (9/ 367)

[2]- السنن الكبرى للبيهقي، د حديث شمېره: 18895، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ، بَابُ مَنْ تَرَكَ التَّسْمِيَةَ وَهُوَ مِمَّنْ تَحِلُّ ذَبِيحَتُهُ (9/ 402)

[3] - د دي حديث حکم: مرسل حديث دی، پدي اړه د معرفة السنن والأثار مصنف ليکلي: وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي الْمَرَاسِيلِ بِإِسْنَادٍ عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ (البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ) معرفة السنن والآثار، المحقق: عبد المعطي أمين قلعجي، دار قتيبة (دمشق -بيروت (13/ 447)

اعْتِبَارِهِ حَرَجٌ وَالْحَرَجُ مَرْفُوعٌ بِالنَّصِّ" ([1]) أو د كنزالدقائق مصنف ويلي: د نسيان په صورت کې د تارک التسميې ذبيحه حلاله ده، ځکه مونږ وایو چې نسیان أو ويره د حديث په أساس مرفوع الحکم دي په کوم کې چې نبي کريم – صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما د أمت څخه د خطا أو نسيان ګناه پورته کړل شوې ده.

همداډول ابن قدامه – رحمه الله – په مغني کې ليکلي: "وَأَمَّا الذَّبِيحَةُ فَالْمَشْهُورُ مِنْ مَذْهَبِ أَحْمَدَ، أَنَّهَا شَرْطٌ مَعَ الذِّكْرِ، وَتَسْقُطُ بِالسَّهْوِ. وَرُوِيَ ذَلِكَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَبِهِ قَالَ مَالِكٌ، وَالثَّوْرِيُّ، وَأَبُو حَنِيفَةَ، وَإِسْحَاقُ." ([2]) هرچې د ذبيحې په اړه د بسم الله ويلو خبره ده، نو پدې اړه د حنابلۀ مشهور قول دادی چې د ياد په حالت کې تسميه شرط ده، لېکن د نسيان أو ويرې په حالت کې ساقطيږي، أو دا خبره د ابن عباس – رضي الله عنه- څخه روايت شوې، أو دا د امام مالک، ثوري، أبوحنيفه، أو اسحاق – رحمهم الله – قول دی.

أو د مالکيانو مذهب په أړه امام نووي – رحمه الله - ليکلي: "وَعَنْ أَصْحَابِ مَالِكٍ قَوْلَانِ (أَصَحُّهُمَا) كَمَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ (وَالثَّانِي) كَمَذْهَبِنَا" ([3]) أو د متروک التسميې مذبوحې په أړه د مالکيانو څخه دوه قوله روايت شوې دي، صحيح ترين قول يې د امام ابوحنيفه – رحمه الله- د مذهب په شان دی، أو بل قول يې د شوافعو په شان دی.

همداډول ابن نصر البغدادي المالکي [4] ليکلي: ظاهر مذهب مالك أن متروك التّسمية في الذّكاة والصَّيد، لا يؤكل إن كان عامدًا، وإن كان ناسيًا أكلت، وبه قال أبو حنيفة." ([5]) د امام مالک ظاهر قول دادی چې متروک التسميه مذبوحه د عمد په صورت کې حرامه بلل کېږي أو د نسيان په صورت کې حلاله ګڼل کېږي أو همدا د امام ابوحنيفه – رحمه الله – قول هم دی.

**ب:** د شوافعو په نزد د ذبحې لپاره تسميه شرط نده، بلکه د بسم الله ويل مستحب کار دی، دوي په لاندې دلايلو باندې استدلال کوي:

---

[1]- البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (8/ 192)

[2]- المغني لابن قدامة (9/ 388)

[3]- المجموع شرح المهذب (8/ 411)

[4]- د ابن نصر البغدادي المالکي لنډه پېژندنه: أبو محمد عبد الوهاب بن علي بن نصر الثعلبي البغدادي المالكي (362 - 422 هـ) د بغداد يو نامتو مالکي فقيه او قاضي و. هغه په مالکي فقه کې ژور مهارت درلود او د بغداد د علمي حلقو يو مهم شخصيت ګڼل کېده. عبد الوهاب ګڼ شاګردان وروزل او د مالکي فقه د تدريس په برخه کې يې پراخه هڅه وکړه. د هغه مهم اثار عبارت دي له " النصرة لمذهب مالك " ، " شرح المدونة ، او عيون المسائل دي. د هغه علمي مقام د اسلامي نړۍ په بېلابېلو برخو کې پېژندل شوی و، او په خپل وخت کې د فقه په برخه کې يوه مشهوره څېره وه. (الأعلام للزركلي (4/ 184)

[5]- الثعلبي، أبو محمد عبد الوهاب بن علي بن نصر الثعلبي البغدادي المالكي (المتوفى: 422هـ)، عُيُونُ المَسَائِل، دراسة وتحقيق: علي محمَّد إبراهيم بورويبة، دار ابن حزم للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، ص 491

١- "وَاحْتَجَّ أَصْحَابُنَا بِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ} إلى قوله تعالى (الا ما ذكيتم) فَأَبَاحَ الْمُذَكَّى وَلَمْ يَذْكُرْ التَّسْمِيَةَ" ([1]) أو مونږ (شوافع) د الله تعالى پدې قول باندې استدلال کوو: حرام کړل شوي دي په تاسو باندې مردار شوی حیوان أو وینه، د الله تعالی د دې قول پورې: لېکن هغه چې ذبح یې کړئ (یعني پدې صورت کې یې خوړل روا دي)، نو پدې آیت کې الله تعالی ذبح کړل شوی حیوان روا ګڼلی أو د تسمیې یادونه یې نده کړي.

٢- عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ... أَنَّهُمْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ قَوْمًا حَدِيثُو عَهْدٍ بِالْجَاهلية يَأْتُونَ بِلُحْمَانٍ لَا نَدْرِي أَذَكَرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا أَمْ لَمْ يَذْكُرُوا، أَفَنَأْكُلُ مِنْهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَمُّوا اللَّهَ وَكُلُوا» ([2]) هشام بن عروة د خپل پلار أو بیا د بي بي عائشې څخه روایت کوي چې دوي وویل: ای د الله رسوله! ځیني نوي مسلمان شوي خلک مونږ ته غوښې رواړي، مونږ نه پوهیږو چې دوي به بسم الله وربانديې ویلي وي أو که نه، نو ایا د دوي دا غوښې مونږ وخورو؟ رسول الله – صلی الله علیه وسلم- ورته وویل: تاسو بسم الله وربانديې أوایئ أو وخورئ. [3]

د دې حدیث ذکرکولو څخه وروسته امام نووي – رحمه الله – لیکلي: "وَقَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (سَمُّوا وَكُلُوا) هَذِهِ التَّسْمِيَةُ الْمُسْتَحَبَّةُ عِنْدَ أَكْلِ كُلِّ طَعَامٍ وَشُرْبٍ فَهَذَا الْحَدِيثُ هُوَ الْمُعْتَمَدُ فِي الْمَسْأَلَةِ" ([4]) د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- دا قول چې (سَمُّوا وَكُلُوا)، د دې په أساس بسم الله ویل د خوړلو أو څښکلو په وخت کې مستحب ده، أو د خوراکي توکو په اړه همدغه حدیث أساسي دلیل دی.

أو د أحنافو دلایلو څخه شوافع داسې جواب کوي چې په آیت کومه منع راغلي: {وَلا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} [5]

ترجمه: أو د هغه څارویو غوښې مه خورئ چې د الله تعالی په نوم نه وي ذبح شوې، (دا کار فسق دی)، یا خو د دې منعې څخه مراد د هغه ذبیحو خوړل مراد دي چې د بتانو په نوم ذبح کړل شوې وي، أو یا دا چې پدې آیت کې نهې په کراهیت تنزیهي باندې حمل ده، أو هر چې د هغه أحادیثو توجیه ده چې أحنافو وربانديې استدلال کړی، دا ده چې نوموړې احادیث د تسمیې په ندب باندې دلالت کوي. ([6])

---

[1]- المجموع شرح المهذب (8/ 411)

[2]- سنن أبي داود د حدیث شمیره: 2829، كتاب الأضاحى، باب ما جاءَ في أكلِ اللحمِ لا يُدرَىأذُكر اسمُ الله عليه أم لا، (3/ 104)

[3] - د دې حدیث حکم: د یوسف بن موسي په روایت صحیح حدیث دی او مرسل هم روایت شوېدي اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: صحيح من طريق يوسف بن موسى (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 450)

[4]- المجموع شرح المهذب (8/ 412)

[5]-الأنعام: 121

[6]- المجموع شرح المهذب (8/ 412)

لېکن د دې موضوع په اړه د جمهورو قول پدې خاطر راجح دی چې دلایل یې قوي دي؛ ځکه د قرآن کریم په آیتونو أو قوي أحادیثو یې استدلال کړی، أو د دوی د قول مطابق د نصوصو ترمنځ د تعارض د دفعه کولو لپاره ضعیف دلایل د قوي د لایلو په رڼا کې توجیه کېږي، پداسې حال کې چې د شوافعو د مذهب مطابق د ضعیفه دلایلو له أمله په قوي دلایلو کې یو ډول تأویل کېږي چې مناسب نه ښکاري، أو پدې أړه مبارکفوري صاحب لیکلي: "وفيه مشروعية التسمية عند الذبح، وهي شرط في صفة الذبح مع الذكر، وتسقط بالسهو والنسيان عند مالك والثوري وأبي حنيفة، وهو المشهور من مذهب أحمد، وهو المروي عن ابن عباس، وعن أحمد: أنها مستحبة غير واجبة في عمد ولا سهو، وبه قال الشافعي. والقول الراجح عندنا هو ما ذهب إليه الجمهور. " [1] أوپه یادشوي حدیث کې د ذبحې په وخت کې د تسمیې ویلو مشروعیت ثابتیږي، د یاد په حالت کې بسم الله د ذبحې په وخت کې شرط ده، أو د سهوي أو نسیان په صورت کې د امام مالک، ثوري، أبوحنیفه أو په مشهور قول د امام أحمد – رحمهم الله - کې ساقطیږي، أو همدغه قول د ابن عباس – رضي الله عنه – څخه روایت شوی، أو په بل قول د امام أحمد کې راغلې چې د بسم الله ویل په ذبیحې باندې په هرحالت کې مستحب دي أو همدغه دامام شافعي أصلي قول دی. زمونږ په نزد راجح قول د جمهورو دی.

**یادونه:** د پورتني بحث څخه دې نتیجې ته رسیږو چې پدې موضوع کې د علماوو ترمنځ د اختلاف عمده سببونه دوه دي:

**۱-** په ظاهر کې د متعارضو نصوصو شتون چې علماوو یې مختلف تطبیقونه کړي، لکه چې په بحث کې یې یادونه شوې.

**۲-** د نصوصو په فهم کې اختلاف؛ ځکه پدې آیت کریمه کې: {وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ} جمهورو علماوو نهې په حراموالي باندې حمل کړي، لېکن امام شافعي – رحمه الله – په کراهیت تنزیهي باندې حمل کړي ده. والله تعالی اعلم.

**۵- عقل أو تمیز:** ذبح کوونکی به عاقل وي، نو د لیوني، غیر ممیزماشوم أو د نشه سړي ذبح نه صحیح کېږي ، أو دا د جمهورو قول دی، یوازې د امام شافعي – رحمه الله – په نزد شرط ندی.

پدې أړه د جمهوروعلماوو أقوال أو دلایل په لاندې توګه وړاندې کېږي :

---

[1] - المباركفوري، أبو الحسن عبيد الله بن محمد عبد السلام بن خان محمد بن أمان الله بن حسام الدين الرحماني المباركفوري (المتوفى: 1414هـ)، مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء - الجامعة السلفية - بنارس الهند (5/ 74)

۱- د الجوهرة النيرة مصنف ليکلي: " وَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الصَّبِيِّ الَّذِي لَا يَعْقِلُ، وَالْمَجْنُونِ، وَالسَّكْرَانِ الَّذِي لَا يَعْقِلُ وَيَجُوزُ ذَبِيحَةُ الْأَخْرَسِ." ([1]) أو د غير مميز کوچني، ليوني أو د نشه يا مست سړي ذبيحه روانده، أو د ګونګي ذبيحه حلاله ده.

۲- أو په بدائع الصنائع کې راغلي: "وَكَذَا ذَبِيحَةُ الْمَجْنُونِ وَالصَّبِيِّ الَّذِي لَا يَعْقِلُ؛ لِأَنَّهَا فِي مَعْنَى الْمَيْتَةِ" ([2]) أو همداړول د ليوني أو غير مميز کوچني ذبيحه حلاله نده؛ ځکه دا ډول ذبيحه د مرداري يا مړې په حکم کې ده.

۳- همداړول امام کاساني – رحمه الله – ليکلي: "فَمِنْهَا أَنْ يَكُونَ عَاقِلًا فَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الْمَجْنُونِ وَالصَّبِيِّ الَّذِي لَا يَعْقِلُ وَالسَّكْرَانُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ لِمَا نَذْكُرُ أَنَّ الْقَصْدَ إلَى التَّسْمِيَةِ عِنْدَ الذَّبْحِ شَرْطٌ وَلَا يَتَحَقَّقُ الْقَصْدُ الصَّحِيحُ مِمَّنْ لَا يَعْقِلُ" ([3]) د ذبحې د شرايطو څخه يو شرط دادی چې ذبح کوونکی به عاقل وي، نو د ليوني، غير مميز ماشوم أو نشه سړي ذبيحه حلاله نده؛ ځکه د ذبحې په وخت کې د تسميې قصد شرط دی أو غير عاقل څخه قصد شتون نلري.

۴- ابن قدامه – رحمه الله – ليکلي: "أَمَّا الذَّابِحُ فَيُعْتَبَرُ لَهُ شَرْطَانِ؛ دِينُهُ، وَهُوَ كَوْنُهُ مُسْلِمًا أَوْ كِتَابِيًّا، وَعَقْلُهُ، وَهُوَ أَنْ يَكُونَ ذَا عَقْلٍ يَعْرِفُ الذَّبْحَ لِيَقْصِدَ، فَإِنْ كَانَ لَا يَعْقِلُ، كَالطِّفْلِ الَّذِي لَا يُمَيِّزُ، وَالْمَجْنُونِ، وَالسَّكْرَانِ، لَمْ يَحِلَّ مَا ذبح ؛ لِأَنَّهُ لَا يَصِحُّ مِنْهُ الْقَصْدُ، فَأَشْبَهَ مَا لَوْ ضَرَبَ إنْسَانًا بِالسَّيْفِ فَقَطَعَ عُنُقَ شَاةٍ" ([4]) د ذبح کوونکي لپاره دوه شرطونه دي: لمړی دين يعني ذبحه کوونکی به مسلمان أو ياکتابي وي، أو دوهم شرط يې عقل دی يعني ذبحه کوونکی به د عقل څښتن وي چې په ذبح پوهيږي، أو که په ذبح باندې نه پوهيده، لکه غير مميز ماشوم، ليونی أو مست سړی، نو ذبح يې روا نده؛ ځکه دوي د قصد خاوندان ندي، نو د دوي ذبح داسې ده لکه يو څوک چې په توره د انسان سر وهي أو ناګاهانه د پسه سر پرې شي.

۵- الحطاب الرُّعيني المالکي [5] ليکلي: "يُشْتَرَطُ فِي الذَّبْحِ شَرْطَانِ: الْأولُ أَنْ يَكُونَ مُمَيِّزًا، فَلَا تَصِحُّ ذَكَاةُ غَيْرِ الْمُمَيِّزِ مِنْ صَبِيٍّ أَوْ مَجْنُونٍ أَوْ سَكْرَانَ قَالَ فِي التَّوْضِيحِ: لِافْتِقَارِ الذَّكَاةِ إلَى نِيَّةٍ بِإِجْمَاعٍ وَالنِّيَّةُ لَا تَصِحُّ

---

[1]- الزَّبِيدِيّ، أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي (المتوفى: 800هـ)، الجوهرة النيرة، المطبعة الخيرية، 2/ 180

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 141)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 45)

[4]- المغني لابن قدامة (9/ 395)

[5]- د الحطاب الرُّعيني المالکي لنډه پېژندنه: يحيى بن محمد بن محمد بن عبد الرحمن الحطاب، الرعينيّ الأصل، المكيّ المالكي (902 - 995 هـ ) دی، د لسمې هجري پېړۍ (۱۶مه ميلادي پېړۍ) له مشهورو مالکي فقيهانو څخه و. هغه په مصر او مکه کې زده کړې کړې او په مالکي فقه کې يې ځانګړې مهارت ترلاسه کړ. د هغه تر ټولو مشهور اثر "مواهب الجليل" دی، چې د مالکي فقه په اړه يوه تفصيلي شرحه ده او په اسلامي نړۍ کې د مالکي مذهب يو مهم مرجع ګڼل کيږي. (الأعلام للزركلي (8/ 169)

مِنْهُمْ، فَلَا تَصِحُّ ذَكَاتُهُمْ انْتَهَى." ([1]) په ذبح کې دوه شیان شرط دي: ذبح کوونکی به د تمیز څښتن وي، نو په همدې خاطر د غیر ممیز ماشوم، لیوني او نشه سړي ذبح نه صحیح کېږي ، د توضیح مصنف يې دلیل داسې ذکر کړی: ځکه چې ذبح په اجماع سره نیت ته اړتیا لري او دنوموړو کسانو نیت درست ندی، نو ذبح يې هم درسته نده.

او د شوافعو په نزد د ذبحې لپاره عقل شرط ندی، د شوافعو أقوال او دلایل په لاندې توګه دي:

۱- "وَأَمَّا الصَّبِيُّ الَّذِي لَا يُمَيِّزُ وَالْمَجْنُونُ وَالسَّكْرَانُ فَفِيهِمْ طَرِيقَانِ (أَحَدُهُمَا) الْقَطْعُ بِحِلِّ ذَبَائِحِهِمْ وبها قَطَعَ الشَّيْخُ أَبُو حَامِدٍ وَالْمُصَنِّفُ وَجُمْهُورُ الْعِرَاقِيِّينَ (وَالثَّانِي) فِيهِ قَوْلَانِ (أَصَحُّهُمَا) الْحِلُّ (وَالثَّانِي) التَّحْرِيمُ وَاخْتَارَهُإِمَامُ الْحَرَمَيْنِ وَالْغَزَالِيُّ وَغَيْرُهُمَا لِأَنَّهُ لَا قَصْدَ لَهُ" ([2]) هر چې د غیر ممیز ماشوم، لیوني او نشه سړي ذبح ده پدې اړه دوه نظرونه شتون لري: لمړی نظر دادی چې د دوي ذبح په مطلقه توګه روا ده او دا د أبوحامد، د مهذب مصنف او د عراقینو نظر دی، او دوهم نظر بیا په دوه شاخونو ویشل شوی: لمړی نظر دادی چې د دوي ذبح حلاله ده او دوهم نظر دادی چې د دوي ذبح حرامه ده او دا د امام الحرمین، غزالي او ځینو نورو نظر دي؛ ځکه غیر ممیز کوچنی، لیونی او نشه انسان د قصد خاوندان ندي چې د ذبحې لپاره شرط دي.

۲- همداډول یو بل شافعي عالم لیکلي: "ویحل أکل ما ذکاه الصبي سواء کان مراهقا أو غیر مراهق؛ لما روي عن جابر وابن عباس: أنهما قالا: (تؤکل ذبیحة الصبي) ، ولا مخالف لهما. وأما المجنون والسکران: فتکره ذکاتهما؛ لأنهما ربما أخطآ موضع الذکاة، فإن ذکیا.. حل أکل ذبیحتیهما؛ لأن القصد غیرمعتبر في الذکاة، کما لو قطع شیئا یظنه خشبة فکان حلق شاة، هذا هو المشهور. وقال القاضي أبو حامد: في ذبیحة الصبي والمجنون قولان، أظهرهما: أنها تحل" ([3]) د ماشوم ذبح حلاله ده برابره خبره ده که ماشوم مراهق وي او که غیر مراهق؛ ځکه ابن عباس او جابر – رضي الله عنهما- ویلي: د کوچني ذبیحه به خوړل کېږي یعني حلاله ده، او پدې خبره کې يې کوم صحابي مخالفت ندی کړی. او د لیوني او نشه سړي ذبیه مکروه ده؛ ځکه شاید د ذبحې ځای غلط کړي، لېکن که حیوان يې ذبح کړ خوړل يې روا دي؛ ځکه د ذبحې لپاره قصد شرط ندی، لکه یوڅوک چې د یو لرګي د پریکولو په نیت د حیوان مرئ پرې کړي خوړل يې روا دي او همدغه د شوافعو مشهور قول دی. او قاضي ابو حامد ویلي: د کوچني او لیوني د ذبیحې په اړه دوه قوله دي او صحیح قول د حلالوالي دی.

---

[1]- مواهب الجلیل في شرح مختصر خلیل (3/ 209)

[2]- المجموع شرح المهذب (9/ 76)

[3]- العمراني، أبو الحسین یحیی بن أبي الخیر بن سالم العمراني الیمني الشافعي (المتوفی: 558هـ)، البیان في مذهب الإمام الشافعي، المحقق: قاسم محمد النوري، المحقق: قاسم محمد النوري، دار المنهاج - جدة 4/ 528

## دوهم: هغه شرطونه چې د ذبحې د آلې اړوند دي:

**ألف:** د ذبحې آله به نوک أو غاښ نه وي، پدې أړه په حديث کې راغلي: عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا نَكُونُ فِي الْمَغَازِي، فَلَا يَكُونُ مَعَنَا مُدًى. فَقَالَ: مَا أَنْهَرَ الدَّمَ، وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ فَكُلْ، غَيْرَ السِّنِّ وَالظُّفْرِ، فَإِنَّ السِّنَّ عَظْمٌ، وَالظُّفْرَ مُدَى الْحَبَشَةِ"." ([1]) عبايه بن رفاعه د خپل نيکه رافع بن خديج – رضي الله عنه – څخه روايت کوي چې رافع ويلي:: مونږ د رسول الله – صلى الله عليه وسلم سره ؤ، نوما وويل: اى د الله رسوله! مونږ په غزواتو کې يو أو چاقو راسره نه وي، نو نبي کريم – صلى الله عليه وسلم- وويل: هر هغه آله چې وينه توي کړي أو په ښکار بسم الله وويل شي وخورئ، مګر داچې د ذبحې آله نوک أو غاښ وي (يعني پدې دوه شيانو سره ذبح صحيح نده)؛ ځکه غاښ هډوکى دى أو نوک د حبشيانو چاړه ده. [2]
لېکن په نوک أو غاښ د أحنافو په نزد په هغه وخت کې ذبح ناروا ده چې د انسان بدن څخه ويستل شوې نه وي؛ ځکه پدې صورت کې ذبح يواځې د نوک أو غاښ پريکولو په سبب منځته نه راځي بلکه (خنق) يا خفه کول هم ورسره ملګرى کېږي ، أو خفه شوى مړ حيوان خو د قرآن کريم په نص سره حرام دى، پدې أړه امام طحاوي يو حديث نقل کړى: "حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ شُعَيْبٍ قَالَ: ثنا الْخَصِيبُ بْنُ نَاصِحٍ، قَالَ: ثنا أَبُو الْأَشْعَثِ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيِّ، قَالَ: خَرَجْنَا حُجَّاجًا، فَصَادَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ أَرْنَبًا، فَذبحها بِظُفْرِهِ فَشَوَاهَا , فَأَكَلُوهَا، وَلَمْ آكُلْ مَعَهُمْ. فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ، سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَقَالَ: «لَعَلَّكَ أَكَلْتَ مَعَهُمْ؟» فَقُلْتُ: لَا، قَالَ: «أَصَبْتَ إِنَّمَا قَتَلَهَا خَنْقًا»" ([3]) ابو رجاء العطاردي ويلي: مونږ حج ته لاړو، نو د قوم يو سړي سوى ښکار کړ، په نوک يې ذبح کړ أو بيا يې وريت کړ أو ټولو وخوړلو لېکن ما ورسره ونه خوړلو، پس هرکله چې مديني منورې ته راغلو، ما پدې أړه د عبدالله بن عباس څخه پوښتنه وکړه، عبدالله بن عباس وويل: شايد تاهم ورسره وريت شوى سوى خوړلى وي؟ عطاردي وويل: نه، عبدالله بن عباس وويل: تاسو په حقه ياست؛ ځکه په نوک ذبح شوى حيوان په خفه کولو مړ شوى دى.

بيا وروسته امام طحاوي – رحمه الله - پدې حديث باندې د حنفي مذهب لپاره استدلال کوي چې په جلا شوې نوک أو غاښ ذبح صحيح ده أو که د بدن څخه نه وي جدا شوې ذبح ورباندې صحيح نده، يعني په نوک أو غاښ باندې د ذبحې ممانعت معلول بعلة دى يعني د اتصال په صورت کې د ذبحې په وخت

[1]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 5544، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب إِذَا نَدَّ بَعِيرٌ لِقَوْمٍ فَرَمَاهُ بَعْضُهُمْ بِسَهْمٍ فَقَتَلَهُ فَأَرَادَ إِصْلَاحَهُمْ... (7 /98) / سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3178، أَبْوَابُ الذَّبَائِحِ، بَابُ مَا يُذَكَّى بِهِ (4/ 347)

[2] - د دي حديث حکم د سنن ابن ماجه په روايت: صحيح حديث دى، پدي اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (4/ 347)

[3]- شرح معاني الآثار، د حديث شمېره: 6257، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَالْأَضَاحِيِّ، بَابُ الذَّبْحِ بِالسِّنِّ وَالظُّفْرِ (4/ 184)

کې د تېغ سره (خنق) ملګرى کېږي، نو ځکه ذبح ورسره صحيح نده: " أَفَلَا تَرَى أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا , قَدْ بَيَّنَ فِي حَدِيثِهِ، هَذَا الْمَعْنَى الَّذِي بِهِ حَرُمَ أَكْلُ مَا ذُبِحَ بِالظُّفْرِ، أَنَّهُ الْخَنْقُ، لِأَنَّ مَا ذُبِحَ بِهِ، فَإِنَّمَا ذُبِحَ بِكَفٍّ، لَا بِغَيْرِهَا فَهُوَ مَخْنُوقٌ. فَدَلَّ ذَلِكَ أَنَّ مَا نُهِيَ عَنْهُ مِنَ الذَّبْحِ بِالظُّفْرِ، هُوَ الظُّفْرُ الْمُرَكَّبُ فِي الْكَفِّ، لَا الظُّفْرُ الْمَنْزُوعُ. وَكَذَلِكَ مَا نُهِيَ عَنْهُ، مَعَ ذَلِكَ مِنَ الذَّبْحِ ، فَإِنَّمَا هُوَ عَلَى السِّنِّ الْمُرَكَّبَةِ فِي الْفَمِ ، لِأَنَّ ذَلِكَ يَكُونُ عَضًّا، فَأَمَّا السِّنُّ الْمَنْزُوعَةُ فَلَا. وَهَذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَأَبِي يُوسُفَ، وَمُحَمَّدٍ، رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِينَ" ([1]) ايا نه ګوري چې عبدالله بن عباس – رضي الله عنه- په نوک باندې د ذبح شوې ښکار د حراموالي علت بيان کړ، چې خفه کول دي؛ ځکه حيوان يواځې په ورغوي ذبح شوى، نو د دې څخه معلومېږي چې په هغه نوک ذبح ناروا ده چې بدن پورې نښتى وي نه هغه جدا شوى نوک، أو په غاښ د حراموالي علت دادى چې دا د انسان د بدن عضوه ده، أو عضوه په هغه وخت کې بلل کېږي چې د انسان په بدن کې وي أو کله چې جدا شي د بدن عضويت له لاسه ورکوي، أو همدغه د امام صاحب، ابويوسف أو محمد – رحمهم الله – مذهب دى.

لېکن د جمهورو په نزد په نوک أو غاښ باندې ذبح مطلقا روا نده برابره خبره ده که د بدن څخه جلا شوې وي أو که نه، پدې أړه امام نووي – رحمه الله – ليکلي: "أَمَّا الظُّفْرُ فَيَدْخُلُ فِيهِ ظُفْرُ الْآدَمِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ كُلِّ الْحَيَوَانَاتِ وَسَوَاءٌ المتصل والمنفصل الطاهر والنجس فكله لاتجوز الذَّكَاةُ بِهِ لِلْحَدِيثِ وَأَمَّا السِّنُّ فَيَدْخُلُ فِيهِ سِنُّ الْآدَمِيِّ وَغَيْرِهِ الطَّاهِرُ وَالنَّجِسُ وَالْمُتَّصِلُ وَالْمُنْفَصِلُ وَيَلْحَقُ بِهِ سَائِرُ الْعِظَامِ مِنْ كُلِّ الْحَيَوَانِ المتصل منها والمنفصل الطاهر والنجس فكله لاتجوز الذكاة" ([2]) هر چې نوک دى نو پدې کې د انسان أو هر بل غاښ د ټولو حيواناتو داخلېږي برابره خبره ده که بدن پورې نښتي وي أو يا جلا شوې وي، پاک وي أو که نجس، د حديث له أمله په ټولو باندې ذبح صحيح نده، أو هر چې غاښ دى نو پدې کې د انسان أو نورغاښونه شاملېږي، برابره خبره ده که پاک وي أو که نجس، متصل وي أو ياهم جدا شوى، أو د غاښ په حکم کې ټول هډوکي داخلېږي برابره خبره ده که بدن پورې متصل وي أو يا هم جلا شوې وي، پاک وي أو که نجس، پدې ټولو ذبح روا نده.

جمهورعلماء د رافع بن خديج په حديث باندې استدلال کوي چې مخکې ذکر شو.

**د:** دريم شرط دادى چې د ذبحې آله به تيره وي پداسې توګه چې په تېغ سره حيوان پرې يا څيرې کوي أو په ثقل يې نه وژني: د دې شرط په أساس هر هغه آله چې د مذبوح مرى په خپل تېغ سره پرې کوي د نوک أو غاښ څخه پرته په نورو ټولو شيانو باندې ذبح روا ده، پدې أړه امام کاساني – رحمه الله –

[1]- شرح معاني الآثار (4/ 184)

[2]- شرح النووي على مسلم (13/ 123)

ليکلي: "وَجُمْلَةُ الْكَلَامِ فِيهِ أَنَّ الْآلَةَ عَلَى ضَرْبَيْنِ: آلَةٌ تَقْطَعُ، وَآلَةٌ تَفْسَخُ. وَالَّتِي تَقْطَعُ نَوْعَانِ: حَادَّةٌ، وَكَلِيلَةٌ. أَمَّا الْحَادَّةُ فَيَجُوزُ الذَّبْحُ بِهَا حَدِيدًا كَانَتْ أَوْ غَيْرَ حَدِيدٍ" ([1]) او د ذبحې د آلې په اړه عمومي خبره داده چې آله په دوه ډوله ده: يوه هغه آله ده چې پرې کول کوي، او بله هغه آله ده چې بغير له پريکولو بدن جدا کوي، کومه آله چې پريکول کوي په دوه ډوله ده: يوه تيره آله او بله هم پڅه.

بيا وروسته ليکي: "أَمَّا الْحَادَّةُ فَيَجُوزُ الذَّبْحُ بِهَا حَدِيدًا كَانَتْ أَوْ غَيْرَ حَدِيدٍ" ([2]) په پرې کوونکي آلې باندې ذبح کول جايز دي برابره خبره ده که د أوسپني څخه جوړه شوې وي او يا هم کوم بل شی وي، او د دې خبرې لپاره دليل دا حديث دی: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَحَدَنَا إِذَا أَصَابَ صَيْدًا وَلَيْسَ مَعَهُ شَفْرَةٌ أَيُذَكِّي بِمَرْوَةٍ أو شُقَّةِ الْعَصَا؟ قَالَ: " أمررِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ " ([3]) عدي بن حاتم – رضي الله عنه- ويلي: ما رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ته وويل: کله که يو تن رمونږ څخه ښکار وکړو او چاقو را سره نه وي نو ايا د ډبرې په ټوټه او يا د امسا په ټوټه باندې يې ذبح کولی شو؟ رسول الله – صلى الله عليه وسلم- وويل: په هر څه دې چې خوښه وي وينه توی کړه او د الله تعالی نوم ورباندې ياد کړه. [4] د دې حديث څخه په ښکاره توګه معلوميږي چې په هر پرې کوونکي شي باندې ذبح روا ده، بغير د نوک او غاښ څخه؛ ځکه په هغوی باندې د ذبح کولو څخه په بل حديث کې منع راغلې چې أحنافو په متصل حمل کړی او جمهورو په مطلق نوک او غاښ، خوا که متصل وي او يا هم منفصل.

لېکن کومه آله چې پريکول کوي خو پڅه وي، پدغه ډول آله باندې ذبح کول د صحت ترڅنګ مکروه دي؛ ځکه دا دحيوان د اذيت لامل ګرځي، پدې اړه د الجوهرة النيرة مصنف ليکلي: "وَيُكْرَهُ الذَّبْحُ بِالسِّكِّينِ الْكَلِيلَةِ لِمَا فِيهِ مِنْ تَعْذِيبِ الْحَيَوَانِ" ([5]) او په پڅه چاړه باندې ذبح کول مکروه دي؛ ځکه پدې سره حيوان ته تکليف رسيږي.

او همداډول امام کاساني – رحمه الله- ليکلي: "وَأَمَّا الْكَلِيلَةُ فَإِنْ كَانَتْ تَقْطَعُ يَجُوزُ لِحُصُولِ مَعْنَى الذَّبْحِ لَكِنَّهُ يُكْرَهُ لِمَا فِيهِ مِنْ زِيَادَةِ إيلَامٍ لَا حَاجَةَ إلَيْهَا، وَلِهَذَا أمر رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِتَحْدِيدِ الشَّفْرَةِ

---

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 42)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 42)

[3]- السنن الكبرى للبيهقي، د حديث شميره: 19145، كِتَابُ الضَّحَايَا، بَابُ الذَّكَاةِ بِمَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَفَرَى الْأَوْدَاجَ وَالْمَذْبَحَ وَلَمْ يُثَرِّدْ، إِلَّا الظُّفُرَ وَالسِّنَّ، (9/ 472)، سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حديث شميره: 2824، كتاب الأضاحى، باب في الذبيحةِ بالمَروةِ 4 /446)

[4]- د دې حديث حکم: دا حديث د سماک بن حرب له امله حسن حديث دی؛ ځکه ساک بن حرب صدوق الحديث دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده حسن من أجل سماك بن حرب، فهو صدوق حسن الحديث (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 446)

[5]- الجوهرة النيرة على مختصر القدوري (2/ 183)

وَإِرَاحَةِ الذَّبِيحَةِ." ([1]) که په پڅ چاقو يا چړې سره پري کول ترسره کېږي، ذبح ورسره روا ده لېکن دا ډول ذبح مکروه ده؛ ځکه پدې سره حيوان ته د ضرورت پرته زيات درد رسيږي، نو په همدې خاطر چې حيوان ته زيات درد ونه رسيږي، رسول الله – صلی الله عليه وسلم- د چاقوپه تيره کولو أو په راحت سره د حيوان په ذبح کولو أمر کړی دی.

همداډول امام نووي – رحمه الله – ليکلي: "الْحَدِيثِ تَصْرِيحٌ بِجَوَازِ الذَّبْحِ بِكُلِّ مُحَدَّدٍ يَقْطَعُ إِلَّا الظُّفُرَ وَالسِّنَّ وَسَائِرَ الْعِظَامِ فَيَدْخُلُ فِي ذَلِكَ السَّيْفُ وَالسِّكِّينُ وَالسِّنَانُ وَالْحَجَرُ وَالْخَشَبُ وَالزُّجَاجُ وَالْقَصَبُ وَالْخَزَفُ وَالنُّحَاسُ وَسَائِرُ الْأَشْيَاءِ الْمُحَدَّدَةِ فَكُلُّهَا تَحْصُلُ بِهَا الذَّكَاةُ الاالسن وَالظُّفُرَ" ([2]) د رافع بن خديج – رضي الله عنه- حديث په ښکاره توګه بغير د نوک أو غاښ څخه په هر تېږ لرونکې آلې باندې د ذبح کولو په جواز باندې دلالت کوي، چې پدې کې توره، چاړه، غشی، ډبره، لرګی، شيشه، نی، د منګي ټوټه، سرپ أو نور ټول تېږ لرونکې شيان داخليږي، پدې ټولو شيانو باندې ذبح صحيح ده.

لېکن کومه آله چې تېږ نلري، ذبح ورباندې روا نده پدې أړه سمرقندي صاحب په تحفة الفقهاء کې ليکلي: "وَأما الْآلَة الَّتِي تفسخ فَهُوَ نَحْو الظفر الْقَائِم وَالسّن الْقَائِم إِذا ذبح بِهِ لَا يحل لِأَنَّهُ يعْتَمد على الْمَذْبُوح من وَجه فيختنق ويتفسخ" ([3]) أو هغه آله چې بدن بغير له پري کولو څخه لمنځه وړي، لکه بدن پورې نښتی نوک نو پدې سره ذبح صحيح نده؛ ځکه پدې صورت کې په مذبوح باندې د لاس فشار ورځي چې پدې سره حيوان خفه کېږي أو مرۍ يې جدا کېږي .

## درېيم: هغه شرطونه چې د مذبوحې يا ذبح کيدونکي حيوان اړوند دي

١- ذبح کيدونکی حيوان به حلال حيوان وي: پدې أړه بي شميره دلايل شتون لري چې په لمړي فصل کې د حرامو حيواناتو په مبحث کې تير شول، خو دلته صرف دا يو حديث د ذکرکولو وړ بولم: په حديث کې راغلي: عن أبي ثعلبةَ الخُشَني: "أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - نَهَى عَنْ أكْلِ كلِّ ذي نَابٍ من السِّبَاعِ" ([4]) د ابی ثعلبه الخشني – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- د هرداړو لرونکي حيوان د خوړلو څخه منع فرمايلي ده. [5]

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 42)

[2]- شرح النووي على مسلم (13/ 123)

[3]- السمرقندي، محمد بن أحمد بن أبي أحمد، أبو بكر علاء الدين السمرقندي (المتوفى: نحو 540هـ)، تحفة الفقهاء، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، 3/ 70

[4]- سنن أبي داود، د حديث شمېره: 3802، أول كتاب الأطعمة، باب النهي عن أكل السباع 5 / 620

[5] - د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدي اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5/ 620)

۲- په ذبح کیدونکي حیوان کې د ژوند شتون، نو مړ شوی حیوان په ذبحې سره نه حلالیږي: په حدیث شریف کې راغلي: "حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ شِهَابٍ، أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، أَخْبِورتنی أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أخبره: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِشَاةٍ مَيِّتَةٍ، فَقَالَ: «هَلَّا اسْتَمْتَعْتُمْ بِإِهَابِهَا؟»، قَالُوا: إِنَّهَا مَيِّتَةٌ، قَالَ: «إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا»" ([1]) ابن شهاب وايي، چې عبیدالله بن عبدالله ده ته خبر ورکړی چې عبدالله بن عباس – رضي الله عنهما- ده ته خبر ورکړی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- په یوه مردار شوې پسه تیر شولو، پس وویل: ولي مو د دې پسه له پوست څخه استفاده نه کوله؟ صحابؤ وویل: دا خو مردار دی، رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: د مردار شوې حلال حیوان خوړل ناروا دي (یعني پوست یې په ذبحې سره پاکیږي ترځو استفاده ورڅخه وشي). [2]

د دې حدیث څخه په ښکاره توګه څرګندیږي چې د مردار أو حرام حیوان غوښه په ذبحې سره نه حلالیږي.

۳- حیوان به د حرم ښکار نه وي، او دا شرط یواځي د اضطراري ذبحې پورې خاص دی، پدې اړه امام کاساني صاحب لیکلي: "(وَمِنْهَا) مَا يَخُصُّ الذَّكَاةَ الِاضْطِرَارِيَّةَ وَهُوَ أَنْ لَا يَكُونَ صَيْدَ الْحَرَمِ فَإِنْ كَانَ لَا يُؤْكَلُ وَيَكُونُ مَيْتَةً سَوَاءٌ كَانَ الْمُذَكِّي مُحْرِمًا أَوْ حَلَالًا؛ لِأَنَّ التَّعَرُّضَ لِصَيْدِ الْحَرَمِ بِالْقَتْلِ وَالدَّلَالَةِ وَالْإِشَارَةِ مُحَرَّمٌ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ} [العنكبوت: 67]" ([3]) أو د ذبحې ځینې شرطونه د اضطراري ذبحې پورې خاص دي، او هغه داچې ذبح شوی حیوان به د حرم شریف ښکار نه وي، أو که د حرم ښکار وه خوړل یې روا ندي؛ ځکه د حرم په ښکار باندې په قتل، بل ته په ښودلو أو اشاره کولو باندې تیری کول په کتاب الله سره حرام دي، الله تعالی فرمایي: ایا دوی نهویني چې مونږ حرم له امن څخه ډک ځای ګرځولی دي، پداسې حال کې چې د دوي شاوخوا خلک تښتول کېږي .

۴- د روح وتل به یواځې د ذبحې له أمله وي، پدې اړه په حدیث شریف کې راغلي: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "...وَإِنْ رَمَيْتَ الصَّيْدَ فَوَجَدْتَهُ بَعْدَ يَوْمٍ أو يَوْمَيْنِ لَيْسَ بِهِ

---

[1]- صحیح البخاري، د حدیث شمیره: 5531، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ ، بَاب جُلُودِ الْمَيْتَةِ (7/ 96)، مسند أحمد ت شاكر، د حدیث شمیره: 2369، من مسند بني هاشم، الباب: كلمة الأستاذ الشيخ محمدحامد الفقي رئيس 3 /79)

[2] - د دي حدیث حکم د مسند أحمد په روایت: صحیح حیث، پدي اړه أحمد محمد شاکر د مسند أحمد محقق لیکلي: إسناده صحيح (مسند أحمد ت شاكر (3/ 79)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 52)

إِلَّا أَثَرُ سَهْمِكَ فَكُلْ وَإِنْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ" ([1]) (نبي كريم – صلى الله عليه وسلم- عدي بن حاتم ته وويل): كله دي چې ښكار وويشتلو او بيا دي دوه يادري ورځې وروسته پداسي حال كې وموندلو چې ستا د غشي له اثر څخه د بل شي اثر وربانديې نه ليدل كيده، نو وخوره، او كه په اوبو كې غورځيدلى وه نو مې خوره.

د دې حديث څخه په ښكاره توګه معلوميږي چې كله د ذبحې سره بل سبب د حيوان په وژلو كې ملګرى شي حيوان حلال نه ګڼل ګيږي؛ ځكه احتمال شته چې د ذبحې څخه پرته هغه بل سبب د حيوان د روح په وتلو كې زيات رول لوبولى وي، چې پدې صورت كې حيوان د ذبجې څخه پرته مړ شو او دا ډول حيوان حرام وي.

۵- په ذبح كې د هغه اندامونو پرې كول چې پرې كول يې لازمي دي: د دې شرط تفصيل د ذبحې اصطلاحي تعريف په ترڅ كې په تفصيل سره ذكرشوى هلته دي مراجعه وشي.

## څلورم مطلب: د حلال حيوان حرام اعضا

د حلال حيوان اوه اندامونه حرام دي، پدې اړه كاساني – رحمه الله – ليكلي: "وَأَمَّا بَيَانُ مَا يَحْرُمُ أَكْلُهُ مِنْ أَجْزَاءِ الْحَيَوَانِ الْمَأْكُولِ فَالَّذِي يَحْرُمُ أَكْلُهُ مِنْهُ سَبْعَةٌ: الدَّمُ الْمَسْفُوحُ، وَالذَّكَرُ، وَالْأُنْثَيَانِ، وَالْقُبُلُ، وَالْغُدَّةُ، وَالْمَثَانَةُ، وَالْمَرَارَةُ لِقَوْلِهِ عَزَّ شَأْنُهُ {وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} [الأعراف: 157] وَهَذِهِ الْأَشْيَاءُ السَّبْعَةُ مِمَّا تَسْتَخْبِثُهُ الطِّبَاعُ السَّلِيمَةُ فَكَانَتْ مُحَرَّمَةً." ([2]) د حلال حيوان په بدن كې اوه شيان حرام دي: بهيدونكي وينه، مردانه تناسلي آله، خوټې، د مؤنث حيوان فرج، غده، مثانه او تريخى؛ ځكه داشيان په طبعي لحاظ سره خبيث دي او روغ طبعيت يې بد ګڼي، نو د دې آيت په أساس حرام دي: او الله تعالى د دوي لپاره پاک شيان حلال ګرځولي او خبيث شيان يې حرام ګرځولي دي.

د تښتيدلي حيوان لپاره اضطراري ذبح (زخمي كول) كفايت كوي، يعني كله چې په پريكونكي آلي سره وويشتل شي او د ويشتلو په وخت كې بسم الله وويل شي حيوان حلال ګڼل كېږي، لكه پدې اړه كاساني صاحب ليكلي: كله چې اوښ، غويه او يا پسه او سيرلى وتښتيږي، نو د هغې زخمي كول ذبح ګڼل ګيږي؛ ځكه په ذبح كې أصلي هدف د مرداري ويني لري كول دي، خو داچې حيوان سركش دى او په عادي حالت سره يې وينه نشي تويدلى نو په اضطراري ذبح باندې اكتفا كېږي او د عذر له كبله سبب (د ويني تويدل) د مسبب (ذبحې) قايمقام ګرځي. د اوښ او غوايي لپاره اضطراري ذبح صحيح ده، خوا كه په ښار او كلي كې وتښتيږي او يا هم په صحرا كې، لېكن د پسه او سيرلي لپاره اضطراري ذبح يوازي

---

[1]- صحيح البخاري، د حديث شميره: 5484، بَاب الصَّيْدِ إِذَا غَابَ عَنْهُ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ (7/ 87)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 61)

په هغه وخت کې صحیح ده چې په صحرا کې وتښتېږي. ([1]) أو هر حیوان چې اختیاري ذبح یې ناشوني وي، نو اضطراري ذبح ورته کفایت کوي، پدې شرط چې حیوان زخمي کړل شي أو د بل سبب له أمله یې د حیوان د مړ کیدو احتمال شتون ونلري، لکه پدې أړه کاساني صاحب لیکلي: "(وَأَمَّا) الِاضْطِرَارِيَّةُ فَرُكْنُهَا الْعَقْرُ وَهُوَ الْجَرْحُ فِي أَيِّ مَوْضِعٍ كَانَ وَذَلِكَ فِي الصَّيْدِ وَمَا هُوَ فِي مَعْنَى الصَّيْدِ وَإِنَّمَا كَانَ كَذَلِكَ؛ لِأَنَّ الذَّبْحَ إذَا لَمْ يَكُنْ مَقْدُورًا وَلَا بُدَّ مِنْ إخْرَاجِ الدَّمِ لِإِزَالَةِ الْمُحَرَّمِ وَتَطْيِيبِ اللَّحْمِ وَهُوَ الدَّمُ الْمَسْفُوحُ عَلَى مَا بَيَّنَّا فَيُقَامُ سَبَبُ الذَّبْحِ مَقَامَهُ وَهُوَ الْجَرْحُ عَلَى الْأَصْلِ الْمَعْهُودِ فِي الشَّرْعِ مِنْ إقَامَةِ السَّبَبِ مَقَامَ الْمُسَبِّبِ عِنْدَ الْعُذْرِ وَالضَّرُورَةِ كَمَا يُقَامُ السَّفَرُ مَقَامَ الْمَشَقَّةِ" ([2]) أو هرچې اضطراري ذبح ده، نو رکن یې د حیوان زخمي کول دي هغه که د بدن هره برخه وي، أو داخبره د ښکار أو کوم څه چې د ښکار په حکم کې وي (تښتیدلی أو سرکش حیوان) صدق کوي، أو دا پدې خاطر چې د حیوان څخه د مرداري وینې ویستل لازمي دي، خوکله چې حیوان د نیولو وړ نه وي، نو د ذبحې سبب یعني زخمي کول د ذبحې ځای ناستی کېږي؛ ځکه په شریعت کې قانون دادی چې د عذر أو ضرورت په وخت کې سبب د مسبب قایمقام کېږي ، لکه څنګه چې سفر د مشقت او سختۍ قایمقام دی.

[1] - وګورئ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 43)

[2] - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 43)

## دویم مبحث: میته (مردارشوی حیوان)

### لمړی مطلب: د (میتة) تعریف په لغت أو اصطلاح کې

**د (میتة)** لغوي معنی په أړه فیروز ابادي په القاموس المحیط کي لیکلي: "ماتَ يَمُوتُ فهو مَيْتٌ ومَيِّتٌ : ضِدُّ حَيٍّ" یعني میتة د میت مؤنث دی د مات یموت فهو میت څخه اخیستل شوی د ژوندي ضد دی، أو په اصطلاح کې: "والمَيْتَةُ: ما لم تَلْحَقْه الذَّكاةُ" ([1]) میتة عبارت د هغه (حیوان یا مرغه) څه ده چې ذبح شوی نه وي. أو د المعجم الوسیط مصنف میتة په اصطلاح کې داسې تعریف کړې: "( المیتة ) الحیوان الذي مات حتف أنفه أو علی هیئة غیر مشروعة" ([2]) میتة هغه حیوان دی چې پخپل مرګ أو یاهم په غیر شرعي توګه مړ شوی وي. أو امام نووي – رحمه الله – په تهذیب الأسماء واللغات کې لیکلي: "قال أهل اللغة والفقهاء: المیتة ما فارقته الروح بغیر زکاة وهی محرمة کلها إلا السمك والجراد فإنهما حلالان بإجماع المسلمین" ([3]) اهل لغت أو فقهاوو ویلي: میتة هغه حیوان أو یامرغه ته ویل کېږي چې بغیر له ذبحې څخه یې روح وتلی وي، أو پرته د ماهي أو ملخ څخه د میتې ټول ډولونه حرام دي؛ ځکه دا دوه میتې په اجماع سره حلالې دي.

### دوهم مطلب: د قرآن کریم په رڼا کې د مردار شوو حیواناتو ډولونه

په قرآن کریم کې پنځه قسمه میتې ذکر شوې دي، الله تعالی فرمایي: (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ) ([4])

ژباړه: پرتاسو حرام کړی شوې دي: مرداره، وینه، د خنزیر غوښه، هغه څاروی چې د الله تعالی دنوم پرته د بل چاپه نوم ذبح شوی وي، هغه چې په ستوني خفه کیدو، په ټکول کیدو، دلوړ ځای څخه راغورځیدو أو یا هم هغه چې بل حیوان په ښکر وهلي وي أو یا هغه چې درنده حیوان داړلي وي، مګر داچې تاسي یادشوي حیوانات ژوندي موندلي وي أو حلال کړي وي.

پدې آیت کې د میتو پنځه ډولونه ذکر شوې چې امام قرطبي – رحمه الله – یې تفسیر په لاندې توګه کړی دی:

---

[1]- الفیروزآباي، دمجد الدین أبو طاهر محمد بن یعقوب الفیروزآبادی (المتوفی: 817هـ)، القاموس المحیط، مکتب تحقیق التراث في مؤسسة الرسالة، ط۸، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت – لبنان، 1/ 161

[2]- إبراهیم مصطفی ـ أحمد الزیات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، المعجم الوسیط، تحقیق / مجمع اللغة العربیة، دار الدعوة، 891/2

[3]- النووي، أبو زکریا محیي الدین یحیی بن شرف النووي (المتوفی: 676هـ)، تهذیب الأسماء واللغات، دار الکتب العلمیة، بیروت – لبنان، 4/ 146

[4]- المائدة، 3

١- "(وَالْمُنْخَنِقَةُ) هِيَ الَّتِي تَمُوتُ خَنْقًا، وَهُوَ حَبْسُ النَّفَسِ سَوَاءٌ فَعَلَ بِهَا ذَلِكَ آدَمِيٌّ أَوِ اتَّفَقَ لَهَا ذَلِكَ فِي حَبْلٍ أَوْ بَيْنَ عُودَيْنِ أَوْ نَحْوُهُ." منخنقه هغه حيوان دى چې په خفه كيدو مړ شي، برابره خبره ده كه انسان يې خفه كړى، په رسۍ، د دوه لرګيو ترمنځ أو يا هم په كومه بله طريقه خفه شي.

٢- "(وَالْمَوْقُوذَةُ) الْمَوْقُوذَةُ هِيَ الَّتِي تُرْمَى أَوْ تُضْرَبُ بِحَجَرٍ أو عَصًا حَتَّى تَمُوتَ مِنْ غَيْرِ تَذْكِيَةٍ" هغه حيوان ته ويل كيږي چې په ډبره أو ياهم امسا باندې وويشتل شي أو بغير د ذبحې څخه مړ شى، (يعني چې په غير تېغ لرونكي شي باندې وويشتل شي چې پريكول نه كوي، بلكه حيوان د ټكولو أو كوبلو له أمله وژني).

٣- "(وَالْمُتَرَدِّيَةُ) الْمُتَرَدِّيَةُ هِيَ الَّتِي تَتَرَدَّى مِنَ الْعُلُوِّ إِلَى السُّفْلِ فَتَمُوتُ، كَانَ ذَلِكَ مِنْ جَبَلٍ أو فِي بِئْرٍ وَنَحْوِهِ" هغه حيوان ته ويل كيږي چې د لوړ ځاى څخه كښته وغورځيږي أو مړ شي، لكه د غره څخه كښته غورځيدل، په كوهي كې غورځيدل أو داسې نور.

۴- "(وَالنَّطِيحَةُ) النَّطِيحَةُ فَعِيلَةٌ بِمَعْنَى مَفْعُولَةٌ، وَهِيَ الشَّاةُ تَنْطَحُهَا أُخْرَى أَوْ غَيْرُ ذَلِكَ فَتَمُوتُ قَبْلَ أَنْ تُذَكَّى" هغه حيوان ته ويل كيږي چې بل حيوان يې په ښكر أووهي أو مخكې لدې څخه چې ذبح شي مړ شي.

۵- "(وَما أَكَلَ السَّبُعُ) يُرِيدُ كُلَّ مَا افْتَرَسَهُ ذُو نَابٍ وَأَظْفَارٍ مِنَ الْحَيَوَانِ، كَالْأَسَدِ وَالنَّمِرِ وَالثَّعْلَبِ وَالذِّئْبِ وَالضَّبْعِ وَنَحْوِهَا" ([1]) أو هغه حيوان چې درنده څيرونكى حيوان يې وخوري، لكه زمرى، پړانګ، ګيدړه، ليوه، كوګ أو داسې نور.

يادشوي حيوانات په هغه صورت كې حرام دي چې د ذبحې څخه مخكې مړه شي، أو كه ژوندي وموندل شي أو ذبح شي، نو پدې صورت كې حرام نه ګڼل كيږي ، لكه الله تعالى وروسته په آيت كې فرمايي: (إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ) مګر داچې يادشوي پنځه ډوله حيوانات حلال كړئ. امام قرطبي – رحمه الله - د آيت د دې برخې په تفسير كې ليكلي: "(إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ) نُصِبَ عَلَى الِاسْتِثْنَاءِ الْمُتَّصِلِ، عِنْدَ الْجُمْهُورِ مِنَ الْعلماء وَالْفُقَهَاءِ. وَهُوَ رَاجِعٌ عَلَى كُلِّ مَا أُدْرِكَ ذَكَاتُهُ مِنَ الْمَذْكُورَاتِ وَفِيهِ حَيَاةٌ." ([2]) د آيت دا برخه د استثنا له أمله په محل د نصب كې ده، أو د جمهورو په نزد دلته استثنا متصله ده، چې ټولو يادوشويو پنځه ډوله حيواناتو ته راجع كيږي، يعني چې كله ژوندي وموندل شي أو ذبح شي حلال ګڼل كيږي .

## دريیم مطلب: د مردار شوې حيوان د غوښې د حراموالي حكمت

مردار شوى حيوان پدې خاطر الله تعالى حرام ګرځولى چې د بدن څخه يې حرامه وينه نه وي وتلي أو د غوښې سره ګډه شوې وي، نو دا ډول غوښې خوړل د انسان صحت ته زيان رسوي أو نفس ته ضرر

[1]- تفسير القرطبي (6/ 48-49)

[2]- تفسير القرطبي (6/ 50)

رسول حرام دي؛ ځکه د نفس ساتنه یو د شرعي ضروریاتو څخه ده، پدې اړه دکتور وهبة الزحيلي ليکلي: "والحكمة من الذبح: مراعاة صحة الإنسان العامة، ودفع الضرر عن الجسم، بفصل الدم عن اللحم وتطهيره من الدم؛ لأن تناول الدم المسفوح حرام بسبب إضراره بالإنسان، لأنه مباءة الجراثيم والمكروبات، ولكل دم زمرة أو فصيلة تناسبه، فيمنع الاختلاط بين الدماء، ويعد الدم نجساً تنفيراً منه. قال بعض العلماء: والحكمة في اشتراط الذبح وإنهار الدم تمييز حلال اللحم والشحم من حرامهما، وتنبيه على تحريم الميتة لبقاء دمها." ([1]) د ذبحې حکمت د حرامې وینې په لرې کولو سره د انسان د صحت خیال ساتل او بدن څخه د ضرر دفعه کول دي؛ ځکه بهیدونکي وینه پدې خاطر حرامه ده چې انسان ته ضرر رسوي؛ ځکه وینه د مکروبونو او جراثیمو ځای دی، او هره وینه خپل یو خاصیت او ګروپ لري، نو د مختلفو وینو یوځای کیدل ممنوع ګرځول شوي دي، او بل داچې وینه پدې خاطر نجسه ګڼل شوې چې طبیعت ورڅخه نفرت کوي، او ځینو نورو علماوو د ذبحې د حکمت په اړه ویلي: حیوان څخه د وینې په تیولو سره حلاله غوښه او وازده د حرامې څخه جلا کیږي، او پدې کې د دې خبرې اګاهي ده چې میته د وینې د پاتې کیدو له أمله حرامه ګرځولې شوې ده.

## څلورم مطلب: د حیوان په ذبحې سره د جنین د ذبحې په اړه د علماوو اختلاف

د دې مسئلې په اړه علماء اختلاف د نظر لري چې خلاصه یې په لاندې توګه ذکر کیږي:

۱- د امام ابوحنیفه، زفر، ابراهیم او بن عیینه – رحمهم الله – قول دادی چې د مور په ذبحې سره د حیوان بچی حلال نه ګرځي پدې شرط چې مړ را ووېستل شي او که ژوندی وه، د تولو په نزد به ذبح کیږي.

د دوی د استدلال په اړه امام کاساني – رحمه الله - لیکلي: "وَلِأَبِي حَنِيفَةَ قَوْله تَعَالَى {حرمت عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ} [المائدة: 3] وَالْجَنِينُ مَيْتَةٌ؛ لِأَنَّهُ لَا حَيَاةَ فِيهِ وَالْمَيْتَةُ مَا لَا حَيَاةَ فِيهِ فَيَدْخُلُ تَحْتَ النَّصِّ" ([2]) امام ابوحنیفه – رحمه الله – پدې آیت باندې استدلال کړی چې الله تعالی فرمایي: حرام کړل شوې پرتاسو باندې مرداره او وینه، او جنین هم میته ده؛ ځکه ژوند پکښې نشته او میته دیته وایي چې ژوند پکې نه وي، نو جنین پدې آیت کې داخلیږي.

همداډول امام سرخسي – رحمه الله – د دوي د استدلال په اړه لیکلي: "وَأَبُو حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ - اسْتَدَلَّ بِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَالْمُنْخَنِقَةُ} [المائدة: 3] فَإِنَّ أَحْسَنَ أَحْوَالِهِ أَنْ يَكُونَ حَيًّا عِنْدَ ذَبْحِ الْأُمِّ فَيَمُوتُ بِاحْتِبَاسِ نَفَسِهِ، وَهَذَا هُوَ الْمُنْخَنِقَةُ «. وَقَالَ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - لِعَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - إذَا وَقَعَتْ رَمِيَّتُكَ فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّك لَا تَدْرِي أَنَّ الْمَاءَ قَتَلَهُ أَمْ سَهْمُك» فَقَدْ حَرَمَ الْأَكْلُ عِنْدَ وُقُوعِ الشَّكِّ فِي سَبَبِ زَهُوقِ

---

[1]- الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 293)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 42)

الْحَيَاةِ، وَذَلِكَ مَوْجُودٌ فِي الْجَنِينِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَنَّهُ مَاتَ بِذَبْحِ الْأُمِّ، أَوْ بِاحْتِبَاسِ نَفَسِهِ" ([1]) امام ابوحنيفه د الله تعالی پدې قول باندې استدلال کړی چې الله تعالی فرمايي: أو هغه حيوان حرام دی چې په خفه کيدو باندې مړ شوی وي؛ ځکه د جنين تر ټولو ښه حالت دا وي چې په رحم کې ژوندی وی، نو د مور د ذبحې په وخت کې د نفس تنګی له أمله مړکيږي أو همدغه د خفه کيدو معنا ده، أو همداډول نبي كريم – صلى الله عليه وسلم- عدي بن حاتم ته وويل: که ښکار دې په أوبو کې وغورځيده نو مې خوره؛ ځکه ته نه پوهيږې چې ايا نوموړی ښکار أوبو وژلی أو که د ستا غشي، نو دې حديث ښکار د شک له أمله حرام وګرځولو أو همدغه شک په جنين کې هم شتون لري؛ ځکه پته نه لګيږي چې جنين د مور د ذبحې له کبله مړ شوی أو که د نفس تنګی له أمله.

۲- د امام شافعي، أحمد بن حنبل، ابويوسف أو محمد – رحمهم الله – قول دادی چې د مور په ذبحې سره بچی هم حلال ګرځي، خو د امام شافعي أو ابويوسف په نزد مطلقا حلال ګرځي برابره خبره ده که خلقت يې پوره شوی وي أو که نه، لېکن د امام محمد – رحمه الله – په نزد په هغه وخت کې حلال ګڼل کيږي چې د بچي خلقت پوره شوی وي، د دې قولونو په أړه امام سرخسي – رحمه الله – ليکلي: "قَالَ (وَمَنْ ذَبَحَ شَاةً، أو غَيْرَهَا فَخَرَجَ مِنْ بَطْنِهَا جَنِينٌ مَيِّتٌ لَمْ يُؤْكَلْ الْجَنِينُ) فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَزُفَرَ وَهُوَ قَوْلُ إبْرَاهِيمَ وَحَكَمِ بْنِ عُيَيْنَةَ - رَحِمَهُمُ اللَّهُ -. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَالشَّافِعِيُّ - رَحِمَهُمُ اللَّهُ - يُؤْكَلُ. إلَّا أَنَّهُ رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ - أَنَّهُ قَالَ إنَّمَا يُؤْكَلُ الْجَنِينُ إذَا أَشْعَرَ وَتَمَّتْ خِلْقَتُهُ. فَأَمَّا قَبْلَ ذَلِكَ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُضْغَةِ فَلَا يُؤْكَلُ" ([2]) څوک چې پسه أو يا کوم بل حلال حيوان ذبح کړي أو د نس څخه يې بچی را وزي، نو د بچي خوړل يې د امام ابوحنيفه أو زفر په نزد روا ندي أو دا د ابراهيم أو حکيم بن عيينه – رحمهم الله- قول دی، أو د امام شافعي، ابويوسف أو محمد – رحمهم الله- په نزد يې خوړل روا دي، لېکن دومره خبره ده چې د امام محمد – رحمه الله – په نزد به په هغه وخت کې خوړل کيږي چې خلقت يې پوره شوی وي أو مخکې د خلقت د پوره کيدو څخه يې خوړل روا ندي؛ ځکه پدې صورت کې بچی د ژول شوې غوښې په شان وي.

د شوافعو أو حنابلو دليل دا حديث دی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: {ذَكَاةُ الجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ.} هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ،

[1]- المبسوط للسرخسي (12/ 6)

[2]- المبسوط للسرخسي (12/ 6)

وَأَحْمَدَ" ([1]) د ابو سعید – رضي الله عنه- څخه روایت دی چې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- وویل: د جنین ذبح د مور ذبح ده، یعني د مور ذبح په خیټه کې د حیوان د بچې د حلالوالي لپاره کفایت کوي.
امام ترمذي – رحمه الله - وایي: دا حدیث حسن دی او په نورو طریقو هم د ابوسعید – رضی الله عنه – څخه روایت شوی، او په همدې حدیث باندې صحابؤ او نورو عمل کړی، او همدا د سفیان الثوري، ابن مبارک، شافعي، او أحمد – رحمهم الله – قول دی. [2]

۳- د امام مالک – رحمه الله – په نزد د مور په ذبحې سره بچی په هغه وخت کې حلال ګرځي چې خلقت یې پوره شوی وي او ویښتان یې شنه کړي وي، پدې اړه ابوبکر الجصاص – رحمه الله - لیکلي: "وقال مالك إن تم خلقه ونبت شعره أكل وإلا فلا وهو قول سعيد بن المسيب وقال الأوزاعي إذا تم خلقه فذكاة أمه ذكاته" ([3]) امام مالک – رحمه الله – ویلي: که د جنین خلقت پوره شوی وه او ویښتان یې شنه کړي وه خوړل یې روا دي، او که داسې نه وه نو خوړل یې روا ندي، او دا د سعید بن مسیب قول دی، او أوزاعي ویلي: چې خلقت یې پوره شي (که څه هم ویښته یې نه وي شنه کړي) خوړل یې روا دي.

همداډول د إرشاد السالك مصنف لیکلي: "ذَكَاةُ أُمِّهِ بِشَرْطِ تَمَامِ خَلْقِهِ وَنَبَاتِ شَعْرِهِ وَعَدَمِ انْفِصَالِهِ حَيّاً" ([4]) د جنین ذبح د مور ذبح ده پدې شرط چې خلقت یې پوره شوی وي، ویښته یې شنه کړي وي او د مور څخه ژوندی نه وي جدا شوی.

پدې مسئله کې د علماوو ترمنځ د اختلاف سبب د نصوصو په فهم کې اختلاف دی، شوافعو او حنابلؤ د ترمذي حدیث په خپل اطلاق حمل کړی، لېکن أحنافو او مالکیانو د نورو دلایلو په أساس په ځینو شرطونو مقید کړی چې مخکې ذکر شول.

## پنځم مطلب: د ژوندي حیوان څخه د پرې شوې غوښې حکم

د ژوندي حیوان څخه پریکړل شوې غوښه په اتفاق سره حرامه ده؛ څکه په حدیث کې راغلي: عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المَدِينَةَ وَهُمْ يَجُبُّونَ أَسْنِمَةَ الإِبِلِ، وَيَقْطَعُونَ أَلْيَاتِ الغَنَمِ، فَقَالَ: «مَا قُطِعَ مِنَ البَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ»" ([5]) د ابو واقد اللیثي – رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي: نبي کریم – صلی لله علیه وسلم- مدیني منورې ته پداسې حال راغی چې د مدیني خلکو د أوښانو

[1]- سنن الترمذي ت بشار ، د حدیث شمېره: 1476، كتاب الزكاة، أَبْوَابُ الأَطْعِمَةِ، بَابُ مَا جَاءَ فِي ذَكَاةِ الجَنِينِ (3/ 124)

[2] - د دې حدیث حکم: دا حدیث حسن، پدې اړه امام ترمذي – رحمه الله لیکلي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ (سنن الترمذي ت بشار (3/ 124)

[3]- أحكام القرآن للجصاص (1/ 137)

[4]- شهاب الدين، عبد الرحمن بن محمد بن عسكر البغدادي، أبو زيد أو أبو محمد، شهاب الدين المالكي (المتوفى: 732هـ)، إِرْشَادُ السَّالِكِ إلِىَ أَشْرَفِ المَسَالِكِ فِي فقهِ الإمَامِ مَالِك، ط3، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، مصر، 1/ 56

[5]- سنن الترمذي ت شاكر، د حدیث شمېره: 1480، أَبْوَابُ الْأَطْعِمَةِ، بَابُ مَا قُطِعَ مِنَ الحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ (4/ 74)

بوقانونه أو د پسونو لمونه پریکول، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: کوم څه چې د ژوندي حیوان څخه جدا کړل شي مرداره ګڼل کیږي أو خوړل یې روا ندي. [1]

أو امام سرخسي – رحمه الله – په المبسوط کې لیکلي: "(وَإِنْ رَمَى صَيْدًا بِسَيْفٍ فَأَبَانَ مِنْهُ عُضْوًا وَمَاتَ أَكَلَ الصَّيْدَ كُلَّهُ إلَّا مَا بَانَ عَنْهُ) لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ -: «مَا أُبِينَ مِنْ الْحَيِّ فَهُوَ مَيِّتٌ» وَمُرَادُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَحْرِيمُ مَا كَانُوا يَعْتَادُونَهُ فِي الْجَاهلية، فَإِنَّهُمْ كَانُوا يَقْطَعُونَ بَعْضَ لَحْمِ الْأَلْيَةِ مِنْ الشَّاةِ وَرُبَّمَا لَا يَقْطَعُونَ بَعْضَ لَحْمِ الْعَجُزِ مِنْهَا فَيَأْكُلُونَهُ فَحَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَلِكَ؛ لِأَنَّ فِعْلَ الذَّكَاةِ لَا يَتَحَقَّقُ فِي الْمُبَانِ مَقْصُودًا، وَأَصْلُ الشَّاةِ حَيَّةٌ، وَبِدُونِ الذَّكَاةِ لَا يَثْبُتُ الْحِلُّ" ([2]) أو که ښکاري په خپله توره ښکار وویشتلو أو د ښکار څخه یو اندام جدا شو أو ښکار مړ شو، نو پدې صورت کې به ټول ښکار پرته د جدا شوي اندام څخه خوري؛ ځکه رسول الله – صلی الله علیه وسلم – ویلي: هغه غوښه چې د ژوندي (حیوان أو یامرغه) څخه جدا شي مړه بلل کیږي . أو د رسول الله – صلی الله علیه وسلم – هدف د هغه غوښو حرامول وه چې د جاهلیت په زمانه کې یې مشرکینو عادت درلوده؛ ځکه مشرکینو به د ژوندي پسه د لم څخه یوه برخه پریکوله أو بیابه یې خوړله، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم – دا کار حرام وګرځولو؛ ځکه په نوموړې جدا کړل شوې غوښه کې مقصودي ذبح منځته نه راځي پداسې حال کې چې أصل پسه لا تر أوسه پورې ژوندی دی، أو بغیر له ذبحې څخه د حلال حیوان غوښې خوړل روا ندي.

أو امام الحرمين د شافعي مذهب علماوو څخه لیکلي: "ولو أبان عضواً، فبقي الصّيد حيّاً، وذُبح لَمَّا قُدر عليه، فالعضو المبان بالضربة الأولى محرم؛ فإنّه أبين من حيٍّ، وما أبين من الحيّ، فهو ميّت، وقد تبين أن الإبانة لم تكن ذبحاً، ويستحيل فرض جُرح لا يكون ذبحاً للأصل، ويكون ذبحاً للعضو." ([3]) أو که د ښکار څخه یو اندام جدا شو، أو ښکار ژوندی وه أو بیا کله چې ګیر کړل شو ذبح شو، نو کوم اندام چې په لمړي ویشتلو سره جدا شوی حرام ګڼل کیږي ؛ ځکه هغه د ژوندي مرغه أو یا حیوان څخه جدا شوی، أو داسې عضوه مړه بلل کیږي، أو دا خبره مخکې څرګنده شوه چې د اندام جدا کیدل د ژوندي حیوان أو یا مرغه څخه ذبح نه ګڼل کیږي، أو دا خبره ناشوني ده چې یو شی دي د أصل حیوان لپاره ذبح ونه ګڼل شي چې هغه دي د یو اندام لپاره ذبح وګڼل شي.

---

[1] - د دي حديث حکم: امام ترمذي د دي حديث په اړه ويلي چې حسن غريب حديث دي، " حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ" (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 74)

[2] - المبسوط للسرخسي (11/ 253-254)

[3]- الجويني، عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين (المتوفى: 478هـ)، نهاية المطلب في دراية المذهب، حققه وصنع فهارسه: أ. د/ عبد العظيم محمود الدّيب، دار المنهاج (18/ 125)

أو شنقيطي حنبلي ليکلي: "بخلاف ما لو قطعنا يد البهيمة، أو رجلها فإنها بالإجماع نجسة كميتتها." ([1]) په خلاف د دې چې مونږ د حيوان لاس أو يا پښه پريکړو؛ ځکه دا اندامونه په اجماع سره د حيوان د مردار لاش په شان نجس دي.

## درېیم مبحث: ښکار (صيد)

### لمړی مطلب: د ښکار تعریف، حکم أو د مشروعیت دلایل

په مجلة الأحكام کې (صيد) داسې تعریف شوی: "الصَّيْدُ هُوَ الْحَيَوَانُ الْبَرِّيُّ الْمُتَوَحِّشُ أَيْ الَّذِي يَخَافُ وَيَنْذَعِرُ مِنْ الْإِنْسَانِ." ([2]) صيد هغه د وچې وحشي حيوان ته ويل کېږي چې د انسان څخه ويرېږي أو تيښته کوي.

ښکار کول د خاصو شرايطو په چوکاټ کې د ګڼو دلايلو په أساس مباح کار دي، دکتور وهبة الزحيلي د ښکار د مشروعيت دلايل په لاندې توګه ذکر کړي دي:

١- الله تعالى په خپل کتاب کې فرمايي: (وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا) ([3])

ژباړه: أو کله چې د احرام څخه حلال شوئ، نو تاسو ښکار وکړئ.

امام قرطبي – رحمه الله- د دې آيت په تفسير کې ليکلي: "(وَإِذا حَلَلْتُمْ فَاصْطادُوا) أمر إِبَاحَةٍ- بِإِجْمَاعِ النَّاسِ" ([4]) پدې ځای کې أمر د علماوو په اجماع سره د إباحت لپاره دي نه د وجوب لپاره.

همداډول په بل ځای کې الله تعالى فرمايي: (أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ) ([5])

ژباړه: ستاسو لپاره د سمندر ښکار أو خواړه حلال کړل شوي دي، هرچيري چې تاسو تميرېږئ، همالته يې هم خوراک درته روا دی أو د کاروان لپاره يې د لاري توښه هم کولای شئ، أو پرتاسو باندې د وچې ښکار تر هغه پورې حرام دی تر څو چې د احرام په حالت کې ياست، أو د هغه الله تعالى د نافرمانۍ څخه ووريږئ چې تاسو به د هغه حضور ته ورټول کړل شئ.

دا آيت هم په ښکاره توګه د ښکار په جواز باندې دلالت کوي.

---

[1] - شرح زاد المستقنع للشنقيطي - كتاب الطهارة (ص: 254)

[2]- لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، مجلة الأحكام العدلية، المحقق: نجيب هواويني، نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي، ص 247

[3]- المائدة: 2

[4]- تفسير القرطبي (6/ 44)

[5]- المائدة: 96

امام سرخسي – رحمه الله – هم د ښکار د إباحت لپاره یادشوې دوه آیتونه ذکر کړي. ([1])

٢- په حدیث شریف کې راغلي: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ...وَإِنْ رَمَيْتَ الصَّيْدَ فَوَجَدْتَهُ بَعْدَ يَوْمٍ أو يَوْمَيْنِ لَيْسَ بِهِ إِلَّا أَثَرُ سَهْمِكَ فَكُلْ وَإِنْ وَقَعَ فِي الْمَاءِ فَلَا تَأْكُلْ" ([2]) د عدي بن حاتم – رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم- ویلي: کله دي چې ښکار وویشتلو او بیا دي دوه یادري ورځې وروسته پداسې حال کې وموندلو چې ستا د غشي له اثر څخه د بل شي اثر وربانديې نه لیدل کیده، نو وخوره، او که په اوبو کې غورځیدلی وه نو مې خوره.

همداډول  په بل حدیث کې راغلي: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: إِنَّا قَوْمٌ نَصِيدُ بِهَذِهِ الْكِلَابِ، فَقَالَ: «إِذَا أَرْسَلْتَ كِلَابَكَ الْمُعَلَّمَةَ، وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا، فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ، وَإِنْ قَتَلْنَ، إِلَّا أَنْ يَأْكُلَ الْكَلْبُ، فَإِنْ أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ، فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَكُونَ إِنَّمَا أَمْسَكَ عَلَى نَفْسِهِ، وَإِنْ خَالَطَهَا كِلَابٌ مِنْ غَيْرِهَا، فَلَا تَأْكُلْ»" ([3]) عدي بن حاتم – رضي الله عنه- ویلي: ما د رسول الله – صلی الله علیه وسلم- څخه پوښتنه وکړه او ومې ویل: مونږ داسې یو قوم یو چې پدې سپیو باندې ښکار کوو، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: کله دي چې تعلیم یافته سپی ښکار پسې خوشې کړ او د الله تعالی نوم دي وربانديې یاد کړ، نو کوم ښکار چې ستاسو لپاره ونیسي وخوره  ولو که وژلی یې هم وي، لېکن که سپي پخپله خوراک ورڅخه وکړ نو بیایې مه خوره؛ ځکه د دې ویره شته چې د ځان لپاره به یې نیولی وي، او همداډول  که نور سپي ورسره په ښکار کولو کې مل شول، نو ښکار یې مه خوره. دا حدیث د ښکار په إباحت باندې ښکاره دلیل دی؛ ځکه نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- نه یوازې دا چې د عدي بن حاتم- رضي الله عنه- د ښکار کولو په عمل باندې رد ونه کړ، بلکه د ښکار احکام یې ورته بیان کړل. ([4])

٣- د ښکار إباحت په اجماع سره هم ثابت دی، یعني ټول أمت د ښکار په إباحت باندې قایل دی، پدې أړه ماوردي – رحمه الله – لیکلي: "وَالْأَصْلُ فِي إِبَاحَةِ الصَّيْدِ الْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ وَإِجْمَاعُ الْأُمَّةِ." ([5]) د ښکار إباحت په کتاب الله، سنت رسول او د أمت په اجماع سره ثابت دی.

---

[1]- المبسوط للسرخسي (11/ 220)

[2]- صحیح البخاري، د حدیث شمېره: 5484، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب الصَّيْدِ إِذَا غَابَ عَنْهُ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً (7/ 87)

[3]- صحیح مسلم، دحدیث شمېره: 1929، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ، بَابُ الصَّيْدِ بِالْكِلَابِ الْمُعَلَّمَةِ (3/ 1529)

[4]- وګورئ، الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 335-336)

[5]- الحاوی الکبیر ـ الماوردی (15/ 4)

## دوهم مطلب: د ښکار د إباحت شرطونه

### ألف: د ښکارکوونکي شرطونه:

د ښکار د إباحت لپاره د ښکار کوونکي شرطونه د أحنافو په نزد پنځه دي:

١- ښکاري به مسلمان أو ياهم اهل کتاب وي. دا شرط د علماوو په نزد اتفاقي دی، أو دلايل يې هو بهو د ذبح کوونکي د شرطونو دي چې مخکې د ذبحې په بحث کې تير شول.

٢- که ښکار کوونکی تعليم يافته حيوان يا مرغه وه، نو د ښکار د إباحت شرط يې دادی چې بل غير تعليم يافته ښکار کوونکی حيوان أو يامرغه به ورسره په ښکارکولو کې نه وي شريک شوی. دا هم اتفاقي شرط دی، أو د دې شرط دليل د عدي بن حاتم دا حديث دی: " **عَن عَدِيِّ بنِ حَاتِمٍ، قَالَ: قُلتُ :**يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نُرسِلُ كِلَابًا لَنَا مُعَلَّمَةً؟ **قَالَ" :**كُلْ مَا أَمسَكنَ عَلَيكَ "**.قُلتُ :**يَا رَسُولَ اللهِ، وَإِن قَتَلنَ؟ **قَالَ" :**وَإِن قَتَلنَ، مَا لَم يُشرِكهَا كَلبٌ غَيرُهَا..." ([1]) د عدي بن حاتم څخه روايت دی وايې: ما رسول الله – صلی الله عليه وسلم- ته وويل: مونږ. خپل تعليم يافته سپي ښکار پسي خوشي کوو (نو ايا کوم ښکار چې نيسي وخورو؟) رسول الله – صلی الله عليه وسلم- وويل: کوم چې ستا لپاره نيسي خوره يې، عدي وايې ما وويل: اګر که مړيې کړي؟ رسول الله – صلی الله عليه وسلم- وويل: ولو که قتل يې کړي تر څو بل سپی ورسره په دي کار کې شريک شوی نه وي. [2]

د بل سپي د شريکيدو په صورت کې ښکار ځکه حرام ګرځي چې ښکارکوونکی ښکار پسي د ښکاري سپي د خوشي کولو په وخت کې يواځې په خپل سپي باندې بسم الله وايې نه په نورو سپيو باندې، پدې أړه امام سرخسي – رحمه الله – يادشوی حديث ذکر کړی أو بيايې ليکلي: "«وَإِنْ شَارَكَ كَلْبَكَ كَلْبٌ آخَرُ، فَلَا تَأْكُلْ فَأَنْتَ إنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ، وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى كَلْبِ غَيْرِكَ» فَعَلَّلَ لِلْحُرْمَةِ بِأَنَّهُ لَمْ يُسَمِّ عَلَى كَلْبِ غَيْرِهِ فَهُوَ دَلِيلُ الْحُرْمَةِ إذَا لَمْ يُسَمِّ عَلَى كَلْبِ نَفْسِهِ" ([3]) رسول الله – صلی الله عليه وسلم- عدي بن حاتم ته وويل: که په ښکار کولو کې ستا سپي سره بل سپی شريک شولو، نو مي خوره؛ ځکه تا په خپل سپي باندې بسم الله ويلي ده أو په بل سپي باندې دي بسم الله نده ويلي. پدې حديث کې د يو چا د ښکاري سپي سره د بل سپي د شريکېدلو په صورت کې د ښکار شوې حيوان أو يا مرغه د حراموالي علت دا بيان شوی چې په بل

---

[1]- سنن الترمذي ت شاکر، د حديث شمېره: 1465، أَبْوَابُ الصَّيْدِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَابُ مَا جَاءَ مَا يُؤْكَلُ مِنْ صَيْدِ الكَلْبِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ (4/ 65)

[2]- د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدي امام ترمذي – رحمه الله ليکلي: حديث حسن صحيح (سنن الترمذي (4/ 65)

[3]- المبسوط للسرخسي (11/ 237)

سپي باندې بسم نده ویل شوې، نو په قصدي ډول د بسم الله پرېښودل د حراموالي دلیل دی، أو که په خپل سپي یې هم بسم الله قصدا پرېښودله نو ښکار شوی حیوان أو یا مرغه حرام ګرځي.

۳- ښکاري حیوان أو یا مرغه به د ښکار په نیت د ښکار پسې خوشي شوی وي، أو که د ښکار په نیت نوي خوشی شوی نو ښکار یې مباح ندی؛ ځکه په ښکار کې ارسال (استول) د ذبحې ځای نیسي أو د ذبحې لپاره قصد مهم دی ولو که اضطراري ذبح هم وي. دا هم اتفاقي شرط دی، أو د دې شرط دلیل د عدي بن حاتم دا حدیث دی: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ فَقَتَلَ فَكُلْ وَإِذَا أَكَلَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَى نَفْسِهِ قُلْتُ أُرْسِلُ كَلْبِي فَأَجِدُ مَعَهُ كَلْبًا آخَرَ قَالَ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلَى كَلْبٍ آخَرَ" ([1]) عدي بن حاتم – رضي الله عنه – ویلي: ما رسول الله – صلی الله علیه وسلم – څخه پوښتنه وکړه، رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: کله دي چې تعلیم یافته سپی د ښکار پسې خوشي کړ أو ښکار یې ووژلو، نو وخوره، أو که سپي خوراک ورڅخه وکړ، نو مې خوره؛ ځکه سپي د ځان لپاره نیولی دی، ما وویل: زه د خپل سپی ښکار پسې خوشي کوم أو نور سپي ورسره مومم، نو نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – وویل: دا ډول ښکار مه خوره؛ ځکه تا پخپل سپي باندې بسم الله ویلي أو په نورو سپیو دې بسم الله ندي ویلي.

پدې أړه امام سرخسي – رحمه الله – لیکلي: "(وَالثَّالِثُ) الْإِرْسَالُ ثَبَتَ ذَلِكَ فِي السُّنَّةِ، وَهُوَ «قَوْلُهُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِعَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ: وَإِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ فَكُلْ، وَإِنْ شَارَكَ كَلْبُكَ كَلْبَ آخَرَ فَلَا تَأْكُلْ». فَلَمَّا حَرُمَ التَّنَاوُلُ عِنْدَ عَدَمِ الْإِرْسَالِ فِي أَحَدِ الْكَلْبَيْنِ دَلَّ أَنَّ الْإِرْسَالَ فِي ذَلِكَ شَرْطٌ، وَلِأَنَّ التَّذْكِيَةَ إنَّمَا تَكُونُ مُوجِبًا لِلْحِلِّ إذَا حَصَلَ مِنْ الْآدَمِيِّ، فَلَا بُدَّ مِنْ جَعْلِ آلَةِ الصَّيْدِ نَائِبًا عَنْ الْآدَمِيِّ لِيَحْصُلَ الْحِلُّ بِفِعْلِهِ، وَذَلِكَ لَا يَكُونُ إلَّا بِالْإِرْسَالِ، وَاشْتِرَاطِ كَوْنِهِ مُعلماء لِتَحَقُّقِ الْإِرْسَالِ فِيهِ." ([2]) أو درېیم شرط دادی چې تعلیم یافته ښکاري حیوان أو یا مرغه به د ښکار کوونکي لخوا ښکار پسې استول شوی وي، أو دا شرط په حدیث سره ثابت دی، أو هغه عدي بن حاتم ته د رسول الله – صلی الله علیه وسلم- دا قول دی: أو کله دي چې تعلیم یافته سپی ښکار پسې خوشي کړلو أو بسم الله دي ورباندې وویله نو وخوره، أو که بل سپی ورسره شریک شو نو مې خوره.

۴- د ښکار په وخت کې په قصدي ډول د بسم الله نه پرېښودل. دا شرط اختلافي دی أو په أړه یې د علماوو أقوال أو دلایل د ذبحې په بحث کې په تفصیل سره تیر شوې دي.

---

[1]- صحيح البخاري، د حديث شمېره: 175، كِتَاب الْوُضُوءِ، بَاب الْمَاءِ الَّذِي يُغْسَلُ بِهِ شَعَرُ الْإِنْسَانِ... (1/ 56)

[2]- المبسوط للسرخسي (11/ 221--222)

۵- د ښکار کوونکي انسان أو د ښکاري حیوان یا مرغه د ښکار په منځ کې به کوم بل کار نه وي حایل شوی؛ ځکه أصل دادی چې ښکارکوونکی به د حیوان په واسطه ښکار شوی شی تعقیبوي تر څو که یې ژوندی ومومي ذبح یې کړي، أو که مخکې د رسیدو څخه مړ شو اضطراري ذبح ورته کفایت کوي. ([1])

د نومړو شرطونو په أړه امام سرخسي – رحمه الله لیکلي: (وَالرَّابِعُ) التَّسْمِيَةُ. لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ} [المائدة: 4] وَمُطْلَقُ الْأمر مُفِيدٌ لِلْوُجُوبِ، وَلَا يَجِبُ التَّسْمِيَةُ عِنْدَ الْأَكْلِ، فَعَرَفْنَا أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ عِنْدَ الْإِرْسَالِ. (وَالسَّابِعُ) أَنْ لَا يَتَوَارَى عَنْ بَصَرِهِ أو لَا يَقْعُدَ عَنْ طَلَبِهِ حَتَّى يَجِدَهُ؛ لِأَنَّهُ إذَا غَابَ عَنْ بَصَرِهِ، فَلَا يَدْرِي لَعَلَّ مَوْتَهُ كَانَ بِسَبَبٍ آخَرَ سِوَى جُرْحِ مَا أَرْسَلَهُ" ([2]) أو څلورم شرط په ښکاري حیوان باندې د بسم الله ویل دي؛ ځکه الله تعالی فرمایي: أو خورئ هغه شی چې ښکاري حیوان أو مرغه ستاسو لپاره نیولي وي، أو د الله تعالی نوم ورباندې یاد کړئ، أو مطلق أمر د وجوب لپاره دی، أو د خوراک په وخت کې د بسم الله ویل واجب ندي نو معلومه شوه چې ښکار پسې د ښکاري حیوان أو یا مرغه د استولو په وخت کې د بسم الله ویل واجب دي، أو أووم شرط دادی چې ښکاري حیوان أو یا مرغه به د سترګو څخه نه وي پناه شوی، أو ښکار کوونکی شخص به د ښکار شوې شي د لټون څخه نه وي صرف نظر شوی؛ ځکه کله چې ښکاري حیوان أو یا مرغه د سترګو څخه غایب شي أو یا ښکاري شخص د لټون څخه کښیني نو إمکان شته چې ښکار دي د زخمي کولو څخه پرته په بل سبب باندې مړ شوی وي.

## ب: د ښکار د آلې شرطونه:

۱- په کوم شي چې ښکار کېږي، ښکارکوونکی داړونکی حیوان أو یا پنجالو لرونکی مرغه به تعلیم یافته وي، پدې أړه د قرآن أو سنت څخه دلایل په لاندې توګه دي:

**ألف:** پدې أړه الله تعالی فرمایي: (يَسْأَلُونَكَ مَاذَا أُحِلَّ لَهُمْ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللَّهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ) ([3]) ژباړه: أو کوم ښکاري ځناور چې تاسو اموخته کړی وي، هغو ته مو د خدای درکړي علم په أساس د ښکار تعلیم ورکړی وي، هغه چې کوم ښکار ستاسو لپاره ونیسي، د هغه خوراک هم تاسو ته روا دی،

---

[1]- وګورئ: الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 339-340)

[2]- المبسوط للسرخسي (11/ 222)

[3]- المائدة: 4

البته پر ښکارکوونکي ځناور حیوان یا مرغه باندې د الله تعالی نوم واخلئ او د الله تعالی څخه ویریږئ، یقینا چې الله تعالی تیز حساب کوونکی دی.

او د ځناور حیوان د تعلیم یافته کیدو نښې په اړه کاساني صاحب لیکلي: "أَمَّا تَعْلِيمُ الْكَلْبِ فَهُوَ أَنَّهُ إذَا أُرْسِلَ اتَّبَعَ الصَّيْدَ وَإِذَا أَخَذَهُ أَمْسَكَهُ عَلَى صَاحِبِهِ وَلَا يَأْكُلُ مِنْهُ شَيْئًا وَهَذَا قَوْلُ عَامَّةِ الْعلماء." ([1]) د سپي (او هرښکارکوونکي ځناور حیوان) د تعلیم یافته کیدو نښه داده چې کله یې د ښکار پسې خوشې کړي، ښکار تعقیب کړي او د څښتن لپاره یې ونیسي او خپله ورڅخه هېڅ خوراک ونکړي، او همدغه د جمهورو علماوو قول دی.

او د ښکارکوونکي پنجالو لرونکي مرغه د تعلیم یافته کیدو په اړه لیکي: "وَأَمَّا تَعْلِيمُ ذِي الْمِخْلَبِ كَالْبَازِي أو نَحْوِهِ فَهُوَ أَنْ يُجِيبَ صَاحِبَهُ إذَا دَعَاهُ وَلَا يُشْتَرَطُ فِيهِ الْإِمْسَاكُ عَلَى صَاحِبِهِ حَتَّى لَوْ أَخَذَ الصَّيْدَ فَأَكَلَ مِنْهُ فَلَا بَأْسَ بِأَكْلِ صَيْدِهِ بِخِلَافِ الْكَلْبِ وَنَحْوِهِ" ([2]) او هر چې د پنجه لرونکي مرغه تعلیم دی نو هغه داسې دی چې کله یې څښتن را وبولي اجابت یې وکړي، او د څښتن لپاره یې نیول شرط ندي، تر دې که ښکار یې وکړ او خپله یې یوڅه ورڅخه وخوړلو نو ښکار کې یې څه باک نشته، په خلاف دسپي او ورته نور ښکارې ځناور، یعني که دوي د ښکار شوې حیوان څخه خوراک وکړ نو څښتن ته یې خوراک روا ندی.

**ب:** د دې شرط لپاره د سنتو څخه دلیل دا حدیث دی: عَن عَدِيِّ بنِ حَاتِمٍ، قَالَ: قُلتُ :يَا رَسُولَ اللهِ، إنَّا نُرسِلُ كِلَابًا لَنَا مُعَلَّمَةً؟ **قَالَ"** :كُلْ مَا أَمسَكنَ عَلَيكَ "**.قُلتُ** :يَا رَسُولَ اللهِ، وَإن قَتَلنَ؟ **قَالَ"** :وَإن قَتَلنَ، مَا لَم يُشرِكهَا كَلبٌ غَيرُهَا..**."** ([3]) د عدي بن حاتم څخه روایت دی وایي: ما رسول الله ته وویل: مونږ خپل تعلیم یافته سپي ښکار پسې خوشې کوو (نو ایا کوم ښکار چې نیسي وخورو؟) رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: کوم چې ستا لپاره نیسي خوره یې، عدي وایي ما وویل: اګر که مړیې کړي؟ رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: ولو که قتل یې کړي تر څو بل سپی ورسره په دې کار کې شریک شوی نه وي. پدې حدیث کې هم د (معلمة) لفظ ذکر شوی چې د ځناور حیوان د ښکار د حلالوالي لپاره تعلیم شرط ګرځوي. [4]

د دې شرط په اړه امام سرخسي – رحمه الله لیکلي: "(أَحَدُهَا) أَنْ يَكُونَ مَا يَصْطَادُ بِهِ مُعلماء. (وَالثَّانِي) أَنْ يَكُونَ جَارِحًا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {وَمَا عَلَّمْتُمْ مِنْ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمْ اللَّهُ} [المائدة: 4] وَفِي

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 52)

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 54)

[3]- سنن الترمذي ت شاكر، د حديث شمېره: 1465، أَبْوَابُ الصَّيْدِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَابُ مَا جَاءَ مَا يُؤْكَلُ مِنْ صَيْدِ الكَلْبِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ (4/ 65)

[4]- د دې حدیث حکم: صحيح حديث دی، پدې اړه امام ترمذي – رحمه الله – لیکلي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ (سنن الترمذي ت شاكر (4/ 65)

مَعْنَى الْجَوَارِحِ قَوْلَانِ: (أَحَدُهُمَا) أَنْ يَكُونَ جَارِحًا حَقِيقَةً بِنَابِهِ وَمِخْلَبِهِ، (وَالثَّانِي) الْكَوَاسِبُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ} [الأنعام: 60] أَيْ كَسَبْتُمْ، وَيُمْكِنُ حَمْلُهُ عَلَيْهَا فَنَقُولُ: الشَّرْطُ أَنْ يَكُونَ مِنْ الْكَوَاسِبِ الَّتِي تَخْرُجُ." ([1]) د ښکاري حیوان یو شرط دادی چې تعلیم یافته به وي، أو بل شرط يې دادی چې زخمي کوونکی به وي، پدې أړه الله تعالی فرمايي: أو کوم ښکاري حیوان چې تاسو اموخته کړی وي، هغو ته مو د خدای درکړي علم په أساس د ښکار تعلیم ورکړی وي (هغه چې کوم شی ستاسي لپاره ونیسي د هغه خوراک تاسو ته روا دی). أو د (جوارح) د معنی په أړه دوه قوله دي: یو قول دادی چې د جارح څخه په داړو أو پنجه باندې حقیقي زخمي کوونکی ښکاري حیوان أو مرغه مراد دی، أو دوهم قول دادی چې د (جوارح) څخه مراد (کواسب) دی یعني د ښکار پلټونکي وي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: أو الله تعالی په هغه څه باندې پوهيږي چې تاسو يې کسب کوئ، نو پدې معنی باندې هم د (جوارح) حمل کول ممکن دي، نو د دې معنی په أساس ویلی شو چې د ښکاري حیوان شرط دادی چې د کواسبو له جملې څخه به وي.

۲- دوهم شرط دادی چې تعلیم یافته ځناور به نجس العین نه وي، أو که نجس العین و نو ښکار يې په هیڅ صورت کې حلال ندی، پدې أړه کاساني صاحب لیکلي: "أَنْ لَا يَكُونَ ذُو النَّابِ الَّذِي يَصْطَادُ بِهِ مِنْ الْجَوَارِحِ مُحَرَّمَ الْعَيْنِ فَإِنْ كَانَ مُحَرَّمَ الْعَيْنِ وَهُوَ الْخِنْزِيرُ فَلَا يُؤْكَلُ صَيْدُهُ؛ لِأَنَّ مُحَرَّمَ الْعَيْنِ مُحَرَّمُ الِانْتِفَاعِ بِهِ، وَالِاصْطِيَادُ بِهِ انْتِفَاعٌ بِهِ فَكَانَ حَرَامًا فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْحِلُّ." ([2]) ښکاري حیوان په واسطه ښکار شوی حیوان په هغه وخت کې حلال دی، چې نجس العین نه وي، أو که نجس العین وه لکه خنزیر نو ښکار خوړل يې درست ندي؛ ځکه محرم العین څخه استفاده حرامه ده أو د ښکار لپاره يې استعمالول هم استفاده ده؛ نو کوم ښکار چې له دې لارې لاس ته راځي حرام بلل کېږي .

۳- دریيم شرط يې دادی چې بل داسي ځناور به په ښکار کولو کې ورسره نه وي ملګری شوی چې ښکار يې روا ندی، لکه غیر تعلیم یافته أو یاهم ذاتي حرام، لکه خنزیر.

۴- ښکاري تعلیم یافته حیوان یا مرغه به ښکار شوی شی په زخمي کولو وژني أو که په خفه کولو يې قتل کړ، نو پدې صورت کې يې خوړل روا ندي.

## ج: د ښکار کیدونکي مرغه یا حیوان شرطونه:

۱- ښکار کیدونکی حیوان أو یا مرغه به حلال وي.

۲- ښکار کیدونکی حیوان أو یامرغه به وحشي وي أو أهلي به نه وي.

---

1- المبسوط للسرخسي (11/ 221)

2- بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع (5/ 58)

۳- د زخمي کیدو له أمله به مړ شوی وي، د ویري، غورځیدو أو یا کوم بل سبب له أمله به نه وي مړ شوی.

۴- که د ویشتلو أو یا هم د حیوان یا مرغه په واسطه ښکار شوی شی ژوندی ومومندل شو، ذبح کول یې شرط دي، لېکن که مړ شوی و، نو اضطراري ذبح یې کفایت کوي.

۵- د ښکار شوې شي په أړه به دا شک شتون نلري چې ایا د آلي له کبله مړ شوی أو که د کوم بل سبب له کبله. که داسې شک شتون درلوده نو د داسې ښکار شوې شي خوراک روا ندی. ([1])

## دریېم مطلب: په افغانستان أو(په نوروسیمو) کې په مختلفو وسایلو د ښکار شوو حیواناتو أو مرغانو د غوښو احکام

عموما په افغانستان کې ښکار په دري طریقو سره کېږي، أو که د نړۍ په هرځای کې په ورته طریقو سره ښکار وشي نو حکم یې هماغه شان دی چې په بحث کې د افغانستان په أړه ذکر شوی دی. د ښکار دري طریقې په لاندې توګه دي:

### ۱- د حیوان أو یا مرغه په واسطه:

د حیوان أو یاهم د مرغه په واسطه ښکار په هغه وخت کې روا دی چې د ښکاري حیوان أو یا مرغه شرطونه پکښې موجود وي چې مخکې د ښکار په آلو کې په تفصیل سره ذکر شوې دي.

### ۲- د دامونو په واسطه:

د ښکار د بیلابیلو شرطونو په رڼا کې ویلی شو چې په دام سره ښکار شوېو مرغانو أو یا هم حیواناتو غوښې په هغه صورت کې حلالې دي چې د مرګ څخه مخکې ومومندل شي أو ذبح شي، لېکن که په دام کې د ذبحې څخه مخکې مړه شوې وي، نو خوړل یې روا ندي؛ ځکه د ښکار شوې شي د إباحت لپاره یو شرط دادی چې د ښکار آله به پرې کوونکې وي أو دام پرې کوونکې آله نده.

### ۳- د ټوپک أو یا هم د ویشتلو په نورو آلو سره:

پدې أړه مخکې د ذبحې أو ښکار په شرایطو کې تیر شول کومه آله چې حیوان أو مرغه په خپل تېغ سره پریکوي أو د وژلو لامل یې ګرځي، پداسې آلې سره ښکار أو ذبح روا ده أو د دغه شان ښکارشوې شي غوښه حلاله ده، لېکن کوم آلات چې ښکار په خپل تېغ سره نه پریکوي بلکه د باردو أو یا د لاس په قوت سره په ډبري أو یا کوم بل څیز سره د ویشتلو له أمله په ټکولو سره ښکار شوی شی مړ کېږي، نو د دغه شان ښکار خوړل روا ندي، أو پدې أړه أصل دا حدیث دی: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

[1]- وګورئ: الفقه الإسلامي وأدلته (4/ 355-356)

قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ قَالَ كُلْ مَا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ قُلْتُ وَإِنْ قَتَلْنَ قَالَ وَإِنْ قَتَلْنَ قُلْتُ وَإِنَّا نَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ قَالَ كُلْ مَا خَزَقَ وَمَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَلَا تَأْكُلْ" ([1]) د عدي بن حاتم څخه روایت دی وایي چې ما رسول الله – صلی الله علیه وسلم- ته وویل: ای د الله رسوله! مونږ ښکار پسي خپل تعلیم یافته سپي خوشي کوو (نو ایا ښکار یې وخورو؟) رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: کوم ښکار چې ستا لپاره نیسي خوره یې ولو که مړ کړی یې هم وي، ما وویل: مونږ په پلن غشي باندي ښکار ولو (نو دا ډول ښکار حلال دی؟) رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وویل: که غشي ښکار پریکړی وه وخوره، أو که په اړخ لګیدلی وه مي خوره، (ځکه دا د موقذة یعني ټکول شوې حیوان حکم لري چې په صریح قرآني نص سره حرام دی). په قوس کې چې کوم علت ذکر شوی په ځینو روایاتو کې دا علت په صراحت سره ذکر شوی، لکه د ابو داود پدې روایت کې: "قال عديٌّ بن حاتم: سألتُ النبيَّ -صلَّى الله عليه وسلم- عن المِعْرَاض، فقال: "إذا أصابَ بحَدِّه فكُلْ، وإذا أصابَ بعَرْضِه فلا تأكُلْ، فإنه وَقِيذٌ" ([2]) عدي بن حاتم وایي ما درسول الله – صلی الله علیه وسلم- څخه د معراض سره د ښکار کولو په اړه پوښتنه وکړه، نو رسول الله – صلی الله علیه وسلم- وویل: که ښکار د غشي په تیرې برخې لګیدلی وه وخوره، أو که په اړخ لګیدلی وه مي خوره؛ ځکه دا د ټکول شوې حیوان حکم لري، یعني هغه حیوان چې په ټکولو سره مړ شوی وي. [3]

(المِعْرَاض) امام نووي –رحمه الله د معراض په شرحه کې داسې لیکلي:" الْمِعْرَاضُ بِكَسْرِ الْمِيمِ وَبِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَهِيَ خَشَبَةٌ ثَقِيلَةٌ أَوْ عَصًا فِي طَرَفِهَا حَدِيدَةٌ وَقَدْ تَكُونُ بِغَيْرِ حَدِيدَةٍ هَذَا هُوَ الصَّحِيحُ فِي تَفْسِيرِهِ وَقَالَ الْهَرَوِيُّ هُوَ سَهْمٌ لَا رِيشَ فِيهِ وَلَا نَصْلَ" ([4]) معراض د میم په زیر سره درووند لرګې أو یا هم امسا ته ویل کیږي چې په څوکه کې یې أوسپنه وي أو کله بغیر د أوسپني څخه هم وي أو همدغه د معراض صحیح معنا ده، أو هروي ویلي: معراض د هغه غشي څخه عبارت دی چې پرې أو تیره څوکه نلري.

د دې حدیث په أساس هر هغه آله چې په تېغ سره پریکول نه کوي بلکه ښکار د خپل ثقل په زور ټوټه کوي أو یایې وژني روا نه بلل کیږي، نو له همدې کبله په بادي أو یا هم دانفر ټوپکانو چې ساچمې خوري أو د باردو په زور ښکار ټوټه کوي أو یا هم غولکه چې وړه ډبره پکښې اینسودل کیږي أو ښکار ورسره ویشتل کیږي، پدغه ډول وسایلو پدې شرط ښکار کول روا ندي چې ساچمي یې تیرې نه وي؛

---

[1]- صحيح البخاري، د حدیث شمیره: 5477، كِتَاب الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ، بَاب مَا أَصَابَ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ (7/ 68)

[2]- سنن أبي داود ت الأرنؤوط، د حدیث شمیره: 2854، كتاب الصّيد، باب في الصيد (4/ 476)

[3]- د دې حدیث حکم: صحیح حدیث دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحيح (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (4/ 476)

[4]- شرح النووي على مسلم (13/ 75)

ځکه پدې صورت کې ښکار په تېږغ سره نه پرې کېږي، بلکه ټکول کېږي  أو يا د فشار له أمله ټوټه کېږي چې د موقوذې په حکم کې شاملېږي.
د دې مسئلې په أړه د علماوو أقوال په لاندې ډول وړاندې کېږي:
۱- شاه انور شاه کشميري – رحمه الله – په فيض الباري کې ليکلي: "قوله: (سَأَلْتُ النبيَّ صلى الله عليه وسلّم عن المِعْرَاض) واعلم أن صيدَ البندقية حلالٌ عند المالكية، خلافًا للآخرين، لأن رصاصَ البندقية لا تَجْرَحُ، ولكنه يَجْرَحُ من شِدَّة الضرب، فيكون كالوَقِيذِ." ([1]) د عدي بن حاتم – رضي الله عنه – دا قول چې ما د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- څخه د معراض په أړه پوښتنه وکړه، د حديث د دې برخې لپاره د نبي کريم – صلى الله عليه وسله- جواب پدې دلالت کوي چې د امام مالک – رحمه الله – په نزد  په ټوپک سره ښکار جايز دی، لېکن د جمهورو په نزد په ټوپک سره ښکار جايز ندی؛ ځکه د ټوپک مرمی په خپل تېږغ سره ښکار نه زخمي کوي، بلکه د ويشتلو د زور له أمله ښکار ټوټه کوي، نو دا ډول ښکار د ټکول شوې حيوان په شان دی چې د قرآن کريم په صريح نص سره حرام بلل شوی دی.
۲- ملا علي قاري – رحمه الله - په مرقات شرح د مشکات کې ليکلي: "قَالَ النَّوَوِيُّ: الْوَقِيذُ وَالْمَوْقُوذُ هُوَ الَّذِي يُقْتَلُ بِغَيْرِ مُحَدَّدٍ مِنْ عَصًا، أو حَجَرٍ، أو غَيْرِهِمَا، وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّهُ إِذَا اصْطَادَ بِالْمِعْرَاضِ فَقَتَلَ الصَّيْدَ بِحَدِّهِ حَلَّ، وَإِنْ قَتَلَهُ بِعَرْضِهِ لَمْ يَحِلَّ. وَقَالُوا: لَا يَحِلُّ مَا قَتَلَهُ بِالْبُنْدُقَةِ مُطْلَقًا لِحَدِيثِ الْمِعْرَاضِ. وَقَالَ مَكْحُولٌ وَالْأَوْزَاعِيُّ وَغَيْرُهُمَا مِنْ فُقَهَاءِ الشَّامِ: يَحِلُّ مَا قُتِلَ بِالْمِعْرَاضِ وَالْبُنْدُقَةِ." ([2]) امام نووي – رحمه الله ويلي: وقيذ أو موقوذ هغه حيوان يا مرغه ته ويل کېږي چې بغير له تيره شي باندې وژل شوی وي، لکه امسا، ډبره أو داسې نور. علماوو پدې باندې متفق دي چې که يو ښکاري په معراض سره ښکار وکړي، نو که ښکار په تېږغ سره ولګيده حلال دی، لېکن که د معراض په اړخ سره ولګيده حلال نه ګڼل کېږي، أو علماوو ويلي: کوم ښکار چې په ټوپک سره ترسره شي په مطلقه توګه  د معراض د حديث له کبله حرام دی، أو مکحول، أوزاعي أو د شام ځينو نورو فقهاوو ويلي: کوم ښکار چې په ټوپک أو ياهم معراض سره ووژل شي حلال ګڼل کېږي.
۳- امام نووي – رحمه الله – د مسلم په شرحه کې ليکلي: "وَمَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَمَالِكٍ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَحْمَدَ وَالْجَمَاهِيرِ أَنَّهُ إِذَا اصْطَادَ بِالْمِعْرَاضِ فَقَتَلَ الصَّيْدَ بِحَدِّهِ حَلَّ وَإِنْ قَتَلَهُ بِعَرْضِهِ لَمْ يَحِلَّ لِهَذَا الْحَدِيثِ وَقَالَ مَكْحُولٌ وَالْأَوْزَاعِيُّ وَغَيْرُهُمَا مِنْ فُقَهَاءِ الشَّامِ يَحِلُّ مُطْلَقًا وَكَذَا قَالَ هؤلاء وبن أبى ليلى أنه يحل ما قتله بالبندقية وَحُكِيَ أَيْضًا عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ وَقَالَ الجماهير لا يحل صيد البندقية مُطْلَقًا لِحَدِيثِ الْمِعْرَاضِ

[1]- الكشميري، محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي ثم الديوبندي (المتوفى: 1353هـ)، فيض الباري على صحيح البخاري (3/ 395)
[2]- مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (6/ 2644)

لِأَنَّهُ كُلَّهُ رَضٌّ وَوَقْذٌ وَهُوَ مَعْنَى الرِّوَايَةِ الْأُخْرَى فَإِنَّهُ وَقِيذٌ أَيْ مَقْتُولٌ بِغَيْرِ مُحَدَّدٍ" ([1]) د امام شافعي، مالک، ابوحنيفه، أحمد أو جمهورو علماوو قول دادی چې کله په معراض باندې ښکار وکړل شي، نو که په تېغ سره يې ښکار مړ کړ حلال بلل کېږي، أو که په عرض يعني اړخ يې ووژلو د معراض د حديث له کبله حلال نه ګڼل ګيږي، مکحول، أوزاعي أو د شام فقهاوو په نزد په معراض سره ښکار شوی حيوان أو مرغه په مطلقه توګه حلال دی. جمهورو علماوو ويلي: په ټوپک سره ښکار په مطلقه توګه د معراض د حديث له أمله روا ندی؛ ځکه ټوپک ښکار په ټکولو وژني چې د بل روايت مطابق وقيذ يعني ټکول شوی حيوان بلل کېږي .

۴- د مسند امام أحمد دا حديث هم د ټوپک ښکار منع ګرځوي: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَسَمَّيْتَ، فَخَالَطَ كِلَابًا أُخْرَى، فَأَخَذْتَهُ جَمِيعًا، فَلَا تَأْكُلْ، فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَيُّهُمَا أَخَذَهُ، وَإِذَا رَمَيْتَ فَسَمَّيْتَ، فَخَزَقْتَ، فَكُلْ، فَإِنْ لَمْ يَنْخَزِقْ، فَلَا تَأْكُلْ، وَلَا تَأْكُلْ مِنَ الْمِعْرَاضِ إِلَّا مَا ذَكَّيْتَ، وَلَا تَأْكُلْ مِنَ الْبُنْدُقَةِ إِلَّا مَا ذَكَّيْتَ " ([2]) عدي بن حاتم – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله – صلى الله عليه وسلم- ويلي: کله دي چې د ښکار پسي خپل ښکاري سپی خوشي کړ أو د الله تعالی نوم دي ورباندې ياد کړ، أو بيا نور سپي ورسره يوځای شول أو ښکار يې ونيوه، نو دا ډول ښکار مه خوره؛ ځکه تاته نه معلوميږي چې کوم سپي ښکار نيولی دی، أو کله دي چې ښکار وويشته، نو که د ښکار آلې ښکار څيرې کړ وخوره، أو که څيرې کړی يې نه وه، نو مې خوره، أو په معراض باندې ښکار شوی ښکار مه خوره، أو هغه ښکار هم مه خوره چې په ټوپک باندې ښکار شوی وي، مګر دا چې ژوندی وموندل شي أو ذبح کړل شي. [3]

زبيدي صاحب په الجوهرة النيرة کې ليکلي: "قَوْلُهُ: (وَلَا يُؤْكَلُ مَا أَصَابَتْ الْبُنْدُقَةُ إذَا مَاتَ مِنْهَا) لِأَنَّهَا تَدُقُّ وَتَكْسِرُ وَلَا تَجْرَحُ وَكَذَا لَوْ رَمَاهُ بِحَجَرٍ، وَلَوْ جَرَحَهُ إذَا كَانَ ثَقِيلًا لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ قَتَلَهُ بِثِقَلِهِ وَإِنْ كَانَ الْحَجَرُ خَفِيفًا وَبِهِ حِدَّةٌ يَحِلُّ أَكْلُهُ ثُمَّ الْبُنْدُقَةُ إذَا كَانَ لَهَا حِدَّةٌ تَجْرَحُ بِهِ أُكِلَ" ([4]) په ټوپک سره د ښکار شوې حيوان أو يامرغه خوراک په هغه صورت کې چې ښکار مړ شوی وي روا ندی؛ ځکه ټوپک ښکار ټکوي أو د بدن اعضا يې ورماتوي أو زخمي کوي يې نه، همداډول  هغه ښکار هم حلال ندی چې په ډبره باندې

---

[1]- شرح النووي على مسلم (13/ 75)

[2]- مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 19392، أَوَّلُ مُسْنَدِ الْكُوفِيِّينَ، الباب: بقية حديث عدي بن حاتم (32/ 134)

[3]- د دي حديث حکم: صحيح حديث دی، پدی اړه د مسند امام أحمد محققينو شعيب اللأرنؤوط او نورو ليکلي: "حديث صحيح دون قوله: "ولا تأكل من البندقة إلا ما ذكيت" وهذا إسناد ضعيف لانقطاعه ما بين إبراهيم- وهو النَّخَعي- وعديَ بن حاتِم." بغير د اخري جملي څخه نور دا حديث صحيح حديث دی، او اخري جمله چې په کوم سند کې راغلي ضعيف سند دی؛ ځکه د ابراهيم النخعي او د عدي بن حاتم ترمنځ انقطاع راغلي. (مسند أحمد ط الرسالة (32/ 134)

[4]- الجوهرة النيرة على مختصر القدوري (2/ 179)

ښکار کړل شوی وي اګر که زخمي کړی یې هم وي، خو پدې شرط چې ډبره درنده وي؛ ځکه پدې صورت کې احتمال شته چې ښکار د ډبرې په ثقل أو دروندوالي مړ شوی وي نه د ډبرې د تېغ له أمله، لېکن که ډبره سپکه وه أو تېغ یې درلوده پدې صورت کې په ورته ډبرې ښکار شوی ښکار حلال دی، أو د ټوپک ساچمه أو یا هم مرمۍ که تیره وي نو پدې سره ښکار شوی شی حلال دی.

په فتاوی هندیه کې راغلي: "ولا يؤكل ما أصابته البندقة فمات بها كذا في الكافي وكذا إن رماه بحجر وإن جرحه إذا كان ثقيلا وبه حدة لأنه يحتمل أنه قتله بثقله وإن كان الحجر خفيفا وبه حدة حل لأن الموت بالجرح" ([1]) د هغه ښکار خوړل روا ندي چې په ټوپک سره ښکار شوی وي أو مړ موندل شوی وي، لکه څنګه چې په کافي کې راغلي، أو همداړول د هغه ښکار خوړل هم روا ندي چې په درنده ډبره ویشتل شوی وي ولو که تیره هم وي؛ ځکه احتمال شته چې ښکار د ډبري د ثقل أو دروندوالي له أمله مړ شوی وي، لېکن که ډبره سپکه وه أو تېغ یې درلوده پدې صورت کې په ورته ډبره باندي ښکارشوی حیوان أو مرغه حلال دی؛ ځکه د ډبري په تېغ سره مړ شوی.

ابن عابدين شامي – رحمه الله – په رد المحتار کې لیکلي: "قال قاضي خان: لا يحل صيد البندقة والحجر والمعراض والعصا وما أشبه ذلك وإن جرح؛ لأنه لا يخرق إلا أن يكون شيء من ذلك قد حدده وطوله كالسهم وأمكن أن يرمي به؛ فإن كان كذلك وخرقه بحده حل أكله" ([2]) د هغه ښکارخوړل روا ندي چې په ټوپک، ډبره، معراض، امسا أو ورته نورو وسایلو باندې ښکار کړل شوی وي، اګر که په تېغ سره یې زخمي کړی هم وي؛ ځکه نوموړې وسایل ښکار نه پریکوي، مګر داچې نوموړې وسایل تیره کړل شوې وي أو أوږدوالی یې د سهم په اندازه وي أو ښکار ویشتل وربانديې ممکن وي، که د ښکار آله دغه شان وي أو ښکار پري کړي نو خوړل یې روا دي.

همدا راز موسوعة مسائل الجمهور في الفقه الإسلامي کې لیکلي: "أكثر العلماء بل جماهيرهم على كراهة الصيد بالبندقة، وكراهة أكل ما صيد بالبندقة وهي كراهة تحريم في الغالب الأغلب. وهو الذي صرح به النووي -رحمه الله- فنقل عن الجمهور أنه لا يحل صيد البندقة. قال ابن عمر في المقتولة بالبندقة: تلك الموقوذة. وممن كره ذلك سالم والقاسم ومجاهد وعطاء والحسن وإبراهيم ومالك والثوري والشافعي (4)

---

[1]- الفتاوى الهندية (5/ 425)

[2]- الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (6/ 471)

[1]- ساعي، محمد نعيم محمد هاني ساعي، موسوعة مسائل الجمهور في الفقه الإسلامي، دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع والترجمة، مصر، (1/ 445)

[2]- الموسوعة الفقهية الكويتية، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت، (28/ 135)

وأبو ثور. وهو مذهب أحمد." ([1]) اکثره علماء بلکه جمهور علماء په ټوپک باندې د ښکار کولو، أو د هغه غوښو خوړلو په کراهیت باندې قایل دي چې په ټوپک باندې ښکار کړل شوې وي، أو مراد د کراهیت څخه په غالبه وختونو کې مکروه تحریمي مراد وي، أو پدې قول باندې امام نووي – رحمه الله – تصریح کړې ده، أو د جمهورو علماوو څخه یې نقل کړې چې په ټوپک سره ښکار کول روا ندي، أو ابن عمر په ټوپک سره د وژل شوې ښکار په اړه ویلي: همدغه ټکول شوی حیوان أو یا مرغه دی، أو سالم، قاسم، مجاهد، عطاء، حسن بصري، ابراهیم النخعي، امام مالک، ثوري، امام شافعي أو ثوري هغه علماء دي چې په ټوپک سره ښکار مکروه ګڼي، أو همدغه د امام أحمد بن حنبل – رحمه الله – مذهب هم دی.

أو همداړول الموسوعة الفقهية الكويتية کې راغلي: "قَال ابْنُ عَابِدِينَ نَقْلاً عَنْ قَاضِي خَانْ: لاَ يَحِل صَيْدُ الْبُنْدُقَةِ وَالْحَجَرِ وَالْمِعْرَاضِ وَالْعَصَا وَمَا أَشْبَهَ ذَلِكَ وَإِنْ جَرَحَ، لأِنَّهُ لاَ يَخْزِقُ إِلاَّ أَنْ يَكُونَ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ قَدْ حَدَّدَهُ وَطَوَّلَهُ، كَالسَّهْمِ، وَأَمْكَنَ أَنْ يَرْمِيَ بِهِ، فَإِنْ كَانَ كَذَلِكَ وَخَزَقَهُ بِحَدِّهِ حَل أَكْلُهُ، فَأَمَّا الْجُرْحُ الَّذِي يَدُقُّ فِي الْبَاطِنِ وَلاَ يَخْزِقُ فِي الظَّاهِرِ لاَ يَحِل، لأِنَّهُ لاَ يَحْصُل بِهِ إِنْهَارُ الدَّمِ، وَمُثَقَّل الْحَدِيدِ وَغَيْرِ الْحَدِيدِ سَوَاءٌ، إِنْ خَزَقَ حَل وَإِلاَّ فَلاَ" ([2]) ابن عابدین د قاضي خان څخه نقل کړي چې په ټوپک، ډبره، معراض، امسا أو د دوي په څېر په نورو شیانوباندې ښکار کول روا ندي اګر که ښکار پرې هم کړي؛ ځکه دا شیان پریکول نکوي، مګر داچې تیره کړي یې وي أو أوږد یې جوړ کړی وي لکه غشی أو ویشتل ورسره ممکن وي، که داسې وي أو ښکار یې په تیغ سره پریکولو، نو پدې صورت کې د ښکار خوړل روا دي، أو هرچې هغه زخم دی چې ښکار دننه ټکوي أو په ظاهر بدن یې زخم نه وي، نو د داسې ښکار خوړل روا ندي، ځکه پدې سره وینه نه تویږي، أو پدې اړه درنه أو سپکه بسپنه برابره ده، که ښکار یې څیري کولو نو حلال دی، أو که نه یې څیري کولو نو حرام دی.

والله تعالی اعلم بالصواب

# پنځم فصل

## متفرقه مسایل

د تمهيدي فصل ترڅنګ په تيرو څلورو فصلونو کې د غوښو په مختلفو ډولونو، أو همداډول د ذبحې په أحکامو باندې په تفصيل سره رڼا واچول شوه، خو داچې په نړۍ کې ځينې داسې غوښې شتون لري چې بازار ته په مختلفو بڼو وړاندې کېږي، چې د هغوي حلالوالی أو حراموالی يقيني نه وي؛ ځکه که د نوموړو غوښو يو اړخ ته وکتل شي نو د حلالو غوښو حکم ورباندې کېږي، خو که بل اړخ ته يې وکتل شي نو د حراموغوښو حکم ورباندی کېږي، لکه په ډبيو کې مختلفي بندي غوښې، چې د غير إسلامي هيوادونو څخه راځي أو په قوطيانو باندې يې حلال ليکل شوې وي، همداډول په أوس وخت کې په زياتره مسلخونو (په کوم ځای کې چې حيوانات او يا چرګان ذبح کيږي) کې د حيواناتو أو مرغانو ذبح کول أو غوښې يې نورو هيوادونو ته صادرول أو يا هم په هماغه هيوادونو کې يې استعمالول، أو دغوښو داسې ځينې نور ډولونه چې د حلالوالي أو حراموالي حکم يې د مختلفو اړخونو په پيژندولو پورې تړاو لري، نو پدې فصل کې هڅه کېږي ترڅو د دغه شان غوښو حکم په مناسب تفصيل سره درنو لوستونکو ته روښانه شي.

### لمړی مبحث: د مجهول الهويت غوښو حکم

د دې ډول غوښو په حکم باندې د ښه پوهيدو لپاره اړينه ده چې لوستونکي د ذبحې په شرطونو باندې چې په څلورم فصل کې په تفصيل سره ذکر شول پوهه وي، أو د دې ترڅنګ مناسبه ده چې په لاندې حديث شريف باندې ځان پوهه کړچې د حلالو، حرامو أو مشتبه امورو په أړه بحث کوي، چې د حرامو غوښو ترڅنګ يو مسلمان ځيني غوښې د مشتبه کيدو له أمله بايد ونه خوري:

په حديث شريف کې راغلي: عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: - وَأَهْوَى النُّعْمَانُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلَى أُذُنَيْهِ "إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ، وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لدِينِهِ، وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ، كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ، صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ، فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ». " ([1])

د نعمان بن بشير – رضي الله عنه- څخه روايت دی چې ما د رسول الله – صلی الله عليه وسلم- څخه أوريدلي چې ويل به يې: يقينا حلال ثيزونه ښکاره دي، أو حرام ثيزونه هم ښکاره دي أو د حلالو أو

[1]- صحيح مسلم، د حديث شمېره: 1599، كِتَابُ الْمُسَاقَاةِ، بَابُ أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ (3/ 1219)/ سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 3985، أَبْوَابُ الْفِتَنِ، بَابُ الْوُقُوفِ عِنْدَ الشُّبُهَاتِ (5 /124)

حرامو ترمنځ ځیني مشتبه شیان دي چې ډېر خلک ورباندې نه پوهیږي، څوک چې د مشتبه شیانو څخه ځان وساتي، خپل دین أو عزت یې خوندي وساتلو، أو څوک چې په شبهاتو کې پریوتلو، نو په حرامو کې پریوتلو، لکه یو شپونکی چې د ممنوعه څرځای خوا ته خپل څاروي څروي، لري نه ده چې څاروي یې هلته وڅریږي، خبردار أوسئ چې د هر پاچا لپاره یو ځانګړی څرځای أو یا ممنوعه ساحه وي، خبردار أوسئ چې د الله تعالی ممنوعه ساحه د الله تعالی محارم دي (هغه شیان چې الله تعالی حرام ګرځولي دي)، أو خبردار أوسئ چې په بدن کې یوه ټوټه غوښه ده، کله چې دا ټوټه غوښه أصلاح شي ټول بدن أصلاح وي، أو که دا ټوټه غوښه فاسده شوه ټول بدن ورسره خرابیږي، خبردار چې دا ټوټه غوښه زړه دی. [1]

تقي عثماني [2] – حفظه الله – په درس ترمذي کې د مشتبهاتو څخه د بچ کیدو په اړه لیکلي: " په دي حدیث کې نبي کریم – صلی الله علیه وسلم- د مشتبهاتو نه د بچ کیدو حکم کړی دی، په بعضي حالاتو کې دغه حکم وجوبي وي أوپه بعضي نورو حالاتو کې دا حکم استحبابي وي. که یو عالم أو مجتهد د یو څیز په باره کې تحقیق کوي چې دا څیز حلال دی أو که حرام؟ أو د دې تحقیق په جریان کې هغه ته دواړه قسمه دلایل مخکښې راشی، بعضي دلایل په حلالوالي باندې دلالت کوي أو بعضي دلایل په حراموالي باندې، أو د موازني په نتیجه کې د دواړو طرفونو دلایل د وزن أو قوت په اعتبار باندې برابر معلومیږي، أو یو طرف ته ترجیح نشي ورکولی، نو پداسې صورت کې هغه څیز مشتبه شو، أو په داسې صورت کې هغه عالم أو مجتهد ته پکارده چې د حراموالي طرف ته ترجیح ورکړي (ځکه د تعارض د دفعه کولو یوه طریقه هم همدغه ده چې کوم دلیل د حظر أو منعي غوښتنه کوي په هغه دلیل مخکې کړل شي چې د إباحت غوښتنه کوي [3])، أو د څیز د حراموالي فیصله وکړي؛ ځکه چې په داسې صورت کې د مشتبه څخه د بچ کیدو حکم وجوبي دی.

---

[1]- د دي حدیث حکم د سنن ابن ماجه په روایت: صحیح حدیث دی، پدي اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: إسناده صحیح (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (5 /124)

[2]- د تقي عثماني صاحب لنډه پیژندنه: مفتي تقي عثماني، په 1943 میلادي کال کې په هند کې زیږیدلی، یو نامتو اسلامي عالم، فقیه او قاضي دی. هغه د حنفي مذهب پیرو او د اسلامي فقهي او اقتصاد په برخه کې ګڼ مهم آثار لري. مفتي تقي عثماني د پاکستان د ستري محکمي پخوانی قاضي دی او د نړیوال اسلامي بانکداري سیستم یو له بنسټګرو څخه ګڼل کېږي. نوموړی په اردو، عربي، او انګلیسي ژبو کې د ګڼو کتابونو او مقالو لیکوال دی، چې د اسلامي بانکداری، فقهي او شریعت په برخو کې یې پراخه شهرت ترلاسه کړی. ( وګورئ: (https://ps.wikipedia.org/wiki

[3]- السلمي، أ.د. عیاض بن نامي السلمي، أصول الفقه الذي لا یسع الفقیهَ جهلُه، دارالتدمیریة- ریاض، (ص: 297)

يا يو عام سړی په يوه مسئله کې د دوو عالمانو نه فتوی واخسته، يوه عالم د هغه څيز د جواز فتوی ورکړه أو بل عالم د حراموالي فتوی ورکړه، که د دغه عام سړي په دغه دواړو عالمانو کې د يو په علم أو تقوی باندې زيات اعتماد وو، نو پدې صورت کې هغه سړي ته د هغه عالم په فتوی باندې عمل کول پکار دي چې په چا باندې يې زيات اعتماد وي، خو که دهغه په نظر کې دواړه عالمان په علم أو تقوی کې برابر وو، نو په داسې صورت کې په هغه عامي سړي باندې واجب ده چې د هغه عالم په فتوی باندې عمل وکړي څوک چې د عدم جواز فتوی ورکوي؛ ځکه چې په دي صورت کې دا مسئله د مشتبهاتو څخه شوه، أو داسې مشتبه شوه چې د هغې څخه ځان ساتل واجب دي.

أو په بعضي أوقاتو کې د مشتبهاتو څخه ځان ساتل استحبابي وي، مثلا که په يوه مسئله کې د حلالوالي أو حراموالي دواړه دلايل متعارض وي، أو دحلالوالي جانب دلايل د حراموالي د دلايلو په مقابل کې زيات قوي أو راجح وي، أو په داسې صورت کې يو مفتي أو عالم د حلالوالي د دلايلو د ترجيح له وجه د هغه څيز د حلالوالي فتوی ورکړه، لېکن د حراموالي په طرف کې هم څه دلايل موجود وو، أو د هغې له أمله دا مسئله مشتبه شوه، أو د هغې نه د بچ کيدو حکم استحبابی شو، نو د تقوی غوښتنه دا ده چې سړی د هغې نه پرهيز وکړي أو د حراموالي په طرف عمل وکړي." ([1])

د يادوشويو حديث په شرحه کې امام نووي – رحمه الله – ليکي: وأما قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ فَمَعْنَاهُ أَنَّ الْأَشْيَاءَ ثَلَاثَةُ أَقْسَامٍ حَلَالٌ بَيِّنٌ وَاضِحٌ لَا يَخْفَى حِلُّهُ كَالْخُبْزِ وَالْفَوَاكِهِ وَالزَّيْتِ وَالْعَسَلِ وَالسَّمْنِ وَلَبَنِ مَأْكُولِ اللَّحْمِ وَبَيْضِهِ وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنَ الْمَطْعُومَاتِ وَكَذَلِكَ الْكَلَامُ وَالنَّظَرُ وَالْمَشْيُ وَغَيْرُ ذَلِكَ مِنَ التَّصَرُّفَاتِ فِيهَا حَلَالٌ بَيِّنٌ وَاضِحٌ لَا شَكَّ فِي حِلِّهِ وَأَمَّا الْحَرَامُ الْبَيِّنُ فَكَالْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْبَوْلِ والدم المسفوح وكذلك الزنى وَالْكَذِبُ وَالْغِيبَةُ وَالنَّمِيمَةُ وَالنَّظَرُ إِلَى الْأَجْنَبِيَّةِ وَأَشْبَاهُ ذَلِكَ وَأَمَّا الْمُشْتَبِهَاتُ فَمَعْنَاهُ أَنَّهَا لَيْسَتْ بِوَاضِحَةِ الْحِلِّ وَلَا الْحُرْمَةِ فَلِهَذَا لَا يَعْرِفُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَعْلَمُونَ حُكْمَهَا وَأَمَّا الْعلماء فَيَعْرِفُونَ حُكْمَهَا بِنَصٍّ أَوْ قِيَاسٍ أَوِ اسْتِصْحَابٍ أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ فَإِذَا تَرَدَّدَ الشَّيْءُ بَيْنَ الْحِلِّ وَالْحُرْمَةِ وَلَمْ يَكُنْ فِيهِ نَصٌّ وَلَا إِجْمَاعٌ اجْتَهَدَ فِيهِ الْمُجْتَهِدُ فَأَلْحَقَهُ بِأَحَدِهِمَا بِالدَّلِيلِ الشرعي" ([2]) هر چې دا قول د رسول الله – صلى الله عليه وسلم- دی چې (الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ) معنا يې داده چې شيان په دري ډوله دي: يو قسم يې ښکاره حلال شيان دي چې حلالوالی يې هرچا ته معلوم وي، لکه ډوډۍ، ميوې، غوړي، عسل، شيدې، حلالي غوښې، هګۍ أو داسې نور د خوړولو شيان، أو همداډول په خبرو، کتلو، تګ أو داسې نور د کړنو څخه، ځيني يې ښکاره حلال أو روا دي چې په حلالوالي کې يې هيڅ شک نشته، أو

---

[1]- درس ترمذي د مفتي تقي عثماني صاحب، (4/26-27 )

[2]- النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ)، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، ط۲، دار إحياء التراث العربي – بيروت، ۲۸/۱۱

هرچې ښکاره حرام دي، لکه شراب، خنزير، مردار شوی حيوان، بولې، بهيدونکې وينه أو داسې نور د خوراک أو څښاک حرام شيان، أو همداډول زنا، درواغ، غيبت، نميمت أو شيطاني، أو بيګانه ښځو ته کتل د تصرفاتو أو کړنو څخه، أو درېيم ډول شيان مشتبهات دي، پدې معنی چې حلالوالی أو حراموالی يې واضح نه وي؛ نو په همدې خاطر يې زياتره خلک حکم نه پيژني، أو هرچې علماء دي نو حکم يې په نص، قياس، استصحاب [1] أو ياهم د نورو دلايلو په واسطه پيژندي، نو کله چې يو شی د حلالوالي أو حراموالي ترمنځ مشتبه وي، نو علماء يې په أړه اجتهاد کوي أو د حلال أو يا هم حرام حکم پسې يې پيوسته کوي. هدف دا شو چې د يوشي حلال أو حرام ګرځول يواځې د شارع حق دی، بل هېڅوک د حلال أو حرام ګرځولو حق نلري.

د حديث دا برخه (فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ، وَعِرْضِهِ) پدې دلالت کوي چې کله هم يو مسلمان د يو شي د حلالوالي أو حراموالي په أړه شکمن شي، نو ترڅو يې د حکم په أړه ځان نه وي مطمئن کړی، د هغه شي څخه به ځان ساتي.

په أوسني عصر کې زيات نوي مسايل منځ ته راغلل چې معاصرو فقهاوو د (القضايا الفقهية المعاصرة) تر عنوان لاندې څېړلي أو د نصوصو أو تيرو فقهاوو د اصولو په رڼا کې يې د نوو منځ ته راغلو مسايلو حکم را ويستلی، چې عام خلک بايد ځان وربانديې پوهه کړي أو د علماوو د فتوی مطابق عمل وکړي.

په يادشوي حديث باندې د پوهيدلو ترڅنګ د ډېې بندو غوښو د حلالوالي أو حراموالي لپاره پدې قاعده باندې هم ځان پوهه کول پکار دي چې (الأصل في المضار التحريم والمنع) ([2]) أصل په زيان رسوونکو شيانو کې منع أو حراموالي دی.

د نوموړې قاعدې دليل دا حديث دی: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامت: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – "قَضَى أَنْ لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ " ([3]) د عباده بن صامت – رضي الله عنه – څخه روايت دی چې نبي کريم – صلى الله عليم وسلم – فيصله کړي چې بل چا ته أو خپل ځان ته به ضرر نه رسوي. [4]

---

[1]- استصحاب: زرکشي په ارشاد الفحول کې داسې تعريف کړی: "وَمَعْنَاهُ: أَنَّ مَا ثَبَتَ فِي الزَّمَنِ الْمَاضِي فَالْأَصْلُ بَقَاؤُهُ فِي الزَّمَنِ الْمُسْتَقْبَلِ، مَأْخُوذٌ مِنَ الْمُصَاحَبَةِ، وَهُوَ بَقَاءُ ذَلِكَ الْأَمْرِ مَا لَمْ يُوجَدْ مَا يُغَيِّرُهُ" د استصحاب معنا داده کوم شي چې په تير وخت کې څنګه وه، نو اصل دادی چې د تير په شان په راتلونکي کې هم پريښودل شي تر څو يې د تغير دليل شتون ونلري چې تير حکم لره بدلوونکی وي. (الشوکاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني (المتوفى: 1250هـ)، إرشاد الفحول إلي تحقيق الحق من علم الأصول، المحقق: الشيخ أحمد عزو عناية، دمشق - كفر بطنا، دار الكتاب العربي (2/ 174)

[2]- القرافي، أبو العباس أحمد بن إدريس الصنهاجي القرافي(684ه)، الفروق أو أنوار البروق في أنواء الفروق (مع الهوامش )، تحقيق خليل المنصور، الناشر دار الكتب العلمية-بيروت، (1/ 380)

[3]- سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، د حديث شمېره: 2340أَبْوَابُ الْأَحْكَامِ، بَابٌ إِذَا تَشَاجَرُوا فِي قَدْرِ الطَّرِيقِ (3/ 430)، مسند أحمد ط الرسالة، د حديث شمېره: 2865 ، مِنْ مُسْنَدِ بَنِي هَاشِمٍ ، مسند عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب( 37 /438)

[4]- د حديث حکم: دا حديث صحيح لغيره دی، لکه پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: صحيح لغيره (سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (3 /430)

نو د دې حديث پر أساس د ضرر ټول ډولونه حرام دي، برابره خبره ده که ضرر پل چاته ابتداء وي، أو يا د ضرر په مقابل کې وي أو ياهم خپل ځان ته ضرر رسول وي.

همداډول الله تعالی فرمايلي: {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ} ([1])

ژباړه: أو تاسو ځانونه په خپل لاس هلاکت ته مه غورځوئ.

د البحرالمحيط مصنف د دې آيت په تفسير کې ليکلي: "وَالظَّاهِرُ أَنَّهُمْ نُهُوا عن كل ما يؤول بِهِمْ إِلَى الْهَلَاكِ فِي غَيْرِ طَاعَةِ اللَّهِ تَعَالَى" ([2]) (وروسته لدې چې اثيرالدين [3] د دی آيت مختلف تفسيرونه ذکر کړي، بيا يې ويلي:) أو ظاهره داده چې خلک د ټولو هغه شيانو څخه منع کړل شوي دي چې د دوي د هلاکت لامل ګرځي، تر څو چې د الله په طاعت کې نه وي. (يعني په جهاد کې هم شهادت وي خو دا هلاکت نه يوائې چې منع ندی بلکه مطلوب دی). د دې مقدمې څخه وروسته په لمړي مطلب کې د ډبي بندو غوښو د حکم مختلف اړخونو بيانيږي.

## لمړی مطلب: مختلفي ډبي بندي غوښې

په ډبيو کې د مختلفو بندو غوښو حکم پدې پورې أړه لري چې که د إسلامي هيوادونو څخه واردې کړل شوې وي، د حلالو حيواناتو غوښې وې أو د کومو حيواناتو غوښې چې ډبي بندي شوې په شرعي طريقې سره ذبح شوې وي، أو داسې کمياوي مواد ورسره نه وي ګډ شوې چې د انسان صحت ته ضرر رسوي، نو داسې ډبې بندي غوښې بي له شکه حلالي دي، أو کومې ډبې بندي غوښې چې د کفري هيوادونو څخه صادريږي أو پدې أړه اطمنان نه وي چې ايا دا بسته شوې غوښې د حلالو حيواناتو دي أو که د حرامو، په شرعي توګه د ذبح شوو حيواناتو غوښې دي أو که نه، نو د داسې غوښو خوړل درست ندي؛ ځکه داسې غوښې مشکوکې وي أو د مشتبه شيانو څخه ځان ساتل ضروري دي، او که په يقين سره معلومه شوه چې نوموړې غوښې دهغو حيواناتو او مرغانو غوښې دي چې په شرعي توګه ندي ذبح شوې، أو يا

---

[1]- البقرة: 195

[2]- أثير الدين، أبو حيان محمد بن يوسف بن علي بن يوسف بن حيان أثير الدين الأندلسي (المتوفى: 745هـ)، البحرالمحيط، المحقق: صدقي محمد جميل، دار الفكر – بيروت، 2 /252

[3]- د اثيرالدين لنډه پېژندنه: أبو حيان محمد بن يوسف بن علي بن يوسف بن حيان أثير الدين الأندلسي (رحمه الله) د اسلامي علومو نامتو مفسر، نحوي، او لغوي عالم و چې په ۶۵۴ هـ ق کال کې د اندلس په غرناطه کې زېږېدلی. هغه په ځانګړي ډول د تفسير، نحو، او لغت په برخو کې پراخه پوهه لرله او د *البحر المحيط* په نوم د خپل تفسير له امله مشهور دی، چې په‌کې يې د قرآن ژوره څېړنه او د مختلفو علماوو نظريات رانغاړلي دي. دغه تفسير په اسلامي نړۍ کې د معتبر او جامع اثر په توګه پېژندل کېږي. ابوحيان په ۷۴۵ هـ ق کال کې وفات شو. (الأعلام للزركلي (7/ 152)

د حرامو حيواناتو غوښې دي، نو پدې صورت کې دا ډول غوښې پرته له شکه حرامې دي، أو خوړل يې روا ندي.

د يادولو وړ ده چې يواځې پدې باندې چې د غوښو په قوطيانو باندې حلال ليکل شوې د غوښو د حلالوالي دليل نشي کيدلی تر څو چې د حيوان د حلالوالي أو د شرعي ذبحې په أړه پوره اطمنان موجود نه وي. ([1])

## دوهم مطلب: د مستورده (واردکړل شويو) غوښو حکم

**ألف: د إسلامي هيوادونو څخه واردې شوې تازه غوښې:** د إسلامي هيوادونو څخه واردې شوې غوښې پدې شرط روا دي چې مسلمان ذبح کړې وي أو د ذبحې شرايط يې مراعت کړي وي؛ ځکه د مسلمان ذبيحه حلاله ده پدې شرط چې بسم الله يې قصدا نه وي پريښې، پدې أړه امام کاساني صاحب ليکلي: "(وَلَنَا) مَا رُوِيَ عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - أَنَّهُ قَالَ: «ذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ حَلَالٌ سَمَّى أو لَمْ يُسَمِّ مَا لَمْ يَتَعَمَّدْ" [2] ([3]) أو (د امام مالک – رحمه الله – په مقابل کې چې د قصد أو سهوي په صورت کې د بسم الله په پريښودلو سره ذبح نادرسته بولي) زمونږ دليل دا حديث دی چې راشد بن سعد د رسول الله – صلی الله عليه وسلم – څخه روايت کوي چې رسول الله – صلی الله عليه - ويلي: د مسلمان ذبيحه حلاله ده برابره خبره ده که بسم الله يې ويلي وي أو يايې نه وي ويلي تر څو يې په قصدي ډول نه وي پرې إيښې. ([4])

أو د ذبحې شرطونه په تفصيل سره مخکې تير شوې.

أو همدا راز د دې ډول غوښو په أړه د موسعة الفقه الإسلامي مصنف ليکلي: "الأولى: أن نعلم أنها من ذبائح المسلمين أو أهل الكتاب، فهذه حلال أكلها." ([5]) د (واردو شوو غوښو) لمړی ډول هغه غوښې دي چې د مسلمانانو أو يا اهل کتابو لخوا ذبح شوې وي، دا ډول غوښې حلالې دي.

---

[1]- وګورئ: دارالافتاء العام، حکم اللحوم المعلبة، دکتور نوح علي سلمان (المتوفى ١٤٣٢هـ)، التاريخ : 29-07-2012، https://aliftaa.jo/fatwa/ طريق السلام، الأطعمة التي تأتي معلبة من دول غير أهل الكتاب، صالح بن فوزان الفوزان عضو هيئة كبار العلماء بالسعودية، 01-12-2006، https://ar.islamway.net/fatwa

[2]- ابن أبي أسامة، أبو محمد الحارث بن محمد بن داهر التميمي البغدادي الخصيب المعروف بابن أبي أسامة (المتوفى: 282هـ)، مسند الحارث = بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث ، المحقق: د. حسين أحمد صالح الباكري، د حديث شمېره: 410، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا أُمِرَ بِقَتْلِهِ، بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلَى الذَّبْحِ، مركز خدمة السنة والسيرة النبوية - المدينة المنورة (1 /478)/ السنن الكبرى للبيهقي، د حديث شمېره: 18895، كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ، بَابُ مَنْ تَرَكَ التَّسْمِيَةَ وَهُوَ مِمَّنْ تَحِلُّ ذَبِيحَتُهُ (9/ 402)

[3]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (5/ 47)

[4]- د دي حديث حکم: مرسل حديث دی، لکه بيهقي صاحب ليکلي: وَهَذَا الْمُرْسَلُ... (معرفة السنن والآثار (13 /448)

[5]- التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري، موسوعة الفقه الإسلامي، بيت الأفكار الدولية (4 /375)

أو په فقه السنة كې راغلي: "اللحوم المستوردة من خارج البلاد الإسلامية يحل أكلها بشرطين:

١ - أن تكون من اللحوم التي أحلها الله.

٢ - أن تكون قد ذكيت ذكاة شرعية." ([1]) د إسلامي هيوادونو څخه واردې شوې غوښې په دوه شرطونو روا دي:

١- يو داچې واردې شوې غوښې به د حلالو حيواناتو أو مرغانو غوښې وي.

٢- دوهم دا چې حيوانات أو مرغان به په شرعي طريقه ذبح شوې وي.

**ب: د كفري هيوادونو څخه واردې شوې تازه غوښې:** مجلة البحوث الإسلامية د كفري هيوادونو څخه واردې شوې غوښې په څلور ډوله ويشلي دي چې تفصيل يې په لاندې توګه دى:

**لمړی ډول:** هغه غوښې چې د اهل كتابو څخه پرته د نورو كفري هيوادونو څخه واردې كړل شوې وي، دا ډول غوښې په اجماع سره حرامې دي.

**دوهم ډول:** د هغه هيوادونو څخه واردې كړل شوې غوښې چې أوسيدونكي يې اهل كتاب وي، أو په يقين سره ثابته شوې وي چې د نوموړو هيوادونو أوسيدونكي أو شركتونه حيوانات أو مرغان په شرعي توګه ذبح كوي، دا ډول غوښې په اتفاق سره مباح دي.

**درېيم ډول:** د هغه هيوادونو څخه واردې كړل شوې غوښې دې، چې أوسيدونكي يې اهل كتاب وي، لېكن په يقين سره ثابته شوې وي چې نوموړې اهل كتاب حيوانات أو مرغان په غير شرعي توګه ذبح كوي، نو دغه ډول غوښې د جمهورو په نزد حرامې دي، لېكن ځينو متاخرينو علماوو د دغه ډول غوښو په حلالوالي باندې فتوى وركړې ده، چې د هغوي له جملې څخه قاضي ابن العربي مالكي [2] هم دی، أو د الله تعالى د دې قول په عموم يې استدلال كړی: { وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ } ([3]) أو دهغه كسانو خواره (غوښې ) ستاسو لپاره حلالې دي چې كتاب وركړل شوی دی. قاضي ابن العربي مالكي په خپل تفسير أحكام القرآن كې د دې آيت په تفسير كې ويلي: ( هذا دليل قاطع على أن الصيد وطعام الذين أوتوا الكتاب من الطيبات التي أباحها الله وهو الحلال المطلق، ولقد سئلت عن النصراني يفتل عنق الدجاجة ثم

---

[1]- فقه السنة لسيدسابق (3 /290)

[2]- د قاضي ابن العربي مالكي لنډه پېژندنه: قاضي ابوبكر محمد بن عبدالله بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (رحمه الله) يو لوى فقيه، مفسر، او محدث و، چې په ۴۶۸ هـ ق كال كې د اندلس په اشبيليه كې زېږېدلی. هغه د مالكي فقهې مشهور عالم او د اسلامي علومو په مختلفو برخو كې وتلی شخصيت و. ابوبكر بن العربي د علم په لټه كې ختيځ ته سفرونه وكړل او له امام غزالي او نورو مشهورو علماوو څخه يې ګټه واخيسته. د هغه مشهور اثار *احكام القرآن* او *عارضة الاحوذي* دي، چې د قرآن او حديث په څېړنو كې ارزښتناک كتابونه بلل كېږي. قاضي ابوبكر بن العربي په ۵۴۳ هـ ق كال كې وفات شو. (وګورئ: الأعلام للزركلي (6/ 230)

[3]- سورة المائدة، ايت:5

يطبخها هل تؤكل معه أو تؤخذ منه طعاما فقلت: تؤكل لأنها طعامه مطلقا ، وكل ما يرونه في دينهم فإنه حلال لنا إلا ما كذبهم الله فيه ) ([1]) أو دغه آيت قاطع أو ښکاره دليل دی چې د اهل کتابو ښکار أو د دوي په لاس د ذبح کړل شوو حيواناتو أو مرغانو غوښې حلالي دي أو إباحت يې مطلق دی (يعني که په شرعي توګه ذبح شوې وي أو که نه)، دی وايي زما څخه د نصراني په اړه پوښتنه وشوه چې د يو چرګ سر تاو کړي أو بيايې پوخ کړي، نو ايا داسې چرګ به خوړل کېږي، يعني ايا خوړل يې روا دي؟ ابن العربي وايي ما ورته وويل: هو، خوړل يې روا دي؛ ځکه همدغه د نصراني طعام دی چې په آيت کې يې حلالوالی مطلق ذکر شوی دی، أو هر هغه خواړه چې اهل کتاب يې په خپل دين کې روا بولي، نو هغه زمونږ لپاره هم حلال دي، مګر هغه څه چې دوي حلال کړي وي أو الله تعالی يې تکذيب کړی وي.

لېکن ابن العربي چې کوم نظر وړاندي کړی د څو وجوهاتو پر أساس درست ندی:

**لمړی وجه:** ابن العربي پخپله هم د خپل فتوی ماته کړي أو آيت يې په خپل اطلاق باندې ندی پرېښی، لکه دی په خپل تفسير أحکام القرآن کې يوځای ليکي: ( فإن قيل : فما أكلوه على غير وجه الذكاة كالخنق وحطم الرأس ، فالجواب: أن هذا ميتة وهي حرام بالنص ، وإن أكلوها فلا نأكلها نحن كالخنزير فإنه حلال لهم - كذا قال - ومن طعامهم وهو حرام علينا ) ([2]) أو که وويل شي: د هغه حيواناتو أو يامرغانو د غوښو په اړه دي څه نظر دی چې اهل کتاب يې بغير د ذبحې، لکه په خفه کولو أو د سر په ماتولو وژني؛ دا ډول غوښې دوي د ځان لپاره روا بولي، نو ايا مونږ ته روا دي؟ جواب دادی چې دا ډول وژل شوی حيوان أو يا مرغه خو مړحيوان أو مرغه بلل کېږي، يعني (ميته) بلل کېږي أو ميته خو په قرآني نص سره حرامه ده، که اهل کتاب دا ډول غوښې خوري نو مونږ يې نه خورو؛ ځکه دا ډول غوښې د دوي لپاره حلالي دي خو زمونږ لپاره روا ندي؛ لکه د خنزير غوښه چې د دوي په نزد حلاله ده، خو زمونږ لپاره حرامه ده – همدغه شان ابن العربي ويلي – أو د اهل کتابو ځينې خواړه زمونږ لپاره حرام دي.

**دوهمه وجه:** د ابن العربي نظر پدې خاطر درست ندی چې په قرآن کريم کې زمونږ لپاره د اهل کتابو طعام (غوښې ) د حلالوالي څخه مراد د هغه حيواناتو أو مرغانو غوښې دي چې په شرعي طريقې سره ذبح کړل شوې وي، أو هر چې د هغه حيواناتو أو مرغانو غوښې دي چې په غيرشرعي طريقې سره ذبح شوې وي، روا ندي ولو که دوي يې حلالي هم ګڼي؛ ځکه دوي خو د خنزير غوښه هم حلاله ګڼي أو خپل خوراک يې بولي، پداسې حال کې چې زمونږ لپاره روا نده.

[1]- ابن العربي، القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (المتوفى: 543هـ)، أحكام القرآن، تعليق: محمد عبد القادر عطا، ط3، دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان (2 /44)

[2]- أحكام القرآن لابن العربي (2/ 553)

**درېیمه وجه:** د ابن العربي نظر پدې خاطر درست ندی چې کله مسلمان یو حیوان أو یا هم مرغه په غیر شرعي توګه ذبح کړي، د غوښو خوړل یې روا ندي، نو څنګه به د هغه حیواناتو أو مرغانو غوښې روا شي چې د اهل کتابو لخوا په غیرشرعي طریقه سره ذبح شوې وي، أو څنګه به یو عالم د مسلمان د غیر شرعي ذبحې په أړه سخت نظر غوره کوي أو د اهل کتابو د غیر شرعي ذبحې په أړه نرم نظر، پداسې حال کې چې مسلمان د کافر څخه په دیني مرتبه کې لوړ دی.[1]

**څلورم ډول واردې شوې غوښې:** د هغه هیوادونو څخه واردې کړل شوې غوښې دي چې أوسیدونکي یې اهل کتاب وي، لېکن په شرعي توګه یې ذبح کول په یقین سره ثابت نه وي، أو د غیر شرعي ذبحې په أړه یې قوي شک شتون ولري، نو د دغه ډول غوښو په أړه معاصر علماء دوه مختلف نظرونه لري چې په مختصره توګه لاندې ذکر کیږي:

**لمړی قول:** دا ډول غوښې مباح دي، أو پدې آیت کریمه باندې استدلال کوي: { وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ } ([2]) أو د اهل کتابو خواړه (د دوي په لاس د ذبح شوو حیواناتو غوښې) ستاسو لپاره روا دي، أو أصل د اهل کتابو د ذبحې په أړه إباحت دی، مګر دا چې مونږ ته په یقین سره معلومه شي چې حیوان أو یا مرغه یې په غیر شرعي توګه ذبح کړی وي.

**دوهم نظر:** د دغه ډول ذبح شوو حیواناتو أو مرغانو غوښې حرامې دي؛ ځکه أصل په غوښو کې حراموالی دی، نو هیڅ ډول غوښه تر هغه پورې روا نه ګرځي تر څو چې یې شرعي ذبح په یقین سره ثابته شوې نه وي، أو زمونږ پدې مسئله کې د شرعي ذبحې په أړه شک شتون لري أو دغه ډول ذبح غوښه د حراموالي څخه حلالوالي ته نشي نقلولی، أو شک پدې خاطر شتون لري چې د دوي عادت دادی چې حیوانات په خفه کولو، پر سر باندې د وهلو أو برقي شارټونو په واسطه وژني (أو د دا ډول وژل شوو حیواناتو غوښې خو په قرآني نص سره حرامې دي).

د دې ډلي علماوو بل دلیل د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – دا قول دی: "عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ فَيُمْسِكْنَ عَلَيَّ، وَأَذْكُرُ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ، قَالَ: "إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ، وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ، فَكُلْ" قُلْتُ: وَإِنْ قَتَلْنَ؟ قَالَ: "وَإِنْ قَتَلْنَ، مَا لَمْ يَشْرَكْهَا كَلْبٌ لَيْسَ مَعَهَا" ([3]) کله دي چې خپل تعلیم یافته سپی ښکار پسې خوشي کړلو أو بسم الله دي ورباندې وویله نو ښکار یې خوره، ما وویل: اګر که وژلی یې هم وي؟ رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وویل: اګر که وژلی یې هم وي، تر

---

[1]- مجلة البحوث الإسلامية (7 /246)

[2]- سورة المائدة، ايت:5

[3]- صحيح ابن حبان – محققا، د حديث شمېره: 5881، كتاب الصيد، ذكر الإباحة للمرء أكل ما حبس عليه كلبه المعلم إذا ذكر اسم الله عليه (13/ 195)

څو چې بل سپي ورسره په ښکار کولو کې نه وي ملګرى شوى. [1] دا حديث پدې دلالت کوي چې کله د إباحت أو حراموالي دواړه اړخونه شتون ولري، نو د حظر يعني د منعي په اړخ به د احتياط پخاطرعمل کېږي .([2])

## دريېم مطلب: په أوسني عصر کې په زياتره مسلخونو کې د ذبح شوو حيواناتو د غوښو حکم

نن ورځ په نړۍ کې دوه ډوله ډېر عام مسلخونه شتون لري چې يو د چرګانو د ذبح کولو أو بل هم د نورو حيواناتو لپاره دى، أو پدې دوه صورتونو باندې د پوهيدو څخه وروسته هر مسلمان کولى شى چې په نوو مسلخونو کې د ذبح شوو مرغانو أو ياهم نورو حلالو حيواناتو غوښو د حکم په أړه فيصله وکړي، د دوه صورتونو تشريح په لاندې ډول ده:

**لمړى صورت:** د چرګانو ذبح کول: أو په لاندې توګه ذبح کېږي

لمړى چرګان ماشين ته رسيږي أو د دوه پښو څخه زړول کېږي ...

د دې څخه وروسته د لوړ ځاى څخه په زوړند کړل شوو چرګانو يخې أوبه تويول کېږي ...أو همزمان دبرق شارټ ورکول کېږي ...

د دې څخه وروسته د چرګانو غاړې د ماشين تېغ څخه تيريږي، أو د ماشين په وسيله اتومات ذبح کيږي...

أو په اخر کې په مرغانو باندې جوش شوې أوبه اچول کېږي ...ترڅو يې د بڼکو پاکول اسانه شي...

پدې طريقه د چرګانو په ذبح کولو کې لاندې ستونزې شتون لري چې له أمله يې د ذبحې په عدم صحت باندې دلالت کوي:

١- د پورته ځاى څخه په چرګانو باندې يوازې د يخو أوبو پاشل به ستونزه ونلري، لېکن چرګانو ته د برق شارټ ورکول په ځينو وختونو کې د چرګانو د مرګ لامل ګرځي، چې په پايله کې چرګان مخکې د ذبحې څخه د شارټ له أمله لمنځه ځي چې دا ډول چرګان مړه ګڼل کېږي، أو د ميتې حکم خپلوي أو (ميته) خو په قرآني نص سره حرامه ده.

٢- أو د ذبحې د ماشين په واسطه ذبح کولو کې هم درې ستونزې شتون لري:

---

[1]- د دې حديث حکم: صحيح حديث دى، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده صحيح على شرط الشيخين (صحيح ابن حبان – محقق(13 /195)

[2]- وګورئ: مجلة البحوث الإسلامية - مجلة دورية تصدر عن الرئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد، الرئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد (7 /245-246)

**ألف:** په ځینو وختونو کې د چرګ غاړه د ماشین تېغ ته سمه نه برابرېږي چې له أمله يې سمه ذبح منځته نه راځي ، أو إمکان لري چې د چرګ وږه أو د غاړي څخه پرته بل ځای تېغ ته برابر شي أو وینه وبهیږي لیکن مطلوب رګونه چې باید په اختیاري ذبح کې پري شي پري نه کړل شي.

**ب:** أو بله ستونزه د بسم الله ویلو ده؛ ځکه پدې قسم ذبح کې ماشین په أوتومات ډول سره چرګان ذبح کوي أو طبعا د بسم الله ویل چې په ذبح کې لازم دي پرېښودل کېږي، أو د جمهورو په نزد د بسم الله په پرېښودلو سره ذبح شوی چرګ مړ أو میته ګڼل کېږي، چې په اتفاق سره حرامه ده.

أو که د هغه شخص لخوا بسم الله وویل شي چې د ماشین چالانول يې دنده وي، پدې خاطر صحیح نده چې د بسم الله ویل د رګونو پریکولو په وخت کې ضرور ده نه د ماشین روشن کولو په وخت کې، أو که داسې شي چې د ماشین د تېغ سره یو شخص موظف کړل شي تر څو بسم الله ووایي، نو بیاهم ذبح نه صحیح کېږي؛ ځکه له یو پلوه خو دا شخص په ذبح کې هیڅ ډول دخیل ندی أو له بل پلوه ماشین په یوه لحظه کې د سل هاوو چرګانو غاړي پریکوي چې مؤظف شخص په دومره سرعت سره په ټولو باندې بسم الله نشي ویلی، أو چرګان بغیر له بسم الله ویلو څخه ذبح کېږي، چې د دا ډول ذبیحو غوښه هم د جمهورو په نزد حرامه وي.

٣- أو په مرغانو باندې د جوش کړل شوو أوبو پاشل دا مشکل پیدا کوي چې د جوش شوو أوبو پاشلو له أمله د چرګانو څخه وتونکی نجاست د غوښو سره جذب کېږي، چې غوښې پلیتې ګرځوي.

**أوس د دې ستونزې د حل لپاره باید لاندې نقطې په نظر کې ونیول شي:**

١- د برق شارټونو ورکولو څخه باید ډډه وشي تر څو چرګان مخکې له ذبحې څخه مړه نشي.

٢- د ماشین د تېغ څخه استفاده ونشي، أو پرځای يې په هماغه ځای کې څو کسان د چاقوګانو په لاس ودرول شي أو د بسم الله په ویلو سره د چرګانو غاړي پري کړي.

٣- همدا راز باید په چرګانو باندې د جوش کړل شوو أوبو له پاشلو څخه ډډه وکړل شي تر څو د چرګانو څخه وتونکی نجاست د غوښې سره ګډ نشي.[1]

**دوهم صورت:** غوایان، پسونه أو نور حلال حیوانات په مختلفو دولتونو کې په مختلفو طریقو سره ذبح کېږي چې د هغې له جملې څخه لاندې طریقې د ذکر کولو وړ دي:

**ألف:** د حیوان بې هوشه کول أو د هغې څخه وروسته يې ذبح کول: ځینې شرکتونه د خاصې آلې أو یاهم د پیچکارۍ په واسطه لمړی حیوان بې هوشه کوي أو د هغې څخه وروسته يې د غاړي یو طرف پریکوي.

---

[1]- وګورئ، مجلة مجمع الفقه الاسلامي التابع لمنظمة المؤتمر الاسلامي بجدة، تصدر عن منظمة المؤتمر الاسلامي بجدة، مجلة مجمع الفقه الإسلامي (10 /68-80)

پدې صورت کې مشکل دادی چې ایا پدغه ډول ذبح کې د حیوان هغه مطلوب رګونه چې په ذبح کې یې پریکول ضروري دي پرې کېږي أو که نه؟ که معین رګونه پرې نکړل شي نو ذبح درسته نده.

**ب:** د یوې غټې آلې په واسطه د حیوان بې هوشه کول: پخوا به په ځینو ځایونو کې حیوان د مارتول أو یاهم چکوش په واسطه په سرباندې وهل کیده تر څو بې هوشه شي أو بیا به یې ذبح کولو، خو په أوس وخت کې دا طریقه پرېښودل شوې أو څوک یې نه کاروي، خو که داسې وشي نو مشکل دادی چې إمکان لري چې حیوان دې د وهلو له أمله مړ شوی وي، چې پدې صورت کې موقوذه ګڼل کېږي، چې د میتې یوه نوعه ده أو په صریح قرآني نص سره حرامه ده.

**ج:** د ځینو ګازاتو په واسطه د حیوان بې هوشه کول، د دې طریقې مشکل بعینه د دې څخه مخکې د ذکر شوې صورت په شان دی.

**د:** د برق د شارټ ورکولو په واسطه د حیوان بې هوشه کول أو بیایې ذبح کول، أو د دې صورت مشکل هم بعینه د پورتنیو دوه ذکر شوو صورتونو په شان دی، چې حیوان شاید د برق د شارټۍ له أمله مړ شوی وي چې پدې صورت کې حیوان میته ګڼل کېږي أو په صریح نص سره یې حراموالی ثابت دی. ([1])

## دوهم مبحث: د ضرورت په وخت کې د حرامو غوښو خوړلو حکم

دا چې بحث د غوښو د حلالوالي أو حراموالي په أړه دی، نو په ځینو وختونو کې د ضرورت په أساس د حرامو غوښو خوړل مباح ګرځي، نو اړینه ده چې د ضرورت په موضوع باندې په مختصره توګه رڼا واچول شي.

[1]- وګورئ: مجلة مجمع الفقه الإسلامي(10 /81-85)

## لمړی مطلب: د ضرورت لغوي أو اصطلاحي تعريف، او دضرورت حالت

ضرورت په لغت كي اړتيا أو سختئ ته وايي، لكه د القاموس الفقهية مصنف ليكلي: " الضرورة: الحاجة، الشدة لا مدفع لها، والمشقة.." ([1]) ضرورت په لغت كي اړتيا، او هغه سختئ ته ويل كيږي چي مخه يې نه نيول كيږي، أو د تكليف په معنى سره راځي. أو جرجاني صاحب په التعريفات كي ضرورة داسې تعريف كړی: "مشتقة من الضرر، وهو النازل مما لا مدفع له." ([2]) ضرورت هغه پېښه ده چي مخه يې نه نيول كيږي. أو السنيكي [3] – رحمه الله - داسې تعريف كړی: "الضَّرُورَة مَا نزل بِالْعَبدِ مِمَّا لَا بُد من وُقُوعه" ([4]) ضرورت بنده ته د هغې پېښيدونكي حادثې څخه عبارت دی چي پېښيدل يې حتمي وي.

### د ضرورت حالت په اړه هم علماء مختلف نظرونه لري، چې په لاندي توګه ذكر كيږي:

١- أبوبكر جصاص – رحمه الله – ضرورت داسی تعريف كړی: "والضرورة هي خوف الضرر بترك الأكل إما على نفسه أو على عضو من أعضائه" ([5]) ضرورت په ځان أو ياهم د بدن په اعضاؤ باندې د زيان أو ضرر رسيدلو له ويرې څخه عبارت دی.

٢- كاساني صاحب د ضرورت حالت داسې تعريف كړی: "مَا يُخَافُ مِنْهُ تَلَفُ النَّفْسِ أَوْ الْعُضْوِ؛ لِأَنَّ الضَّرُورَةَ لَا تَتَحَقَّقُ إلَّا فِي تِلْكَ الْحَالَةِ" ([6]) ضرورت هغه حالت ته ويل كيږي چې د نفس أو يا د بدن يو اندام د تلف كيدو ويره ورسره موجوده وي؛ ځكه ضرورت د دې حالت څخه پرته منځته نه راځي.

٣- امام نووي – رحمه الله – د ضرورت حالت په اړه شافعي مذهب داسې بيان كړی: "وَاتَّفَقُوا عَلَى جَوَازِ الْأَكْلِ إذَا خَافَ عَلَى نَفْسِهِ لَوْ لم يأكل من جوع أو ضعف عن الْمَشْيِ أَوْ عَنْ الرُّكُوبِ وَيَنْقَطِعُ عَنْ رُفْقَتِهِ ويضيع ونحو ذلك " ([7]) شوافع – رحمهم الله – د ميتې د خوراک جواز په أړه په هغه وخت كي متفق دي

---

[1]- سعدي، الدكتور سعدي أبو حبيب، القاموس الفقهي لغة واصطلاحا، دار الفكر. دمشق – سورية (ص: 223)

[2]- التعريفات لجرجاني (ص: 138)

[3]- د السنيكي لنډه پېژندنه: زين الدين أبو يحيى زكريا بن محمد بن أحمد الأنصاري السنيكي (رحمه الله) يو نامتو شافعي فقيه، مفسر، محدث، او صوفي و چي په ٨٢٣ هـ ق كال كي د مصر په سنيكه كي زېږېدلی. هغه د شافعي فقهي لوی استاد او د تدريس په برخه كي مشهور و، چي له ده څخه ګڼ شاګردان د اسلامي علومو زده‌كړو ته راتول شوي وو. د هغه اثار لكه *أسنى المطالب*، *فتح الوهاب*، او *الحدود الأنيقة والتعريفات الدقيقة* په شافعي فقه او اسلامي اصطلاحاتو كي مهمي سرچيني ګڼل كيږي. زكريا الانصاري په ٩٢٦ هـ ق كال كي وفات شو. (الأعلام للزركلي (3/ 46)

[4]- السنيكي، زكريا بن محمد بن أحمد بن زكريا الأنصاري، زين الدين أبو يحيى السنيكي (المتوفى: 926هـ)، الحدود الأنيقة والتعريفات الدقيقة، المحقق: د. مازن المبارك، دار الفكر المعاصر – بيروت (ص: 70)

[5]- أحكام القرآن للجصاص ط العلمية (1/ 159)

[6]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (7/ 176)

[7]- المجموع شرح المهذب (9/ 42)

کله چې یو څوک په ځان باندې ویریږي چې د لوږي د لاسه به تلف شي أو یا د تګ څخه کمزوری أو د سفر ملګرو څخه پاتي کیږي، أو یا په سورلي باندې ځان د لوږي له لاسه نشي ټینګولی أو په لاره کې ورکیږي أو د دې په شان نور عذرونه.

۴- مالکیان د ضرورت حالت په أړه وایي: "الضَّرُورَةِ هِيَ الْخَوْفُ عَلَى النَّفْسِ مِنْ الْهَلَاكِ علما أو ظَنًّا" ([1]) ضرورت په یقیني أو یاهم په غالب ګمان سره په ځان باندې د تلف کیدو أو لمنځه تللو له ویري څخه عبارت دی.

۵- د ضرورت حالت په أړه د حنابلؤ مذهب د مالکیانو په شان دی: "الضرورة المبيحة هي التي يخاف التلف بها إن ترك الأكل قال أحمد إذا كان يخشى على نفسه سواء كان من جوع أو يخاف أن ترك الأكل عجز عن المشي وانقطع عن الرفقة فهلك أو يعجز عن الركوب فيهلك ولا يتقيد ذلك بزمن محصور" ([2]) د مردارو غوښو خوړلو مباح کوونکی حالت دا دی چې مضطر انسان د ځان تلف کیدو په أړه ویره ولري یعني که مرداره غوښه ونه خوري مړ کیږي، أو امام أحمد – رحمه الله – ویلي: کله چې یو مضطر انسان د سختي لوږي څخه ویره ولري، أو یا داچې که مرداره غوښه ونه خوري د تګ څخه کمزوری أو د کاروان څخه پاتي کیږي أو هلاکیږي، أو یا داچې د سورلی څخه کمزوری کیږي أو هلاکیږي، نو پدې ټولو حالاتو کې د مرداري غوښې خوراک روا دی أو په کوم خاص وخت پورې هم منحصر ندی.

## دویم مطلب: د ضرورت د حالت رامنځته کیدو ضوابط

۱- ضرورت به بالفعل موجود وي، یعني په یقین أو یا غالب ګمان سره د نفس أو یا د بدن یوعضو د هلاک کیدو خطره وي، نو په دي أساس ضرورت منتظره أو احتمالي د مردارو خوړو د خوړلو لپاره روا کوونکی ندی.

۲- د ضرر دفعه کولو لپاره به د حرامو د ارتکاب څخه پرته بله مباح طریقه شتون ونلري.

۳- ضرورت به ملجئ وي، یعني داسې ضرورت به وي چې له أمله یې د بدن أو یا د بدن د یوعضوي د تلف کیدو ویره وي، البته دا د أحنافو مذهب دی.

۴- د حرامو د ارتکاب له أمله به د شریعت أساسي اصول د پښو لاندې نه کیږي، یعني د داسي مفاسدو ارتکاب به پکښې نه کیږي چې بذاته مفاسد وي، لکه زنا، قتل، کفر، غصب أو داسې نور.

---

[1]- الشرح الكبير للشيخ الدردير وحاشية الدسوقي (2/ 115)

[2]- بن قدامة، عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الحنبلي، أبو الفرج، شمس الدين (المتوفى: 682هـ)، الشرح الكبير على متن المقنع، دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع (11 /96)

۵- د جمهورو په نزد به حرام د ضرورت په اندازه خوړل کېږي  أو د ضرورت څخه زيات جواز نلري.

۶- د ظاهريان په نزد د حرامو خوړو استعمال پدې شرط جايز دی چې په مضطر باندې يوه شپه أو ورځ تيره شي.

۷- أو كه د علاج مسئله وي، نو په حرام باندې تداوي په هغه وخت كې روا ده چې يو مسلمان حاذق (ماهر) ډاكټر يې توصيه كړي. ([1])، د يادولو وړ ده چې د امام صاحب په نزد په حرامو باندې تداوي جايز نده أو د امام ابو يوسف – رحمه الله – په نزد جايز ده. ([2])

## درېيم مطلب: د ضرورت په وخت كې د حرامو غوښو خوړولو د جواز دلايل

قرآن كريم كې ينځه آيتونه راغلي چې د مخمصي (سختې لوږې) أو د اضطرار (سختې اړتيا) حالتونو په وخت كې په آيتونو كې د ذكر شوو حرامو شيانو خوړل مباح ګرځوي، د نوموړو آيتونو څخه فقد يو آيت په لاندې توګه  ذكر كوم:

۱- الله تعالى فرمايي: {إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ } ([3])

ژباړه: يقينا الله تعالى پرتاسو باندې مرداره، وينه (بهيدونكي)، د خنزير غوښه أو د هغه څاروي غوښه چې د الله تعالى د نوم څخه پرته د بل چا نومورباندې اخيستل شوی وي حرام كړي دي. هو، كه څوک د اړتيا په حالت كې وي أو له دغه شيانو څخه څه شی بې له دې څخه چې د الهې حكم ماتولو اراده ولري أو نه هم له حده تېری وكړي، وخوري؛ نو پرهغه باندې څه وبال نشته، يقينا الله تعالى ښونكى أو مهربان دی.

امام أبوبكر جصاص حنفي- رحمه الله – د (غير باغ ولاعاد) په تفسير كې ليكلي: "[فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ باغٍ وَلا عادٍ] فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْحَسَنُ وَمَسْرُوقٌ [غَيْرَ باغٍ] في الميتة [وَلا عادٍ] فِي الْأَكْلِ وَهُوَ قَوْلُ أَصْحَابِنَا وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَأَبَاحُوا لِلْبُغَاةِ الْخَارِجِينَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ أَكْلَ الْمَيْتَةِ عِنْدَ الضَّرُورَةِ كَمَا أَبَاحُوهُ لِأَهْلِ الْعَدْلِ" ([4]) ابن عباس – رضى الله عنه-، حسن بصري أو مسروق – رحمهماالله – ويلي: (غير باغ) نه هدف تيری كول دي په مرداره كې، أو د (ولاعاد) څخه مراد په خوراک كې تيری كول دي، يعني چې د ضرورت

---

[1]- نظرية الشرورة الشرعية للدكتور وهبة الزحيلي ص 69-71

[2]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (1 /62)

[3]-البقرة: 173

[4]- أحكام القرآن للجصاص ت قمحاوي (1/ 156)

ښځه زيات وخوري، او همدغه د أحنافو مذهب دی، او د أحنافو په نزد د ضرورت په وخت کې باغيانو لپاره هم په آيت کې د ذکر شوو حرامو شيانو خوراک روا دی، لکه څنګه چې د انصاف او ښو خلکو لپاره روا دي.

او امام قرطبي – رحمه الله – د (غير باغ ولاعاد) تفسير په اړه د تابعينو أقوال داسې نقل کړي دي: "قَالَ قَتَادَةُ وَالْحَسَنُ وَالرَّبِيعُ وَابْنُ زَيْدٍ وَعِكْرِمَةُ" غَيْرَ باغٍ" فِي أَكْلِهِ فَوْقَ حَاجَتِهِ،" وَلا عادٍ" بِأَنْ يَجِدَ عَنْ هَذِهِ الْمُحَرَّمَاتِ مَنْدُوحَةً وَيَأْكُلَهَا. وَقَالَ السُّدِّيُّ:" غَيْرَ باغٍ" فِي أَكْلِهَا شَهْوَةً وَتَلَذُّذًا،" وَلا عادٍ" بِاسْتِيفَاءِ الْأَكْلِ إِلَى حَدِّ الشِّبَعِ" ([1]) قتاده، حسن بصري، ابن زيد او عکرمه – رحمهم الله – ويلي: د (غير باغ ) معنا دا ده چې د اړتيا څخه زيات وخوري، او د (ولاعاد) معنی داده چې د مرداري غوښې خوړلو څخه بله چاره وي او بيا يې هم وخوري، او سدي – رحمه الله – ويلي: د (غيرباغ) معنی دا ده چې د مرداري غوښې خوړلو څخه خوند واخلي، او د (ولاعاد) معنی دا ده چې د مړښت تر اندازې يې وخوري.

امام محمد – رحمه الله – په الأصل (المبسوط) کې ليکلي: "{فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ} ([2])، فهذا مضطر بمنزلة الذي يخاف الموت على نفسه من العطش والجوع إن لم يأكل أو يشرب، فهو عندي آثم إن لم يفعل" ([3]) امام محمد – رحمه الله - د اکراه په حالت کې حرامو غوښو خوړلو د بحث څخه وروسته ليکلي: او نوموړی مکره انسان مضطر دی او د هغه مضطر په څېر دی چې که حرام شيان ونه خوري د لوږې اوتندې له أمله په ځان باندې د مړ کيدو څخه ويريږي، نو بناء که مکره او يا هم د سختې لوږې په حالت کې شخص مردار شيان ونه خوري تر څو د هلاکت څخه بچ شي، نو دا زما په نزد ګنهګار دی.

او په الاختيار لتعليل المختار کې راغلي: "وَوَجْهُهُ أَنَّ حَالَةَ الضَّرُورَةِ صَارَتْ مُسْتَثْنَاةً مِنَ الْحُرْمَةِ، فَكَانَتِ الْمَيْتَةُ وَالْخَمْرُ حَالَةَ الضَّرُورَةِ كَالْخُبْزِ وَالْمَاءِ فِي غَيْرِ حَالَةِ الضَّرُورَةِ، فَلَوْ لَمْ يَفْعَلْ حَتَّى قُتِلَ وَهُوَ يَعْلَمُ بِالْإِبَاحَةِ أَثِمَ كَمَا فِي حَالَةِ الْمَخْمَصَةِ؛ وَلِأَنَّ الْحُرْمَةَ لَمَّا زَالَتْ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: {فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ} [البقرة: 173] صَارَ كَالْمُمْتَنِعِ عَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ حَتَّى مَاتَ فَيَأْثَمُ" ([4]) که څوک مجبور کړل شي چې په آيتونو کې يادشوي حرام شيان وخوري، نو دا کار کولی شي او ګنهګاريږي هم نه؛ ځکه چې د ضرورت حالت د حراموالي

[1]- تفسير القرطبي (2/ 231)

[2]- البقرة: 173

[3]- الشيباني، أبو عبد الله محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني (المتوفى: 189 هـ)، الأَصْلُ، تحقيق وَدرَاسَة: الدكتور محمَّد بوينوكالن، دار ابن حزم، بيروت - لبنان (7/ 326)

[4]- البلدحي ، عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: 683هـ)، الاختيار لتعليل المختار، تعليق: الشيخ محمود أبو دقيقة (من علماء الحنفية ومدرس بكلية أصول الدين سابقا)، مطبعة الحلبي - القاهرة (وصورتها دار الكتب العلمية - بيروت، وغيرها)، الاختيار لتعليل المختار (2 /107)

څخه مستثنی دی، نو مرداره أو شراب د ضرورت په وخت کې داسي دي لکه په عادي حالاتو کې ډوډۍ أو أوبه، نو په همدې خاطرکه څوک د نوموړو حرامو شیانو په خوړلو باندې مجبور کړل شولو أو دا کار یې ونه کړ په داسې حال کې چې د ضرورت په خت کې د دې شیانو د خوړلو په إباحت باندې پوهه وه تر دي چې ووژل شو نو دا سړی ګنهګار دی، لکه څنګه چې د سختي لوږې په حالت کې څوک حرام شیان ونه خوري تر دي چې هلاک شي ګنهګار دی؛ أو دا ځکه چې هرکله د آیت په دي برخې ({فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ} [البقرة: 173] کې د مضطر څخه د حرامو شیانو د خوراک ګناه لرې کړل شوه، نو د نه خوړلو له أمله داسي شو لکه څوک چې په عادي حالاتو کې د خوړلو څخه اعتصاب وکړي تر دي چې مړ شي، نو ګنهګار دي.

همداډول امام کاساني صاحب لیکلي: "قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {حرمت عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ} [المائدة: 3] إلَى قَوْله تَعَالَى {فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلا عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ} [البقرة: 173] أَيْ: مَنْ أُضْطُرَّ فَأَكَلَ لِأَنَّهُ لَا إثْمَ يَلْحَقُهُ بِنَفْسِ الِاضْطِرَارِ"([1]) الله تعالی فرمايي: پرتاسو باندې مرداره، وینه أو د خنزیر غوښه حرامه کړل شوې، د الله تعالی د دې قول پورې: پس که څوک ډېر اړ شول په داسې حال چې د میتې په أړه تیری کوونکی أو له اندازي څخه زیات خوړونکی نه وي، نو ګناهورباندې نشته، یعني څوک چې مضطر وي أو حرام شیان یې وخوړل، نو د ضرورت په خاطر نه ګنهګاریږي.

أو امام زيلعي – رحمه الله – ليکلي: "{إنما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل لغير الله به فمن اضطر غير باغ ولا عاد فإن الله غفور رحيم} [النحل: 115] وجه الاستدلال أن الله تعالى استثنى حالة الضرورة والمستثنى يكون حكمه أبدا على خلاف حكم المستثنى منه لا محالة فيحل المستثنى ولم يفصل بين أن تكون الضرورة بسبب المخمصة أو الإكراه فتنأول النص بإطلاقه النوعين جميعا" ([2]) په یادوشویو آیت باندې د استدلال وجه داده چې الله تعالی د ضرورت حالت مستثنی کړی، أو د مستثنی حکم همیشه د مستثنی منه څخه مختلف وي، نو په همدې خاطر مستثنی حلال ده یعني د ضرورت په وخت کې په آیت کې د یادوشویو حرامو شیانو خوراک روا دی، أو پدې کې بیا فرق نشته چې ضرورت دي د اکراه له أمله وي أو یا هم د سختي لوږي له أمله، آیت دواړو حالتونو ته شامليږي.

[1]- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (2/ 95)

[2]- تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (5/ 185)

## ځلورم مطلب: د ضرورت په وخت کې د حرامو غوښو د خوړولو اندازي په اړه د علماوو اختلاف

پدې اړه علماء کرام لاندې نظرونه لري:

۱- د أحنافو په نزد مضطر أو يا هم د سختي لوږي سره لاس أو ګريوان مسلمان به د حرامو خوړو څخه يوازې د ضرورت په اندازه خوراک کوي، په دومره اندازه چې د مرګ څخه وربانديې بچ شي، پدې اړه امام أبوبکر جصاص – رحمه الله – ليکلي: "قال أبو حنيفة وأبو يوسف ومحمد وزفر: لا يأكل المضطر من الميتة إلا مقدار ما يمسك به رمقه... قال أبو بكر[1]: قال الله تعالى: {إلا ما اضطررتم إليه} [الأنعام: 119] وقال: {فمن اضطر غير باغ ولا عاد} فعلق الإباحة بوجود الضرورة، والضرورة هي خوف... الضرر بترك الأكل إما على نفسه أو على عضو من أعضائه، فمتى أكل بمقدار ما يزول عنه الخوف من الضرر في الحال فقد زالت الضرورة... وأيضا قوله تعالى: {فمن اضطر غير باغ ولا عاد} فقد بينا أن المراد منه: غير باغ ولا عاد في الأكل، ومعلوم أنه لم يرد الأكل منها فوق الشبع; لأن ذلك محظور في الميتة وغيرها من المباحات، فوجب أن يكون المراد: غير باغ في الأكل منها مقدار الشبع، فيكون البغي والتعدي واقعين في أكله منها مقدار الشبع" ([2]) امام أبوحنيفه، أبويوسف، محمد أو زفر – رحمهم الله – ويلي: مضطر به د حرام حيوان څخه په دومره اندازه خوراک کوي چې ساه أو ژوند يې وربانديې بچ کړي...أبوبکر الجصاص صاحب ويلي: الله تعالى فرمايي: مګر هغه شيان (حرام شيان) چې تاسو ورته اړ شئ (يعني د ضرورت په وخت کې حرامې غوښې هم خوړلی شئ)، همداډول الله تعالى په بل ځای کې فرمايي: پس څوک چې (د حرامو حيواناتو خوراک ته) اړشي په داسې حال کې چې په خوراک کې يې د حد څخه تېرى کوونکى نه وي (نو ګناه وربانديې نشته)، نو پدې آيتونو کې الله تعالى د حرامو غوښو إباحت ضرورت پورې معلق کړي دی، أو ضرورت عبارت دی د نوموړو حرامو غوښو د نه خوړلو په صورت

[1]- د أبوبکرالجصاص – رحمه الله- لنډه پيژندنه: پوره نوم يې دی، أَحْمد بن عَليّ أَبُو بكر الرَّازِيّ أبوبكر الجصاص. جصاص – رحمه الله- په کال ۳۰۵ هجري قمري کې په بغداد کې دنيا ته سترګې غړولي، او په خپل وخت کې د حنفي مذهب امام او په زهد باندي مشهور و، څو واره د قضاء منصب ورته وړانديز شو خو هغه ورڅخه انکار وکړ. د أبوبکر الجصاص مشهور ترين استاذ امام أبو الحسن الكرخي دي او همداراز يې د الحاكم النيساپوري څخه هم درس ويلي. د ده مشهور شاګردان عبارت دي له: أَبُو بكر أَحْمد بن مُوسَى الْخَوَارِزْمِيّ وَأَبُو عبد الله مُحَمَّد بن يحيى بن مهْدي الْفَقِيه الْجِرْجَانِيّ شيخ الْقَدُورِيّ وَأَبُو الْفرج أَحْمد بن مُحَمَّد بن عمر الْمَعْرُوف بِابْن الْمسلمَة وَأَبُو جَعْفَر مُحَمَّد بن أَحْمد النَّسَفِيّ وَأَبُو الْحُسَيْن مُحَمَّد بن أَحْمد بن أَحْمد الزَّعْفَرَانِي وَأَبُو الْحُسَيْن مُحَمَّد بن أَحْمد بن الطّيب الكماري وَالِد إِسْمَعِيل قَاضِي وَاسِط. د أبوبكر الجصاص مشهور تصنيفات عبارت دي له: أَحْكَام الْقُرْآن وَشرح مُخْتَصر شَيْخه أَبى الْحسن الْكَرْخِي وَشرح مُخْتَصر الطَّحَاوِيّ وَشرح الْجَامِع لمُحَمد بن الْحسن وَشرح الْأَسْمَاء الْحسنى. أبوبكر الجصاص په کال ۳۷۰ هجري قمري کې د دنيا څخه رحلت وکړ. (وګورئ: القرشي، عبد القادر بن محمد بن نصر الله القرشي، أبو محمد، محيي الدين الحنفي (المتوفى: 775هـ)، الجواهر المضية في طبقات الحنفية، مير محمد كتب خانه – كراتشي (1/ 84-85)

[2]- أحكام القرآن للجصاص ط العلمية (1/ 158-159)

کې په ځان أو یا د بدن په یو عضوي باندې د تلف کېدلو څخه، نو هرکله چې مضطر انسان دومره اندازه خوراک وکړ چې د هلاکت د ویرې څخه بچ شی، نو ضرورت لمنځه ځي، أو همداډول د آیت پدې برخه کې چې: {فمن اضطر غیر باغ ولا عاد} مونږ ویلي و چې د دې څخه مراد په خوراک کې تیری کول دي، أو دا خبره خو معلومه ده چې پدې آیت کې د مړښت څخه زیات حالت مراد ندی؛ ځکه دا حالت خو د مردارې أو مباحاتو دواړو په خوړلو کې ممنوع دی، نو معلومه شوه چې په آیت کې منع د مړښت د اندازي څخه راغلې ده، نو تعدي أو د حد څخه تیری کول به د مړښت تر اندازي خوړلو په حالت کې منځ ته راځي.

همداډول ابن النجیم - رحمه الله - لیکلي: "المضطر لا یأکل من المیتة إلا قدر سد الرمق" ([1]) مضطر شخص به د میتې څخه دومره اندازه خوري چې ساه أو ژوند یې بچ شي.

أو په الجوهرة النیرة کې راغلي: "أَكْل الْمَيْتَةِ عِنْدَ الِاضْطِرَارِ مُبَاحٌ بِقَدْرِ سَدِّ الرَّمَقِ" ([2]) د ضرورت په وخت کې د مردارې خوړل د ساه أو ژوند بچ کولو په اندازه روا دي.

همداډول د قرطبي په حواله مخکې ذکر شول چې زیات شمېړ تابعینو نظر دا دی چې د ضرورت په اندازه به خوراک کېږي أو د مړښت تر کچې به د ضرورت په وخت کې د حرامو څخه خوراک نه کېږي ، لکه امام قرطبي – رحمه الله – د (غیر باغ ولاعاد) تفسیر په اړه د تابعینو أقوال داسې نقل کړي دي: "قَالَ قَتَادَةُ وَالْحَسَنُ وَالرَّبِيعُ وَابْنُ زَيْدٍ وَعِكْرِمَةُ" غَيْرَ باغٍ" فِي أَكْلِهِ فَوْقَ حَاجَتِهِ،" وَلا عادٍ" بِأَنْ يَجِدَ عَنْ هَذِهِ الْمُحَرَّمَاتِ مَنْدُوحَةً وَيَأْكُلَهَا. وَقَالَ السُّدِّيُّ:" غَيْرَ باغٍ" فِي أَكْلِهَا شَهْوَةً وَتَلَذُّذًا،" وَلا عادٍ" بِاسْتِيفَاءِ الْأَكْلِ إِلَى حَدِّ الشِّبَعِ" ([3]) قتاده، حسن بصري، ابن زید أو عکرمه – رحمهم الله – ویلي: د (غیر باغ ) معنا دا ده چې د اړتیا څخه زیات وخوري، أو د (ولاعاد) معنی داده چې د مرداري غوښې خوړلو څخه بله چاره وي أو بیا یې هم وخوري، أو سدي – رحمه الله – ویلي: د (غیرباغ) معنی دا ده چې د مرداري غوښې خوړلو څخه خوند واخلي، أو د (ولاعاد) معنی دا ده چې د مړښت تر اندازي یې وخوري.

۲- د حنابلؤ څخه دوه قوله نقل شوي، یو داچې د ضرورت په اندازه به د میتې څخه خوراک کېږي أو همدغه د حنبلي مذهب ظاهر قول دی، أو بل قول یې دادي چې د مړښت ترکچې د میتې څخه خوراک روا دی، پدې أړه المبدع في شرح المقنع کې راغلي: أَظْهَرُهُمَا: أَنَّهُ لَا يُبَاحُ، وَهُوَ ظَاهِرُ الْوَجِيزِ، وَالْفُرُوعِ، لِأَنَّ الْآيَةَ دَلَّتْ عَلَى تَحْرِيمِ الْمَيْتَةِ، وَاسْتَثْنَى مَا اضْطُرَّ إِلَيْهِ، فَإِذَا انْدَفَعَتِ الضَّرُورَةُ لَمْ يَحِلَّ الْأَكْلُ كَحَالَةِ

---

[1]- الأشباه والنظائر - حنفي (ص: 107)

[2]- الزَّبِيدِيّ، أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي (المتوفى: 800هـ)، الجوهرة النيرة على مختصر القدوري، المطبعة الخيرية (1/ 38)

[3]- تفسير القرطبي (2/ 231)

الِابْتِدَاءِ. وَالثَّانِيَةُ: يُبَاحُ، اخْتَارَهَا أَبُو بَكْرٍ، لِمَا رَوَى جَابِرُ بْنُ سَمُرَةَ: «أَنَّ رَجُلًا نَزَلَ الْحَرَّةَ فَنَفَقَتْ عِنْدَهُ نَاقَةٌ، فَقَالَتِ أمرأَتُهُ: اسْلُخْهَا حَتَّى نُقَدِّدَ شَحْمَهَا وَلَحْمَهَا وَنَأْكُلَهُ، فَقَالَ: حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: هَلْ عِنْدَكَ غِنًى يُغْنِيكَ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَكُلُوهَا». وَلِأَنَّ مَا جَازَ سَدُّ الرَّمَقِ مِنْهُ جَازَ الشِّبَعُ مِنْهُ كَالْمُبَاحِ" ([1]) د حنبلي مذهب راجح قول دادی چې د ضرورت څخه زيات د مړښت ترکچې د ميتې خوړل ناروا دي، أو همدغه د الوجيز أو د الفروع کتابونو قول هم دی؛ ځکه آيت د ميتې په حراموالي باندې دلالت کوي، لېکن د ضرورت حالت ورڅخه وتلی دی، نو کله چې ضرورت دفعه شو د ميتې حکم خپل أصلي حالت ته ګرځي چې حراموالی دی، أو د حنابلؤ دوهم قول دادی چې د ضرورت په وخت کې د ميتې څخه د مړښت ترکچې هم خوراک روا دی، أو دا د أبو بکر قول دی، أو د جابر بن سمره په حديث باندې استدلال کوي چې يو سړی د حرې سېمې ته لاړه أو هلته يې أوښه مړه شوه، نو ښځې يې ورته وويل: دا مرداره شوې أوښه پوست کړه تر څو يې وازدې أو غوښې وچې کړو أو وخورو، نو سړي وويل: دا کار تر هغه نه کوم تر څو چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – ته لاړ نشم أو پوښتنه ورڅخه ونه کړم، پس د رسول الله – صلی الله عليه وسلم – څخه يې د مردارې شوې أوښې د غوښو وچولو أوخوړلو په أړه پوښتنه وکړه، نو رسول الله – صلی الله عليه وسلم – ورته وويل: ايا نور حلال داسې څه لري چې د حرامو غوښو خوړلو څخه دې بې پروا کړي؟ سړي وويل: نه، رسول الله– صلی الله عليه وسلم –ورته وويل: پس وخورئ، [2] أو د أبوبکر لپاره بل دليل دادی چې هرکله د ميتې خوړل په دومره اندازه روا دي چې ساه أو ژوند ووربانډې دفعه کړي، نو د مړښت ترکچې يې خوراک هم روا دی، لکه مباح غوښه.

۳- د امام مالک راجح قول دادی چې مضطر د ميتې څخه د مړښت ترکچې خوراک کولی شي، پدې أړه په شرح مختصر خليل للخرشي کې راغلي: "(قَوْلُهُ مَا يَسُدُّ) الْمَذْهَبُ أَنَّهُ يُشْبِعُ أَيْضًا وَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى مَا يَسُدُّ الرَّمَقَ وَالْجَوَابُ أَنَّ الْمُرَادَ يَسُدُّ الْجُوعَ لَا أَنَّ الْمُرَادَ يَسُدُّ الرَّمَقَ" ([3]) د مختصر مصنف دا قول چې (مَا يَسُدُّ) مالکي مذهب دادی چې مضطر د ميتې څخه د مړښت ترکچې هم خوراک کولی شي أو مضطر به يوازې په دومره اندازه خوړلو باندې بسنه نه کوي چې يوازې ساه أو ژوند يې وساتي، يعني خلاصه د

---

[1]- ابن مفلح، إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد ابن مفلح، أبو إسحاق، برهان الدين (المتوفى: 884هـ)، المبدع في شرح المقنع، د حديث شميره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان (8 /15)

[2]- د دې حديث حکم: شعيب الأرنؤوط ويلي چې دا حديث د سماک بن حرب له امله حسن دی، خو امام أحمد – رحمه الله د سماک همدغه حديث صحيح ګڼلی دی، "إسناده حسن من أجل سماك بن حرب. وقد صحح حديثه هذا الإمام أحمد فيما نقله عنه الخطيب البغدادي في "الجامع لأخلاق الراوي" (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (5 /634)

[3]- الخرشي، محمد بن عبد الله الخرشي المالكي أبو عبد الله (المتوفى: 1101هـ)، شرح مختصر خليل للخرشي، دار الفكر للطباعة – بيروت (3 / 28)

خبري داده چې مضطر به د میتې څخه دومره خوراک کوي چې لوږه یې دفعه شي نه یوازې دومره چې ساه أو ژوند یې خوندي شي. مالکیان د سماک بن حرب په هغه حدیث باندې استدلال کوي چې لږ مخکې د أبوبکر حنبلي په استدلال کې تیر شو.

همداډول دردیر په الشرح الکبیر کې لیکلي: "(ما یسد) الرمق وظاهره أنه لا یجوز له الشبع، والمعتمد أن له أن یشبع ویتزود من المیتة، فإذا استغنی عنها طرحها" ([1]) د (ما یسد) عبارت ظاهر پدې دلالت کوي چې د مړښت تر کچې د مرداري خوراک روا ندی، لیکن معتمد قول دادی چې مضطر د مردارې څخه د مړښت ترکچې خوراک کولی شي همداډول د ځان لپاره یې د توښې په توګه هم اخیستلی شي، أو هرکله چې ورڅخه مستغني أو بې پروا شو بیابه یې غورځوي.

۴- د شوافعو څخه د مضطر لپاره ضرورت څخه د زیات خوړلو جواز په اړه دوه قوله نقل شوې دي: یو د حلالوالي أو بل د منعي، لیکن راجح قول یې د أحنافو په څېر د منعي دی، پدې اړه امام نووي – رحمه الله لیکلي: "وَاخْتَلَفَ الْأَصْحَابُ فِي الرَّاجِحِ مِنْ الْخِلَافِ فَرَجَّحَ أَبُو عَلِيٍّ الطَّبَرِيُّ فِي الْإِفْصَاحِ وَالرُّويَانِيُّ وَغَيْرُهُمَا حِلَّ الشِّبَعِ وَرَجَّحَ الْقَفَّالُ وَكَثِيرُونَ وُجُوبَ الِاقْتِصَارِ عَلَى سَدِّ الرَّمَقِ وَتَحْرِيمَ الشِّبَعِ وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ وَاَللَّهُ سُبْحَانَهُ أَعْلَمُ" ([2]) د مضطر لپاره د مرداري څخه د ضرورت څخه زیات خوراک په هکله د راجح قول په اړه د شافعي مذهب علماء اختلاف د نظر لري: أبوعلي الطبري [3] په الافصاح أو الروياني [4] أو ځینو نورو علماوو د مړښت ترکچې خوراک ته ترجیح ورکړې، أو القفال [5] أو ډېرو نورو

---

[1]- الدردیر، أبو البرکات أحمد بن محمد العدوي ، الشهیر بالدردیر (المتوفی : 1201هـ)، الشرح الکبیر، دار الفکر-بیروت (2/ 115)

[2]- المجموع شرح المهذب (9/ 43)

[3]- د أبوعلي الطبري لنده پېژندنه: طاهر بن عبدالله بن طاهر الطبري، ابو الطیب د اسلامي علومو یو مشهور شافعي فقیه او قاضي و، چې په ۳۴۸ هـ (۹۶۰ م) کې د طبرستان د آمل په ښار کې زیږېدلی و. هغه بغداد ته ولاړ او هلته یې استوګنه وکړه او په بغداد کې د کرخ د قضا مسئولیت یې په غاړه واخیست. ابو الطیب په ۴۵۰ هـ (۱۰۵۸ م) کې په بغداد کې وفات شو. د هغه له مشهورو اثارو څخه *شرح مختصر المزني* په ۱۱ جلدونو کې یو کتاب دی چې د شافعي فقهي شرحه کوي، *جواب في السماع والغناء* چې د موسیقی او سندرو په اړه د هغه نظریات رانغاړي او د رباط په کتابتون کې ساتل کېږي، او *التعلیقة الکبری* چې په شافعي فقه کې فروع مسائل توضیح کوي. (الأعلام للزرکلي (3/ 222)

[4]- د الروياني لنده پېژندنه: عبد الواحد بن اسماعیل بن احمد، ابو المحاسن فخر الاسلام الروياني د شافعي فقهي یو نامتو عالم و، چې په ۴۱۵ هـ (۱۰۲۵ م) کال کې د طبرستان په رویان سیمه کې زیږېدلی و. هغه د علم په لټه کې د بخارا، غزني او نیشاپور ښارونو ته سفرونه وکړل او په آمل (طبرستان) کې یې یوه مدرسه جوړه کړه. وروسته هغه د ري او اصفهان ښارونو ته هم کډه شو او بیا بېرته آمل ته ستون شو. هلته ځینو کسانو ورسره دښمني وکړه او په همدې ځای کې یې وواژه. هغه د فقهي علم په برخه کې داسې پوهه لرله چې ویل به یې: "که د امام شافعي ټول کتابونه وسوځول شي، زه یې له یاده بیرته لیکلی شم." د هغه مشهور اثار *بحر المذهب* )چې په شافعي فقه کې یو له اوږدو کتابونو څخه دی(، *مناصیص الإمام الشافعي*، *الکافي*، او *حلیة المؤمن* دي. (الأعلام للزرکلي (4/ 175)

[5]- د القفال لنده پېژندنه: محمد بن احمد بن الحسین بن عمر، ابو بکر الشاشي القفال الفارقي، المعروف فخر الاسلام المستظهري د شافعي فقهي یو مشهور عالم و چې په ۴۲۹ هـ (۱۰۳۷ م) کې د میافارین په ښار کې زیږېدلی. هغه د علم په لټه کې بغداد ته لاړ او هلته یې د نظامیه مدرسې کې د تدریس مسئولیت په غاړه واخیست چې دا د ۵۰۴ هـ کال شاوخوا پېل شو او تر خپل وفات پورې یې هلته تدریس ته ادامه ورکړه. د هغه له

شافعي علماؤ د ساه أو ژوند ساتلو په اندازه خوراک ته ترجیح ورکړي أو د مړښت ترکچې خوراک يې حرام ګڼلی دی أو همدغه قول درست قول دی.

